
د لوړو زده کړو وزارت
ننګرهار پوهنتون
ښوونې او روزنې پوهنځی
جغرافیې څانګه

# د افغانستان سیاسي جغرافیه






لیکوال:
پوهیالی فیاض ګل مظلوم یار

Ketabton.com

۱۳۹۴لمریز

د افغانستان سیاسي جغرافیه
پوهیالی فیاض ګل مظلوم یار

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د افغانستان
# سياسي جغرافيه

ليکوال: پوهيالی فياض ګل مظلوم يار

کال: ۱۳۹۴هـ، لمريز

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحيم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# کتاب پېژندنه

د کتاب نوم: د افغانستان سیاسي جغرافیه
لیکوال: پوهیالی فیاض ګل مظلوم یار
ډیزاین: شریف الله (للموال) ۰۷۸۷۲۲۷۵۸۵
چاپ کال: ۱۳۹۴هـ،لمریز
د چاپ وار: لومړی
د چاپ شمېر: ۱۰۰۰ ټوکه
چاپ چاري: سلام خپرندویه ټولنه – جلال اباد

ترلاسه کولو ځایونه
جلال اباد: اصلاح افکار کتابپلورنځی، اسحق زی مارکیټ، لاندې پوړ، لومړی دوکان، جلال اباد. اړیکشمېره: ۰۷۹۰۲۰۶۲۲۱
سپین غر کتاب او قرطاسیه پلورنځی
خوست: - سباوون کتابخانه، دیوبند کتابخانه، لیوال کتابخانه
لغمان: - الفت قرطاسیه او کتاب پلورنځی، یونس کتاب پلورنحی
کندهار: کروړ کتاب او قرطاسیه پلورنځی، میرویس مارکیټ

د چاپ حقوق خپرندویه ټولنې سره خوندي دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ډالۍ

- خپل قدرمن پلار ته چې د ژوند په هره برخه کې يې زما پالنه کړې او زه يې تعليم کولو ته هڅولی يم او زما ملاتړ يې کړی دی.
- خپلې قدرمنې مور ته چې دعاګانو يې هميشه زما ژوند تاند ساتلی. او د ژوند په هره برخه کې يې کاميابي را په برخه کړې ده.
- خپلو هغو قدرمنو استادانو ته چې زما معنوي پالنه يې کړې. او زه يې ددې جوګه کړی يم چې نن ورځ د خپل ځان او د جامعې لپاره د خدمت مصدر وګرځم.
- خپلو زړه ته رانږدې ورونو او خوږو ملګرو ته چې هر وخت يې په خپلو نېکو مشورو سره سمې لارې ته تشويق کړی يم.
- هغه اتلو شهيدانو ته چې خپله وينه يې د اسلام او افغانستان د قلمرو د دفاع په خاطر او د خپلواکۍ د وياړلي بيرغ د اوچتوالي او د وطن د آزادۍ په لار کې نذرانه کړې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لړلیک

سرلیک — مخ
سپارښت لیک ........................................................................ ک
تقریظ ........................................................................ م
تقریظ ........................................................................ س
پیل خبرې ........................................................................ ف
سریزه ........................................................................ ۱
لومړی څپرکی ........................................................................ ۹
(جغرافیه، سیاست او د سیاسي جغرافیې پېژندنه) ........................................ ۹
۱ـ دجغرافیې پېژندنه ........................................................................ ۹
۲ـ سیاست ........................................................................ ۱۰
د سیاست تعریف او ماهیت ........................................................................ ۱۰
دجغرافیې سره د سیاست دعلم اړیکه ........................................................ ۱۲
سیاسي جغرافیه ........................................................................ ۱۷
د سیاسي جغرافیې دبحث وړمسایل ........................................................ ۲۰
په نړۍ کې د سیاسي جغرافیې بدلونونو ته یوه کتنه .......................................... ۲۲
په منځنیو پېړیو کې ........................................................................ ۲۳
په نوې دوره کې ........................................................................ ۲۳
دوهم څپرکی ........................................................................ ۲۵
د افغانستان تاریخي نومونه ........................................................................ ۲۵
۱.اریانا ........................................................................ ۲۵
۲ـیونان او باختر ........................................................................ ۳۱
د یونان او باختري مدنیت ځانګړنې ........................................................ ۳۲
۳ . خراسان ........................................................................ ۳۴

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴.افغانستان ............ ۳۷
دافغانستان لغت ............ ۳۹
دريم څپرکی ............ ۴۲
دافغانستان سياسي جغرافيه ............ ۴۲
دافغانستان څلورخواوې اوموقعيت ............ ۴۲
دافغانستان جيوپولتيکي موقعيت ............ ۴۴
دافغانستان جيوپولېتيکي ارزښت ............ ۴۴
دافغانستان مطلقه موقعيت ............ ۴۷
د افغانستان نسبې يا جغرافيايې موقعيت ............ ۴۹
دافغانستان ستراتيژيک موقعيت ............ ۵۰
دافغانستان طبيعي اوتوپوګرافيکي جوړښت ............ ۵۴
د افغانستان تاريخي وضعې ته يوه لنډه کتنه ............ ۵۸
څلورم څپرکی ............ ۶۲
د افغانستان پخوانۍ اداره، د حکومت طرز او اداري تشکيلات ............ ۶۲
دافغانستان دحکومت طرز او اداره په تېرودوروکې ............ ۶۲
دهېواد په سياسي او اداري ويشنه کې دعواملو اغېزمنتيا ............ ۶۲
دسياسي اداري تقسيماتو اهميت ............ ۶۸
داريانا اداري وېش ............ ۶۸
دخراسان اداري وېش ............ ۷۱
دمعاصر افغا نستان سياسي او اداري تقسيماتو ته يوه کتنه ............ ۷۲
پنځم څپرکی ............ ۹۱
دحکومت درې ګونې قواوې ............ ۹۱
مقننه قوه (ملي شورا ) ............ ۹۱
په افغانستان کې دملي شوراتاريخي پس منظر ............ ۹۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



په افغانستان کې د اساسي قانون تاریخي بهیر ........................ ۱۱۰
په افغانستان کې تصویب شوي قوانین ........................ ۱۲۰
مقرري او اساسنامې ........................ ۱۲۰
اجرایه ځواک(حکومت) ........................ ۱۲۱
دجمهور ریس دندې او صلاحیتونه ........................ ۱۲۳
دافغانستان اسلامي جمهوري دولت اداري تشکیلات ........................ ۱۲۳
دامنیت سکتور ........................ ۱۲۴
دحکومت داري چارواکې دقانون دحاکمیت او دبشر دحقوقو سکتور ........................ ۱۲۴
دطبعي زېرمو او زیر بناو سکتور ........................ ۱۲۵
دمعارف سکتور ........................ ۱۲۵
دروغتیا سکتور ........................ ۱۲۵
دزراعت او کلیو پراختیا سکتور ........................ ۱۲۵
داقتصادي ودې او خصوصي سکتور دپراختیا سکتور ........................ ۱۲۵
دټولنیزو ملاتړ سکتور ........................ ۱۲۶
قضایې ځواک (محکمې) ........................ ۱۲۸
شپږم څپرکی ........................ ۱۳۷
د افغانستان سرحدي کرښې ........................ ۱۳۷
د سرحدونو ډولونه ........................ ۱۴۰
لرغوني افغانستان(آریانا) پولې (د ۷۰۰ تر ۲۰۰ م ز پورې) ........................ ۱۴۵
دیونان باختري دورې پرمهال د لرغوني افغانستان پولې (د ۳۳۶ تر ۲۲۷ م ز) ........................ ۱۴۶
دخراسان پولې (د ۷۴۶ تر ۹۶۲ زیږدیز پورې) ........................ ۱۴۸
د هوتکیانو د واکمنۍ پولې (د ۱۷۰۹ م تر ۱۷۳۷ زیږدیز پورې) ........................ ۱۵۱
(د لوی افغانستان بنسټ ایښودنه او د ځمکنۍ پراختیا هلې ځلې) ........................ ۱۵۲
د لوی افغانستان د پولو د نړېدو او بدلون بهیر ........................ ۱۵۴

(c) ketabton.com: The Digital Library



دافغانستان او سنۍ پولې ........................................................ ۱۲۲
د افغانستان د اوسنیو پولو جوړښت او ستونزې ........................................ ۱۲۳
د افغانستان شمال ختیزې پولې ........................................................ ۱۲۴
شمالي پولې ........................................................................ ۱۲۷
لویدیزې پولې ....................................................................... ۱۷۱
د افغانستان ختیځ او جنوبي سرحد ................................................... ۱۷۵
د ډیورنډ د کرښې تاریخ .............................................................. ۱۷۸
اووم څپرکی ......................................................................... ۱۸۲
د سیمې له هېوادونو سره د افغانستان سیاسي اړیکې ................................. ۱۸۲
دافغانستان بهرنی سیاست ............................................................. ۱۸۲
په لومړۍ نړیواله جګړه کې د افغانستان دریځ .......................................... ۱۸۲
د دوهم نړیوال جنګ په دوران کې د افغانستان دریځ .................................... ۱۸۷
دافغانستان او پاکستان سیاسي اړیکې .................................................. ۱۸۹
دافغانستان او ایران سیاسي اړیکې ..................................................... ۱۹۲
د ترکمنستان او افغانستان سیاسي اړیکې ............................................... ۱۹۸
دافغانستان او ازبکستان سیاسي اړیکې .................................................. ۲۰۲
دچین او افغانستان سیاسي اړیکې ...................................................... ۲۰۴
دافغانستان او امریکا ستراتیژیکې اړیکې ............................................... ۲۰۷
اتم څپرکی .......................................................................... ۲۲۳
په افغانستان کې د بهرنیو هېوادونو لاسوهنې ........................................... ۲۲۳
دافغانستان په اړه د پاکستان دریځ ..................................................... ۲۲۳
د پاکستان سیاسي موخې او لاس وهنې ................................................. ۲۲۵
د پښتونستان مسئله او له پاکستان سره د اړیکو خرابېدل ............................. ۲۳۱
د ایران سیاسي موخې ................................................................ ۲۳۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



ازبکستان سیاسي موخې ........................................................................................ ۲۳۷
د تاجکستان سیاسي موخې ........................................................................................ ۲۳۸
د چین سیاسي موخې ........................................................................................ ۲۴۰
د هند سیاسي موخې ........................................................................................ ۲۴۲
د روس سیاسي موخې ........................................................................................ ۲۴۳
نهم څپرکی ........................................................................................ ۲۴۶
دافغانستان خارجي سوداګري ........................................................................................ ۲۴۶
ګاونډیانو سره سوداګري ........................................................................................ ۲۵۰
لسم څپرکی ........................................................................................ ۲۵۳
د افغانستان د ستونزو عوامل او د حل لارې ........................................................................................ ۲۵۳
.۱.دافغانستان دستونزې داخلي فکتورونه: ........................................................................................ ۲۵۹
د پورتنیو فکتورونو دحل لارې چارې ........................................................................................ ۲۶۰
دافغانستان دسیاسي جغرافیې اصطلاحات ........................................................................................ ۲۶۲
اخځلیکونه ........................................................................................ ۲۷۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سپارښت لیک

دا يو څرګند حقيقت دی چې زمونږ د ټولنې د موجوده عيني شرايطو په پام کې نيولو سره د يو علمي اثر لیکنه د علمي نويو ،معتبرو او مرجع کتابونو او اثارو د نه شتون له امله څه ساده او اسان کار نه دی،د دې ستونزو سره سره محترم پوهيالی فياض ګل (مظلوم يار ) توانيدلی چې يو کتاب لوړو زده کړو دوزارت د نوي کريکولم او درسي مفرداتو سره سم د(افغانستان سياسي جغرافيه ) تر سرليک لاندې چې د دريم (ټولګي )په (شپږم ) سمستر کې تدريس کيږي تکميل، محصلينو ته د استفادې په برخه کې وړاندې کړي.

دغه کتاب چې د بيلابيلو موضوعاتو لرونکی دی په يوه مناسبه سريزه پيل وروسته اړوند موضوع پورې يو شمېر مختلف سرليکونو ته ځای ورکړل شوی چې د مفرداتو په پام کې نيولو سره محصلينو ته ګټور او د هغوی د علمي پوهې د لوړاوي او ښه پوهاوي لپاره ډېر مهم او ضروري دی، په دې اثر کې لاندې موضوعاتو ته ځای ورکړل شوی دی:

لومړی څپرکی عمومي معلومات(سياست،جغرافيه او د سياسي جغرافيې پيژندنه )،دوهم څپرکی د افغانستان تاريخي نومونه،دريم څپرکی د افغانستان بيلا بيل موقعيتونه،څلورم څپرکی په افغانستان کې د حکومت طرز او اداري تشکيلات، پنځم څپرکی د افغانستان درې ګونې قواوې،شپږم څپرکی د افغانستان سرحدي کرښې، اووم څپرکی د سيمې له هيوادونو سره د افغانستان سياسي اړيکې، اتم څپرکی په افغانستان کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دګاونډیو هېوادونو سیاسي موخې، نهم څپرکی دافغانستان بهرنۍ سوداګرۍ، لسم څپرکی په افغانستان کې شته ستونزې او دحل لارې.

دپورته موضوعاتو برابرول اولیکل محصلین، مینه وال اولوستونکوته دېرګټور اوداثرپه وروستۍ برخه کې یولړ مهم اصطلاحات اواخځلیکونوته ځای ورکړل شوی دی.لیکونکي داثر په لیکلو کې دېرزیارویستلی،دلیکوالۍ ټولو اصولو او معیارونوته یې دامکان ترحده پاملرنه کړې ،ژبه یې روانه، ساده اوعام فهمه ده او داثر په لیکنه دموضوع ګانوتسلسل یې پوره په پام کې نیولی دی،اودموضوعاتو د ښه پوهاوي په خاطر داثر په مختلفواولازمو ځایونوکې مختلف جدولونو، انځورونواودموضوع په لمن لیکنوکې یې ماخذونوته ځای ورکړی دی.ددې خېړنیز اثرلیکنه چې په پښتورسمي ژبه ترسره شوی یوعلمي او ګټور کاربولم، لیکونکي ته یې دلوی خالق له درباره څخه دنوروبریاو غوښتونکی یم.

په درنښت

پوهنوال عزت الله خان

دښوونې اوروزنې پوهنځې دجغرافیې څانګې دعلمي کادرغړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



## تقريظ

الحمد الله رب السماوات والارض ورب العرش العظيم، والصلاة والسلام على قائد المجاهدين وعلى اله واصحابه اجمعين.

امابعد: خوشحاله يم چې دننګرهارپوهنتون دښوونې اوروزنې پوهنځي يوه ځوان علمي کادر محترم پوهيالى فياض ګل (مظلوم يار) علمي اثرمې دترلاسه کړچې دخپل مسلک سره سم يې په زړه پورې موضوع(دافغانستان سياسي جغرافيې) ترعنوان لاندې ليکلى دى، نوموړى اثر دعنوان له مخې دافغانستان سياسي جغرافيې ته کتنه ده خو په منځ پانګه(محتوى) کې يولړتاريخي مسايل هم په برکې لري چې دسياسي جغرافيې سره نژدې اړيکې لري. زه دنوموړي په زړه پورې اثر په هکله خپل نظر په لاندې توګه څرګندوم.

١ـ محترم پوهيالى مظلوم يار چې دنيکواخلاقو ژوندى نمونه ده، دغه علمي ليکنه اوپه علمي ډګرکې دهغه هلې ځلې دخپل مسلک سره دبې سارې مينې ښکارندويه ده اوزمادهمدې مدعاثبوت لپاره همدومره کافي ده چې نوموړى اثريې دترفيع داخېستلو څخه پرته دخدمت اومسلک سره دتړاو په غرض ليکلى دى.

٢ـ که محترم پوهيالى فياض ګل دخپل مسکل اوځانګې سره په همدې څپانده جزبې او احساس سره پاتې شي، نوهغه ورځ لرې نه ده چې دهغه لېکنې د افغانستان دسياسي جغرافيې څخه وراخوا دنړى په کچه دولسونو او پرګنو په ګټه تمامه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳ـ دنوموړې علمي اثريوه ځانګړنه داده چې دليکنې دښه پوهېدو لپاره يې جدولونه، مختلف انځورونه او په لمن لمنليک کې يې او همداشان دليکنې په پايله کې د اخذليکونو څخه يادونه کړې ترڅنګ يې مهم او ضروروې اصطلاحات هم په ښه توګه روښانه کړي، چې دليکونکي دعلمي استعداد يوه ژوندۍ بېلګه ده.

۴ـ دپوهنځي او اړوندې ځانګې څخه مې هېله داده چې نوموړی اثر دترفيع دنوروشرايطو په نظرکې نيولوسره دليکونکي په راتلونکوترفيعاتوکې محاسبه کړي.

دمحترم پوهيالي فياض ګل (مظلوم يار) دلازياتوبرياوو په هېله

په درنښت

پوهاند دوکتور دل اقا(وقار)

(c) ketabton.com: The Digital Library



تقریظ

دا یو څرګند حقیقت دی چې د درسي کتاب شتون په تېره بیا په پوهنتونونو کې د درسي پروسې د ښه پرمخ بیولو لپاره اړین کار دی، که درسي کتاب نه وي نو استاد به اړوي چې خپل د ېروخت د لکچرنوټونو په برابرولو تېر کړي، همدا رنګه د درسي کتاب شتون چې د ځانګې مفرداتو او علمي معیارونو سره سم لیکل شوی وي د استاد لپاره ښه اسانتیا ،د محصل لپاره شتمنه پانګه، ځوانو استادانو سره لو یه مرسته او د یو شمېرنورو لپاره غوره ماخذ کیدای شي. نو په پوهنتونونو کې د همدې جدي اړتیا له مخې د درسي کتاب لیکنه نه یوازې ښه ګام بلکې یوه سخته اړتیا ده. د یو علمي اثر لیکنه چې د عصر هر اړخیزو غوښتنو ته ځواب برابروي زمونږ د هېواد موجوده حالاتو په نظر کې نیولو سره د ېر ستونزمن کار دی.

د افغانستان سیاسي جغرافیې مضمون چې د ښوونې او روزنې پوهنځي د جغرافیې ځانګې د دریم ټولګي په شپږم سمستر په اونۍ کې (۲) کریډټه تدریس کیږي. د دې مضمون د تدریس لپاره په پښتو ژبه تر اوسه پورې د اسې کوم درسي کتاب نه وو لیکل شوی چې د ځانګې او محصلینو غوښتنو ته ځواب وو ایې.

مانوموړی درسي کتاب په غور سره ولوست چې د نوي مېتود سره سم لیکل شوی او د کتاب په لومړي څپرکې کې د جغرافیې د علم پېژندنه، سیاست، د سیاست تعریف او ماهیت، د سیاست او جغرافیې ترمنځ نه شلید ونکې اړیکې، سیاسي جغرافیه او د سیاسي جغرافیې د بحث وړ مسایل په د ېر غور او د قیقه توګه څېړل شوي.په دویم څپرکي کې د افغانستان تاریخي نومونه لکه: اریانا ، یونان او باختر، خراسان ،افغانستان او همدا رنګه د افغان کلیمې په اړه رڼا اچول شوې ده. د اثرپه دریم څپرکي کې د افغانستان په بېلا بېلو موقعیتونو لکه: د افغانستان مطلقه موقعیت، نسبي موقعیت، ستراتیژیک موقعیت، جیو پولیټیک موقعیت، طبیعي موقعیت او همدا شان د افغانستان په تاریخي وضعې بحث شوی او په وروستي څپرکو کې په بېلا بېلو دوروکې د افغانستان اداري او سیاسي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویش، دافغانستان سرحدي کرښې، دافغانستان دريې ګونې قواوې، دافغانستان اساسي قانون، دسیموله هېوادونو سره دافغانستان سیاسي اړیکې، دافغانستان خارجي تجارت، په افغانستان کې بحران او د هغې حل لارې چارې اوداسې نور دکریکولم اودرسي مفرداتو دپرله پسې والي له مخې په ډېر دقیق اوعلمي ډول ترڅېړنې لاندې نیول شوي اوداثرپه وروستیو برخوکې اصطلاحاتواو ماخذونوته ځای ورکړل شوی دی.همدرانګه دکتاب په لېکنه کې دپښتو دژبې ښې، مناسبې اوعام فهمه کلمې کارول شوي.

داکتاب به دښوونې اوروزنې پوهنځي دجغرافیې اوتاریخ څانګو د محصلینو ترڅنګ دحقوقو اوسیاسي علومو دمحصلینو ستونزې هم ترډېره بریده پورې حل کړي.

دافغانستان سیاسي جغرافیه دغه درسي کتاب چې په پښتورسمي ژبه لیکل شوی دهېواددلوړوزده کړو په علمي موسسوکې یوګټورکاربولم. ددې اثر هر څپرکی دعلمي اواکاډمیکو معیارونو په پام کې نیولو تربېلابېلو سرلیکونو لاندې لیکل شوی اودښه پوهاوي په خاطرمختلف جدولونه اولازم انځورونه دکتاب دمتن په مناسبوځایونوکې ځای پرځای شوي دي. نوموړي ته ددې اثردلیکلو مبارکي وړاندې کوم اوپه راتلونکې کې ورته په علمي چاروکې دلابریالیتوبونوهیله کوم.

په درنښت

پوهندوی ع،نبي(بصیرت)

دحقوقواوسیاسي علومو دپوهنځي علمي کدرغړی

اودنړیوالواړیکو دڅانګې امر

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پیل خبرې

الحمد لله رب العلمین و الصلاة و السلام علي سید المرسلین وعلي اله و اصحابه اجمعین و بعد !

له لوی او ښښونکي لایزال خدای څخه شکرګذار یم چې ماته یې دا توانایي راپه برخه کړه څو د خپل ملي وجیبې او هیوادني ارمانونو د پوره کولو په لور ګام پورته ترڅو ګرانو محصلینو، مسلک خاوندانو او جغرافیې مینه والو دا اړتیا د پوره کولو په خاطر د افغانستان سیاسي جغرافیې ترسرلیک لاندې یو درسي ممد د ننګرهار پوهنتون د ښوونې او روزنې پوهنځي د جغرافیې څانګې کریکولم او درسي مفرداتو سره سم، د لیکوالۍ د اصولو او علمي معیارونو په پام کې نیولو سره په پښتو رسمي ژبه چاپ ته اماده کړم.

ددې علمي اثر د لیکلو موخه داده څو محصلین او مینه وال د افغانستان سیاسي جغرافیې له موضوعاتو لکه:د د افغانستان تاریخي نومونه، د افغانستان سیاسي او اداري وېش، د افغانستان سرحدي کرښې ،د سیمې له هیوادونو سره د افغانستان سیاسي اړیکې ،په افغانستان کې د ګاونډیو هېوادونو موخې او د اسې نورو مسایلو سره اشنایي او پیژندګلوی پیدا کړي، څو وکولای شي په کوم چاپیریال کې چې ژوند کوي د هغې په باره کې پوره او ګټور معلومات ترلاسه کړي. هیله لرم چې د یو درسي کتاب په څېر د پوهنتونونو، د ښوونکو د روزنې مرکزونو ، تجروبوي علومو مرکزونو ، محصلینو او د مسلک خاوندانو لپاره لوړ او ګټور علمي معلومات ترلاسه کړي.

د لیکنې لپاره مې د موادو په راټولولو ، ترتیب کولو ، تحلیل او تجزیه کولو او بالاخره د عنوانونو په ټاکلو ، د یو او بل سره د اړونده موضوعاتو ځای پرځای کولو ، د جملاتو په ادبي او مناسب سکښت او آن د لمن لیکونو او اخځلیکونو په ترتیب کې، د ټولو هغو علمي او منل شویو اصولو او قواعدو پیروي کړې، چې داوسني عصر د علمي لیکنو سره برابر او نورو لیکوالانو په خپلو کتابونو او لارښود کتابونو کې وړاندې کړې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دکتاب د متن په منځ کې هڅه شوې ده چې د منابعو ذکر وشي، دکتاب په پای کې ماخذونو یو لیکلړ راغلی دی چې له محصلینو سره د لازیاتو معلوماتو د ترلاسه کولو په خاطر مرسته کولای شي.

د نومو ړي لیکنې په بشپړولو کې مې ډېر ستونزې او مشکلات وګالل ځکه له علمي لیکنو سره مې اشنایې کمه وه نوځکه مې موضوع په اړه سلا مشورو ته ډېر زیاته اړتیا لیدل کېده ترڅو زما ستونزو د حل لارې په موندلو کې له ما سره مرسته وکړي.

شک نشته چې هره انساني هڅه له نیمګړتیاو خالي نه وي،زه هم پدې باوري یم چې زما دغه لیکنه به هم څه ناڅه تېروتنې ولري،خو بیا هم زه له خپلو ټولو قدرمنو محصلینو څخه هیله کوم چې په راتلونکې کې د لیکنې دلانښه والي په موخه خپل رغنده نظریات له ما سره شریک کړي،زه ژمن یم چې په خپل چاپ کې به ستاسې نیوکو او نظریاتو ته ځای ورکړم.

په پای کې لازم ګڼم چې د جغرافیې څانګې ټولو هغو استادانو ، دوستانو اود مسلک خاوندانو له مرستي او همکارۍ څخه د زړه له کومې مننه وکړم چې ما سره یې ددې کتاب د لیکلو په برخه کې ترسره کړي په تېره بیا له محترم پوهنوال عزت الله او له محترم پوهندوی کریم الله ( بیدار )له مرستو او همکاریو څخه مننه کوم چې ددې کتاب د متن په اصلاح کې یې نه ستړې کیدونکې هلې ځلې کړي.ترڅنګ دښاغلي پوهنمل ولي الله (فاضل )څخه دزړه له کومې مننه کوم چې په ورین تندي یې زما دغه لیکنه ولیدله او د پښتو متن او جمله بندي په سمون کې یې را سره مرسته وکړه له لوی او ښښونکي خدای څخه ورته اجرعظیم ، اوږد ژوند او په علمي چارو کې د لابریو غوښتونکی یم.

په درنښت

پوهیالی فیاض ګل (مظلوم یار )

دننګرهارپوهنتون دښوونې او روزنې پوهنځي استاد

(c) ketabton.com: The Digital Library



سريزه

الحمد لله رب العلمين والصلوة والسلام علي النبې الامين وعلي آله واصحابه اجمعين اما بعد ،

د تاريخ او جغرافيې پوهانو افغانستان د اشغالګرو هېوادونو د تګ راتګ، ستراتيژيک پل ،دوربېنمولارې تقاطع ،دنړۍ بام ،د هند دروازه ،د اسلامي نړۍ دختيځې دروازې،دخنډ سيمه،دتمدنونو څلور لارې،دنړيوالې سوداګرۍ د لويې لارې او په پای کې ځينو د اسيا د زړه په نومونو سره نومولی دی.

افغانستان د(۵۴۵ )م ز څخه تر(۱۸۱۵ )زېږديز کلونو پورې د هندوستان په پراخه خاوره باندې د يرغلګرو د ځغل ډګر په نوم پېژندل کېده، په(۶ او ۷ )زېږديز پيړيو کې د هندوستان ،د پارس ساساني هېواد ،د ماوراء النهر د هېوادونو ،چين او د عربو د بحيرې ترمنځ يې وجود درلود چې د وريښمو لويه لار ورڅخه تېريدله او د هند ، پارس ، چين ، ماوراء النهر ،عراق، جزيرة العرب او د مصر تجارتي قافلو د تګ راتګ لار وه.

افغانستان د تاريخ په اوږدو کې د خپلو لوړو او ژورو له کبله تل د ځانګړي جيوپولېټيکي ارزښت څخه برخمن دی چې دغې ځانګړتيا د تاريخ په بېلابېلو پړاوونو کې دوينوډک کړکېچونه هم د ځانه سره لرلي دي، افغانستان په( ۱۹ زېږديز )پيړۍ کې د روس او انګليس ترمنځ د سيالۍ له امله د سيمې د خنډ( د سيمې حايل ) په نوم سوق الجيشي ځانګړی ارزښت پيدا کړ.

دې هېواد د( ۱۸۱۵ )زېږديز څخه تر(۱۹۸۹ )زېږديز کلونو پورې په دې نوم چې د هند بحر تودو اوبو ته تر ټولو لنډه لار ده،د روسانو د حرص او طمعې ښکار وو ، د سرې جګړې پر مهال د حساسې سيمې په نوم د پام وړ ګرځيدلی و چې د سوړ جنګ وروستنۍ جګړه د دې خاورې په کنډوالو او د مظلومو بچو په ککريو باندې ترسره شوه ، په دې جګړه کې که څه هم مجاهدين د خپل ولس په استازيتوب

(c) ketabton.com: The Digital Library



جنګیدل خو د تودو وینو لښتي پرته له دې چې د افغانستان خلک ورڅخه ګټه پورته کړي د نورو د ګټو دریاب ته توې شوې.
لویدیځ چې د لومړۍ نړیوالې جګړې پر مهال د افغانستان ملاتړي و، د شوروي د ړنګېدو او د سړې جګړې په پای ته رسیدو سره بې له دې چې د جګړه وهلي هېواد او ددې ویرژلي او په وینو لړلي ملت په وړاندې مسؤلیت احساس کړي، خپل ټغر یې ټول کړ او ددې سترې جګړې له امله په وینو او خاورو لړلو شهیدانو د مړو ترڅنګ تېر شول او افغانستان یې د سیمې واکمنۍ ته پرېښود. خو د بر وخت لا نه ؤ تېر شوی چې چې په مرکزي اسیا کې د تېلو او ګازو د پراخو زېرمو موندلو افغانستان ته یو نوی جیوپولېټیکي ارزښت ورپه برخه کړ او د لویې لارې په نوم چې په نړۍ کې د ( نړیوالې سوداګرۍ د دروازې ) په نوم نوموړل شوی، د پام وړ وګرځید.
د افغانستان ستراتیژیک ارزښت تل ددې باعث شوی ترڅو دا هېواد د یرغلونو او خونړیو نښتو ډګر وګرځي او د تاریخ په هر پړاو کې د خپل حساس موقعیت ګران قیمت اداء کړي. هغه موقعیت چې دې هېواد د سترو سیمه ایزو ځواکمنو او له سیمې نه پرته د نورو ځواکمنو په سیالیو کې لاسته راوړی دی، دغه مقام په لومړي قدم کې د انرژي له زېرمو څخه سرچینه نیسي.
که څه هم افغانستان فعلاً د تېلو او ګازو پراخه او پرېمانه زېرمې نه لري خو له دې امله چې د مرکزي آسیا د تېلو او ګازو له زېرمو څخه ډکو هېوادونو ته نږدې پروت دی، همدا راز منځني ختیځ ته د هغه نژدیوالی، ترکمنستان، د هند او چین د نیمې وچې پر لاره موقعیت، افغانستان د پاپلانستان زړه نومولی دی، افغانستان د مرکزي آسیا د ګاونډیتوب او د کسپین[1] د تېلو بحیري په اورغورځوونکي خوله

[1] د کسپین سمندرګی له عرب خلیج او سایبیریا څخه وروسته د نړۍ په کچه د انرژۍ ستره سرچینه ګڼل کیږي، د کسپین سمندرګي له جغرافیوي پلوه د اروپا او اسیا د پولو تر منځ پروت دی. ددې سمندرګي لویدیځ لور ته روسیه او اذربایجان، شمال لور ته قزاقستان، ختیځ

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې موقعيت لري، هغه بحيره چې د دوو نورو بحرونو ترمنځ پرته ده چې يو بحر د تېلو او ګازو دی او په بل بحر کې اسلام لامبو وهي او د اسلام په څپو څپانده دي.

افغانستان يو غرنی هېواد دی چې ۱/۳ برخې څخه زياته برخه يې د غرونو د لړيو پواسطه پوښل شوې ده. د غرونو دا لړۍ له يوې خوا د هماليا له غرونو[1] سره او له بلې خوا د لويديځې اسيا د غرونو له لړيو سره اړيکې لري.

افغانستان د غرونو لړۍ په ځانګړې توګه د هغې مرکزي برخې چې له ختيځ څخه لويديځ خواته امتداد لري او بالاخره د هريرود په حوزه کې پای ته رسيږي د هندوکش او د بابا د غره د شمالي او جنوبي برخو په منځ کې د اوبو د وېش بريد ټاکي، لدې پرته مختلفې سيمې د افغانستان شمالي برخې په ځانګړې توګه د ترکستان او بدخشان سيمې د افغانستان د سويلي او سوېل ختيځو سيمو يانې کابل، ننګرهار، غزني او کندهار څخه بېلې کړې دي او د اړيکتياو په لحاظ يې ستونزې پيدا کړې دي، په داسې حال کې چې نن ورځ د غه مشکلات د نقليه وسايطو پرمخ د سالنګ[2] د سورنګ په کېندلو سره تر يوې کچې د ګټې په غرض له منځه تللي دي.

---

ته ترکمنستان او سويل ته ايران پراته دي. په ټوليز ډول کسپين سمندرګي ۱۴۳۰۰۰ميل مربع ساحه نيولې ده.

[1] د اسيايي غرونو يو سلسله ده چې لوړه څوکه يې مونت ايورست نوميږي چې ۸۸۴۸ متره لوړوالی لري تقريبا په هند ،نيپال پاکستاني کشمير او داسې نورسيمو کې موقعيت لري.

[2] سالنګ تونل دهندوکش په غرونو کې تيرشوی د سمندر له سطحې څخه ۳۳۶۰ متره لوړوالی لري دا تونل ۲۷۷۲ متره اوږد ۵، ۷متره سور او ۱، ۷متره لوړوالی لري. ددې تونل دکيندلو کار د۱۳۳۲ لمريز کال دلنيدئ په مياشت کې پيل او په ۱۳۴۳ لمريز کال دوږي په مياشت کې پای ته ورسيد.

(c) ketabton.com: The Digital Library




افغانستان بري(وچ)اقلیم لري، پدې هېواد کې د اوړي په وخت کې هوا ډېره توده او د ژمي په مهال ډېره سړه وي. په دغه هېواد کې کله ناکله ربړدلې (زلزلې) هم کېږي.

ددې هېواد په طبیعي شتمنیو کې مس، جست او اوسپنه د یادولو وړ عنصرونه دي، ددې ترڅنګ ارزښمني ډبرې او غمي لکه لاجورد، زمرود او لعل هم ددغه هېواد په سویلي برخو کې موندل کېږي. د نورو طبیعي شتمنیو تر څنګ نفت، ګاز او دتېلو موندل شوې زېرمې هم د یادولو وړ دي. که څه هم چې دغه زېرمې لا تر اوسه پورې نه دي راوتلي او په کار نه دي اچول شوي ښايي ددې سبب په افغانستان کې د روسانو یرغل او تر هغې وروسته په کورنۍ جګړه کې د هېواد ښکېل کېدنه وه خو بیا هم ددې هېواد لپاره همدا مهمه شتمني ده چې په راتلونکې کې د انرژۍ د لویو سرچینو په توګه راڅرګند بدلای شي.

افغانستان په غرونو کې راګېرهېواد دی چې د اسیا دلوې وچې په څلورلارې کې پروت دی. دا هېواد د منځنۍ اسیا[1] یوه برخه ده، خو کله ناکله بیا په داسې سیمه کې څرګند شوی چې نه په منځني ختیځ او نه پر سویلي اسیا پورې تړلی دی، او داپدې مانا چې دغه سیمه د منځني ختیځ او سویلي اسیا سره فرهنګي، ژبنیز، توکمیز او جغرافیې اړیکې لري.دا هېواد په لویدیځ کې له ایران سره، په سویل او ختیځ کې له پاکستان سره، په شمال ختیځ کې له چین سره او په شمال کې له تاجکستان، ازبکستان او ترکمنستان سره ګډې پولې لري.

---

۱ د ملګرو ملتو د یونسکو د سازمان د ټاکنې له مخې، په منځنۍ اسیا کې دا هېوادونه او سیمې شاملې دي، لکه مغولستان، لوېدیز چین، پنجاب، شمالي هند او شمالي پاکستان، شمال ختیځ ایرن، افغانستان، د اسیایي روسیې سویلي سیمې، قرغزستان، تاجکستان، ازبکستان، ترکمنستان او قزاقستان.




افغانستان یوډېرلرغونی هېواد دی،د تاریخ له نظره دا یو لوی سوداګریز مرکز پاتې شوی او په همدې توګه په بېلابېلو وختونو کې دبېلابېلو قوتونو له خوا تر یرغل لاندې راغلی،لوټ او تالان شوی دی. د تاریخ په اوږدو کې دا سیمه دفارس،مقدونیانو ،عربانو ،مغولو ،ترکانو ،او یونانیانو لخوا نیول شوی. نوی افغانستان د لومړي ځل لپاره د افغان-انګلیس دریم جګړې[1] وروسته په

---

۱ افغان انګلیس ترمنځ درې جګړې پیښې شوي دي چې یې ۱۸۳۹م څخه پیل کیږي. دافغان انګلیس لومړی جنګ دوهم دافغان انګلیس ددوهم جنګ چې د ۱۸۷۸م څخه پیل کیږي .اودریم یې دافغان انګلیس دریم جنګ دی چې تر۱۹۱۹م پوري دوام کوي په دې اړه زیات تفصیل د(انګریزي استعمار او افغانستان) دمحترم اولس یار لیکنه،(دافغانستان او انګریز دوهمه جګړه) دښاغلي پوهاند حسن کاکړ لیکنې وګورئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۱۹۱۹ز یږدیز) کال کې د یوه خپلواک هېواد په توګه هغه وخت را څرګند شو کله چې بهرنیانو د افغانستان په چارو کې لاسوهنه پریښوده. په دغه هېواد د روسیې د یرغل وروسته، په هېواد کې بد امني، خپلمنځي جګړې، د طالبانو واکمني او بیا وروسته د سپتمبر د یولسمې پېښې د امریکا یرغل د دغه هېواد تاریخ ویجاړ کړ.
ددغو ناخوالو په پایله کې اوس افغانستان د بیا ودانېدو په لورې روان دی، دا یوه داسې هڅه ده چې د اوږد مهالې جګړې او د هغه ویجاړیو چې د کلونو کلونو وسله والو نښتو په نتیجه کې منځ ته راغلي ځواب ووایې او همدا نوی حکومت هم د ملت په یووالي او د هېواد د بیا جوړولو په درشل کې خپل ګامونه پورته کړي، خو لا تر اوسه پورې نه دی بریالی شوی چې په هېواد کې په بشپړه توګه امن او ورور ګلوي راولي.




افغانستان د خورا ډېرو ستونزو سره مخامخ دی، دنړېدلی اقتصادي نظام نه رانیولې، دمیلونونو مهاجرینو د بېرته ستنېدو پورې، د مخدره توکو قاچاق، د جنګسالارانو شته والی او په شته حکومت کې د بېلابېلو سیاسي ګوندونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخالفتونه، هغه ټول لاملونه دي چې د اوسنی حکومت ورسره لاس او ګریوان دی او همدا ټولې ستونزې دي چې دیویشتمې پېړۍ د افغانستان څرګندونه کوي.
افغانستان یو بې جوړې منځنۍ-مرکزي سیمه ده چېرته چې ابروآسیایي تمدنونو[1] د یو بل سره معاملې کړې او ډېر ځله یې د یو بل سره جنګونه کړي او دډېر پخوا نه د تاریخ یو مهم ځای پاتې شوی. د تاریخ په بهیر کې د دغه سیمه چې اوس د افغانستان په نوم یادیږي، د بېلابېلو خلکو لخوا نیول شوی چې پدغو کې آریایان، لرغونی ایرانیان، هندوآریایان، یونانیان، ماوریان، کوشانیان، هپتالیان، عربان، مغول، ترکانو، انګرېزانو، روسانو او پدې تازه وختونو کې امریکایان هم شامل دي. ډېر لږ ځل داسې پېښ شوي چې داسېمه دې په بشپړه توګه د یوه توکم د واک لاندې راغلې وي. ډېرځله داسې هم پېښ شوي چې د افغانستان وطني وګړو د خپل د هېواد څلور خواپرتې سیمې دلاس لاندې کړي او خپله پاچایي یې جوړه کړې.
داسې ویل کېږي چې (۲۰۰۰ او ۱۲۰۰) م زکاله مخکې د هندو-اروپایې ژبې د کورنۍ خلکو چې آریایان نومېدل، اوسني افغانستان ته مخه کړه او په همدې سیمه کې مېشت شول، او دیوه ملت بنسټ یې کېښود. او ددې نوم مانا " "د آریایانو خاوره " "، ده. داسې هم ویل شوی چې د زردشتي دین[2] په افغانستان کې د عیسی (ع) د راتګ نه مخکې د (۱۸۰۰ نه تر ۸۰۰ ) کالونو پورې په همدې سیمه کې زېږېدلی وي. لرغوني ژبه اوېستایي هم په همدې وختونو کې ددې سیمه ژبه وه. په همدې توګه ویل کېږي چې د لرغوني هندو-آریایي ویدي تمدن[3] هم ددغه هېواد له

---

[1] هغه تمدنونه چې په اسیا او اروپا کې منځ ته راغلي دي.
[2] زردشتي دین د نړۍ له ستروادیانو څخه دی، چې د زردشت په وسیله( ۱۲۰۰ کاله قبل المیلاد ) د افغانستان په سویل لویدیځ کې بنسټ کېښودل شو.
[3] ه افغانستان کې د اریا ئیانو تر ټولو لرغونۍ مدنیت د ویدي په نوم یادیږي. دا مدنیت ځکه ویدي یادشوی، چې مالومات یې د هغو څلورو کتابونو څخه په لاس راغلي چې د ریګویدا ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ختیځو سیمو سرچینه اخیستې خو پدې اړوند د لانورو څېړنو او پایلو اړتیا لیدل کېږي.

---

اتهرو ویدا ، ساما ویدا او ویجورو ویدا په نومونو یادیږي ، او ټولګه یې د ویدي سرودونو په نوم شهرت لري. د دې سرودونو پیل تر زېږدیز دوه زره کاله وړاندو مهالونو پورې اړه لري چې په شفاهي ډول د اریا ئیانو له خوا را نقل شوي او وروسته په سانسکریت ژبه لیکل شویدي. په ریګویدا کې د هغو سیمو نومونه شته چې داریا ئیانو تر واک او څواک لاندې وه. د دې سیمو زیاته شمیره په اوسني افغانستان کې د تاریخي جغرافیا پوهانو له لخوا پیژندل شویدي. د بیلګې په توګه ،هریوا ( هرات ) هیراوتي ( دهراوت ) بلهیکه ( بلخ ) او نور یادولای شو . د سیمو پر نومونو سر بیره په ریګویدا کې د سندونو او غرونو نومنه هم راغلي چې بیلګه یې د منجوان د غره نوم دی، چې د اوسني نورستان او بدخشان ترمنځ پیژندل شوی دئ. په ویدي سرودونو کې د اریا ئي قبیلو په اړه زیات مالومات شته. د الینا په نوم قبیله یاده شوېده چې د اوسني الینګار اوسېدنکي وه ، د بولان اوسېدونکي یې د بهالانه په نوم یاد کړیدي. دپکتها نوم هم ډیر یاد شوی چې د پښتون د کلیمې پخوانی ډول دی. په ریګوېدا کې داسې توري هم شته چې په لږ بدلون اوس معمول دي ، د بیلګې په توګه کورنۍ یې د کولا ( کهول ) په نوم یادول ، د قبیلو مشر ته یې پتي ویل اود څو یو ځای شویو قبیلو مشر یې د ګرامه په نوم یاد کړیدئ ، چې د ګرام کلیمه چې د سترا و لوی مانا لري اوس هم په زیاتو نومونو لکه باګرام او نورو کې لیدل کیږي. د ویدي مدنیت پر مهال اریا ئیانو د چوپانۍ او کرهڼې له لارې خپلې اړتیاوې پوره کولې .د حیواناتو د پوستکي به یې د تودو جامو او ښپلیو په جوړولو کې کار اخستی . د ښکلو خاورینو لوښو جوړول دود وه . ښکلې ګاڼې به یې جوړولې . د جنس په جنس راکړې ورکړې چاري یې هم زده کړې وې ، حیوانات به یې سره بدلول او هغه به یې د تبادلې لپاره بنسټ ګاڼه چې د پیسو په نوم به یادیدل .بیلا بیلې دانې غلې او د ښنلو خوندور بوټې یې هم پیژندل چې په ویدي سرودونو کې یې په وار وار یادونه شوېده . داسې بریښي چې د ویدي سرودونو ویل او په یادول د زماني پلوه ډیر پخوا پیل شویدي. خو په سرودونو کې تر ټولو پخوانۍ یادې شوې پیښې په ( ۱۸۰۰ ) یو زرا ته سوه کاله د مخ تر میلاد زمانې پورې اړه لري. ویدي مدنیت په پرله پسې توګه تر (۱۰۰۰) زر کاله د مخه تر میلاد دوام درلود.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لومړی څپرکی
## (جغرافيه، سياست او د سياسي جغرافيې پېژندنه)

### ۱ـ د جغرافيې پېژندنه

جغرافيه د انګريزي ژبې د(Geography) معادله کليمه ده چې يوناني ريښه لري. عربي بڼه يې (الجغرافيه) ده چې په پښتوکې يې موږ (جغرافيه) ليکو او په پارسي کې يې (جغرافی يا جغرافيا ) ليکي. په انګريزي ژبه کې د Geo لفظ د ځمکې، خاورې او کله کله خپله د جغرافيې په مانا هم کارېږي. همدا رنګه د Graphy لفظ د هنر، ليکلو، تشريح او ښودنې په مانا ده او د علم او پوهې مانا هم لېږدوي.

د برنارد وارينوس په نوم په (۱۸۸۳) زېږديز کال يو جغرافيه پوه د جغرافيې د پېژندنې په اړه وايي: جغرافيه هغه پوهه ده چې په کې د ځمکې ډول، د ځمکې سطحې او برخې لوستل کېږي.

د فردريک راتزل په نوم (د نولسمې پېړۍ دويمه نيمايي) کې يو بل جغرافيه پوه وايي: جغرافيه د ځمکې له سطحې او د هغه پديدو څخه بحث کوي چې د ځمکې له سطحې سره علمي اړيکې لري.

د ريچارډ هارتشون په نوم (۱۹۲۹) زېږديز کال يو بل جغرافيه پوه وايي: جغرافيه د ځمکې د سطحې د بدلېدونکو اړخونو استدلال، بدلون او توصيف کوي.

جغرافيه هغه علم دی چې مونږ ته زمونږ د ځمکې کره له بېلابېلو طبيعي او ناطبيعي بدلونونو او احوالو سره راپېژني. د بدلونونو لپاره دلايل په ګوته کوي او د طبيعي او غير طبيعي بدلونونو او شرايطو ترمنځ خپلمنځي اړيکې پيدا کوي او لولي.[1]

جغرافيه پوه فزيکي نړۍ ارزوي او د سيمو ترمنځ اړيکې تحليلوي، چې په دې ډول په بڼو او طبعيت يا د بشري ټولنو په څرنګوالي رڼا اچوي، په دې ډول جغرافيه د انسان او طبيعي چاپېريال ترمنځ متقابلې اړيکې تحليل او ارزوي، په همدې ډول

---

[1] سياسي جغرافيه ، د پوهندوی کريم الله ليکنه، ۳ـ۴ مخونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



سيمه ايز تو پيرونه ارزوي او دهغوی لاملونه پيدا کوي.کله چې د سيمو ترمنځ دواټن اندازه رسمه کړي دهغوی ترمنځ اړيکې څېړي.

**۲. سياست**

**د سياست تعريف او ماهيت**

په انګريزي ژبه کې د سياست هم مانه(انډول) لفظ Ploitics دی چې پوهان يې ريښه د يوناني ژبې له Polis کليمې څخه اخېستل شوې ګڼي.په يوناني ژبه کې د Polis د ښار-دولت يا City_State ماناورکوي.له دې لفظي پېژندنې څخه دا سې معلوميږي چې د سياست دانګليسي ژبې همما نا لفظ Politics په ښار او دولت پورې اړوند وچاروته ويل کيږي.[1]

د سياست د بنسټونو په اړه چې تر دې دمه کومې څېړنې شوې دي،پوهانو يې بنسټونه لرغوني يونان د سقراط او افلاطون په کتابونو کې موندلي دي،دوی فکر کوي چې د يونان ښاري دولتونه دعملي سياست ترټولو لومړني ډګرونه ول،دغه څېړنې زياتره دلويديځ والو نامسلمانو له خوا شويدي، چې دوی دخپلو څېړنو فکري او عقيدوي ليد پربنسټ د سياست لپاره بېلا بېل تعريفونه هم کړي دي.خو په مقابل کې يې مسلمانو پوهانو چې له خپلې ګروهې اوليد سره سم د سياست لفظ او مفهوم څنګه څېړلی اوکوم تعريف يې ورته کړيدی،هغه نه يوازې دلويديځ والو پوهانو له تعريفونو څخه بېل دی،بلکې د مسلمانو پوهانو د تعريف له مخې د سياست پوهنې يا سياست بنسټ هم دلرغوني يونان څخه ډېر وړاندې ځي او هغه مهال ته رسيږي.کله چې څښتن تعالی(ج) پرښتو ته خپله اراده څرګنده کړه،چې غواړي انسان د ځمکې پرمخ خپل خليفه وګرځوي په قاموسونو کې د خليفه مانا نماينده او استازی ،مشر او تنظيمونکی ښودل شويدی.

---

[1] سياسي جغرافيه،د پوهندوی کريم الله ليکنه،۴مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مسلمانانو پوهانو له آنده سياست د اصلاح او ښايسته کولو په مانا دی، لدې ځايه ويلی شو چې څښتن تعالی(ج) په خپله اراده کې د انسان لپاره د ځمکې د مخ د ښايسته کولو چاره غوره کړې وه، که څه هم پرښتو د څښتن تعالی د ارادې د څرګندولو پر مهال خپل تشويش ښکاره کړ او الله تعالی ته يې عرض وکړ، چې تاسو پر ځمکه هغه څوک پيدا کوئ چې فساد به کوي او د خپلو هم جنسو وينې تو يوي، خو الله تعالی يې په ځواب کې وويل: زه چې پر څه شي پوهېږم تاسې پرې نه پوهيږئ. په تفسيرونو کې راغلي دي، چې د ځمکې پرمخ د انسانانو څخه وړاندې پېريانو ژوند کاوه، چې دوی په فساد ککړ او د يوبل وينې يې تويولې، چې د غه وضعيت د څښتن تعالی(ج) د ناخوښۍ سبب شو، همغه وو چې د ځمکې د ښکلا لپاره يې حضرت آدم(ع) پيدا کړ نو مونږ له همدې ځايه ويلی شو چې څښتن تعالی(ج) د انسانانو پلار حضرت آدم(ع) ته د ځمکې د سياست چارې دلومړي ځل لپاره وسپارلې او له همدغه ځايه د سياست پيل وشو. کله چې حضرت آدم(ع) له جنت څخه ځمکې ته راغی او پر ځمکه باندې د تولد او تناسل سلسله شروع شوه. د حضرت آدم ع اولادونه د ځمکې پرمخ زيات او خپاره شول، له هغه مهاله د وروستي پيغمبر حضرت محمد(ص) تر بعثت پورې څښتن تعالی د ځمکې پرمخ د خپلو بندګانو د اصلاح او تنظيم چارې وخت په وخت خپلو پيغمبرانو ته سپارلې دي او هغوی به د خپلو ويناوو او عمل پواسطه خلک ښو کارونو ته رابلل، د څښتن تعالی احکام به يې ورته رسول او د هغه ستاينې او عبادت ته به يې هڅول په اسلامي کتابونو کې راغلي دي، چې حضرت نوح(ع) خپل قوم ته(۹۵۰) کاله تبليغ وکړ، چې هغوی اصلاح کړي او د الله تعالی احکام پرې ومني او له بد يو څخه يې وژغوري. کله چې په اومه زيږديزه پېړۍ کې نړۍ او د نړۍ انسانان د وروستي پيغمبر حضرت محمد(ص) پر بعثت باندې نېکمرغه شول نو د پيغمبرۍ لړۍ تمامه شوه الله تعالی(ج) ته پېغام ورکړ چې ستاسې دين مې بشپړ کړ او خپل نعمتونه مې پر تاسې تمام کړل. مفسرين د دې آيت شريف معنا او تفسير همدغه د پيغمبرۍ لړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



پـای تـه رسـېدل بـولي چـې پرانسـانیت دالله(ج) لـه خوا ښخـه نعمـت واونورتمـام شو ،دحضرت محمد(ص)ښخـه راوروسـته دانسـانانو تـرمنځ دچارو تنظیم،دالهي احکـامو تبلیـغ اوخلکوتـه درسولوچارې دهغودوارثینو(دیني عالمـانو غـاړې تـه ولویـدي). دحضـرت محمـد(ص) لـه وفـات ښخـه وروسـته دهغـو دڅلـورو یـارانو دخلافت اواسلامي سیاست ،اسلامي حکومت والۍ،اسلامي عدالت، داسلامي لید له مخې دانسانانو داصلاح کـوونکي او دچارولـه تنظیم ترټولـو غـوره بیلګې دي،ددوی په خلافت کې داوسني اصیل سیاست ټول اړخونـه اورنګونـه موجـود ول،دنړیوالو اړیکولپاره یې اصول درلودل، وقف، صدقات،اوزکات پـه اسـلامي ټولنو کې دخلکو داقتصادي رشد لپاره دنړۍ ترټولو پرمختللي بنسټونه دي.لنډه داچې په اوسني سیاست اوورپورې اړونده چـاروکې هـېڅ داسې مسـله نشـته چې اسـاس اوبنسټ یې داسـلام پـه مبـارک دیـن کې او دحضـرت محمـد(ص) اودهغـه دیارانو په خلافتونو کې په عملي توګه شتون ونلري،دسیاست دکلمې لغوي معنـا او اصطلاحي تعریفونه داسلامي علماوو له نظره په لاندې ډول دي:

۱:- دسیاست لغوي مانا:سیاست دامارت په وزن(ساس،یسوس) د (قال،یقول) پـه وزن سـره دمصدرصـیغه ده ،نودسیاسـت مانـا اصـلاح کـول اوښایسـته کـول دي اودهمدې لغوي مانا پر اساس دغه دریاست اوحکومت دچارو لپاره په زیاته توګه اسـتعمالیږي،داځکه چې دریاست اوحکومـت هـدف هـم دخلکودحـالاتو اصـلاح اوبهتروالـی دی نـو پـه منظمـه توګه دحکومت اودریاست دچـارو پـرمخ بیولـو تـه سیاست ویل کېږي. همدارنګه اسلامي پوهانو هـم سیاسـت تـه مختلـف تعریفونـه کړیدي،چې په لاندې ډول دي:

ابـن خلدون(رح) چې پـه( ۸۰۸هـ ق )کـال کې وفـات شـوی دی دسیاسـت پـه هکلـه داسې لیکـي: (فالسیاسـته والملـک هـي کفالتـه للخلق وخلافـت الله فـی العبـاد لتنفیـذ احکامـه فـیهم) سیاسـت اوحکومـت دمخلـوق دسـاتنې اودهغـوی دګټوکفالت اوضمانت نوم دی اوداډول سیاست د الله(ج) نیابت دی چې دهغـه پـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



بندګانو دهغه (عزوجل) احکام نافذ کړای شي، همدارنګه امام غزالي(رح) چې په( ۵۰۵هـ ق )کال کې وفات شوی دی د سیاست په هکله داسې وایې(استصلاح الخلق وارشادهم الی الطریق المستقیم المنجي فی الدنیا والاخرته) یانې دالله دبندګانو اصلاح اوهغې لارې ته دهغې لارښوونه چې ددنیا اوآخرت دخلاصون یوائنۍ ذریعه ده سیاست ویل کېږي. په همدې توګه په بل ځای کې یې داسې تعریفوي(وهی التالف والاجتماع علی اسباب المعشیته وضبطها )یانې سیاست هغه تدبیر دی چې دژوندانه دوسایلو اودهغو په ګرد راګرد کې دافرادو اوټولنې ترمنځ دمحبت، یووالي اویوله بل سره دمرستې دپیدا کېدو وسیله ګرځي.ابن منظور افریقایې چې په (۷۱۱هـ ق) کال کې وفات شوی دی سیاست دارنګه تعریف کړیدي(والسیاست القیام علي الشی بما یصلحه والسیاسته في الساسس) یانې دیوشي داصلاح لپاره ملاتړل اوکلک دریدل دسیاست څخه عبارت دي چې دایو مدبرکار دی.امام راغب اصفهاني(رح) دسیاست په تعریف کې ددریو شیانو یادونه کړیده اودانساني فعالیتونو دارو ،مدار یې په دریو شیانو پورې مربوط بللی دی:

۱:- امارت الارض: یانې دځمکې پرمخ دساختماني اوتعمیراتي تمدن منځ ته راوړل.

۲:- مکارم الشریعته: یانې دښواخلاقو اختیارول.

۳:- تنفیذ احکام الله: یانې دالله(ج) داحکامو نافذول.

امام ابوالحسن ماوردي چې په( ۴۶۰ هـ ق )کال کې وفات شوی دی په لازیاتو صافو الفاظو کې یې دامطلب بیان کړی دی(الا امامته موضوعته في حراسته الدین والسیاسته الدنیا ) یانې اسلامي حکومت یوډول قیادت دی چې ددین په

(c) ketabton.com: The Digital Library



حفاظت اود دنیا په سیاست بنا دی، د دین له حفاظت څخه وروسته په چارو کې برخه اخیستل په سیاست پورې موقوف دي. حضرت ابو الوفا ابن عقیل بغدادي (رح) چې په کال( ۵۱۳هـ ق ) کې وفات شوی دی وایې: سیاست د هغو تدبیرونو نوم دی چې د هغې پواسطه خلک له یوبل سره د اصلاح او مصلحت پرلور نږدې کوي، فساد او خرابي له منځه وړي. حضرت شاولی الله دهلوی (رح) وایې چې سیاست او حکمت د هغه فن نوم دی چې دیوه‌پواد دوګړو ترمنځ د ټولنیزو اړیکو د ځرنګوالي څخه بحث کوي. علامه ابو البقي حنفي(رح) سیاست داسې تعریفوي: هرهغه تګلاره چې په حال او راتلونکې کې د انسان د ښېګڼې او نېکمرغۍ ضمانت کوي سیاست نومیږي. ابن تمیمه(رح) وایې: حکومت یو امانت دی چې سیاست او عدل ساتل یې دنده ده.

د پورته تصریحاتو په بنسټ د سیاست مانا مکر، فریب، غولول، او جنګول نه دي، بلکې سیاست د هغې پوهې نوم دی چې د خلکو ترمنځ ورورولي، مینه او محبت رامنځ ته کوي. حقیقي سیاست پوه هغه څوک دی چې د ښه نظم او تدبیر نه پرته بهترین مصلح او د اخلاقو ښه معلم هم وي. د پورتنیو تعریفاتو څخه داسې نتیجه په لاس راځي چې سیاست یو فن او پوهه ده چې د حکومت او ریاست نظم او نسق یې موضوع او مهمه دنده تشکیلوي. غرض او مقصد یې د مصالحو ساتنه او د خلکو ترمنځ اړیکې او ارتباط د یوې قاعدې او قانون په توګه کنترول دی، مسلمانانو ترموده موده د سیاست او حکمت څراغ روښانه وساته او زموږ باور دی چې د نړۍ په اوسني سیاسي شعورکې چې د عمومیت او حکومت په قالب کې د اختیاراتو کوم قوت ښکاري په هغه کې د اسلام د سیاسي دوره پرلوی لاس دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اسلامي پوهانو پر ته غربي پوهان هم شته چې د سیاست په اړه یې نظریات ورکړي دي چې معاصر پوهان سیاست د قدرت ترلاسه کولو لپاره هلو ځلو او کوښښ ته وايي.
جرمني سیاستپوه ماکس ویبر(۱۸۶۳-۱۹۲۰) زیږدیز کلونو کې ویلي دي (( سیاست یاني په قدرت کې د ګډون کولو لپاره کوښښ یا هم پر قدرت د نفوذ درلود لو لپاره کوښښ، هغه که د دولت په منځ کې وي او که د سیاسي ډلو په منځ کې ))
یادونو موږې پوه له انده هره هغه هڅه چې د قدرت ترلاسه کولو او یا هم پر قدرت د نفوذ یا اغیز درلود لو په خاطر تر سره کیږي له سیاست څخه عبارت دی.
یو بل جرمني سیاست پوه مورګانتا (۱۹۰۴-۱۹۸۰) زیږدیز کلونو کې ویلي دي: ((سیاست یوازې د قدرت لپاره مبارزه ده، نود قدرت لوستنې ته سیاستپوهنه وايي)) ددې پوه پراند هر هغه مبارزه چې د قدرت لپاره وي سیاست دی، نو موږې وايي چې انساني ټولنه د قدرت پر سر له مبارزې څخه نه خالي کیږي او د قدرت لپاره مبارزه د انساني ټولنې خاصه ده. ارسطو هم ښایي انسان له همدې امله (سیاسي ژوی) ګڼلی وي چې د قدرت لپاره مبارزه یې په خټه کې اغږلې ده، هغه بې سیاسته انسان ته بې خاصیته ښاري ویلای دی یاني هغه انسان چې په ښار یا ټولنه کې ژوند کوي او په یونه یوډول په سیاست کې دخیل نه وي، داسې دی چې ګواکې هغه د ټولنې یا ښار خاصیت او صفت نه لري.[۲۱]

---

[۱] سیاسي جغرافیه ،دپوهندوی کریم الله لیکنه، ۲-۵مخونه
[۲] کولای شي د سیاست په اړه زیات معلومات د (اسلام او سیاسي اندونه) لیکوال:مفتي محمد تقي عثماني، (پولیټیکل ساینس ته یوه کتنه).لیکوال محمد معصوم هوتک(.بین المللي سیاست ته یوه کتنه.)ژباړه محمدصدیق ظهیر(.تاریخ افکار سیاسي): لیکوال. دوکتور عنایت الله خلیل هدف. (اسلام و سیاست). لیکوال:استاد سیاف کتابونه وګورئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د جغرافیې سره د سیاست د علم اړیکه

د جغرافیې علم د بشري ژوندانه د طبیعي محیط څخه بحث کوي او څرنګه چې جغرافیه د ژوندانه محیط دی نو د یو هېواد جغرافیایي جوړښت په انساني خویونو، عاداتو، کلچر او سلوک باندې تاثیرلري، چې همدا انساني مواصفات په سیاست باندې ستره اغیزه لري. د لوړو غرونو او بې سروپایانه درو او سیدونکي د استعمار په مقابل کې د کلک او پیاوړي دریځ خاوندان وي. چې زمونږ د ګران هېواد تاریخ او جغرافیه دواړه د دې حقیقت ښه ثبوت دی. د لوی سکندر څخه نیولې تر مغلو، فرنګیانو، شورویانو او نورو غربي وحشي یرغلګرو په مقابل کې زمونږ د غیور قوم نه ماتیدونکی مقاومت او مبارزه او د دښمن ته غاښ ماتوونکې ماتې ورکول د دغه جغرافیایي لوړینې نتیجه ده چې لوی الله جل جلاله زمونږ پر ملت کړې ده.

د بلې خوا په پرله پسې ډول په افغانستان باندې د نړۍ د سترو یرغلګرو او اشغالګرو د یرغل لوی لامل هم د دې هېواد جیوپولیتیک اهمیت دی، چې د شرق په لورې د پر مختګ دروازه او د نړۍ د بام موقعیت هم د لویو عواملو د جملې څخه ګڼل کیږي. د خیبر دره، د هرمز تنګی، د طارق ابنا، د نړۍ بام او داسې نور هغه جغرافیایي موقعیتونه دي چې د نړۍ په سیاست کې یې ستر بدلونونه راوستي دي[۱]

---

[۱] د سیاسي افکارو تاریخ، د پوهندوی ع، بصیرت لیکنه:۲۱-۲۲مخونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیاسي جغرافیه

سیاسي جغرافیه دبشري جغرافیې یوه څانګه ده چې په جغرافیایي چاپېریال باندې د سیاست او قدرت له اغېزو څخه بحث کوي. او پرجغرافیایي چاپېریال د سیاسي پرېکړو اغېز ترڅېړنې لاندې نیسي. دنوموړي تعریف له نظره سیاسي جغرافیې دنده داده چې دځمکې مخ پرمحلي، ملي او سیمه یېزو بېلا بېلو برخوویشي.

➢ سیاسي جغرافیه د سیاسي تصمیمونو اغېزې په جغرافیایي چاپېریال باندې دڅېړنې او پلټنې لاندې نیسي.

➢ د سیاسي جغرافیې ځانګړې رول محلي، ملي ،سیمه ایزه کچې د سیاسي فضا سازماندهي کول دي.

➢ سیاسي جغرافیه دفزیکي چاپېریال او د سیاست متقابلو اغېزو(تاثیرات) څخه بحث کوي.

➢ داخري تعریف له مخې د جغرافیې ځانګړې رول د سیاسي پدېدو ،دفضایې تحلیل او د سیاسي کړنلارو د پېژندنې څخه عبارت دی.

➢ سیاسي جغرافیه سیمه ایزتو پیرونه او سیاسي ورته والی دډېرو نورو جغرافیایي توپیرونو اوورته والیو سره څېړي.

➢ سیاسي جغرافیه د سیاسي قدرت نقش(رول )زېږونه په جغرافیایي چاپېریال کې څېړي.

➢ په سیاسي جغرافیه کې دانسان اغېزپه لاندې مواردو کې مطالعه کېږي لکه: موقعیتونه ،سرحدونه ،ملکونه ،ملتونه او منطقې.

➢ سیاسي جغرافیه دقدرت دصاحبانو د سیاسي تصمیمونو مطالعه(څېړنه )په جغرافیایي چاپېریال کې ده. لکه دمملکت سیاسي وېش او دجغرافیې پرمخ سیاسي سرحدونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سیاسي جغرافیې موضوع: د سیاسي جغرافیه اصلي موضوع ملک (هېواد) دی ، سیاسي جغرافیه ، سیاسي پدېدې د یو هېواد په داخلي فضا کې څېړي. په سنتي ډول لاندې مفاهیم مطالعه کوي:
هېواد ، سرحد ، ملت ، حکومت او ځمکه.

د سیاسي جغرافیې قلمرو او ماهیت: سیاسي جغرافیه د انساني جغرافیې یوه څانګه ده چې د نني آخرین تعریف له مخې د سیاسي جغرافیې ځانګړی نقش د سیاسي پدېدو د فضا تحلیل او د سیاسي لرلیدونو پېژندنه ده.
هارتشورن (Hharthishorn) په (۱۹۵۴ زېږدیز) کال کې د سیاسي جغرافیې لومړنی او ټولو ته د منلو وړ لاندې منسجم تعریف وړاندې کړی.
(سیاسي جغرافیه منطقوي سیاسي توپیرونه او ورته والی او نور ډېری جغرافیایې توپیرونو او ورته والیو ترمنځ اړیکې څېړي). د سیستماتیکې (تدریجي) او تیوریکې (نظري) جغرافیې په پراخوالي سره نوي تعریف ته اړتیا لیدل کېدله د شپېتمې لسیزې په اوآخرو کې د تعریف او څرګندو تغیراتو په نتیجه کې دا علم بربنډ او پایدار شو.
جکسون د سیاسي جغرافیې اساسي پدېدو څېړنه په منطقه کې بولي. دوه تنه د جغرافیه پوهان د کوهن او رزنتال په نامه د نوې مېتودولوژي له مخې الګویې (نمونه) طرحه وړاندې کوي چې د انسان سیاسي نقش په ټولنه کې او د هغه اړیکې له ملک سره او همدارازد د غو اړیکو د حاصل نتېجې د سیاسي نظام په تشکېل کې رغنده ونډه لري. پدې الګو کې د انسان سیاسي نقش د سیاسي ایډیالوژي په صورت، سیاسي ساختار او اجرائیوي تصمیمونو کې ښودل شوی دي. سیاسي لرلیدونه د ټولنیزو قوتونه سره نه شلېدونکې اړیکې لري، ځکه همدا ټولنیز قوتونه د سیاسي بنسټونو ته شکل ورکوي او سیاسي جریانونه د همدې بنسټونو له مخې عمل کوي. په همدې بنسټ سیاسي نظام د ټولنیزو قوتونو ، سیاسي جریانونو او جغرافیایې فضا څخه جوړېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیاسي نظام هم پراخ طیف(ګروپ یا ډله)لري چې یو سریې کاملاً ارت او بل سریې تړلې نظامونه جوړوي. تقریباً ټول نظامونه خپل ځای دد غوارتو- تړلو نظامونو په منځ کې لري.د سیاسي نظام اړیکې د ملک سره مستقیمې او پراخه دي.
دارت (خلاص) نظام محصول متقابله تړاو(وابستګي)ده مثلاً دسکونت کولو الګو (نمونه)،منابعو څخه دګټې پورته کولو تمرکزبنستونه ،ورودي بندرونو پراخول او نړیوالو عدالتونو پیدا کول دارت نظام څرګندونه کوي.
د تړلې نظام هدف خود کفایې ده.د سکونت پراګنده الګو (غیرې مجتمع) او د منابعو څخه په غیرې متمرکزاو پراخ ډول ګټه اخیستنه لیدل کیږي.پدې نظام کې رفاهي تسهیلات(سهولتونه) او امکانات مرکزي بڼه لري او نړیوالو عدالتونو او شعارونو ځای ملي عدالتونو ته ورکول کیږي .پدې اساس دارت او تړلې نظام په وړاندې مشترک لیدا ولرلید دهغو عدالتونو له کچې څخه اټکل کیدلی شي.
جغرافیایې سیاست د جغرافیایې عواملو داغیزو مطالعه د قدرت دصاحبانو په سیاسي تصمیم نیونه کې ده.لکه:دعوارضو،جغرافیایې موقعیتونو او طبیعي زیرمو نقش په هغو برنامه جوړونو کې چې سیاسي هدف پکې په مخ بیول کیږي.
جغرافیایې سیاست(جیو پولیټیک)د قدرتونو ترمنځ دهمکاریو داړیکو اویا درقابت دمطالعې ته دهغو امکاناتو پربنسټ وایې چې د جغرافیایې چاپیریال اویا جغرافیایې شرایطو رامنځته کړي وي.چې په سنتي ډول د اطلاعاتو لیدلو روته او جغرافیایې تکنیکونو پراساس دهیوادونو دخارجي سیاست مسائل څیړي، له بله پلوه دنړیوالو مسائلو په حوزه کې چې د جیو پولیټیک دمطالعاتو قلمرو بلل کیږي په سنتي ډول د قدرت دمناسباتو په نړیواله سطحه جهاني قدرت ته درسیدو لارې چارې او د قدرت دزیاتولو او ټینګولو څخه بحث او څیړنه کوي.
اوسمهال چې په نړیوال سیاست کې کوم بدلونونه رامنځته شوي دي د جیو پولیټیک بحثونو ته یې زیاته تنوع ورکړیده او داځانګه نوې او تازه مفاهیم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترڅېړنې لاندې نیسي.ددې مفاهیمو څېړنه دزمان اومکان په بسترکې دهېواددامورودادارې لري، سره توجیح زیاته مرسته کوي له همدې کبله ځېنې خلک جیو پولېټیک دسیاسي جغرافیې مترادف مانا کوي اما په حقیقت کې دوی اصلي مانا دقدرت مندوهېوادونو په منځ کې رقابت ته وایې اویا لوی قدرتونه دلوړوالي ترلاسه کول په کوچني بعد (اړخ،خوا ) کې بولې، ولې په ستراتیژیک بحث کې جیوپولېټیک دخاورې دعرضې بشپړتیادساتنې په مانا اطلاق کېږي.

د سیاسي جغرافیې دبحث وړمسایل

سیاسي جغرافیه سیاسي پدېدې دیوهېوادپه داخلي فضاکې څېړي په سنتي ډول دلاندې مفاهیمو لرونکې وي لکه خاوره ،ملت ،حکومت اوسرحد.

نظردې ته چې یوهېواددسیاسي جغرافیې دمطالعاتوپه منځ کې ځای لري درې عواملو(ملت،حکومت اوخاورې) له اړیکي څخه هېوادتشکلیږي په همدې ډول تول هغه موضوعات چې له دې مفاهیموسره اړیکي لري لکه دقومي مسایلودرېښو پیداکول دمهاجرتونوجریانات،دېناري نواحیودسیاسي قدرت تحلیل ،دهېواد په کچه دسیاسي قدرت فضایي تحلیل دهېوادتقسیمات اومکاني رقابتونه ،محلي دولت،دسیاسي قدرت تمرکزاوعدم تمرکز، د انتخاباتوجغرافیه داټول هغه مسایل دي چې په هېوادپورې تړلي دي چې نن ورځ په سیاسي جغرافیه کې دپاملرنې اوڅېړنې لاندې قرارمومي له بله پلوه دنړیوالومسایلوپه حوزه کې چې دجیوپولېټیک مطالعاتوقلمروبلل کېږي په سنتي ډول دقدرت دمناسباتوپه اړه په نړیواله کچه اوجهاني قدرت ته درسېدوتېنګښت اودقدرت زیاتوالي څخه بحث اوڅېړنه صورت مومي اوس وخت چې په نړیوال سیاست کې کوم بدلونه منځته راغلی جیوپولېټیک مسایلوته یې نوې لاس ته راوړنې وربخښلي اودسیاسي جغرافیې داځانګه نوي او تازه مفاهیم تربحث لاندې نیسي. ددغومفاهیموڅېړنه دزمان اومکان په

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسترکې د هېواد دامورودداراييي سره توجیهي مرسته کوي چې په لاندې ډول دغومفاهیموته اشاره کوو.

ملت: دانسانانو هغه ډلې ته ویل کېږي چې د شریک فرهنګ، نژاد، رسنیواو دیوې ژبې اویوواحد حکومت لرونکي اویادواحد لرلو په هڅه کې وي.

حکومت: حکومت د سیاسي جغرافیه دیوه برخه ده مګرله یوه پلوه سیاسي جوړښت دجغرافیایي چاپېریال اداره کوي اوله بله پلوه دایو مفهوم دی چې د سیاست نقش او رول په جغرافیایي چاپېریال کې متمرکزکوي او سیاسي بڼه لري.

- حکومت شکل نیونه او اغېزې په چاپېریال باندې جغرافیایي بحث دی.

- دحکومت دټېنګښت اعمال حقوقي بحث دی.

- دخاورې اداره دحکومت له پلوه په سیاسي علوموپورې تړلی بحث دی.

خاوره (سرزمین): خاوره دیوه هېوادافقي او فزیکي څېره ده، خاوره هم سیاسي مفهوم اوهم جغرافیایي مفهوم بلل کېږي. څرنګه چې دځمکې دجغرافیه څېره د سیاسي جلاوالي ښودونکې ده د سیاسي جریانونوله خوا سازمان ورکول کېږي هغه څه چې په مکان کې قرارنه لري هغه وجود هم نه لري. (ارسطو)

هېواد: دنړۍ نني هېوادونه په یوځل ندي راغلي بلکې داهېوادونه په ځېنو مواردوکې دپېړیو په ترڅ کې پراخوالی موندلی اومنځته راغلي او په ځېنو مواردوکې ممکن هېوادونه دنورو هېوادونو په خوښه اوغوښتنه په آني ډول منځ ته راشي. مثلا: دالبانيې هېواد په( ۱۹۱۳ زېږدیز) کال کې دجهان په نقشه کې رابښکاره شو(منځ ته راغی )داځکه چې اروپایي قدرتونو، نه غوښتل ددغه مهمې سوق الجیشي منطقې باندې دکنترول په سرخپل منځ کې په شخړولاس پورې کړي.

دیوشمېرهېوادونو په اړه تصمیمونه دخارجي قدرتونولخوا دهغوی داستعماري ګټو دتامین په خاطر نیول کېږي لکه: فسطین، سوریه، عراق اوکینیا.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دهېوادتعریف:هېوادیوسیاسي واحدی اوددغوسیاسي واحدونومجموعه دنړۍ سیاسي نقشه تشیکلوي یوهېواددجوړښت له اړخه په دریو عناصروپوري تړلی دی.

۱. خاوره

۲.ملت

۳.حکومت

دحکومت له خوا دخاورې داداره کولومېکانیزم پراساس دملت اداره دغه درې عناصریوله بله سره پیوند (یوځای )کوي اوددغودرې عناصرود پیوندلوسره دهېوادمفهوم واقیعت مومي اودغوعناصروله ډلې څخه دهریوله منځه تلل دهېوادمفهوم ترسوال لاندې راولي.

په نړۍ کې د سیاسي جغرافیې بدلونونو ته یوه کتنه

دسیاسي جغرافیې پیدا ښت دیوې منسجمې انساني جغرافیې دیوې څانګې په توګه ددې پېړۍ له پدېدوڅخه ده.ولې داپه دې مانا نه ده چې پخوانیوفیلسوفانو اولویولیکوالانو دسیاست متقابلواغېزوته په هراړخیز شکل اوهم فزیکي چاپېریال کې کومه پاملرنه نه لرله،دهرودت،افلاطون،ارسطو ،فتسکیواوهیګل له لیکنوڅخه داسې معلومیږي چې لیکوالانو سیاسي جغرافیې لیدلوری له خبرتیا پرته داډول مستقله څانګه دانساني جغرافیې ترعنوان لاندې تحریرکړې ده.متقدمانوله منځه ارسطوپه ځانګړې توګه دیوایډیال دولت ته په شکل ورکولوسره دسیاسي جغرافیې ځینومفاهیموته ژورې پېښې پیداکړي هغه دیو ښاردپلازمېنه کېدولپاره یوډول شرطونه لازم ګڼل اودپوځ ترکیب اوسمندري ځواکونودسرحدونوڅرنګوالی،دډېری عواملوپه اړوند بحث کړی دی اوپه دې ټولوبحثونوکې دفزیکي چاپېریال ماهیت په ځانګړې ډول داوبواوهوا په عنوان یوتعین کوونکي عامل ته اشاره کړېده.دارسطوڅخه درې پېړۍ وروسته

(c) ketabton.com: The Digital Library



استرابو یوناني جغرافیه پوه یو کتاب په (۱۷) ټوکونو کې لیکلی چې په واقعیت کې د هغه وخت د پېژندل شوي نړۍ څخه یو ښکارنده توصیف ؤ.

په منځنیو پېړیو کې

په منځنیو پیړیو کې علم او پوهه په اروپا کې د مذهب تر سېوري لاندې راغله په داسې حال کې چې په اسلامي نړۍ کې جغرافیې د سوداګرو، تاریخ لیکونکو، سیلانیانو او مسلمانو فیلسوفانو په منځ کې رواج وموند. ابن خلدون یوه تن مسلمان مورخ فیلسوف او جامعه پېژندونکي یو له هغه لیکوالانو څخه وو چې داوږدو سفرونو څخه وروسته په ۱۴ پېړۍ په خپل کتاب کې د قبیلې او ښار په اړوند لېکنه کې د طبیعي چاپېریال په رول کې د غه واحدونو ته تعین کوونکو عواملو په توګه اشاره کړېده.

۱۹ پېړۍ په وروستیو کې کارل ریټر په برلین کې د دولت د پرمختګ نظریه د ابن خلدون له نظریې سره مشابې وبلله چې ۵ پېړۍ مخکې یې له ده څخه وړاندې کړې وه خو په دې توپیر سره چې دا نظریه یې د ژوندي موجود سره قابل د قیاس ګڼله په همدې دلیل دې نظریې ته Organism نظریه وایې.

په نوې دوره کې

په سیاسي جغرافیه کې بدلون د الماني فریدریک راتزل څخه پیل کېږي. راتزل په سیاسي جغرافیه کې د نویو مفاهیمو او مېتودولوژي پلار ګڼل کېږي. راتزل د سیاسي جغرافیې کتاب لومړنی کتاب دی چې تر همدې عنوان لاندې لیکل شوی دی. راتزل د جیو پولېټیک بنسټ ایښودونکی څخه شمېرل کېږي.

که څه هم راتزل په خپله ځان ته د غه اصطلاح نه ده کارولې، راتزل د هغه جغرافیه پوهانو له ډلې څخه دی چې په ټولنیزو ارونیزم باندې عقېده درلوده هغه په خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library



کتاب کې دوه عواملو ته یانې وسعت (پراخوالی) او بل جغرافیایې موقعیت ته اشاره کړې ده د جيو پولېټيک د پرمختګ سره سم د سياسي واحدونو په ځانګړې توګه د دولت د مطالعې باندې تمرکز دوره پيل کېږي او ترنن پورې دغه لړۍ روانه ده د ۲۰ پېړۍ د پرو پياوړو جغرافيه پوهانو د خپلو نظرياتو په وړاندې کولو سره د دولتونو د پيدا ينښت او بقا ځرنګوالی د دوی مطالعاتو په وړاندې بيولوکې رغنده رول لري د ۲۰ لسيزې په پيل کې د سياسي جغرافيه کې د څو نويو لارو چارو پيدا ينښت د ذکرو ړدی دغه بدلونونه کولای شو په څلورو عمده برخو کې وڅېړو.

۱.د څېړنې وړ د موضوعاتو په مقياس کې تغير: پخوا سياسي جغرافيه پوهانو په سنتي ډول په لوی مقياس کې د مسايلو څېړل د دولت په سطحه په مستقله توګه په نړيواله کچه ترجيح ورکوله په داسې حال کې چې نن سل په سلو کې څېړنې په محلي سطحه او يا کوچني مقياس کې صورت مومي.

۲. د څېړنې وړ مطالعې وړ موضوعاتو کې ځای پرځای والی.

۳.د نوې مېتودلوژي (تګلاره) پلي کول.

۴.نويو نظريو ته د پام وړ توجه..[1]

---

[1] د سياسي جغرافيې په اړه کولای شئ زيات معلومات د (جغرافيه سياسي) د پوهاند حميد الله امين ليکنه او (جغرافيې سياسي جهان) د پوهاند عبد القدير رويان ليکنې وګورئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دوهم څپرکی
## دافغانستان تاریخي نومونه

### ۱.اریانا

افغانستان په پخوازمانه کې داریانا په نوم یادیده، دغه نوم دهندو اروپايي دیوې قبیلې دنوم څخه اخستل شوی،چې البته نوموړې قبیله دنوروشاه وخوا نږدې قبیلو په پرتله ځان شریف ،بادار،داختیاراتوخاوند اودیادولو وړ صفتونو څښتنه وه.[1]

اریانادافغانستان ډېرلرغونی نوم دی چې داویستا(له میلاد څخه زرکاله مخکې)




له وخته ترپینځمې زېږدیزې پېړۍ پورې،دیونیم زرکلونو په ترځ کې دغه هېوادته ورکړل شوی و ، اریا و چې د (اریااوسیدونکي) مانایې ورکوله.په اویستاکې دغه نوم دایریانا په بڼه راغلی دی ،چې دهغه په وړاندې بیادتوریانانوم و ،یانې

[1] دافغانستان جغرافیه ،دپوهاند محمد ظریف تنیوال لیکنه،۱مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



توريايي اريائيان چې له جيحون څخه پورې غاړه يې زوړ ژوند درلود. په هرحال دافغانستان همدغه نوم دايريانا اواريانانوم و، چې وروسته بيادپارسه (فارس) په هېواد کې دلېږدلون په راوستلو سره د(ايران) په بڼه ومنل شو.[1]

د هغې لويې جغرافيايې منطقې پخوانی نوم چې اوسنی افغانستان پکې پروت دی په تاريخي اثارو کې د اريانا په نامه ثبت شوی دی او د۵۰او۷۰ درجو شرقي طول البلد او ۲۵ او ۳۵ درجو شمالي عرض البلد په منځ کې موقعيت لري.

د افغانستان لومړی نوم آريانا دی. مشهور مؤرخ ويلسن H.H.Wilson ليکي چې په پخوانيو وختونو کې افغانستان د هغه ځمکو څخه عبارت ؤ چې د هند او فارس تر منځ پراته وه، پخوانيو يونانيانو ورته اريانا Ariana په پخواني فارس کې ورته ايريا Airya يا ايريانا Airyana په سانسګرت کې ورته اريا Ariya او په زند کې د ارياويجو Eriveejo په نامه ياد شوی. دا کليمه او د اريا Arya کليمه د سانسګريت نه اخيستل شوې.

اريا د لوړ، د قدر وړ او ښاغلي په معنا راغلې او اريانا د لوړو خلکو ځای و. يونانيانو يوازې د سکندر او يا د هغه نه لږ وروسته دا کليمه افغانستان ته استعمال کړې.

د اريانا نوم د ۱۰۰۰کال قبل الميلاد نه تر ۵۰۰ مېلادي کلونو پورې استعماليده.

د اريايانو ژوند په زراعت ولاړ ؤ، دوخت پر مختللي خلک وو. کلاګانو يې برجونه درلودل او په برجونو بېراغونه رپيدل چې د دوی د دبدبې نماينده ګي يې کوله.

کله چې د اريايي ژبو نوم اخستل کېږي، په هغو سره مطلب کله هندو اروپايي(پيرسيک ـ لويديځي، باختري ـ مرکزي باختر او هندي ختيځي )ژبې وي. او کله کله ورنه مطلب يوازې باختري او پيرسيک ژبې وي، چې په عنعنوي ډول د(ايراني ژبو )په نامه هم يادېږي.(ايراني ژبې ) دغوګروپونو ته ويل يوازې يوه اصطلاح ده، چې په علمي دليل برابره خبره نه ده.ياني که پيرسيکو ژبوته (ايراني)

---

[1] افغانستان د تاريخ په تګلوري کې، دمير غلام محمد غبار ليکنه ،دپوهاند دوديال ژباړه.۹مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



وویل شي مجازلري، اماباختري هیڅکله ایران ته نشي منسوبیدلای. ځکه نودغه ډله ژبې زه د (اریایې) په نامه یادوم اودریواړو ګروپومجموعه (هندو اریایې) بولم.

اریایې مړې ژبې دادي: اویستا ،منځنۍ پارسي، سوغدي، لرغوني خوارزمي، باختري، ساکې، میدي ژبه، سکیفي ژبه اوپارتیاني ژبه[1]

د اریانا کلیمه داریایانو دټاټوبې له پاره استعمال شوې ده. اریایان سپین پوستي خلک وه چې د لوی مهاجرت (۲۰۰۰-۲۵۰۰) ق.م په شا او خوا کې یې د چین د شمال له د ښتو او منګولیا څخه د لویدیز او جنوب لویدیز په لورمهاجرت وکړ، لومړی د اکسوس په شمال کې په هغه ځای کې چې داریاویجه په نامه یادیده، ځای په ځای شول. ددوی شمېرد وخت په تېریدو سره زیات او دامو سیند جنوب ته را تېر شول چې له هغه ځایه یوې برخې د جنوب او جنوب ختیځ خوا ته د هند په لورې او بلې برخې د لویدیځ په لورې پارس او وړاندې د اروپا قارې ته مهاجرت وکړ.

دامو دسیند په جنوب کې د هندوکش په شمالي او جنوبي درو کې له مېشته کېدو وروسته د اریاییانو لوی مدنیت او دولتونه جوړ شول. هغه لومړني اریایې دولتونه چې په تاریخ کې دهغوی په هکله څه ناڅه معلومات شته د پیشدادیانو ،کیانیانواواسپه کورنۍدولتونه د یادیدو وړ دي چې د موجودیت وخت یې د(۲۰۰۰-۷۰۰ ق.م) تر منځ اټکل شوي دي.

په هرحال همدااریانا اویااریانا نوم ؤ چې په راتلونکې کې په ډېراندک توپیرسره دفارس په هېواد(ایران )تبدیل او قبول شو.

داریانا ښارونه عبارت دي له بلخ، کابل، کاپیسي، اوپیان، ارتکانا، بست، فراه، پروفتازیا، اراکوتس،ازولا یا وزولا، فوکلیس، نیسایا، نګار،هیلو،ناکې او بامیکان څخه دي.[2]

---

[1] د افغانستان ژبې اوتوکمونه، د سرمحقق دوست محمد دوست شینواري لیکنه،۸-۹مخونه

[2] اریانا ،دکهزادلیکنه ژباړنه مشتري.۹۰-۱۱۲ مخونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د میلاد څخه ۳۰۰۰ کاله وړاندې په اریانا کې (باختریانه ) د نفوسو د زیاتوالي له امله دوه قبیلې د ماد او فارس پنوم لویدیځ خوا ته د نویو ځړځایونو او اوسېدو ځایونو د پیدا کولو د پاره وخوځیدي.

په اوومه (۷ ) م ز پیړۍ کې د ماد قوم چې اریایې توکمه او اریایې ژبې ته‌ر وو . په اسوري ډبر لیکونو کې د دوی مرکز هګمتان ،دهیرودوت په لیکنه کې اګماتان ،( همدان ) و.د هیرودوت په وینا له(۷۰۱ م زکال څخه **۵۵۰** م ز )پورې څلور مادي پاچاهانو حکومت کړي دی.

۱- دیوکس ، Deiocas د هیاکو زوی ( **۷۰۸-۲۵۵** م ز )

۲- فریا اورتس د دیوکس زوی. ( **۲۵۵- ۲۳۳** م ز )

۳- استیاګس ، Asteyages (اژدهاک )دهووخسشر زوی(**۵۸۵–۵۵۰** م ز ) د **۳۵** کاله پاچاهۍ وروسته د ماددولت پای ته ورسېده ،اوځای یې هخامنشیانو ونیو ، هیرودوت په وینا د ماد دویم پاچا فرورتیش د ارین استوګنو ټولې ختیځې ځمکې د باختر او جیحون ترغاړو پورې نیولې وې.

د ماد پر پېر د اریایې خلکو یو ټبر چې پارسوا نومېده، له شمال څخه جنوب ته لاړ هغو ځمکو کې مېشت شول ، چې وروسته د همدغه ټبر د نامه له امله پارس وبلل شو .

د پارسي شپږو ټبرونو په منځ چې په ښار کې اوسېدل یو هم پارساګاد وه ، چې مشر یې هخامنش(۷۰۰- **۲۷۵** م ز ) نومېده ، او د ده له پښته د هخامنشیانو په نامه پاچاهان وزیږیدل.

تاریخ پوهان د دې تابلو په جوړښت یوه خوله ندي،خو هغه څه چې ایران باستان ترتیب کړي ترنورو غوره ښکاري.

هخامنشي پاچاهانو له (۷۰۰ م ز )څخه د ایالتي امیرانو په توګه د مادي پاچاهانو تراداري لاندې په ایلام کې حکومت کاوه،او د ماد وروستي پاچا ستیاګس چې یو ناپوه سړی و ،خپله لور یې دریم داریوش هخامنشي کمبوجیه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته ورکړې وه ،چې د هغې له نسه کوروش ( سیروس ) وزیږیده ، هغه د ستیاګس په ضد پاڅېده او له منځه یې یوړه ، په( ۵۵۹ م ز )کې د یوې لوې شاهنشاهۍ بنسټ کېښود چې د ایران د فلات ټولې سیمې پکې راتللې.

که څه هم د کوروش د هخامنشي کورنۍ اووم پاچا و ،خو د دې کهاله لومړی لوی فاتح ګڼل کېږي،وروسته تر هغې چې لویدیځ خواته یې د مدیترانې تر غاړو پورې هېوادونه ونیول،د فارس ختیځ خوا ته یې مخه کړه، ګرګان،پرثوه(پارت) اریا(هریو ،هرات)چې پلازمېنه یې ارته کنه Artacana وه،زرنګه(درنګه ، درنګیانه ) اوسنی سیستان دا تماندروس(هیتومنت، هلمند ) سیند په غاړه ، هاوروتیش(هرووتتې ،ا راکوزیه ) ارغنداب ،دکوفن( کوبهه ،کابل ) د سیند ناوه،داوپیري سیند ( پارپامیزاد ، هندوکش ) غرونه،دګندهارا ولایتونه(له ننګرها ترسند ترغاړې پورې ) ،باخترش (بکتریه ، بلخ ) ،سکاهومه ګاو (پامیر ) تر غرونو پورې،اوهمدا رنګه یې دامو اخوانه سوګودو ( سغد ) تر اورکسارتس (سیردریا ) ،د حینوه او (هوارزمه )اومرګیانا(مرو ) ډاګونه او دښتونه له هخامنشي هېواد سره وتړل.کوروش په( ۵۲۹ م ز )کال په یوه جګړه کې ووژل شو ،دریم کمبوجیه د ده په ځای کېښناست،دده فتوحات یې تعقیب کړل،چې د مړینې په وخت یې هېواد دلویاو پراخه هېوادونو څخه وو. داریوش د دې کورنۍ نهم پاچا( ۵۲۲ م ز )د پلار وروسته په تخت کښېناست د یونان څخه تر هند پورې پدې لویه ساحه کې یې حکومت کاوه.

داریوش په( ۴۸۲ زیږدیز )کال کې مړ شو ،د هخامنشي واکمني د مدنیت او فرهنګ اثار په افغانستان کې هم پاتې شویدي.په پارس،شوش،مصر،اوالوند په غره او نورو ځایونو کې دداریوش ځینې لیکنې پاتې دي،چې په مصري، شوشي، او میخي لیکدود لیکل شوي وو.د دغو ډبرلیکنو څخه غوره لیکنې د پارس په نقش سېتم او بستون کې له داریوش څخه پاتې دي په هغې کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



داریوش د هغو هېوادونو نومونه لیکلي دي، چې د ده تر واکمنۍ لاندې وو ،هغه چې زمونږ د هېواد تاریخ پورې اړه لري دادي.

۱- پرتوه (خراسان او ګرګان )

۲- باخترش (بلخ )

۳ – سوغوده (سغد ) او سنې سمرقند.

۴- کرمانیه ( کرمان )

۵- ګدوزی (د افغانستان سویلي سیمې تر سمندر پورې.

۶- زرنګه ( زرنج )

۷- هره یوه ( هرات )

۸- او ارزامیه ( خوارزم )

۹- ګرارن ( کابل او پېښور )

۱۰ – هندوش ( سیند )

۱۱- ته ته ګوش ،( د کوهاټ ، بنو او خټکو سیمې )

۱۲- سکه هو مه ورکه ،د پامیر خواشاه سیمې.

۱۳ – سکه تیګر خنوده ( د تېره خوله خاوندان )، ساکه یان.

۱۴ سکه تیه تر دریا ( د سند خواته ساکیان.

۱۵ – هراورتیش ،(ارغنداب ، اراکوزیه )

د داریوش پراخه هېواد ۳۱ ولایتونه( ساتراپي )درلودل،په هغې کې ټول اوسنی افغانستان، پورتني ټول ولایتونه او څېرمه ځمکې شاملې وې. یوازې همدومره ویل کېدای شي چې له( ۵۵۰ م ز )یانې د داریوش له راتلو څخه بیا تر( ۳۳۱ م ز ) پورې د هخامنشي شاهنشاهي د سکندر مقدوني په لاس له منځه تللي،داریانا خاوره ،د هخامنشي لوې شاهنشاهۍ یوه برخه وه،او ان د سند ه اخوا پنجاب یوه برخه هم ورپورې تړلې وه[1]

[1] دافغانستان لنډ تاریخ،د پوهاند عبدالحی حبیبي لیکنه. مخونه ۳۵-۳۹

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۲.یونان او باختر**

هغه وخت چې مقدوني سکندر په (۳۳۲ م ز ) کې پردې خاوره یرغل وکړ،ددې هېواد په تاریخ کې یو بل څپرکی پرانستل شو ،پدې مانا چې د سکندر د یرغل وروسته یو شمېر یونانیان پدې هېواد کې مېشت شول چې ددې خاورې د وګړو سره یې په فرهنګي،فکري او ټولنیزو حالاتو کې د پیوستون له امله دا پایله شوه چې یوناني وګړو ددې خاورې د اوسیدونکو سره یو ځای د یو نوي کلتور یا فرهنګ مدنیت بنسټ کېښود ،دا فرهنګ چې د دوه اریایې او یوناني تمدنونو او فرهنګونو څخه د اختلاط په پایله کې را پیدا شوی و د یونان او باختري تمدن (Greeco Bactrian) په نوم یې شهرت پیدا کړ چې پدې وخت کې دا خاوره د یونان باختري دولت یا باختري په نوم نومول شوې وه[1]




---

[1] د افغانستان سرحدونه،د پوهندوی کریم الله لیکنه،۳۷مخ ددې موضوع په اړه نور معلومات (افغانستان ترشاهنامه)لیکوال:ښاغلي احمد علي کهزاد ،(اریانا یا افغانستان )لیکوال: ښاغلي نجیب الله ،(اریانا )لیکوال:احمد علي کهزاد ،(لرغوني اریانا )لیکوال ښاغلي رحمت اریا ،(لرغوني اریایان )لیکوال:ښاغلي خیرمحمد ساد لیکنې وګورئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



د يونان او باختري مدنيت ځانګړنې

لرغونی افغانستان د زيات شمېر مورخينو او څېړونکو له نظره خورا ارزښتمن تاټوبی ګڼل شوی دی. انګليسي نامتو مورخ تاينبي افغانستان د لرغونو مدنيتونو د يو ځای کېدلو د ټاټوبي په نوم ياد کړی دی. جاپاني لرغونپوه ماوريز يوتوزي لرغوني افغانستان ته د سوداګرۍ او راکړې ورکړې څلور لارې نوم ورکړی دی. علامه حبيبي افغانستان په سيمه کې د لرغونو مدنيتونو د زانګو په نوم نومولی دی. په دې ترتيب نور القاب او عناوين هم د لرغوني افغانستان د ارزښت او وړتيا په اړه ياد شوي دي. د هغو لرغونو مدنيتونو له شمېره يو هم د يونان باختري مدنيت دی چې په افغانستان او سيمه کې د يوه نامتو تاريخي مدنيت په توګه پېژندل شوی دی. يونان باختري مدنيت له اره د دو مدنيتونو ټولګه ده، دا دوه مدنيتونه چې يو يې د يونانيانو په وسيله د هغوی سر يو ځای افغانستان او سيمې ته را رسيدلی مدنيت، او بل يې په باختر کې د ځايي او سيدونکو مدنيت وو چې د لرغونو اريايي مدنيتونو پر بنسټ يې وده کړې وه. د دې دواړو مدنيتونو يو ځای والي په سيمه او لرغوني افغانستان کې د نوي مدنيت بنسټ کښېښود، چې په تاريخ کې د يونان – باختر مدنيت په نوم پېژندل شوی دی.

يونانيانو په خپل هېواد کې د لوړو فکرونو او آندونو نامتو پړاونه يو په بل پسې تېر کړي و، چې يو پړاو يې د هيراکلت، افلاطون، بطليموس او نورو فيلسوفانو پړاو و، دا پړاو د يوناني امپراتورۍ سره يو ځای وغوړېدی. د و دانيزو چارو بېلابېلې تجربې يې ازمويلې او کارولې وې، چې داريک، ايونيک او کورنتين بېلګو يې نړيوال نوم وګاټه د پژي جوړولو هنر د يونانيانو له لورې په خورا لوړ کيفيت پيل او او هغه ته يې پاينښت ورکړ، ماير ن، پولې کليتوس، پيدياس او يو شمېر نور يې د پژي جوړولو هنر په برخه کې د شهرت لوړو پوړيو ته ورسيدل، او په دې ډول نورې مدني لاس ته راوړنې يې په خپل هېواد کې درلودې، يونانيانو د خپلو فتوحاتو سره يو ځای خپل مدني لاس ته راوړنې هم د ځان سره تر واک لاندې سيمو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته لېږل چې ښېلګې يې په ټولو تر لاس لاندې سيمو او په ځانګړې توګه لرغوني افغانستان کې څرګندې دي.

يوناني معمارانو د عسکر کوټونو لپاره داسې ځايونه غوره کول چې ددو يادرو لورو به د طبيعي موانعو په مرسته ساتل کېدل او يا يې د ساتنې شونتياوې درلودې، او يوه خوا به يې د خپلو ځواکونو په مټ ساتل. د ودانيو دا ډول د افغانستان په بېلا بېلو برخو کې ليدل کېږي، چې د ښېلګې په توګه د ای خانم لرغونې سيمه چې د کوکچې او آموسند په تقاطع کې ودانه شوېده. د بګرام لرغونې سيمه يوه بله ښېلګه ده چې د شتل او پنجشېر سيندونو د تقاطعو پرټاټوبي جوړ شويدي. ددې ترڅنګ په آی خانم کې کورنتين ډوله سرستونيو شتون د يوناني معماري صنعت اغېزه جوته وي. پژي جوړول د يوناني هنر يوه بله ښېلګه ده چې په لرغوني افغانستان کې يې د افغاني هنر مندانو په مټ زياته وده وکړه. دا هنر د باميانو او نورو پژيو په شتون سره په ورستيو دورو کې د نړيوال فرهنګي ميراث په توګه پېژندل شوېدي. د يوناني ليکدود زياتې ښېلګې د ډبرليکونو پر مخ زياتې ليدل کېږي چې هغه مهال د هېواد په بېلا بېلو برخو کې معمول و. دا ليکدود نه يوازې د لرغوني افغانستان د تاريخي پېښو په اړه ډاډمن اخځونه دي، بلکې په افغانستان کې د يوناني علمي بهير د غوړېدلو استازيتوب هم کوي. د يوناني تمدن بېلا بېلې ښېلګې چې ودانيو جوړولو په مېتودونو، د پژيو جوړولو په مهارتونو او د ليکدودونو په کارونو کې ليدل کېږي، دا افغانانو په مټ يې په افغانستان او سيمه کې وده او پراختيا وموندله، لومړی اولسونو دا نوښتونه ومنل او بيا يې په خپلو سيمو کې د تعميم او زياتولو لپاره کار او زيار وګاله. د همدې امله په يونان باختري دوره کې ټولې يوناني مدني لاس ته راوړنې يوناني پاته نه شوې، په افغاني بڼه يې وده وکړه او د يوه ګډ مدنيت خبره يې پيدا کړل، چې په لرغوني تاريخ کې د يونان–باختر مدنيت په نوم پېژندل کېږي . http://www.salaamtolana.org/fullstory.php?id=۳۴۴۲

(c) ketabton.com: The Digital Library




## ۳. خراسان

خراسان د دوو تورو مرکب دی چې "خور" د لمر او اسان د ځای مانا ورکوي. ښايي دانوم په پارس کې د هغې سیمې لپاره کارول شوی چې د دې په ختیځ یا لمرخاته اړخ ته پراته وو.

د خراسان کلیمه چې د لمرخاته او ختیځ مانا لري وروسته تر ریمې زېږدیزې پېړۍ را پیدا شوا او له پېنځمې زېږدیزې پېړۍ څخه ترنولسمې مسیحي پېړۍ پورې د یونیم زر کلونو په ترڅ کې د افغانستان نوم وو.[1]

داتمې پېړۍ مورخ ابو الفدا الیکي: خر(خور) د لمر او (اسان) دیوه شي د ځای مانا ورکوي. یانې مطلع الشمس یا ختیځ. نورو عربي مورخینو هم د دې کلیمې په ژباړه کې د فارسي اصلي مانا مراعات کړې ده او په غالب ګومان د خراسان یا افغانستان هېوادې د ختیځ او ځینې افغاني پاچاهان یې هم د ختیځ د پاچاهانو په نامه یاد کړي دي.[2]




[1] افغانستان د تاریخ په تګلوري کې، د غبار لیکنه، ژباړه پوهاند دود یال. ۹مخ

[2] خراسان، د میرغلام محمد غبار لیکمه، ژباړه، رحمت الله هوتک ۴مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پارس سلطنت په دریم مېلادي پېړۍ کې د خپلې خاورې شمال ختیځې برخې د خراسان په نوم یادوله. د سلطنت د پراخېدو او کمېدو سره سره د خراسان خاورې هم بدلون موندلو. د ترکمنستان، مروه، د افغانستان فاریاب، هرات او د ایران نیشاپور او د طوس (مشهد) ښارونه به تل په خراسان کې شامل وو. هرات د خراسان د ملغلرې په نوم شهرت لرلو.

د اسلامي خلافت په امیه او عباسي دورو کې خراسان په څلورو برخو وېشلی و چې په ټولو کې یو یو ښار مهم مرکز و. دا د نېشاپور، مرو، هرات او د بلخ ښارونه وو.

په وروستیو کې په خراسان کې د ایران سبزوار، د ازبکستان ثمرقند او بخارا، د تاجکستان ترمیز او بلخ پکې شامل شول او دا به یې د لوی خراسان به نوم یادول. د (۱۴ او ۱۲ پېړۍ) تاریخونه وایې چې کندهار، زابل غزني او کابلستان د خراسان او د هندوستان تر منځ پراته ملکونه وو.

په شپاړسمې مېلادي پېړۍ کې مغلي بابر پخپلو یادښتونو کې لیکي چې د خراسان نه کومې تجارتي قافلې هندوستان ته روانېږي نو په کابل کې ضرور ایسارېږي. د غبار تاریخ وایې چې خراسان هغه و، چې په ختیځ کې د بلخ په شمال کې او د مروې په جنوب کې سیستان نېشاپور او د هرات په لویدیځ کې و. د خراسان لویه برخه اوس د افغانستان او د مرکزي اسیا ملکونو کې پاتې ده خو ایران دا نوم ځان سره وساتلو. اوس د دې یوه صوبه د خراسان په نوم یادېږي[1]

د خراسان کلیمه په زړه پارسي کې د ختیځ یا ختیځو ملکونو په مانا استعمال شوې ده او د اسلامي دورې او له هغه نه مخکې مورخینو او لیکوالو په اثارو کې

---

[1]۱. تزک بابري- اردو ژباړه- رشید اختر ندوي، ۸۲ مخ.
۲. جغرافیای تاریخی افغانستان- دښاغلي پوهاند علامه عبد الحی حبیبي لیکنه- ۳۰۸ مخ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پارس ختیځې څمکې ته و یل شوی چې په غالب گمان لومړنی استعمال یې د ایران د ساسانیانو د وخته شوی دی.

د خراسان نوم لومړی د افغانستان د شمال لویدیزې یوې محدودې ساحې ته او وروسته بیا ټول افغانستان ته ویل شوی دی.

د تاریخ په هغه دوره کې چې دا جغرافیایي سیمه چې اوسنی افغانستان پکې پروت دی د خراسان په نامه یادیده، دا لاندې دولتونه او امپراطوري تېرې شوي دي:

۱- د خراساني ابو مسلم دولت(۷۴۲-۷۵۴ زیږدیز )کلونو پورې پلازمېنه یې د مروي ښار

۲- د طاهریانو دولت(۸۷۲-۱۸۲ زیږدیز )کلونو پورې پلازمېنه یې لومړی هرات،وروسته نېشاپور

۳ - د صفاریانو امپراطوري( ۸۲۰-۹۱۰ زیږدیز ) کلونو پورې پلازمېنه یې زرنج

۴- د سامانیانو امپراطوري( ۸۹۲-۹۹۹ زیږدیز ) کلونو پورې پلازمېنه یې لومړی بلخ بیا بخارا

۵- دغزنویانو امپراطوري( ۹۲۲ - ۹۹۹زیږدیز ) کلونو پورې پلازمېنه یې غزني

۶- د غوریانو امپراطوري (۱۱۴۸- ۱۲۱۴ زیږدیز ) کلونو پورې پلازمېنه یې غور

۷- دکرت د ملوکو سلطنت( ۱۲۴۵-۱۳۱۸ زیږدیز ) کلونو پورې پلازمېنه یې هرات

۸- د هرات د تیموریانو امپراطوري( ۱۴۰۴-۱۵۰۷ زیږدیز ) کلونو پورې پلازمېنه یې هرات

کله چې عربو په اوومه مېلادي پېړۍ کې لومړی ایران ونیو او بیا یې افغانستان ته مخه کړه ،دعربې خلافت په جیو پولېټیکي وېش کې خراسان هغې سیمې ته ویل کېده چې د ایران اوسنی خراسان ایالت (استان خراسان ) پکې پروت دی او وروسته بیا دا مفهوم وسیع او د ختیځ لورې ته پراخ شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لویه شخړه او غلط فهمي دا خبره ښیښوي چې له اتمې میلادي پېړۍ را وروسته کوم خپلواک دولتونه چې په دې سیمه(خراسان)کې جوړشوي وه، هغه ټول خالص افغاني دولتونه وو چې موسسین یې هم افغانان و. د خراساني دولتونو لوید یځه ځمکه چې دننې ایران زیاته برخه احتوا کوي په عربي خلافت پوري تړلې وه، مګر ایرانیان اوس دغه ټول افغاني( خراساني ) دولتونه او امپراطورۍ خپلې بولې او نړۍ والو ته یې هم همدغسې ور معرفي کوي. مخصوصا لوید یز تاریخ پوهان دافغانستان د پخواني تاریخ په هکله چې داریانا اوخراسان په دورو پورې اړه لري یا هیڅ معلومات نه لري اویا یې معلومات غلط اوناقص دي. په دې نسبت له اتلسمې پېړۍ نه مخکې دافغانستا ن تاریخ معمولا یا هند یا ایران ته نسبت ور کول کېږي.[۱]

۴.افغانستان

غلام محمد غبار لیکي: د افغانستان کلیمه دلومړي ځل دپاره په دیارلسمه پېړۍ کې دهېوادځینو ختیځو ولایاتو ته ویل کېده چې په څوارلسمه پېړۍ کې دسلیمان دغره دشاوخوا سیمې او د هېواد شرقي علاقې په دې نامه یادیدلې، په شپاړسمه پېړۍ کې دکابل دایالت جنوبي سیمې دافغانستان په نامه یادیدې اوپه اتلسمه پېړۍ کې له اباسینه تر کابله، له کشمیر او نورستانه تر قندهاره او ملتانه پورې د افغانانو ټاټوبی وو.

[۱] محترمولوستونکو دخراسان په اړه زیات معلومات د(شناخت افغانستان)لیکوال:رسول پویان، (تاریخ رویدادهای سیاسي واقتصادي وروابط اجتماعي خراسان،افغانستان و کشورهای همردیف اسیايي)لیکوال:ښاغلي الحاج عبدالواحد سیدي،(بازشناسي افغانستان) لیکوال:ښاغلي عبدالواحد سیدي، (خراسان) لیکوال: میرغلامحمد غبار ژباړه: رحمت الله هوتک لیکنې وګورئ

(c) ketabton.com: The Digital Library






په غالب گمان دا کليمه د لومړي ځل له پاره په( ۱۲۴۰ زېږديز ). کال کې د هروي سيفي په تاريخ کې په دا سې ډول ذکرشوي وه:اولجايتو خطهً هرات را تا اقصا ي افغانستان و رود امو به ملک غياث الدين کرت مفوض کرد.

(اولجايتو د ايران د ايلخانيانو پاچا او ملک غياث الدين دافغانستان د کرت ملوکو د سلسلې پاچا وه چې کرتان په لومړي سرکې د ايلخانيانو باجگذا ره وه چې بيا همدغه ملک غياث الدين خپله بشپړه خپلواکي اعلان کړه ).

کله چې د اتلسمې پېړۍ په لومړۍ نيمايي کې افغانانو وکولی شو وروسته له دوو سوو کلونو تجزيې او دربه درۍ په خپله خاوره کې خپل ملي حاکميت بېرته ژوندی کړي نو دانوم بيا ډېر عام شو.په هغه ليک چې د افغانستان ستر مشرلوی احمد شاه بابا يې د عثماني ترکيې امپراطورد ريم مصطفي ته لېږي، هغه دا سې عنوانوي " از طرف ايل جليل افغان ".

د افغانستان رسمي نوم د افغانستان اسلامي جمهوريت چې د مرکزي اسيا په وچې پوري تړلی يو هېواد دی داهېواد د مرکزي اسيا سره ، سويل لويديځې اسيا او منځني ختيځ ترمنځ فاصل حد دی چې پلازمېنه يې کابل دی.د افغانستان په

(c) ketabton.com: The Digital Library



سويل او ختيځ کې پاکستان په لويديځ کې ايران، په شمال کې تاجکستان، ازبکستان او ترکمنستان او په شمال ختيځ کې چين سره ګډې پولې لري. د افغانستان خاوره دوربنمولاراوانساني مهاجرتونو مرکزي نقطه ده لرغون پېژندونکي داسې شواهدوړاندې کوي چې له مېلاد څخه( ۵۰۰۰ )کاله پخوا په دې خاوره کې انسانان مېشته وه ښاري تمدن په دې قلمروکې ممکن ددوه څخه تر درې زره کاله پخوا له مېلاد څخه شروع شوي وي.

د افغانستان لغت

د افغانستان لغت له دووبرخو څخه(افغان او ستان)جوړشوی د افغان لغت د پښتون يا پښتولپاره مستعارنوم دی چې دفارسي ژبولخوا دستان وروستاړي په واسطه ابداع شوی دی چې په فارسي ژبه کې ستان دځای ياخاورې مانا لري.

د افغانستان لغت دهېواد نوم په عنوان په (۱۳۰۲ل ل چې د ۱۹۲۳ زېږديز )کال سره سمون خوري د امان الله خان په اساسي قانون کې تصويب شوی دی.

د افغان لغت په( ۱۳۴۳ ل ل ۱۹۶۴زېږديز )کال کې د ظاهرشاه په اساسي قانون کې په نوي او تازه تعريف سره تصويب شوی دی او د افغانستان هېواد د ټولو تابعيت لرونکو وګړو په مانا کارول شوېده.

افغانستان ديوه هېوادا و يوه ملت په توګه نوی تاريخ لري امادا خاوره د تاريخي قدامت له مخې د نړۍ دلرغونو هېوادونو له ډلې څخه شمېرل کېږي.

دنني افغانستان ټاټوبی چې دوربنمودلارې په مسير کې د نړۍ دلويو تمدنونو پيوند ځای ګڼل کېږي د پېړيو په اوږدو کې د پرلپسې نويو قشرونو ، هويتونو ، فرهنګونو ،باورونو د پېژند ګلوي سبب شوی دی.

د امهم او ستراتيژيک اوژيو پولېټيک موقعيت افغانستان ته د فرهنګونو او سترو تمدونونو (ايراني،يوناني ،بين النهريني اوهندي ) بډاينه زرپه برخه کړېده او د لرغوني فرهنګي ميراث څېره په دې هېواد کې ترسيموي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دیوناني پیکرونو(بوتانو )اوبودایي ګندهارا څخه نیولې دبامیانوتردیوالي مغارو پورې بیادمذهبي نقشونواو خوشنوېسي پورې چې داسلامي لومړنیو ودانیو ته یې ښکلاورکوله اودېبروپه عصراونوروتاریخي دوروکې دافغانستان خلک دنړۍ دادیانوپه معرفي اوپراخوالي کې ځانګړې ځای اورول لري اوپه سوداګرۍ او راکړه ورکړه کې هم دپام وړاوکله کله په اسیاکې دسیاسي اوفرهنګي مسایلو زانګوبلل کېږي له همدې کبله افغانستان دتاریخ په اوږدوکې دنړۍ نیوونکو اویرغلګروتربرید لاندې نیول شوی چې داوسمهال شخړې هم په دې تاثوبي کې په دې امرګواهي کوي.امادافغانستان نوم دلومړي ځل لپاره په ۱۳ مېلادي پېړۍ کې ځېنوختیځوولایتونوته اطلاق کېده چې بیاپه ۱۴ مېلادي پېړۍ کې دتخت سلېمان علاقې اودهغه چاپېریال علاقې ته ویل کېده بیاپه ۱۲ مېلادي پېړۍ کې دکابل سهیل ته دافغان هېوادترعنوان لاندې وغزېداوپه ۱۸ مېلادي کې دسیندله دریا څخه ترکابلستان اودکشمیراونورستان څخه ترقندهاراوملتانه دافغانانو مسکن (تاثوبی)وبلل شو.وروسته کله چې داخاوره دیوه ابتدائي سیاسي حکومت په( ۱۹۴۷ زېږدیز )کال کې دترک نادرافشار[1]څخه وروسته داحمدشاه دوراني ترقیادت لاندې جوړشو.خاندان سالاري قومي تفوق طلبي، په دې هېوادځوملتیزه ټولنه کې ځای ونیوپه دې ترتیب په دغه ۲۵۰ کلنۍ تاریخي دوروکې ملي وحدت اوملي ګټې دخانداني، قبېلوي اوقومي تمیزونوقرباني شوی.قومي، ژبني اومنطقوي تبعیزبې عدالتي اواستبدادچې له همدې خود خواهیو اوتفوق طلبیوڅخه راپورته شوی ۇ دکلونوکلونوپه اوږدوکې محسوس اوښکارنده ۇ. اوهمدارنګه دداډول ملي ناسمون والي ته افغانستان دملي وحدت دښمنانو لخوا له بهرڅخه هم لمن وهل کېده اودطرفینودمغرضانه موخو تائید او ترغیب صورت نیوه. دهېوادپه اداري اوسیاسي امورو کې دټولوملیتونو

[1] کولای شئ چې ددې موضوع په اړه زیات معلومات (دافشاري استبدادونو پرضد دافغانانو پاڅونونه) دښاغلي کاندیداکاډمیسن محمداعظم سیستاني کتاب وګورئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



مساويانه ګډون او د ملي مسئلې د حل په لاره کې مبارزه په هر وخت کې د ملي شخصيتونو او سياسي رجالو لخوا صورت نيولی چې نن ورځ د يوې سالمې انديښنې په شکل کې د ملي مسئلې د بنيادي حل په لاره کې ستر اغېز لري.[۱]

---

[۱] کولای شئ د افغانستان د تاريخي نوم و نو په اړه زيات معلومات د (جغرافيه تاريخي افغانستان) د ښاغلي پوهاند عبدالحی حبيبي په کتاب کې وګورئ
همدارنګه د افغان کليمې د لرغونتوب په اړه زيات معلومات (افغان او افغانستان) د پوهاند حبيبي ليکنه، (چگونه نام ايجاد به کشور افغانستان) د ښاغلي پروفيسور دوکتور لعل زاده، (پښتون، افغان، افغانستان) د ښاغلي پوهاند ډاکتر محمد حسن کاکړ ليکنه، (د افغانستان لنډ تاريخ) د پوهاند حبيبي ليکنه، (افغانستان تاريخي) د پوهاند ډاکتر محمد حسين يمين ليکنه، (جغرافياي تاريخي افغانستان) د مير غلام محمد غبار ليکنه (د افغانستان د تاريخي جغرافيې ځرنګوال)، د شهسوار سنګروال ليکنې وګورئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دريم څپرکی

### دافغانستان سياسي جغرافيه

سياسي جغرافيه دبشري علومو يوه څانګه ده چې په جغرافيايي چاپيريال کې په سياست او قدرت باندې داغېزکولو او اغېزکولو موندلو څخه بحث کوي. او جغرافيايي چاپېريال باندې دتصميمونو اغېزتر څېړنې او ګروېژنې لاندې نيسي د سياسي جغرافيې ځانګړی رول يا نقش په ملي او سيمه ايزه او محلي کچې د سياسي فضاءد سازمان ورکول دي او د سياست او فزيکي چاپيريال له متقابلو اغېزو څخه بحث کوي.

افغانستان په تېرو دوو پېړيو دختيځو او لويديځو امپراطوريو ترمنځ دحايل په توګه په رول کې پاتې شوی، ددې سيمې بېلدل له ايران څخه دافغانستان په نامه هېواد ددې موخې لپاره و چې دختيځ او لويديځ ترمنځه يو ټينګ ديوال موجود دی ان تردې چې په شمال لويديځه برخه کې دواخان تنګي ياني خيبر يې دافغانستان په توګه له دې لپاره ساتلی چې دهند(چې دانګلس تر استعمار لاندې ؤ) دمرکزي اسيا سره (چې دروسي تر استعمار لاندې ؤ) يو ه فاصله بېلتون رامنځ ته کړی اوس مهال چې دمنځنۍ اسيا له سرحدونو سره افغانستان نښتی دی او ددوی هېوادونو دطبعي زېرمو انتقال دافغانستان دخاورې له لارې ټولې ترې، دارنګه دايران سره دګاونډيتوب او دامريکا متحده ايلاتونو دهغه ايران سره دبدبېنې حالات او په افغانستان دمخدره توکوديو پردوه[1] تولېداوادامريکې اوجورج بوش سره دسياسي ا و نظامي ديپلاماسۍ کاميابي په يوه ويشتمه پېړۍ کې اراده دافغانستان دبيارغونې لپاره دنړيوالو محفلونواوګاونډويو دولتونو پاملرنه راګرځولې ده.

### دافغانستان څلورخواوې اوموقعيت

افغانستان په شمالي نيمه کره کې واقع شوی اوپه وچې پورې تړلی هېواد دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library






افغانستان په جنوبي اسیاکې یو هېواد دی په شمال کې د جیحون (اباسیند ) دریا دا هېواد د مرکزي اسیا څخه جلاکوي، د سویل لـه خوا د بلوچستان پواسطه دلویدیځ (غرب )سره وصل دی پـه ختیځ کې د سیند دریا (د ګلګیت څخه د هند تربحره ) افغانستان له هندوستان، (هند او پاکستان )څخه جلاکوي، دلویدیځ له لورې د ایران د هېواد ، دبلوچستان، سیستان او خراسان ولایتونو په واسطه له دغه هېواد سره وصل او د شمال ختیځ له لورې د چین سره نښلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دافغانستان جیوپولتیکي موقعیت

افغانستان( ۶۵۲۲۲۵ )کېلو متره مربع پراخوالي په لرلوسره په وچې پورې تړلی او په جنوبي اسیا کې قرار لري اودمنځني ختیځ له هېوادونو څخه شمېرل کېږي دافغانستان منځنۍ خاوره دستري لوې اریانه او تاریخي خراسان په لحاظ دخپل جغرافیایي جیوپولتیک موقعیت له مخې فرهنګ سوداګري دمنځني اسیا دپراخو دمهاجرتونو او دنړۍ دتسخیر اویرغلونو په مهمه څلور لارې کې پروت او ستر اهمیت لري ددې تاتوبې جیوپولتیک جوړښت دوربښمود سوداګري په سرلارې کې دی ځکه دتیانشان او همالیا دغرونو لارې ستونزمنې دي نو په ختیځ کې دمنځني اسیا دهندوستان ترنیم قاري پورې او دایران او دمدیتراني حوزه ترچین پورې او دروسیا دچین ختیځو ملکونو تر بریده پورې ترټولو لنډه لار تشکېلوی.

دافغانستان جیوپولېتیکي ارزښت

افغانستان دا سیا په جنوب کې پروت یو غرنی هېواد دی،چې تل یې دخپل مهم ستراتېژیک دریځ له امله دپردو نیواګرو درانه ګوزارونه په ځان زغملي دي.

افغانستان دمرکزي آسیا هېوادونو ،دهند نیمه لویې وچې اومنځني ختیځ هېوادونو سره دنښلوونکي پول په توګه خورا ارزښتناکه سیمه ده،چې په بېلا بېلو وختونوکې دوخت پراختیاغوښتونکو یرغلګرو داخاوره دخپلو سیاسي او ستراتیژیکو اهدافو دلاسته راوړلو په موخه دیوې وسیلې په توګه کارولې ده.

افغانستان ددنګوغرونو ،څپانده سیندونو ،بډایه کلتور ،لرغوني تاریخ، مېړنیو خلکو اوهم دوخت زبرځواکو هېوادونولپاره هدیره اوداجل دکندې تاتوبی پېژندل شوی دی.

هغه مهال چې دهند سمندري لار نه وه کشف شوې،نوافغانستان دوخت لویو امپراتوریو لپاره یوازېنۍ اجباري معبر( لېږدوونکې لار ) وه،چې دا هېواد یې دیوې وسیلې په توګه کاروه،خوزمونږ مېړني ولس دهرزبرځواک پروړاندې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بهرولږوا مکاناتو د پردیو ظلم او زیاتي هېڅ ندي زغملي او دوخت سترځواکونه لکه: چنګېزیان، صفویان[۱]، اسکندریان، انګلیسان او روسان په ګونډو او را ځملولي دي، که څه هم د تاریخ په اوږدو افغانستان صفر ځواک هېواد پېژندل شوی خو تل یې زبرځواک هېوادونه ځانته سلامي کړي دي او تورمخ یې لدې خاورې شړلي دي، افغانستان هغه مهال نړیوال پام ځانته را وګرځاوه، کله چې په اتلسمه پېړۍ کې انګلیسانو پر هندوستان خپلې ښکېلاګرې منګولې ښخې کړې نو افغانستان ته یې هم لاس را وغځاوه، چې دې کار افغانستان له ډېرو بدو توپاني څپو سره مخامخ کړ[۲].

کله چې احمد شاه بابا د پاني پت په جګړه کې سکانو ته حیرانوونکې ماتې ورکړه، نو انګلیسانو ته داویره پیدا شوه چې افغانستان په سیمه کې یو ستر ځواک دی.

دامهال انګریزانولا هند بشپړه توګه نه و اشغال کړی، خو وروسته کله چې داحمد شاه بابا لمسی شاه زمان ، دهند پرلورې د ورپورته کېدو تصمیم ونیو ، نو انګلیسانو ته داویره ورپیدا شوه چې ګواکې هندوستان چې ددوی لپاره یې زیات ارزښت درلود له لاسه ورنکړي، نو انګرېزانو دهند دخوندي ساتلو په موخه چټک ګامونه پورته کړل ترڅو خپل مستعمره هېواد (هند )له هر راز تېري څخه وژغوري، همدا لامل و چې شاه زمان یې په کورنیو جګړو اخته کړ او دنوموړي پلان یې شنډ کړ.

په اتلسمې پېړۍ کې روسانو هم غوښتل چې د افغانستان له لارې هند ونیسي، ځکه پرته له افغانستان څخه روسیې ته بله لاره نه وه چې هند ته وردننه شي.

---

[۱] دصفویانو ددولت په ضد پاخون د(دکندهار پاخون او دایران صفوي دولت ړنګیدل )دښاغلي کاندیداکاډمیسن محمد اعظم سیستاني لیکنه وګورئ

[۲] کولای شئ چې په افغانستان د خارجیانو یرغلونو په اړه زیات معلومات د(افغانستان دیرغلونو په لار )نومې کتاب چې ښاغلي پوهاند دوکتور خیرمحمد ماموند لیکلی وګورئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



د افغانستان په تاریخ کې د دې هېواد مهمې ستراتیژیکې سیمې، چې حساس جیوپولیتکي جوړښت لري او تل یې نړیوال پام ځانته اړولی دی هغه هرات، غزني او د کابل ولایتونه دي چې د وخت لوی ځواکونو ورته د حرص سترګې کړې وې او دا ولایتونه د هند د دروازو په نوم یاد شوي دي، همدارنګه د فارس امپراطور نادر افشار د هرات په باره کې وایي:

(هرات د داسې یوې توري حیثیت لري، چې د هرچا لاس ته ورغله نو د هند نیمه لویه وچې په ډېرې اسانۍ سره نیولی شي.)

همدارنګه انګلیسانو هم هرات د هندوستان کلي بلله او ډېر کوښښ یې کاوه چې په هرډول وي هرات په خپله ولکه کې راولي، همدارنګه ځېنو انګلیسي پوځي ماهرینو هم دا باور درلود، که چېرې هرات د روسیې او یا کوم بل هېواد لاس ته ورغی نو پرته له کوم مقاومت څخه به لدې ځایه هند په ډېرې اسانۍ سره ونیسي .همدا لامل وچې انګرېزانو په افغانستان درې ځله ناکامه یرغلونه وکړل چې ماتې یې وخوړلې.

داتلسمې پېړۍ په وروستیوکې یانې په (۱۷۸۹ زېږدیز) کال، کله چې د فرانسې لوی انقلاب بریالی شو ،نو انګلیسانو ته داویره پیدا شوه، هسې نه چې فرانسویان به د دې انقلاب دبریا پرمټ له دوی څخه هندوستان ونیسي.

دهمدې احتمالي خطرونو په موخه انګریزانو د پرمختګ(فارورډ پالیسۍ)له مخې مخ په افغانستان راځغاستل ،ترڅو پرهند د روسیې د احتمالي یرغل مخه ونیسي، دانګلیس پوځي ماهرینو دا ټینګار کاوه چې دهندوکش دغرو لمنې باید دیوه ټینګ سنګر په توګه عیار شي او پدې توګه به د روسیې د خطر مخه ونیول شي، ځکه افغانستان دانګرېزانو لپاره د خطر لوی ټکی و.

په نولسمه پېړۍ کې په مرکزي آسیا کې ستره لوبه پیل شوه، چې د دې سترې لوبې عمده لوبغاړي انګلیس او روس و ،او د دې لوبې اصلي محراق افغانستان و ،دې لوبې هله زور واخیست کله چې د امیر شېرعلي خان د واکمنۍ پرمهال د جنوب له

(c) ketabton.com: The Digital Library



لـوري انګرېزانـو د سـلیمان غرونـه شاوخوا سـنګرونه ونیـول او د شـمال لـه لـورې روسـانو دآمو سیند شاوخوا سـیموکې ځـای پرځـای شـول، دا لـوی توپـان چـې پـر افغانستان را الوتی و ،کابو شپږ لسیزې یې دا هېواد دورانوونکو څپو قرباني کړ. روسانو دا سې انګېرله، چې کـه انګلیسـان د هندوکش غـرو پـه لمنو کې سـنګرونه ونیسي نـو دا کـار بـه پـه مرکزي آسیا کې د دوی د نفوذ مخـه ونیسـي او هم بـه یې ځینې ګټې له لاسه ووځي.
انګرېزانو هم دا سې فکر کاوه ،هسې نه چې روسان دآمو له سیند څخه راتېر شي او دهندوکش درې به یې ګوتو ته ورشي اوله هغه ځایه بیا پـه اسانۍ سره هند لانـدې کړي. دنولسمې پېړۍ پـه نیمایې کې ،کله چې روسانو د شـمال لـه لورې دآمو سیند شاوخوا سیمې لاندې کړې،اوانګرېزانو هم دجنوب له لورې د سلیمان دروشـاوخوا دېره شـول،نو دا سې باورکېدہ چې دد واړو لـورو بـه یوه خـونړۍ جګړه وشـي،خو بالاخره دد واړو هېوادونو ترمنځ له اوږدو خبرواترو وروسته پـدې سـلا وشوه، چې بایـد دد واړو زبرځواکونو دنفوذ د سـیمو تـرمنځ یـو بفـر (حایـل ) یـا خنثـی سـیمه وي،چې بالاخره دد واړو امپرطوریو ترمنځ افغانستان دبفر پـه توګـه وټاکل شو او پـه مرکـزي آسـیا کـې دالوبـه پـای تـه ورسـېدہ. دانګلیسـانو او روسـانو ترمنځ افغانستان دبفر پـه توګه ټاکل یو ډېر شوم امرو ،نـه یـوازې دا چې دې هېـواد خپـل طبیعي سرحدونه دانګلیسانو او روسانو پـه لویه لوبه کې له لاسه ورکړل،بلکې لـه مادې او اقتصادي پلوہ یې هم ددې هېواد دپرمختګ ټولې چینې وروچې کړې.
http://larawbar.com/nazeem/?p=۴۳

د افغانستان مطلقه موقعیت

د یـوه هېـواد مطلقـه موقعیـت دجغرافیـایې کواردینیتونـو د شـمېرنې پـر بنسـټ محاسبه او پـه پام کې نیول کېږي چې نوموړی هېواد د طول البلد او عرض البلد پـه کومو درجو کې واقع دی ؟ دا ستوا د کرښې شمال او یا سویل تـه پـه کومـه اندازه

(c) ketabton.com: The Digital Library




واقع شوی او يا دا چې د نصف النهار د کرښو له مبداء يانې ګرينويچ د ختيځ يا لويديځ خواته په څو درجو کې موقعيت لري.

مطلقه موقعيت په بنياد ديوه هېواد اصلي سيمه په شمال، سويل، لويديځه او يا ختيځه نيمه کره کې په سمه توګه ښودل کېږي او د همدې موقعيت په بنسټ د اقليم په اړه معلومات هم لاس ته راځي او بيا وروسته پوهېږو چې نوموړی هېواد په کوم ډول اقليمي سيمه کې ځای لري.

افغانستان د اسيا په لويه وچې کې هغه هېواد دی چې بحرته لار نه لري او دغوره طبيعي ځانګړتياوو په لرلو سره په مرکزي اسيا کې يو غرنی هېواد ګڼل کېږي.

افغانستان په شمالي نيمه کره کې تخميناً د( **۲۵۲۲۲۵** )کيلومتر مربع پراخوالي په لرلو سره له روسيې پرته نور د ټولو اروپايي هېوادونو څخه پراخ هېواد دی او د




اسيايي ملکونو سره د پرتله کېدو له مخې له چين، هند ، سعودي

(c) ketabton.com: The Digital Library



عربستان، ایران، منګولیا، اندونیزیا، پاکستان، ترکیې او برما څخه وروسته په لسمه درجه کې راځي او د پراخوالي له مخې د نړۍ څلوېښتم هېواد دی.
د مطلقه موقعیت له مخې افغانستان په لاندې طول البلدونو او عرض البلدونو کې ځای لري.
نوموړی هېواد د جغرافیايي طول او عرض له مخې په شمالي عرض البلدونو کې له جنوب څخه د شمال په لورې د ۲۹ درجو ، ۲۲ دقیقو او ۵۳ ثانیو او د ۳۸ درجو ، ۲۹ دقیقو او ۳۷ ثانیو او د شرقي طول البلد دایرو ، ۶۰ درجو ۲۸ دقیقو او ۴۱ ثانیو او د ۷۴ درجو ، ۵۱ دقیقو او ۴۷ ثانیو په منځ کې موقعیت لري.
د افغانستان زیات اوږدوالی له شمال ختیځ څخه جنوب لویدیځ لورې ته یانې له یولې درې څخه تر ملک سیاه غر پورې( ۱۵۳۰ )کېلو متره او زیات پلن والی یې له خم اب څخه تر چګايي غرونو پورې( ۹۱۲ )کېلو متره دی.
اوس مهال چې افغانستان په وچې کې راګېر هېواد دی دغې هېواد ته تر ټولو نژدې بحري بندر د کراچۍ بندر دی چې له تورخم څخه( ۱۱۲۳ )کېلو متره واټن لري .پداسې حال کې چې د هند بحرا و افغانستان تر منځ په سیده توګه (نبغ په نبغه) واټن تردې ډېر کم دی یانې له هلمند ولایت څخه تر د کراچۍ شمال لویدیځ لورې پورې( ۳۹۰ )کېلو متره واټن شتون لري.
دافغانستان په شمال کې تاجکستان ، ازبکستان او ترکمنستان جمهوریتونه، لویدیځ ته یې ایران او ختیځ لورې ته یې د چین سیکیانګ ولایت سره ګډه پوله لري[1]

د افغانستان نسبي یا جغرافیايي موقعیت
نسبي موقعیت دیوه هېواد پرتله ایزه برتري، لوړوالی، سیاسي او اقتصادي ارزښتونه دبل هېواد په پرتله څرګندوي .د بېلګې په توګه د نړیوال استعمار په

---

[1] دافغانستان سرحدونه، دپوهندوی کریم الله لیکنه، ۲.۵ مخونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخت کې د هند سمندر ګرمو اوبو ته د پخواني شوروي اتحاد نسبي موقعیت اولاس رسی دامریکاد متحده ایالاتو او انګلیستان په پرتله لږو.نوځکه د شوروي اتحاد دغې نسبي موقعیت نوموړی هېواد دګوابښ سره مخامخ کړی ؤ هماغه وچې ویې غوښتل ترخود مرکزي اسیا د هېوادونو او افغانستان له لارې د هند سمندر ګرمو اوبو ته ځان ورسوي خو په پای کې پخپله د سیاسي ټوټې کېدنې سره مخ شو.همدارنګه په ۱۹ز پیړۍ کې انګلستان اوبرتانوي هند غوښتل چې د تزاري روسې د قدرت په مقابل کې داسیا په جنوب او دخلیج په هېوادونو کې نورې ډېرې برلاسۍ لاس ته راوړي نوځکه یې په افغانستان کې د پراختیا غوښتنې سیاست( Forward Policy )عملي کړ چې په پای کې دتزاري روسې سره ترخبرواترو وروسته افغانستان دحایل په توګه ومنل شو.او په نسبي توګه یې خپل پرمختګ او پراختیا غوښتنه تثبیت کړه.هماغه وچې روسانو د مروې او پنجدې په اخېستنه او انګلیستان اوبرتانوي هند دډیورند د کرښې پرتحمېلولو خپله نسبي استعماري سیمه تثبیت کړه.[1]

دافغانستان ستراتیژیک موقعیت

دا ټولو ته مالومه ده،چې افغانستان دخپل جغرافیایې موقعیت په اړه د نړۍ بحري اوبو ته لاره نه لري.

افغانستان هم په آسیا کې د وربښمو د لارې پر سر پروت دی او د سیمې د ملکونو او ځبرځواکونو د سیاسي غوښتنو دیوې څلورلارې حیثیت لري،چې د سابقه شوروي اتحاد له ړنګېدو وروسته یې جیوپولېټیک ارزښت نور هم زیات شوی دی او اوسمهال د کسپین چاپېریال د شوروي آزاد جمهوریتونو او دهندو پاکستان ترمنځ یې له شماله جنوب ته د ځمکني ترانزیتي لارې په توګه یو ځانګړی موقف خپل کړی دی.

---

[1] د تاریخ په اوږدو کې دافغانستان سرحدونه او اداري ویش،دپوهاند غلام جیلاني عارض لیکنه،۸مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغانستان پخپله هم ګڼ شمېر کانونه، مېنرالي زېرمې، ګازاو تېل لري، له بل پلوه دافغانستان جغرافیوي موقعیت د روسیې، چین او هند د ځبرځواکونو د څارلو لپاره لوړ پوځي مورچل ګڼل کېدلی شي او په دې سیمه کې دموجودوطبیعي زېرمو په اړه په نړیواله کچې لوېې پیسې ګټل کېدلی شي، چې افغانستان ته یې ستراتیژیک ارزښت هم ورکړی او هم د نړیوالو کمپنیو او ځبرځواکونو د سیالۍ ډګر ګرځېدلی دی. له بده مرغه چې نړیوال ځبرځواکونه لکه: امریکا، روسیه او چین هر یو له نړیوال مارکېټ سره د دغوزېرمودلوټلو او دخپلې ګټې اخېستلو لپاره بېلې بېلې طرحې لري، چې ډېرپه تېلو ماړه ملکونه یې قرباني دي او خلک یې له ستونزو سره لاس او ګرېوان دي.

د افغانستان موقعیت له ایران سره دامریکا او اسرایلو په سیاسي لوبو کې هم یو ځانګړي حالت ته رسېدلی دی. ایران غواړي خپل اتومي بم جوړ کړي او اسرایل له امریکا سره و یره لري، چې ګواکې د ایران دولت ثابت نه دی او له خپل ایراني اتمي بم سره نړۍ ته د امنیت خطره رامنځ ته کوي او ددې ګوابن هم شته چې په ایران نظامي عملیات تر سره شي، خو د ایران د اقتصادي تجربدولو لپاره د کسپین د نفتو، ګازو او تېلو دترانزیتي لارې په اړوند سره دایران د ګوښه کولو لپاره هم کولی شي د افغانستان له موقعیته ګټه پورته کړي، ځکه نو امریکا ته افغانستان لکه یو ستراتیژیک دوست هېواد ډېر مهم دی، چې په دې توګه کولی شي ایران هم د منځنۍ آسیا له ترانزیتي لارې ګوښه کړي او هم د سیمې د انرژي ترانسپورت له ګاونډیو ملکونو څخه تر سره کړي.

له همدې امله امریکایانو لادطالبانودواکمنې پرمهال غوښتل چې د ترکمنستان، افغانستان، پاکستان، هندوستان نللیکې وغزوي، خوهغه مهال په سیمه کې دامریکایي اوارجنټایني کمپنیو درقابتونو او په افغانستان کې د ناامنیو له کبله دغه پروژه پلې نه شوه چې وروسته په (۲۰۰۱ زېږدیز) کال دغه پروژه په ټپه ودرېده، مګرپه (۲۰۱۰ زېږدیز) کې دګازودنللیکې دپروژې په اړه دامریکې په ملاتړ په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترکمنستان کې د افغانستان، پاکستان، هند او ترکمنستان د دولتونو ترمنځ یو تړون لاسلیک شو او د (۲۰۱۱ زېږدیز) کال په اپرېل کې د افغانستان پارلمان هم نوموړې پروژه تایید کړه، خو د افغانستان جنګي حالت د دغه پروژې کار په ټپه درولی.

دا ټولو ته څرګنده ده، چې افغانستان د خپل رسمي تاریخ پیل د لوی احمد شاه بابا له واکمنۍ یانې (۱۷۴۷ زیږدیز) کاله څخه را شروع کړی، خو ځینې بیا د تاریخ پړاو د پښتنو د آزادي لو مړني مقاومت ته وراړوي، چې د مېرویس نیکه له سیاسي، نظامي او ټولنیز خوځښت سره تړاو لري.




د لوی مشر میرویس نیکه خوځښت تاریخي ارزښت دی، خود هوتکو د ټبر حکمر وایې، د احمد شاه بابا واکمنې بیا د افغاني امپراتورۍ جوړېدل، چې شمزۍ (اساس او بنسټ) یې دورانیو جوړه کړې وه او دریم تاریخي نظر بیا د هغو ایتنیکي (نژادي) ډلو دزړه خبره ده، چې د نننۍ افغانستان تاریخ هر څو مره چې کېږي عمر یې ورلنډ کړي، نو پایله داده، چې د افغانستان په خاوره کې د اسې ټبریز امکانات شته، چې دغه ټولنه په خپل لاس په اور کې ډاډه کړي، نو صرف یو اورلګیت ته اړتیا لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغانستان د تزاري روسیې او انګریزي امپراتورۍ تر منځ د بفر یا (ناپېلې) سیمې موقعیت تر لاسه کړ، په دې کې دوخت د دغه دوو ځبرځواکونو رول ډېر غوره ؤ، ځکه چې که روسیه رامخ ته شوه، نو د افغاني مقاومت تر شاه انګرېزان د رېدل او که به انګرېز رامخ ته شو، نو روسیې به د انګریزي امپراتورۍ د خپرېدو مخنیوی کاوه، نو افغانان د دغه جګړې د سوخت مواد ول او تر ننه هم دي، خو باید یاددونه وشي، چې موږ به په خپله خاوره کې دومره انګرېزان او یا روسان هغه وخت نه وي وژلي څومره مو چې خپل افغانان ووژل.

په شلمه پېړۍ کې افغانستان د شوروي اتحاد او لویدیزوالو په اخ او ډب کې ښکېل ؤ، مګر بیا هم په یوه ټاکلې دوره کې په افغانستان کې داسې واکمني وه، چې افغانستان یې لږ تر لږه د ۵۰ کلونو په بهیر کې په نسبي توګه کرار وساته او د افغاني اداري بنسټیز اساسات یې کېښودل او په دویمه نړیواله جګړه کې یې افغانستان د هټلري جرمني له تېریو، د روسیې له بدمرغیو او د نړیوال امپریالیزم له خوړلو وساته، خو څه وشول، چې د دغه ټول یو ځل له منځه ولاړل او دا دی موږ لږ تر لږه ۳۵ کاله کېږي چې د جنګ په حالت کې ژوند کوو او د دریو لسیزو په بهیر کې د دوو ځبرځواکونو سره مو پنجې نرمې کړې او د سیمې هېوادونو د سیاسي لوبو قرباني شوو[۱].

دنړیوالو امپراطورانو او یرغلګرو په لومړنیو مرحلو کې لکه کوردیش، او داریوش (هخامنشان) هندي موریا اشوکان او مقدوني سکندر د دریمې نه تر پنځم میلاد څخه مخکې پېړیو کې له دې ټاټوبي په لور د شمال او د سویل څخه تېر شوي دي او د دې ټاټوبي د مرکز او شوق الجیشي موقعیت څخه په ګټه اخیستنې سره منځنۍ اسیا او هند کې دیو جنګي قرارګاه په توګه استفاده کړې ده او بیا په

---

[۱] لس کلنه ډیموکراسي او د افغانانو سیاسي بې وسي. د مقالو ټولګه. په نیدرلنډ کې افغاني کلتوري ټولنه. ۲۱۹_۲۱۵ مخونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروستیو پېړیوکې د اسلام د اسپاهیانو تر فتوحاتو او چنګیزیانو (مغولیانو) ترکانو(امیرتیمورګورګاني) اوډېرې سیمه ایزو قدرتونو ترحملولاندې راغلي دي.

دافغانستان طبیعي اوتوپوګرافیکي جوړښت

توپوګرافي جوړښت دځمکې خارجي شکل ته ویل کېږي چې مختلف موضوعات لکه(لوړې،ژورې، سرحدات، اوداوبوشبکې)ترمطالعې لاندې راولي،دسرحدونواساس،مبنا ،شکل اوخط سیرمتفاوت اوپه مختلفو ډولونو دي چې دا دامنیت،تاریخي میراث،موافقت ناموا ونظامي شخړوپه نتیجه کې ټاکل شوي دي اوپه حقیقت کې دیوهېواد د قلمرو حدود مشخصوي چې همدغه حدودبیا دیوهېواد ارضي تمامیت بلل کېږي او نوموړی هېواد دیوسیاسي خپلواک واحد په توګه د نړۍ په سیاسي نقشه کې خپل ځای مشخصوي.

په جیوپولیتیک مطالعاتوکې هېوادته ډېراهمیت ورکول کېږي اوپه بحثونوکې دستنې حیثیت لري،چې هېواد بیا دجوړښت له پلوه ددریو مهمو عناصرو( قلمرو ،ملت،حکومت )تشکیلېږي اوکه چېرې ددې دریو نه یو هم په یوې سیمې کې نه وي نو هغه سیمه نشي کولای په نړیوال کلي کې د پام وړ رول ولوبوي اوکه چېرې هېواد یو ددې دریوعناصرونه له منځه ولاړشي نودولت یې ناقص اودهغه عضویت په نړیوال کلي کې دیوسیاسي واحد په توګه تر پوښتنې لاندې راځي.

افغانستان دتوپوګرافیکي وضعیت له پلوه اکثراً په غرونوپوښل شوي دي او$\frac{۴}{۵}$حصه یې غرونه تشکیلوي،دهندوکش غرونه یې په مرکزي ساحه کې واقع دی چې ۷۰۰کیلومتره اوږدوالی لري او دیوې لېندۍ په شکل پراته دي،ختیځ هندوکش د دوو موازي لوړوڅوکولرونکی دی چې ۱۰ نه تر ۱۵ کیلومتره پورې یو له بل نه لرې واقع شوي،نوموړې څوکې د خاواک په سیمه کې یوه لاره تشکیل کړې چې مقدوني سکندر اوګورګاني تیمور د همدې لارې پرهندیرغل کړی وو ،ددې غرونو لوړې څوکې تر ۲۰۰۰متره او لمنې یې تر۳۵۰۰مترو پورې ارتفاع لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوموړي غرونه دلويديځ خواته قرار قرار تيټ شوي او په باميانو کې د بابا غرونو په نامه ياد شوي او نورې برخې ترې جلا شوې د مثال په توګه د بابا د غر په شمال لويديځ کې د تيربند ترکستان غرونه د لويديځ لورې ته سفيد کوه او سويل خواته تور غر موقعيت لري، ددې غرونو وسطي ارتفاع د ۵۰۰ نه تر ۲۰۰۰ مترو پورې ده او د شمال نه سويل ته يې زيات پراخوالى ۲۰۰ کيلومتره تخمين شوى دى. ددې غرونو پر څنډو ژور سيندونه واقع شوي دي چې د تنګ راتګ قابليت نلرى، د افغانستان په سويل ختيځ کې د سليمان غر واقع شوى دى چې منځنۍ ارتفاع يې ۲۰۰۰ مترو ته رسيږي.

د سپين غر مشهور غرونه چې د کابل سيند د هغه له لمنو سرچينه اخلي اودخيبرمشهوره لاره يې د درونه تيريږي تر ۴۵۰۰ مترو پورې ارتفاع لري، دهيواد جنوبي سيمه يوه پراخه بيديا تشکيلوي چې ۲۰٪ د هيواد خاوره په بر کې نيسي.




دهلمند سيند نوموړى بيديا په دوو برخو ويشي لومړى غربي بيديا دمارګو دښته او دوهم شرقي بيديا او ريګستان او همدارنګه د کويت، پسني، قلات او غزني

(c) ketabton.com: The Digital Library



غرونه د یوې قوي شبکې په توګه د سویل لویدیځ خواته راکښته شوي دي د هلمند سیند په وسیله سره جلا شوي دی.
دداسې یو توپوګرافیکي شکل په لرلو سره افغانستان یو خاص حالت غوره کړی دی دهندوکش غرونو د شمال ختیځ په لورې دوام لرونکی لوړوالی لري لکه څرنګه چې د هېواد اکثره سیندونه د مرکزي لوړونه سرچینه اخلي او څلورو خواووته جریان پیداکوي، بناً یرغلګرو همېشه د لویدیځ او سویل لویدیځ نه پر افغانستان حمله کړي او ختیځ خواته د هند د نېولو لپاره مخکې تللي دي خصوصاً د بلخ ښار موجودیت چې په یوه وخت کې داوو امپراطوریو مرکز وو، دډېرو فاتحینو توجه ځان ته را اړولې وه، لکه څرنګه چې نوموړی ښار ۲۲ ځلې ویجاړ او ددوهم ځل لپاره رغول شوی دی او دیوې پراخې سیمې مرکز ټاکل شوی دی، په مرکز کې د ګڼو غرونو موجودیت د فاتحینو د حرکت خط په دوو برخو وېشلی دی چې د هغوی تر منځ ارتباط کم شوی دی، لکه څرنګه چې مقدوني سکندر د هرات د نېولو نه وروسته د بلخ د نېولو لپاره لومړی د شمال له لارې او بیا د مجبوریت په اساس د سویل له لارې حمله کړې، تردې وروسته اسلامي فتوحات هم د همدې دوو سوق الجیشي استقامتونو له لارې تر سره شوي، چې په هغه وخت کې اسلامي قواوو د نېشاپور نه پر هرات، بلخ او تخارستان حمله وکړه او هغه یې فتح کړل او د زرنج له لارې یې سیستان، کندهار، کابل او کاپیسا فتح کړي دي.
دافغانستان طبعی توپوګرافیکې وضعیت د طبیعي عوارضو له حیثه په دریو برخو وېشل شوی دی.
۱- لوړ ساحات (غرنۍ او لوړې ساحې چې د دوو نه تر شپږو زرو مترو د سمندر د سطحې نه په لوړوالي کې واقع شوي دي.)
۲- ټیټ ساحات (هغه سیمې چې نسبتاً کم ارتفاع لري او ارتفاع یې د سمندر د سطحې نه ۳۰۰-۵۰۰ مترو پورې تخمین شوي دي.)
۳- هوار ساحات (هغه سیمې دي چې ډېره کمه ارتفاع لري او معمولاً هوارې دي)

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدارنګه کم ارتفاع لرونکې سیمې په دریو حوزو وېشل شوي دي.
۱- د آمو حوزه
۲- د هلمند حوزه
۳- د ننګرهار حوزه
د آمو په حوزه کې د خم آب سیمه چې په جوزجان کې واقع ده د سمندر د سطحې نه (۲۸۵ )متر ارتفاع لري او د تخار د درقد ساحه بیا د سمندر د سطحې نه په (۴۲۵ ) متره کې واقع شوې ده چې د آمو په حوزه کې تر ټولو ټیټې واقع شوي دي، دهلمند په حوزه کې اکثره سیمې په ټیټه کې پرتې دي د ګود زره دښته، دجهنم دښته ،دچخانسور ساحه، دپوزک هامون او زرنج هغه سیمې دي چې ریګستاني او وچ اقلیم لري چې د کرهڼې لپاره مؤثر نه دي اما په جیولوجیکي لحاظه د آمو دحوزې سره نږدې والی لري، دننګرهار په حوزه کې کم ارتفاع سیمې دجلال آباد د سویلي سیمو نه شروع او تر لعل پورې او سرحده پورې جریان پیدا کوي.
دافغانستان زیات اوږدوالی د واخان نه بیا تر ملک سیا غره پورې چې د نیمروز په سویل کې واقع شوی دی(۱۵۳۰ )کیلومتره محاسبه شوی او همدارنګه ددې هېواد پلنوالی د شمال دخم آب د سیمې نه د کندهار دګواران تر سیمې پورې(۸۷۰ )کیلومتره محاسبه شوی دی چې داپلنوالی بیا دبدخشان د اشکاشم نه تر باریک درې پورې تر(۳۰ )کیلو مترو پورې راکم شوی دی.
که دنړۍ د دسیاسي نقشې له رویه دافغانستان موقعیت ته وګورو افغانستان دآسیا په منځنۍ برخه کې د مرکزي اسیا او جنوبي اسیا دیوځای کېدو په ساحه کې واقع شوی او دهغه شمال ته د ترکستان بیدیاوې او سویل ته یې د بلوچستان سیمه او په هغه پسې د هند سمندر موقعیت لري چې د همدې کبله په پخوا کې هند ته د رسیدو یوازنۍ لار بلل کېده.[1]

---

[1] دافغانستان دطبیعي جوړښت په اړه زیات معلومات د(درامدي برجغرافیایې طبیعي افغانستان) لیکوال:محمدعظیم عظیمي لیکنه وګورئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



د افغانستان تاریخي وضعې ته یوه لنډه کتنه

افغانستان د اسیا په زړه کې یو غرنی هېواددی چې د تاریخ په اوږدو کې د بېلا بېلو تمدنونو مرکز و. زموږ د هېواد تاریخ د ډېرو عصر ته رسېږي. د اسې شواهد شته، چې هغه مهال خلکو د هندوکش د غرونو په شمال کې ژوند کاوه. د برونز په دورکې (له ۳۰۰۰ څخه تر ۲۰۰۰ قبل المیلاد پورې) افغانستان له ټولو تمدنونو سره د بحرالنهرین تمدن د پرې کولو ځای و. همدارنګه افغانستان دلویدیځ، هندوستان او چین تمدنونو د تقاطع ځای هم وو. په سیمه کې موجوده شتمني او د افغانستان ستراتیژیک موقعیت د ډېرو تمدنونو د پاملرنې لامل شو. کولای شو د باختري یونانیانو، کوشانیانو، ساسانیانو، تیموریانو او مغلو د تمدنونو یادونه وکړو. د تاریخ په اوږدو کې افغانستان د سوداګرو، کروندګرو، علماو، اویرغلګرو د پام وړ وو او د دغه ټولو د زیانونو ترڅنګ د افغانستان د کلتوري او مذهبي بډاینې لامل شو. دوربېښمولاړ پر افغانستان پرته ده، چې د هېواد له مرکز څخه تېرېږي او د ختیځ او لویدیځ تمدونونه یې د اوږده وخت لپاره سره نښلولي دي.

مختلفو دینونو لکه زردشتي، بودایې او اسلام په افغانستان کې وده کړې. زردشتي دین د نړۍ له سترو ادیانو څخه دی، چې د زردشت په وسیله (۱۲۰۰ کاله قبل المیلاد) د افغانستان په سویل لویدیځ کې بنسټ کېښودل شو. بودایې دین، چې زموږ په هېواد کې وپېژندل شو تر لسمې پېړۍ پورې تر میلاد وروسته د سیمې له سترو دینونو څخه و. صومعه بودایان، چې په بامیانو کې د (۱۴ او ۲ پیړیو) په منځ کې جوړ شول له هغولو مړنیو اقداماتو څخه وو، چې بودایې دین یې د انسان په شکل ښکاره کړی دی. د کوشانیانو په زمانه کې د ګندهارا کلتور خپل اوج ته ورسېد، د ګندهارا مرکز د اوسني ننګرهار د هډې ښار و.

(c) ketabton.com: The Digital Library






د افغانستان په اوږده تاریخ کی د دا رنګه محلی او قومی دولتونو او یا په بل عبارت د محلی اداری سیستمونو شمیر ډیر زیات ده چه ما د دوی له جملی نه یو څورا انتخاب کړي دی. دی دولتونو ندرتاً د خپلواکو مګر اغلباً د نیمه خپلواکو او د نورو لویو او قوی دولتونو په تشکیل کی او د هغوی د باج ورکوونکو په توګه خپل ژوند ته ادامه ورکوله.

په اوومه زېږدیزه پېړۍ کې د اسلام سپېڅلی دین د عربو په وسیله افغانستان ته راغی او تر هغې وروسته افغانستان د اسلامي تمدنونو او څواکونو د تقاطع نقطه ده.لوی لوی اسلامي ساینس پوهان،فیلسوفان، شاعران ،هنرمندان،مهندسان له همدې ځای څخه راټوکېدلي دي.بوعلي سینا په( ۹۸۰زېږدیز) کال کې په بلخ کې وزېږېد.جلاال لدین بلخي د افغانستان لوی شاعر او فیلسوف دی.



په دیارلسمه زېږدیزه پېړۍ کې مغلو په دغه سیمه برید وکړ او ټوله شتمني یې له منځه یوووړه.د مغلو د امپراتورۍ په له منځه تللو سره د تیموریانو دوره پیل شوه.د هرات ښار د تمدن او فرهنګ په مرکز بدل شو. په واقعیت کې د تیموریانو دوره د رنسانس دوره وه،ټول هنرمندن، شاعران،فیلسوفان او موسیقي


(c) ketabton.com: The Digital Library



پوهان هلته راټول شوي وو. کېدای شي، چې له هغې جملې څخه د بهزاد (لوی میناتوریست) او جامي یادونه وکړو.

په( ۱۲ )زېږدیزه پېړۍ کې ظهیرالدین بابرلویه امپراتوري جوړه کړه او افغانستان هم د هغه په امپراتورۍ کې شامل شو. دمغلوترامپراتورۍ وروسته افغانستان ورو، ورو کمزوری شو.

اوسنی افغانستان په( ۱۱۲۶ هـ ش )کال کې د احمدشا ابدالي له خوا د لویې جرګې د پرېکړې په نتیجه کې رامنځ ته شو. احمدشاه بابا **۲۵** کاله واکمني وکړه اولویه




امپراتوري یې جوړه کړه. د هغه دواکمنۍ ځلور خواوې له اموسیند څخه تر عرب بحیرې او له هرات څخه تر پنجاب پورې پراخې وې. د احمدشاه بابا تر وفات وروسته افغانستان په کورنیوجګړوکې ښکېل شو. په( ۱۹ پېړۍ )کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library





وخت زبرځواکونو په افغانستان کې کليدي ارزښت درلود. د انګليس او روسيې تر منځ کشمکشونو دافغانستان اوسني بريدونه وټاکل.
په( ۱۸۳۸ زېږديز ) کال انګلستان پر افغانستان يرغل وکړ چې ماتې يې وخوړه.[۱] دا د افغان او انګليس لومړۍ جګړه وه چې انګريزانو ته په کې ډېر تاوانونه



واوښتل. واک ته د غازي امان الله خان په رسېدو سره افغانستان په( ۱۲۹۸ هـ ش ) کې خپلواکي واخيسته. غازي امان الله خان په هېواد کې دچټکو اصلاحاتو غوښتونکې و چې هغه د دود پالو کړيو د سرغړونې لامل شو او په پايله کې په( ۱۳۰۸ هـ ش )کال کې د هېواد پرېښودو ته اړ شو.



تردې وروسته نادرخان په هېواد کې نظم راوست او په( ۱۳۱۲ هـ ش )کال کې ووژل شو.د نادرخان يوائينى زوى ظاهرشاه دپلار تر وژلو وروسته واک ته ورسېد.نوموړي په څلويښت کاله واکمنۍ کې ناپېلې پاليسي خپله کړه او غوښتل يې چې په عين وخت کې د شوروي اتحاد له جمهوريتونو او دامريکا له متحدو ايالتونو څخه امتيازات واخلي. په( ۱۳۴۳ هـ ش ) کال کې د اساسي قانون په تصويب سره افغانستان د مشروطه شاهي لرونکې شو.

---

[۱] کولای شئ چې دافغان اوانګريز دلومړۍ اودوهمې جګړې په اړه (انګريز استعمال اوافغانستان ليکوال:اولس يار ،دافغانستان اوانګريزدوهم جګړه ليکوال:پوهاند حسن کاکړ )کتابونه وګورئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



په( ۱۳۴۴ او ۱۳۴۸ )لمریزکلونو کې په هېواد کې تاکنې وشوې.سردارداود دیوې سپینې کودتا په پایله په( ۱۳۵۲ )لمریزکال کې واک تر لاسه کړ او شاهي نظام یې په افغانستان کې له منځه یووړ او جمهوري نظام یې ټینګ کړ.سردار محمد داود پر مرکزیت تمرکز کاوه او غوښتل یې چې افغانستان ورو ورو په خپلو پښو ودروي.نوموړی په( ۱۳۵۷ لمریز )کال د غویي په اومه په یوه خونړۍ کودتا کې ووژل شو.د خلق ډیموکراټیک ګوند[1] واک ته ورسېد. د افغانستان سیاسي وضعه ورځ په ورځ مخ پرخرابېدو وه، همغه وو چې د شوروي اتحاد سرولښکرو د( ۱۳۵۸لمریز )کال د جدي پرشپږمه پر افغانستان وسله وال یرغل وکړ.



د شورویانو یرغل لس کاله دوام وکړ چې دادوام د ولس د بدمرغۍ او د هېواد دتباهۍ لامل شو. دافغانستان ټول کلي د شورویانو چورلکو بمبار کړل او په مقابل کې د افغانستان د خلکو جهاد[2] ورځ په ورځ پیاوړی کېده،اوپه پایله کې میخایل ګورباچوف دې ته اړ شو چې له افغانستان څخه خپلو لښکرو ته د وتلو امر وکړي. د روسانو وروستی غونډ په( ۱۳۶۸لمریز )کال کې له دوشي[3] پله څخه واوښت او افغانستان یې پرېښود.[4]

---

[1] په دې اړه زیات معلومات د(دحزب دیموکراتیک خلق افغانستان کودتا ،حاکمیت وفروپاشي:لیکوال محمداکرم اندیشمند

[2] دمحمدظاهرشاه اوسردارمحمددوادخان دواکمنۍ په اړه تفصیلي معلومات د(افغانستان ددیموکراسۍ اوجمهوریت په کلونوکې ) دښاغلي عبدالغفارفراهي لیکنه وګورئ

[3] دبغلان ولایت په دوشي ولسوالۍ کې دیوپل نوم دی

[4] کولای شئ دروسي استعمارپه اړه ریات معلومات د(K.G.B په افغانستان کې)په نوم کتاب چې ښاغلي رحمت آریاژباړلی وګورئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



په(۱۳۷۱ لمریز )کال کې مجاهدینو واک لاس ته راوړ او اسلامي دولت یې جوړ کړ. خو د جهادي ګوندونو ترمنځ ډېر ژر کورنۍ جګړه ونښته او د زرګونو بې ګناه افغانانو د وژلو لامل شوه.پلازمینه ویجاړه شوه. اردو له منځه لاړه او اقتصادي بنسټونه ونړېدل. په(۱۳۷۳ لمریز )کال کې د طالبانو حرکت د افغانستان په سویل لویدیځ کې راپیل شو.په(۱۳۷۴لمریز )کال کې د کابل ترنیولو وروسته طالبانو هغه تعبیر چې له اسلام څخه یې درلود پر خلکو ومانه.

د(۲۰۰۱زیږدیز )کال د اکتوبر تر ۹ وروسته د امریکا متحدو ایالاتو له خپلو متحدینو سره په ګډه د تروریزم پرضد مبارزه پیل کړه. د طالبانو نظام راونړېد. لنډمهالي اداري چې په بن کې جوړه شوې وه واک په لاس کې واخیست. د(۲۰۰۲ زیږدیز )کال په اپریل کې بیړنۍ لویه جرګه جوړه شوه. او د افغانستان منځمهاله اداره یې جوړه کړه. نوی اساسي قانون تصویب او د هغه په پایله کې د ولسمشرۍ او ولسي جرګې ټاکنې وشوې.[1]

---

[1] کولای شئ د افغانستان د تاریخ په اړه نور معلومات د(تاریخ سیاسي مختصر افغانستان ) لیکوال:سید محمد باقر مصباح زاده،(شرح زماني رویدادهای مهم سیاسي افغانستان ) لیکوال:ډاکتر محمد ثنا متین نیکپي ،(تاریخ تجزیه شاهنشاهي افغانستان) لیکوال: علامه حبیبي ،(تاریخ مختصر افغانستان )لیکوال:پوهاند سید سعدالدین هاشمي (دافغانستان لنډ تاریخ )لیکوال:پوهاند حبیبي،(افغانستان د تاریخ په تګلوري کې) لیکوال:میرغلام محمد غبار کتابونه وګورئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



د احمد شاه بابا څخه د حامد کرزي پورې د افغانستان د ولسمشرانو نوم لړ او واکمنۍ نېټه

| شماره | پاچانوم | واکمنۍ پیل | واکمنۍ پای |
|---|---|---|---|
| ۱ | احمد شاه بابا | ۱۱۲۰ه ق | ۱۱۸۶ه ق |
| ۲ | تیمورشاه | ۱۱۸۶ه ق | ۱۲۰۷ه ق |
| ۳ | شاه زمان | ۱۲۰۷ه ق | ۱۲۱۶ه ق |
| ۴ | شاه محمود | ۱۲۱۶ه ق | ۱۲۱۹ه ق |
| ۵ | شاه شجاع | ۱۲۱۹ه ق | ۱۲۲۴ه ق |
| ۶ | د شاه محمود دوهم ځل دوران | ۱۲۲۴ه ق | ۱۲۲۴خو میاشتی |
| ۷ | امیر دوست محمد خان | ۱۲۲۴ه ق | ۱۲۵۶ه ق |
| ۸ | شاه شجاع دوهم ځل دوران | ۱۲۵۶ه ق | ۱۲۵۹ه ق |
| ۹ | امیردوست محمد خان دوهم ځل دوران | ۱۲۵۹ه ق | ۱۲۷۹ه ق |
| ۱۰ | امیر شېرعلی خان | ۱۲۷۹ه ق | ۱۲۸۳ه ق |
| ۱۱ | محمد افضل خان | ۱۲۸۳ه ق | ۱۲۸۵ه ق |
| ۱۲ | محمد اعظم خان | ۱۲۸۵ه ق | ۱۲۸۶ه ق |
| ۱۳ | امیرشېرعلی خان دوهم ځل دوران | ۱۲۸۶ه ق | ۱۲۹۶ه ق |
| ۱۴ | امیرعبدالرحمن خان | ۱۲۹۷ه ق | ۱۳۱۶ه ق |
| ۱۵ | امیرحبیب الله خان | ۱۳۱۶ه ق | ۱۳۳۶ه ق |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | |
|---|---|---|---|
| ۱۶ | امیر امان الله خان | ۱۲۹۷ه ش | ۱۳۰۷ه ش |
| ۱۷ | حبیب الله کلکاني | ۱۳۰۷ه ش | ۱۳۰۸ه ش |
| ۱۸ | محمد نادر خان | ۱۳۸۰ه ش | ۱۳۱۲ه ش |
| ۱۹ | محمد ظاهر شاه | ۱۳۱۲ه ش | ۱۳۵۲ه ش |
| ۲۰ | سردار محمد داود خان | ۱۳۵۲ه ش | ۱۳۵۷ه ش |
| ۲۱ | نور محمد ترکي | ۱۳۵۷ه ش | ۱۳۵۸ه ش |
| ۲۲ | حفیظ ا لله امین | ۱۲اسد ۱۳۵۸ه ش | ۶جدی۱۳۵۸ه ش |
| ۲۳ | ببرک کارمل | ۱۳۵۸ه ش | ۱۳۶۵ه ش |
| ۲۴ | ډاکتر نجیب الله | ۱۳۶۵ه ش | ۱۳۷۱ه ش |
| ۲۵ | صبغت الله مجددي | ۱۳۷۱ه ش | ۱۳۷۱ه ش |
| ۲۶ | برهان الدین رباني | ۱۳۷۱ ه ش | ۱۳۷۵ ه ش |
| ۲۷ | ملا محمد عمر (مجاهد ) | ۱۳۷۵ه ش | ۱۳۸۰ه ش |
| ۲۸ | حامد کرزی | ۱۳۸۰ه ش | ۱۳۹۴ ه ش |
| ۲۹ | محمد اشرف غني | ۱۳۹۴ ه ش | |

(c) ketabton.com: The Digital Library



## څلورم څپرکی

## د افغانستان پخوانۍ اداره، د حکومت طرز او اداري تشکیلات

### دافغانستان دحکومت طرزاو اداره په تېرو دوروکې

افغانستان داسې هېواد دی چې لرغونی اوروښانه تاریخ لري.دالرغونی تاریخ دبډاینې ګواهي ورکوي چې لرغونتوب یې دنن څخه( ۵۰۰۰ )کاله پخوا پورې رسیږي.

په یو قول ویل کیږي چې دمیلادڅخه ( ۱۴۰۰ )کاله وړاندې اوپه بل قول( ۲۰۰۰ )کاله مخکې له میلاد څخه داټاټوبی دآریایانوتربرید لاندې راغلی او( ۵۴۵ )کاله ترمیلاد دمخه دهخامنشایانو مقتدر پاچا د کورش کبیر تر یرغل لاندې راغلی، اریایان چې په دې جغرافیې سیمې کې کوم حکومتونه جوړ کړي و چې دبېلا بېلوډلو ،قبیلوي اوقومي شوراګانو څخه عبارت و چې دکورنیو، طایفو، قبیلواو قومونو څخه به جوړېده ددې شوراګانو دنده داوه چې په دې ساده ټولنه کې دشخړو دحل په موخه به یې هلې ځلې کولې له هغه وروسته چې په ژوندانه کې څه بدلونونه ترسترګو شوي دقومونو اوقبائلومشرانو به دخپل منځ څخه یو تن دپاچا په توګه ګمارلو چې بیا به ځېنې کوچني حاکمان دقومونو اوقبائلودادارہ کولو په موخه چې دفرمان روایې داطرز دمرکزي حکومت (شاهي حکومت)یادداریوش ترفرمان روایې پورې دوام پیداکړ چې بیا په( ۵۲۱ )قبل المیلاد کې داریوش کبیر دخپلو درباریانو سره دشورا په ترڅ کې دیوداسې قدرت مند (ځواکمن) او مضبوط حکومت دجوړلو په فکرکې شوچې دټولو خلکو اراده تمثیل کړي. اما یو شمېرخلکو به ویل چې حاکمیت باید دلږوخلکو په واسطه رامنځته شي.

دهېواد په سیاسي او اداري ویشنه کې دعواملو اغېزمنتیا

۱-طبعي عوامل

-دځمکې دمخ توپوګرافیکي جوړښت

-دځمکې پرمخ دونوبوټوناادوله وېش

(c) ketabton.com: The Digital Library



-سیندونه، غرونه ، جهیلونه ، جبه زارې ، سمندرګي او خلیجونه
-صحرا ، لوړې ، ژورې ، ځنګلونه ، داوبو تیت او پرک والی
۲-انساني عوامل
په اداري او سیاسي تقسیماتو کې دانساني عواملو اغېزې دهغه دماهیت په پام کې نېولو سره په دوو ډلو ویشل شوي.
الف- هغه انساني عوامل چې له طبعیت سره دګتې اخستنې په برخه کې اړیکې لري او له هغه څخه ګټه پورته کوي او دژوند دځرنګوالي په نظر کې نېولو سره په دريو برخو ویشل شوي.

- ګرځنده ژوند یانې کوچېتوب
- کلیوالي ژوند
- ښاري ژوند

۲_هغه انساني عوامل چې دانسانانو ځانګړتیاوو سره اړیکې لري

- نژاد ،ډولونه او دهغې تیت او پرکوالی
- ژبه ، ډلې او دهغو ډولونه
- دین او دهغه پراخوالی

په سیاسي او اداري تقیسماتو کې اغېز لرونکې معیارونه

- انساني ټولنه
- دسیمې او سیاسي مفکوروترمنځ فاصله او اړیکې
- طبعي یووالی
- فرهنګي یووالی
- دژوند او معېشت طریقه
- د مرکزي سیمو د نفوذ ساحه
- امنیتي مسایل
- ددولت ستراتیژیک لیدلوری

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سياسي اداري تقسيماتو اهميت

ناحيوي او سياسي تقسيمات له هغو مهمو مسئلو څخه دي چې د هېواد په کچې په برنامه جوړولو ،سياسي، ټولنيزه او اقتصادي برخوکې د ملک د اداره کولو ،د موجوده امکاناتو څخه د ګټې پورته کولو ،د استعدادونو د روزلو ،د منطقې دودانولو او پر مختګ په لاره کې ترې کار اخيستل کېږي.

خدمت کوونکي دولتونه د سياسي، اقتصادي ،ټولنيز او فرهنګي کړنلارې په پلي کولو کې د هېواد ،په اداره کولو کې غوره اسانتياوې رامنځ ته کوي،د خاورې د بشپړتيا او خپل حکومت د قلمرو څخه ساتنې په موخه د طبيعي او بشري ځانګړتياوو پر بنسټ خپل هېواد په کوچنيو سيمو(اداري واحدونو )تقسيموي البته دا تقسيمات ثابت ندي او د طبيعي عواملو ،سياسي،ټولنيز، اقتصادي مسايلو او امنيتي وضيعتونو له کبله تغير مومي،د افغانستان په پخوانيو سياسي تقسيماتو کې فتوحات،نظامي مسايل،مالياتو راټولول ،درقيبانو کنترول ، دتاج او تخت مدعيانو ،انحصار طلبيو اود خلکو د عدالت غو ښتنې په نتيجه کې شويدي.

داريانا اداري وېش

د اريانا حدود په لويديز کې د ايران له مرکزي فلات[۱] هغې کرښې چې د پارت ايالت يې د ميديا له ايالته او کارمانيا يې د پارس له ايالته جلا کول،په ختيځ کې د سنکيانګ او کشمير ترا ايالتونو پورې،په جنوب کې د هند ترنيمې وچې او عرب ترسمندرګي پورې،په شمال کې داکسوس(جيحون يا امو دريا )شمال ته د منځنۍ اسيا د جلګو په شمول د اورال تر سمندرګي پورې و.د لومړي ځل د پاره دانوم د

[۱] دځمکې هغه لوړې چې د سيند له سطحې لوړې وي، کيداى شي چې فلات په څلورخوا وکې لوړغرونه قرار ولري.دځمکې د سطحې لوړترين فلات دتبت فلات دى چې دهماليا او اورست لړې په برکې نيسي

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوناني اراتسفن په کتاب کې له میلاد نه مخکې په دریمه پېړۍ کې داریانا په شکل راغلی.

د اویستا د متن په حواله د اریانا دا لرغونې او تاریخي سیمه له شپاړس ټوټو څخه جوړه شوې وه چې دهندوکش لوې غره څلوروخوا وته پرله پسې پرتې وې، ترکومه ځایه چې پرې خبړنه شوې، هغه سیمې چې ددې غره له بېلا بېلو ځایونو څخه خړوبېدلې هغه داویستایې ځمکې مقدسه برخه وه.

-اریانم ویجو (Airyanem, Vaejo) ددې دوه کلمو تحت لفظي (کټ مټ) معنا (داریایانو تخم ځای ) دی او په اصطلاحي ډول کولی شو ( اریایې تعلیم ځای) ورته ووایو چې پوهانو دا ځای دامو سیند (جیحون) او سیر سیند ( سیحون ) تر منځ سیمه یا اوسنۍ فرغانه رانښایې.

-سغده (Sughdha) : دا د سغدیان سیمه ده چې د امو سیند ښي څنډو ته پرته ده.




-مورو (Mouru) : دادمروې دسیمې یا ارغنداو څخه عبارت ده چې منځنې افغانستان له غرونو څخه سرچینه نیسي او د مروې له شاو خوا څخه تېرېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



-بخدي (Bukhdi) : چې د ښکلې خاورې په نوم یاده شوې دا هماغه (بلخ الحسنا ) اویا (بلخ ګزمن )ده چې د لرغونې اریانا له غوره ټوټوڅخه وه.

-نیسایا (Nisaya) :چې موقعیت یې د مرغاب او بلخ تر منځ ټاکل شوی ،ځینې وګړي یې عشق اباد ولې زیات شمېر یې میمنه بولي.

-هروي وه (Haroya) : ددې ټوټې ځمکې دموقعیت ټاکنې په اړوند عالمان شک او ګومان نه لري،داله هغې سیمې څخه عبارت ده چې عادتاً د هرې رود په نوم یادیږي، په وروستیوکې یې نوم کې څه بدلون راغی،دانوم تر اوسه پورې په دې سیندنۍ سیمه کې څرګندیږي ( اوسنۍ هرات سیمه )

-ویکره ته (Vackerata ):هغه پوهان اوشنونکې چې لرغونې دورې په جغرافیه پوهیږي دا سیمه یې د اوسني کابل سیمه ښودلې.

-اوروا (Urva ) : یو شمېر تاریخ پوهان پدې آند دي چې یاده شوې سیمه ( طوس ) یا دغزني سیمه ده، په ځینو ماخدونوکې( ارګون )اودهغې شاوخوا سیمې ( اوه )یاده شوې.

-خننتا (Khanenta) : یوشمېر پوهانو یاده شوې سیمه د ( هیرکانیا ) یا ګرګان په سیمه تعبیر کړې ده.

-هرې ویتي یا(اراویتي ) (Haravaiti): د ارغنداب د سیند ګوټي نوم و.

-ای تومنت یاهیتومنت ( Haetumant ) : تومنت هماغه(( ایتو مندرس )) ده چې یوناني جغرافیه لیکونکو یې یادونه کړې اودهلمند سیندغاړې ترې مطلب دي،دا سیمه په اسلامي دوره کې ( نیمروز ) بلل کېده.

-راغا یا ره ګه (Ragha) : ددې سیمې ځینې برخې یې ( ری ) بولې چې کنډوالې یې د ایران ترختیځې سیمې پرتې دي ، په بدخشان کې هم د ( داغ ) په نوم یوه سیمه لرو.

- کخره (Kakhara) : ډامستر فرانسوي ددې سیمې موقعیت په غزني کې ښایې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



-ورنا یا ورنه (Varena ): ځینې تاریخ پوهان د دې سیمې موقعیت بامیان او د دبند امیر سیمه ګڼي.
-هپته هندو (Hapte Hindo ): یا اوه سیندونه یعنی او سنی پنجاب.
- رانګا (Ranga ):ځینې پوهان یې موقعیت د سیر سیند را ښايې. ولې ځینې نور یې په دې اند دي چې دا سیمه نامعلومه ده.
په هر حال لکه څرنګه چې د پخوانیو او سنیو نومونو له یادونې او لنډې شرحې څخه یې معلومیږي د دې شپاړس سیمو موقعیت د هندوکش شاوخوا او داکسوس ( اموسیند ) او اندوس ( سند سیند ) تر منځ ټاکي چې د افغانستان ټوله خاوره پکې را ګېره ښودل شوې ده.[1]
بطلیموس اریانا په اووه ولایتونو وېشلې ده.
۱ـ مارجیانا(مرغاب حوزه ) ۲ـ بکتریانا(بلخ او بدخشان )۳ـ اریا(هرات )۴ـ پاروميزوس (هزاره جات او کابل د نورستان او داردستان په ګډون داندوس ترغاړو پورې۵ـ درانجیانا(سیستان او کندهار )۶ـ اراکوزیا(غزني او د سلیمان غرونولړۍ تر اندوسه ) ۷ـ جدورزیا(کچ او مکران یا بلوچستان )[2]
د خراسان اداري وېش
د تاریخي شواهدو پر استناد باید وویل شي چې د خراسان سیمې په لومړیو وختونوکې یوه محدوده سیمه احتوا کوله، خوورو سته یې کرار کرار د اریایانو لومړني حدود خپل کړل، سره له دې چې د خراسان د خاورې پراخوالی او پولې په مختلفو تاریخي دوروکې( له پنځمې ترنولسمې ) زبږدیزې پېړۍ پورې څکه معلومې نه دي چې یو وخت به یې سیمه ډېره لویه او بل وخت به بیا کوچنۍ وه، خو بیا هم د ځانګړي خراسان حدود څلور برخې درلودې چې په لاندې ډول دي.

[1] د افغانستان سرحدونه، د پوهندوی کریم الله لیکنه، ۳۲-۳۴مخونه
[2] اریانا ،احمدعلي کهزاد ،ژباړنه، څېړنیازه ملکه مشتري، ۵۷ م

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱ـ د نېشاپور او شاریاخ ربع: په دې کې نېشاپور کوره، طوس او مشهد، سهیق او سبزوار، جوین، جاجرم او اسقراین، استوا او کوچان، رادکان او نسا و ابیورد، کلات او خابران او سرخس شامل و.

۲. د مرو ربع: د مرغاب سیند، لویه مرو او کلي یې په شمول د خوارزم چې په جیحون او مروالرود کې داخلیدل.

۳. د هرات ربع: چې د هرات رود یا هریرود، د هرات ښار مالن او د هریرود د پورته برخې ساحلي ښارونه، پوشنج، د اسفزار ولایت، د بادغیس ولایت او ښارونه یې، ګنج، رستاق، د غرجستان ولایت، غور او بامیان پکې شامل وو.

۴. د بلخ ربع: د فاریاب او شبرقان (شبرغان)، انبار او اندخوی، د تخارستان ولایت، خلم، سمنګان او اندراب، ول او ایز او تالقان پکې شامل وو.

په ټول خراسان کې پورته ځلور برخې شاملې وې او د هندوکش د سویل ځمکو، باباغره، فیروزغر او د هند ترسمندر پورې یې امتداد درلود.[1]

د معاصر افغانستان سیاسي او اداري تقسیماتو ته یوه کتنه

(۱۷۷۳ زیږدیز) کال را په دې خوا کله چې تیمورشاه کابل خپل پایتخت وګرزاوه، د ولایتونو شهزاده ګانو ته یې یو څه خپلواکي ورکړه د هماغه ولایتونو کنترول لکه کابل، قندهار، هرات، ترکستان، قطغن او بدخشان له شهزادګانو سره و. امیر عبدالرحمن خان (۱۸۸۰-۱۹۰۱م) بیا دا واک تر هرات، ترکستان، هزاره جات، نورستان او بدخشان پورې وغزاوه.

شاه امان الله خان (۱۹۱۹-۱۹۲۹ زیږدیز) کلونو کې د استقلال په لاس ته راوړلو سره د هېواد په اداري سېستم کې ځینې بدلونونه راوستل چې حکومت یې د هماغه وخت له دیموکراتیکو نظامونو څخه شمېرل کېده، هغه د اهېواد په پنځه اصلي ولایتونو او ځلور اعلی حکومتونو ووېشه.

---

[1] د تاریخ په اوږدو کې د افغانستان سرحدونه او اداري ویش، د پوهاند غلام جیلاني عارض لیکنه، ۲۳-۲۴ مخونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



اصلي ولا یتونه: کابل، قندهار، هرات، مزارشریف، قطغن او بدخشان
اعلی حکومتونه: دختیځ اعلی حکومت (شرقي)، دسویل اعلی حکومت (جنوبي)، د فراه اعلی حکومت، میمنې اعلی حکومت
مشروطه حکومت او د اساسي قانون له تصویب څخه وروسته په کال (۱۳۴۳ لمریز) چې د (۱۹۶۴ زیږدیز) سره سمون لري، محمد ظاهر شاه د سلطنت په موده کې (۱۹۳۲-۱۹۷۳ زیږدیز) کلونو کې افغانستان په (۲۲) ولایتونو تقسیم کړای شو او د پرمختنګ او ځانګړنې له مخې ذکرشوي ولایتونه په (۱، ۲ او ۳) درجو تقسیم بندي کړای شول.
لومړی درجه مرکزونه: دکابل، غزني، ګردیز، جلال اباد، مزارشریف، هرات او قندهار ولایتونو ؤ
دوهمه درجه مرکزونه: ارزګان، هلمند، فاریاب، جوزجان، فراه، بغلان، بدخشان، تخار او پروان ولایتونه ؤ.
دریمه درجه مرکزونه: کنړ، وردګ، زابل، غور، بامیان، بادغیس، نیمروز، سمنګان، کاپیسا او لغمان ولایتونه شامل وو.
هر ولایت د فرمانرو (والي) لخوا اداره کېده چې د کورنیو چارو وزارت ته منسوب ګڼل کېده. دغه راز هرولسوال په خپله حکمراني کې د خو علاقدریو اداري صلاحیت او امکانات لرل. علاقادارانو چې په کلیو او بانډو کې وجود درلوده، دولسوالۍ ترڅنګ د کړنو مستقیم مسؤلیت یې درلوده او د ټولنې دوګړو په نسبت په څلورو ګروپونو تقسیم شوي وو.
احمدشاه بابا دیوه امیر او افغاني امپراطور په توګه د خپلو لسو نظامي او ستراتیژیکو سفرونو په ترڅ کې د افغانستان پولې د اریانا د پخوانۍ ځمکې تر کچې ورسولې او د اسیا په زړه کې یې د افغانستان نوم یوځل بیا ژوندی کړ، هغه له لاسه تللي پخوانۍ اریایي ځمکې بیا ونیولې او د افغانستان د فتحې اوبري بیرغ یې د مرکزي او سویلي اسیا په مهمو ښارونو کې رپانده کړ او په همدې توګه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دافغانستان سياسي پولې دپخوانۍ اريانادسرحدونوسره برابرې کړې،[۱] داحمدشاه باباپه وخت کې دافغانستان قلمرو (پولې) له مروې (دازبکستان د هېواد يوه برخه) څخه دعربو ترسيند پورې او ددهلي څخه ترمشهده پورې د۸ولايتونو او ۱۵ اعلی حکومتونو څخه تشکيل شوی ؤ ولايتونه يې: قندهار، کابل ،هرات،مزارشريف،خراسان،بدخشان،پنجاب او کشمير ؤ.

اعلی حکمتونه: ۱-فراه ۲-بلوچستان۳-ميمنه ۴-لغمان ۵-پېښور ۶-غزني ۷-ډېره اسماعيل خان ۸-ډېره غازي خان ۹-شکارپور ۱۰- سيوي ۱۱-سند ۱۲-چچې هزاره ۱۳-ليه ۱۴- ملتان ۱۵- سر هند و.



احمدشاه بابا سربېره پردې چې يولوی فاتح اوديراخه متحدافغانستان پلارو ،ده هېواد په تاريخ کې ديوه ډېرپوه، زمامدار او وتلي اداره کوونکي په توګه هم پيژندل کېږي، هغه دخپلې واکمنۍ په وخت کې دا پراخ هېواد په بشپړې پوهې سره په منظمو اداري واحدونوويشه، چې هر ولايت يااعلی حکومت په محلواوهره محله يې په سيمواوکليوو بشله، چې اداري کارونو ته رسيدنه به په کې ښه ترسره کېده، دولايتونواويااعلی حکومتونو حکمرانانواويا هم هغه ځايونه چې حاکم به پکې و ټول دپاچادفرمانونو په واسطه مقرريدل. همدارنګه دنظامي قواو قوماندانان چې دلښکردامير يا سردارپه نامه يادېدل دشاهي فرمانونو په واسطه ټاکل کېدل، په داسې حال کې چې دولايتونو اواعلی حکومتونو مامورين به دسيمه ايزو

---

[۱] دتاريخ په اوږدو کې دافغانستان سرحدونه، دپوهاند غلام جيلاني عارض ليکنه، ۳۰ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



حکمرانانو او یا د مرکزي حکومت د وزیرانو په وسیله د پاچا د اوامرو په رڼا کې تاکل کېدل.

احمد شاه بابا د هېواد په پلازمینه کې د اداري چارو د انتظام لپاره ډېر دفترونه جوړل کړل چې ځینې یې دا و: اعلی دیوان یا وزارت (د صدارت غوندې) خزانه داري (د مالیې وزارت)، د ظبط بیګي دفتر (څارندوی او کوتوال)، نسقچې باشي ګري (د مجازاتو تطبیقونکې)، داروغه ګي (اطلاعات) میراخورباشي (د څارویو وړل راوړل) او داسې نور لوی او کوچني دفترونه چې د هېواد په اداره کې یې ډېرې اسانتیاوې رامنځ ته کړې وې.

احمد شاه بابا د افغانستان په اداره کې د سیاسي یووالي بنسټ کېښود، دې موخې ته د رسیدلو لپاره یې د افغانستان د خلکو ترمنځ حقوقي برابروالی په پام کې ونیو، حال دا چې د احمد شاه بابا تر دورې وروسته د تیمورشاه او زمان شاه په وخت کې نه یوازې دا چې د هېواد عمومي وضعې او اداري برخو کې کومه پراختیا رامنځ ته نه شوه بلکې د کورنیو جنګونو لړله کبله چې په ځانګړې توګه د بارکزیو او سدوزیو ترمنځ پیښ شول او هم د ورونو ترمنځ بې اتفاقۍ او د انګلیسانو او روسانو د پرمختلنې سیاست د هېواد نه شمالي، ختیځې او جنوبي برخې بیلې کړې او افغانستان په وچې کې ایسار په یوه وړوکي هېواد بدل شو. د انګېرنه ځکه پیدا شوه چې تیمورشاه ډېر ودونه وکړل او ډېر وخت په خپل شخصي ژوند ته متوجه و او د هېواد اداري ته یې به یې دومره پاملرنه نه وه.[1]

د امیر شېرعلي خا ن دوره: کله چې امیر شېر علي خان واک ته ورسیده د قدرت د تمرکز او د فیوډالانو د ځپلو هڅه یې کوله که څه هم یې د لاس څخه د وتلو ولایتونو او سیمو په بېرته نېولو کې خوراکوښښونه وکړل خو د انګلیس (انګریز) د مداخلي

[1] د تاریخ په اوږدو کې د افغانستان سرحدونه، د پوهاند غلام جیلاني عارض لیکنه، ۳۳-۳۴ مخونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



په صورت کې یې کامیابې ترلاسه نه کړه. دده د حکمراني په دوره کې د هېواد دولایتونو شمېر پینځو ته ورسیده.
ولایتونه:۱:کابل ،۲: قندهار، ۳:افغاني ترکستان، ۴:هرات ،۵:فراه




امیرشېرعلي خان د هېواد د اداري د تنظیم په برخه کې ډېره هڅه وکړه ،اجرائیه قوه



چې د احمد شاه بابا څخه وروسته له منځ تللې وه په دویم ځل بیا جوړه او منظمه شوه ،اجرائیه قوه چې په سر کې یې صدراعظم و ،له پاچا وروسته یې بشپړواک درلود. همدرانګه څنې شمېر وزارتونه لکه:دد فاع وزارت، دبهرنیو چارو وزارت، دمالیې او خزانو وزارت په غوره ډول ددندو د ترسره کولو لپاره جوړ او تنظیم شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دهېواد د چارو د اسانتیا لپاره نوې اداري لکه د مخابراتو او پست اداري یې دولایتونو په مرکز او حتی بهر کې جوړې کړې او د لومړي ځل لپاره یې دولتي شورا او لویه جرګه تاسیس کړه، دولتي شورا چې دولس دایمي غړي یې درلودل د شاه له خوا غوره کېدل او د هېواد په مهمو چارو کې به یې غور او فیصلې کولې، په داسې حال کې چې لوې جرګې دوه زره غړي درلودل چې د ټول هېواد څخه ټاکل کېدل او هېواد داخلي او بهرنیو موضوع ګانو په برخه کې به یې پریکړې کولې باید یادونه وشي چې د دواړو مجلسونو مشري به پخپله پاچا کوله[1]

تر امیر شېرعلي خان وروسته امیر محمد یعقوب خان منځ ته راغی، د هېواد چارې یې خپلو نږدې خپلوانو ته وسپارلې او پخپله به یې دیوه لټ اداره کوونکي په بڼه ننداره کوله دا داري چارو نظم چې د امیر شېرعلي خان په وخت کې ښه شوې وه، یو ځل بیا ګډوډ شو، په ځانګړې ډول د کیوناري په راتګ سره د هېواد اداري چارې عملا انګلیسانو په لاس کې ونیولې .دا حالت چې د افغانانو لپاره د زغم وړ نه و، نو ځکه د کابل بلوا پیل شوه. او د افغانستان خلک او غیرتي عسکر د انګریزانو په مقابل کې پورته شول او ټول انګلیسي عسکر یې د کیوناري په ګډون د کابل په بالاحصار کې ووژل، چې په نتیجه کې د افغان ـ انګلیس دویم جنګ پیل شو. د انګلیسي عسکرو به لا د داخلیدو دوه میاشتې نه وې شوې چې یو ځل بیا


اعلیحضرت امیر محمد یعقوب خان (۱۲۹۶ هـ ق)
S. M. Amir Mohammad Yakoub Khan 1879

---

[1] د تاریخ په اوږدو کې د افغانستان سرحدونه، دپوهاند غلام جیلاني عارض لیکنه، ۳۵-۳۶ مخونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دافغانستان خلکو پاڅون وکړ.کله چې انګلیسانو دچریکي جنګونو په مقابل کې خپل توان له لاسه ورکړ، نو هماغه و چې د سولې وړاندیزېې داسې وکړ چې دانګلیس دولت دانه غواړي چې دافغانستان دخلکو سره جنګ ته دوام ورکړي، نوځکه دافغانستان خلک چې هرڅوک ټاکي، دانګیسانو دمنلو وړ به وي، او هغه به په رسمیت پېژني. هماغه و چې امیرعبدالرحمن خان له روسیې نه کابل ته راغی، باید یادونه وشي چې هغه هم دانګیسانو په اشاره منځ ته راغی، خودنړیدلو اداري جوړښتونو په لړکې یې یولړپروګرامونه مطرح کړل، ده یو مطلق العنان مرکزي دولت جوړښت اوبل په ټولنیزه برخه کې ریفورمونه، خو په دواړو برخوکې امیرعبدالرحمن خان بهرنۍ خپلواکي نه درلوده، اود برتانوي هند[1] تحت الحمایه و.

امیرعبدالرحمن خان دپورتنیو دوو پروګرامونو په تطبیق کې دهیڅ ډول ظلم او تیري څخه ډډه ونه کړه. دامیرشېرعلي خان اداري جوړښتونه یې ټول رد کړل اوټول دولتي دفترونه یې جلا جلا خو په خپلواکه ډول جوړکړل. په عمومي توګه دټولو ادارو نهایي چارې دهغه ترڅارنې لاندې ترسره کېدې. دهېواداداري، نظامي او ملکي جوړښتونو دپخوا په پرتله دپاملرنې وړپرمختیا وکړه. داپه دې مانا چې دسیمه ایزې حمکرانۍ ډېرتوان محدود شو، اوددنظامي قوې په مستقیمه مرسته دمرکزي حکومت تراغېزې لاندې راغی اوتقریبا دټولو کلیوالو سیمو اداره دمحلي حکومتونو ترکنترول لاندې شوه. کله چې مرکزي حکومت ټینګ شو، نوورځ په ورځ به ځکه ځواکمن کېده چې فیوډالي قدرت ترډېرې کچې کم شو. دقدرت اونفوذ خاوندان یې په مختلفو طریقوله منځه یوړل.

---

[1] کولای په افغانستان کې دبرطانوي هنددسیسوپه اړه زیات معلومات د(په افغانستان او دهند په نیمه وچه کې دانګریزانو دسیسې او جاسوسان) دښاغلي ډاکترعبدالرحمن زماني لیکنه وګورئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه چې وويل شو د اميرعبدالرحمن خان په وخت کې په اداري حال کې ډېربدلونونه رامنځ ته شول، ياني سربېره پروزارتونو د کارد چټکتيا لپاره لاندې دفترونه جوړشول.




دماليې او استيفا دفترونه، دنظام لوی دفتر، دمخکښنيو او اوسنيو محاسباتو دکنترول دفتر، دمال شمېرنې او اوادارې، پوسته، پاسپورټ، ځارندوی، ماليې ،حياتي، صکوک او داسې نور...

دامير عبدالرحمن خان اداري يا ملکي وېش داميرشېرعلي خان ددورې سره ډېرتوپير درلود ،ياني افغانستان دپنځو ولايتونو پرځای په شپږو ولايتونو په لاندې ډول وېشل شوی وو.

ولايتونه:کابل،فراه،قندهار،هرات،بدخشان ،خان اباد ،افغاني ترکستان (چې داموا و هندوکش ترمنځ سيمې يې په برکې نيولې ) چې درې ولايتونه (ميمنه ، ترکستان او بدخشان ) ويشل شوي وو.[1]

داميرعبدالرحمن خان په وخت کې دبدخشان سيمه دترکستان له ولايت څخه جلا اودبېل ولايت په توګه وپېژندل شوه،همدارنګه دکابل ولايت دپايتخت په توګه ډېره سيمه ونيوله،اودفراه ،ګرشک ،زميندا ور او چخانسورځېنې سيمې چې مخکې يې دکندهارپه ولايت پورې اړه لرله ورسره يوځای شوې،همدارنګه دارزګان اونورستان (کافرستان)اداره په کابل پورې وتړل شوه اودنورو ټولو ولايتونوسيمې وړې شوې،په داسې حال کې چې دکابل ساحې لويه سيمه درلوده.

---

[1] دتاريخ په اوږدوکې دافغانستان سرحدونه او اداري ويش،دپوهاند غلام جيلاني عارض ليکنه۳۲-۳۸مخونه

(c) ketabton.com: The Digital Library





هرولایت په محلو(Topas) وېشل کېده، ځیني محلې لویې او ځیني کوچنۍ وې. د کابل ولایت دخپل وړپراخوالي له امله په ډېرو لویو اووړواداري واحدونو وېشل شوی و، لکه غزنی، کونړ، لغمان، پروان، بامیان اوداسې نور... اداري واحدونه دیوه حاکم یامقتدر حکمران په وسیله چې دپاچاله خوا ټاکل کېده، اداره کېدل.

امیرعبدالرحمن خان تر۲۱کلونو پاچاهۍ وروسته په کابل کې مړشو او خپل زوی امیرحبیب الله خان ته یې یو تحت الحمایه، منونکې خو دیوه ځواکمن پوځ اوپه اداره جوړهبوادپه مېراث پرېښود، مګردې ونه شوکړای چې دافغانستان سیاسي خپلواکي ترلاسه کړي.[۱]

کله چې امیرحبیب الله خان قدرت ته ورسیدنودهېواد اداره یې دورونو او زامنو ترمنځ ووېشله اوقرار قرار هغه منظمه اداره چې امیرعبدالرحمن خان جوړه کړې وه دانارشۍ بڼه یې غوره کړه اوفسادلورې ته یې مخه کړه. داداري واحدونو په جوړښت کې هېڅ ډول بدلون منځ ته رانغی، تردې چې وضع یې دامیرشېرعلي خان له وخت نه مخکې حالت ته ورسیده، خوددې سره سره ددربار د دبدبې اوسترتیا په برخه کې ډېربدلونونه منځ ته راغلل.

امیرحبیب الله خان چې ددربارد تنظیم سره ډېره علاقه درلوده، نوپه دربارکې یې نوی نظم راوست، لکه: سرمنشي، دحضورمنشي، داخله منشي لپاره بېل دفتر اودایشک اقاسي حضور ملکي، نظامي اوخارجه لپاره یې دخارجه دفترمنځ ته

---

[۱] دتاریخ په اوږدوکې دافغانستان سرحدونه او اداري ویش، دپوهاند غلام جیلاني عارض لیکنه.۳۸ م

(c) ketabton.com: The Digital Library



راوړ.[1] خـودډېرو مېرمنـو اودزیـاتي عیاشـۍ لـه کبلـه یـې دهېـواد خپلـواکۍ او نورپرمختګ کې ارزښتمنه ونډه وانخیستلای شوه.



کلـه چـې امـان الله خـان قـدرت تـه ورسـید ، نو دخپلـواکۍ ترګټلو اودسیاسي موضوعګانو تراوزګارتیا وروسته یې دهېواد دټولو چاروپه برخـه کـې یو شـمېر اصـلاحات طـرح کـړل. د افغانستان خلکو چې دهېوادله پرمختـګ سره بـې کچـې مینـه درلوده ،نـه یـوازې داچـې ددې اصلاحاتو هرکلی یې وکړ،بلکې هرډول مرستې ژمنـه یـې هـم وکړه ،هماغـه وچـې دافغانسـتان دخلکو پـه ملاتـړ دهېواددرغـونې پـه لـومړۍ مرحلـه کـې لـه (۱۹۱۹نـه د۱۹۲۴)زیږدیـز کلونـو پـورې نومـوړي اصـلاحات پـه بریالیتوب سره سرته ورسیدل،خو داصلاحاتو دویمه مرحله چې د(۱۹۲۸)زیږدیز کال نه پیل شوه دانګریزانو دارتجاعي قوې ددسېسوله امله دناکامۍ سره مخ شوه.

لکه چې وویل شو امان الله خان دلومړني پلان په عملي کولوبریالی شواوهغه درانه پیټي چې مخکې دبزګرانو ،مالدارانواوکسبګرو پراوږو بارو له منځه یوړل او یـاهم یوځـه سـپک شـول.دبیلګې پـه توګـه جنسـي مـالیې ، دغلـو دانوحوالـه، خریداري، په زورسره دلـرې واښـن نـه خوراک رسونه،دفیوډالانو ،خانانویادخلکو او حکومت ترمنځ دفیوډالانو پـه وسیله دمـالیې راټولونـه اواجاره کول،کلیـوالي ملکي،دنه شمارل شویوڅارویو مالیه،جبري اوبیګاري کارونـه،هېڅ پـه هېڅـه بې شمېره ټیکسونه اوداسې نور چې پرکسبګرو اوتجارانووضع شوي وو ،ټول له

[1] افغانستان معاصر،دسید سعدالدین هاشمي لیکنـه،پوهنتون کابل پوهنځی تعلیم اوتربیه ۱۳۵م

(c) ketabton.com: The Digital Library



منځه لاړل او یا کم شول. نغدي مالیې وټاکل شوې، چې مالیه ورکونکو به نیغ په نیغه پرته د خان او فیوډال له لاسوهنې د دولت ملي دفترته مالیې ورکولې، سربېره پردې د هغه وخت حکومت د هېواد د ملي وحدت ټینګښت ته ډېره پاملرنه وکړه او دا موضوع یې د ورولۍ او د خلکو د مساوي حقوقو پر بنسټ خبروته وړاندې کړه. غلامي چې د امیر عبدالرحمن خان او له هغه نه مخکې دورې میراث وه له منځه یوړه. ټولې وینځې او غلامان خپلواک شول، توکمیز، مذهبي او ژبني توپیرونه له منځه ولاړل. د محمدزیو، خانانو او روحانیونو استعماري معاشونه او امتیازات لغوه شول، اهل هنود چې لږه کې وو. د یوشان حقوقو خاوندان شول او هغه جزیه چې پخوا پرې وضعه شوې وه په ټوله مانا له منځه ولاړه.

د لومړي ځل لپاره په افغانستان کې درې قوې (اجرائیه، مقننه او قضایه) په منظمه توګه منځ ته راغلې او د هېواد ټولې چارې د دغو درې قوو په څرخ ګرځیدلې.



د امیر امان الله خان په وخت کې
د افغانستان ملکي ویش

(c) ketabton.com: The Digital Library



له هغې وروسته چې امان الله خان د خپلواکۍ غوښتنې داندونو په پلوۍ دافغانستان خپلواکي لاس ته راوړه، نو ددې لپاره چې عنعنوي ارزښتونه دوخت دقانوني، حقوقي او مدني بڼه معرفي کړي، دافغانستان اساسي قانون چې دافغانستان دخلکو دخپلواکۍ او په ځانګړې توګه دروښانفکرانو دغوښتنو سره برابر و دلومړي ځل لپاره په (۱۳۰۳ه ش) کال کې منځ ته راغی. سربېره پردې دهېواد داداري واحدونو جوړښت چې ترهغه وخته لا په منظمه او قانوني بڼه تدوين شوی نه و، په(۱۳۰۰) لمريز کال کې دافغانستان د اساسیه تشکیلاتو په نامه تدوین شو، په دې اساسنامه کې ټول افغانستان په (۲۱۲) اداري واحدونو وويشل شو. نوموړو اداري واحدونو ولايت، اعلی حکومت، لوی حکومت، لومړی، دویم او دریمه درجه حکومت اولومړۍ او دویمه درجه علاقداری درلودې.[1]

دامان الله خان په دوره کې هېواد د پخوا نیو حکو متونو څخه په تو پیر دقدرت غیر تمرکز والي اصولو پر بنسټ ددندو، مسولیتونو او صلاحیتونو پواسطه اداره کېده او هېواد يې په **۵** ولايتونو او **۴** اعلی حکو متونو ویشلی وو. ولایتونه: ۱ =کابل۲ =قندهار ۳ =هرات۴ =بلخ **۵**= بدخشان

اعلی حکومتونه: ( شرقي، جنوبي، میمنه او فراه ) اعلی حکومتونه

په دې توګه دافغانستان اداري واحدونو پنځه ولايتونه او څلوراعلی حکومتونه لرل، چې هرعمده واحد بیا په کوچنیو اداري واحدونو یانې (۸) لویو حکومتونو (۲۹) لومړی، دویم او دریمه درجه حکومتونو او(۱۰۳) لومړۍ، دویمه اودریمه درجه علاقداریو باندې وېشل شوی و، تر ټولو کوچني اداري واحدونه کلي، محلې او کندي وو، چې نفوس به یې له (۲۵-۲۰۰۰) یاله دې ډېرو. چې دهرې قریې په سر کې به ملک یاقریه دارو.

---


[1] د تاريخ په اوږدو کې دافغانستان سرحدونه او اداري ویش، دپوهاند غلام جیلاني عارض ليکنه ۳۹-۴۰مخونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولایتونه دنایب الحکومه او اعلی حکومتونه به داعلی حاکم داداري لاندې و ، یوازې دکابل ولایت امر دوالي په توګه پیژندل کېده. دلویو حکومتونو په سرکې لوی حاکم، دسیمه ایزو حکومتونو مشر حاکم اودعلاقداریو مسولین به علاقداران وو. دقریې اړونده چارې به دقریه دارپه وسیله سرته رسیدې، چې دحکومت او خلکو ترمنځ یې ارتباط درلود.اودخلکو او حکومت اړیکې یې تامینولې.

دامانې دورې څخه په راوروسته کلونوکې بیادهېوادتردریم اساسي قانون په (۱۳۴۳)لمریزکال پورې دافغانستان اداري وېش دنایب الحکومګۍ داعلی حکومتونواویالویو ولسوالیو په شکل پاتې شوی دی یانې په دې موده کې (کابل ،کندهار،هرات،مزارشریف، قطغن،ننګرهاراوپکتیا )نایب الحکومګۍ او (غزنی، پروان،فراه،میمنه،بدخشان،شبرغان اوګرشک )اعلی حکومتونه او(خوست،شینواري اوکونړ)لوی ولسوالۍ وې.[1]




[1] دافغانستان پیژندنې لنډه لار، دپوهاند نورالله ځل لیکنه،۲۱مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



په (۱۳۴۳) لمریزکال دلومړي ځل لپاره د اساسي قانون او دیموکراسۍ د تطبیق په خاطرد افغانستان په اداري تشکیلاتوکې بنسټیزبدلونونه ځکه راغلل، چې د پخواني اداري وېش په برخه کې د اداري واحدونو ترمنځ رقابت ډېرو. ځینې ولایتونه دومره پراخه و چې د طبیعي خنډونو لکه د سوځونکو اولوړو دښتو له کبله یې اداره دهغه وخت په وسایلو ګرانه وه. د اداري کسانو کاراو بوختیا دوره ډېره وه چې په ګرانه یې کولای شول چې د خلکو غوښتنلیکونو ته ورسیږي. سربېره پردې عرفاني او ټولنیزې موضوعګانې چې باید ډېره پاملرنه ورته شوې وی، دهېرېدو په حال کې وې. همدارنګه په پخواني ملکي وېش کې مرکزونه دومره لرې اوستونزمن و چې خلک په اسانه نه شو ورسیدلای او د خپلو ستونزو د حل لپاره مجبورو چې ډېرو اټنونه لنډ کړي. دې وضعې، نه یوازې دا چې په خلکو جسمي او فزیکې ستړیا تحمیلوله، بلکې دهېواد د ناتوانو پرګنو وخت او پانګې ته یې ډېرزیان رساوه.

د پورته ټکو په پام کې نیولو سره هېواد لومړی په (۱۳۴۳) لمریزکې په (۲۹) ولایتونو ووېشل شو. اداري واحدونه بیا په لویو ولسوالیو، لومړۍ، دویمه، دریمه او څلورمه درجه علاقداریو چې هرې یوې یې عدلي او ابتدایه محکمې، د مالیې اونورې څانګې درلودې ووېشل شو.

هر ولایت دیوه والي په واسطه چې د مرکز سره یې تماس درلود اداره کېده. همدارنګه هرولایت یو اداري مرکز درلود، چې دې رسمي اداري بېله حوزه درلوده، چې له همدې حوزې به دوړو اداري واحدونو لکه لویې ولسوالۍ، ولسوالیو او علاقداریو ترمنځ د کارونو د ښه انسجام لپاره اړیکې تنظمېدلې، چې شمېر یې (۲۴۳) اداري واحدونو ته رسیده، وروسته له یوه کال یانې په (۱۳۴۴) لمریز کې د کتوازاو ارګون ولایت د غزنې او پکتیا سره یوځای کړای شول. یانې افغانستان په (۲۸) ولایتونو ووېشل شو او نور اداري واحدونه په خپل حال پاتې شول. اداري واحدونه د پراخوالي، د نفوسو د شمېر او نورو سیاسي

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاملرنو له امله په مختلفو درجوو بشل شوي وو. د بېلګې په توګه لومړی، دویم او دریم درجه ولایتونه، او په همدې ترتیب ولسوالۍ هم په لومړۍ، دویمه، دریمه او څلورمه درجه وبشل شوې وې. د اویشنه په ډېره اندازه د نفوس د شمېر او جغرافیايي ساحې پربنسټ ترسره شوې وه. علاقداریو تشکیل او درجه بندي نه درلوده.

د افغانستان په اداري جوړښت کې له (۱۳۴۴-۱۳۵۲المریز) کلونو کې پورې د پاملرنې وړبدلونونه رانغلل، حال دا چې له (۱۳۵۲-۱۳۵۷المریز) کلونو پورې په اداري جوړښتونو کې لږبدلونونه پیښ شول.

له (۱۳۵۳المریز) کال کې د کونړ او کاپیسا ولایتونه لویې ولسوالۍ شوې، کونړ په ننګرهار او کاپیسا په پروان پورې وتړل شوه. خو په (۱۳۵۷) لمریزکال کې یوځل بیا د کونړ لویه ولسوالي له ننګرهار څخه بېله او ولایت شو. سربېره پردې په اداري واحدونو کې هم وا ړه بدلونونه منځ ته راغلل.

له (۱۳۵۷) لمریزکال کې څخه وروسته اداري موضوعګانې د نورو ټولنیزو او اقتصادي موضوعګانو په څېر په پام کې ونیول شوې. له (۱۳۵۷) لمریزکال څخه را وروسته لکه څنګه چې په ټولو ټولنیزو او اقتصادي برخو کې بدلونونه ترسترګو کېدل او په راتلونکې کې تطبیق د ملیتونو او قومونو د اقتصادي، ټولنیزو، کلتوري، سیاسي، جغرافیايي او توپوګرافي غوښتنو د معیارونو په پام کې نیولو سره تنظیم او تعدیل شول، چې د قومي او قبېلوي نفاق په برخه کې سترعامل ګڼل کېږي. د وزیرانو شورا (۱۴-۱۰-۱۳۵۹) نېټې د ملکي وېش په غونډه کې درې نوي اداري واحدونه لوګر، کاپیسا او وردګ د ولایتونو په توګه منظور شول. په دې توګه په (۱۳۶۰) لمریزکې د هېواد اداري جوړښت د (۱۳۴۳) لمریزکال په څېر بیا په (۲۹) ولایتونو، دوهن لویو ولسوالیو (۱۸۳) ولسوالیو او (۱۰۱) علاقداریو جوړ شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د لومړنۍ نفوس شمېرنې پر اساس دهېواد ټول اداري واحدونه(۲۳ )ښاري او (۳۵۳۶۴ ) اصلي اوفرعي قريې لري[۱]

دديموكراتيک جمهوريت دوره :دكمونېستانو له كودتاڅخه وروسته چې د جمهوري نظام په وړاندې وكارول شوه ، كمونيستي رژيم د ګوند دطرحو د ښه پلي كولو او سخت امنيتي كنترول په موخه پداسې حال كې چې ولايتونه يې په خپل عادي حال پرېښودل، نوي اداري تشكيلات د زون تر نامه لاندې رامنځ ته كړل او شمېره يې تر ۹ زونونو ورسوله.

۱: شمالي زون (د بلخ ، سمنګان، جوزجان ، او فارياب )ولايتونه پكې شامل و.

۲ شمال ختيځ زون (كندز ، بغلان، تخار، او بدخشان )ولايتونه پكې شامل وو .

۳ ـ شمال لويديځ زون (هرات ، بادغيس اوغور )ولايتونه په كې شامل وو.

۴ـ جنوبي زون (هلمند ، قندهار، زابل اوارزګان) ولايتونه په كې شامل وو.

۵ ـ سويل لويديځ زون (فراه اونيمروز )ولايتونه په كې شامل وو.

۶ـ جنوب ختيځ زون (غزني ، پكتيا او پكتيكا )ولايتونه په كې شامل وو.

۷ ـ ختيځ زون(ننګر هار، كنر، اولغمان )ولايتونه په كې شامل وو.

۸ـ مركزي زون: كابل ، پروان، كاپيسااو باميان )

۹ ـ دكابل ښار: چې پكې يولس ناحيې شاملې وې.

په ( ۱۹۷۰ زيږديز )كال كې افغانستان په ۲۶ ولايتونو ۲ لوی ولسوالیو او ۱۷۵ ولسوالۍ او ۱۱۸ علاقداريو تقسيم شوی و. دخلقيانو(كمونيستانو )په دوره كې پكتيكا او سرپل ولايتونه دافغانستان په سياسي نقشه كې زيات كړی شو. دمجاهدينو په دوره كې دخوست اونورستان دولايتونو په زياتولو سره دولايتون شمېره ۳۲ ته ورسيده.

---

[۱] دتاريخ په اوږدوكې دافغانستان سرحدونه او اداري ويش، دپوهاند غلام جيلاني عارض ليكنه.۴۰-۴۳ مخونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د حامد کرزي په راتګ سره پنجشیر (چې د کاپیسا د ولایت یوه ولسوالي وه په (۲۰۰۴ زیږدیز) کال ولایت ته پورته کړی شوه، همدا راز دایکندي (چې د ارزګان ولایت یوه ولسوالي وه) د (۲۰۰۴ زیږدیز) کال په مارچ کې په ځانګړي ولایت واړول شوه په دې توګه په کال (۲۰۰۴ زیږدیز) کې د افغانستان سیاسي نقشې ته دادوه نور ولایتونه هم ورزیات شول چې اوس مهال (۱۳۹۴ المریز) کال کې د افغانستان د ولایتونو شمېر ۳۴ او ولسوالیو شمېر ۳۶۴ ته رسیږي.[۱]




---

[۱] د افغانستان اداري ویش او سرحدي کرښو په اړه کولای شئ نور معلومات د (تشکیل سرحدات، وواحدهای اداري افغانستان درمسیرتاریخ) د ښاغلي پوهیالي فهیم (کوشاه)، سیستم اداري وتشکیلاتي افغانستان معاصر، د ښاغلي سرمحقق استاد محمد ناصر ستانکزي لیکنې وګورئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دافغانستان د سیاسي او اداری تقسیماتو جدول

| گنه | ولایت | مرکز | مساحت په کیلو متر مربع | د ولسوالی کانو تعداد | د تشکیل درجه | د ولایت کود |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | ارزگان (Uruzgan) | ترینکوت | ۱۲۶۴۰ | ۴ | ۳ | ۳۰ |
| ۲ | بادغیس(Badghis) | قلعه نو | ۲۰۰۴۸ | ۶ | ۳ | ۲۳ |
| ۳ | بامیان(Bamian) | بامیان | ۱۴۱۲۷ | ۶ | ۳ | ۲۳ |
| ۴ | بدخشان (Bdakhshan) | فیض آباد | ۴۷۴۰۳ | ۲۷ | ۲ | ۱۴ |
| ۵ | بغلان(Baghlan) | پل خمري | ۳۰۳۶۲ | ۱۴ | ۲ | ۱۶ |
| ۶ | بلخ(Balkh) | مزارشریف | ۱۶۸۴۰ | ۱۴ | ۱ | ۱۹ |
| ۷ | پروان(Parwan) | چاریکار | ۵۸۶۸ | ۹ | ۲ | ۰۳ |
| ۸ | پکتیا(Paktia) | گردیز | ۶۲۵۹ | ۱۰ | ۲ | ۰۸ |
| ۹ | پکتیکا (Paktika) | شرنه | ۱۹۳۳۶ | ۱۸ | ۲ | ۰۷ |
| ۱۰ | پنجشېر (Punisher) | بازارک | ۳۵۳۱ | ۶ | ۳ | ۳۳ |
| ۱۱ | تخار (Takhar) | تالقان | ۱۲۳۷۶ | ۱۶ | ۲ | ۱۵ |
| ۱۲ | جوزجان (Jowzjan) | شبرغان | ۱۰۳۲۶ | ۱۰ | ۲ | ۲۰ |
| ۱۳ | خوست Khost | خوست | ۴۰۲۹ | ۱۲ | ۳ | ۰۹ |
| ۱۴ | دایکندی(Daykandy) | نیلي | ۱۶۶۵۵ | ۸ | ۳ | ۳۴ |
| ۱۵ | زابل (Zabol) | قلات | ۱۷۲۹۳ | ۹ | ۳ | ۲۹ |
| ۱۶ | سمنگان(Samangan) | ایبک | ۱۱۲۱۸ | ۶ | ۲ | ۱۸ |
| ۱۷ | سرپل Sarpool | سرپل | ۱۶۳۶۰ | ۶ | ۳ | ۲۱ |
| ۱۸ | غزني (Ghazni) | غزني | ۲۳۳۷۸ | ۱۸ | ۲ | ۰۶ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱۹ | غور (Ghor) | چغچران | ۳۸۶۶۶ | ۹ | ۳ | ۳۱ |
| ۲۰ | فاریاب (Faryab) | میمنه | ۲۱۱۴۶ | ۱۳ | ۲ | ۲۲ |
| ۲۱ | فراه (Farah) | فراه | ۴۷۸۷۶ | ۱۰ | ۲ | ۲۵ |
| ۲۲ | قندوز (Kunduz) | قندوز | ۷۸۲۷ | ۶ | ۲ | ۱۷ |
| ۲۳ | قندهار (Kandahar) | قندهار | ۴۷۴۷۶ | ۱۵ | ۱ | ۲۸ |
| ۲۴ | کابل (Kabul) | کابل | ۴۵۸۵ | ۱۴ | ۱ | ۰۱ |
| ۲۵ | کاپیسا (Kapisa) | محمود راقی | ۱۸۱۷ | ۶ | ۳ | ۰۲ |
| ۲۶ | کنړ (Konar) | اسد آباد | ۴۳۳۹ | ۱۴ | ۲ | ۱۱ |
| ۲۷ | لغمان (Loghman) | مهترلام | ۳۴۰۸ | ۴ | ۳ | ۱۲ |
| ۲۸ | لوگر Lowgar | پل علم | ۳۹۵۵ | ۶ | ۳ | ۰۵ |
| ۲۹ | ننگرهار Nangarhar | جلال آباد | ۷۶۱۶ | ۲۱ | ۱ | ۱۰ |
| ۳۰ | نیمروز (Nimruz) | زرنج | ۴۱۳۵۶ | ۴ | ۳ | ۲۶ |
| ۳۱ | نورستان (Nuristan) | پارون | ۹۹۴۲ | ۷ | ۳ | ۱۳ |
| ۳۲ | وردک(Wardak) | میدان شار | ۹۰۲۳ | ۸ | ۳ | ۰۴ |
| ۳۳ | هرات (Herat) | هرات | ۶۳۰۹۷ | ۱۶ | ۱ | ۲۴ |
| ۳۴ | هلمند (Helmand) | لشکرگاه | ۶۱۸۲۹ | ۱۲ | ۲ | ۲۷ |
| مجموعه | | | ۶۵۲۲۲۵ | ۳۶۴ | | |

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پنځم څپرکی
## دحکومت درې ګونې قواوې

حکومت په مجموع کې له درې قواوو څخه تشکیل شوی دی چې دولت دد غو درې ګونو قواوو په وجود کې، چې د هریوه ځواک واکونه اودندې د قواوو دتفکیک اصل په پام کې نېولو د اساسي قانون او نورو قوانینو په رڼاکې ځانګړې شوي ترڅودهرې یوې برخې جوړښت، واکونه او مسوولیتونه به په جلاتوګه تشریح او توضیح شي.

مقننه قوه (ملي شورا)

ملي شورا په هرهېوادکې په مختلفو نومونو یادیږي لکه: مجلس الشعب الوطني، نیشنل اسمبلي... اوپارلمان یې مشهورنوم دی، پارلمان له فرانسوي کلیمې ( Parliament ) څخه اخستل شوی چې دخبرواترو، مباحثې او نظریاتودتبادلې ځای ته وایې، پارلماني دندې اوواکونه، پارلمان دغړو ټاکلو څرنګوالی اونورې اړونده مسلې دهرهېواددقوانینوپربنسټ تشریح اوپارلمانونه دهماغوقوانینو پراساس خپل فعالیت کوي.

پارلمانونه دجوړښت اوواکونو له پلوه په مختلفوهېوادونوکې توپیرلري چې دغه توپیرونه دهېوادونو په اساسي قوانینوکې مشخص شویدي، لکه په ځینو



(c) ketabton.com: The Digital Library



هېوادونوکې پارلمان يومجلس لري لکه:بنګله ديش، چين، کيوبا، صربستان، اوکراين اومالدويا په هېوادونوکې خودنړۍ په اکثروهېوادونوکې پارلمانونه دوه مجلسه دي چې دانګلستان،فرانسې،کاناډا او استراليا هېوادونه او په دوديز شکل زموږ د هېواد پارلمان نوم اخستی شو چې زموږ هېواد پارلماني تاريخ په اوږدوکې دوه مجلسه سنا(مشرانو جرګه) او داستازو مجلس(ولسی جرګه)وو ،دنوي اساسي قانون يو اتيايمې او دوه اتيايمې مادې پربنسټ دافغانستان اسلامي جمهوري دولت ملی شورا ،دستر تقنيني ارګان په توګه دافغانستان دخلکو دارادي څرګندونه او دټول ملت نمايندګي کوي،همدارنګه دافغانستان ملي شورا ددولت تقنيني قوه ده چې دقانون سره سم دوه مجلسه يانې ولسي جرګه او مشرانو جرګه ده چې د داخلي کړنلارو پر بنسټ خپلې چارې تر سره کوي.

ولسي جرګه: ولسي جرګه دافغانستان ملي شورا يو څانګه ده چې د اساسي قانون د درې اتيا يمې مادې د حکم پر بنسټ د ولسي جرګې غړي دخلکو دازادو ، عمومي، پټو او مستقيمو ټاکنو له لارې انتخابېږي،دهمدې مادې د څلورم جزد حکم پر بنسټ دولسي جرګې دغړيو شمېر دهرې انتخاباتي حوزې د نفوسو د شمېر په تناسب ،زيات نه زيات ۲۵۰کسانو پورې دي.

ددې مادې دمحتوياتو پر بنسټ د ټاکنو په قانون کې بايد داسې لارې چارې وسنجول شي چې انتخاباتي نظام په ټاکنوکې دګډون لپاره دخلکوعمومي اوعادلانه استازيتوب تأمين کړي اودنفوسو په تناسب له هر ولايت څخه په اوسط ډول لږ تر لږه دوه تنه ښځينه وکيلانې د ولسي جرګې غړيتوب تر لاسه کړي.

ترکيب او هيأت:ولسي جرګه ۲۴۹ غړي لري چې يادوشويوچوکيو په جمله کې ۶۸ ښځې هغوڅوکيوته انتخابيږي چې داساسي قانون له خوا هغوی ته ځانګړې شوېدي، په۲۴۹څوکيوکې لس څوکۍ دکوچيانو استازيوته خاص شوي او نورې پاتې څوکۍ هرولايت ته دنومونړي ولايت دوګړو د نفوس په تناسب ولسي

(c) ketabton.com: The Digital Library



جرګې تـه د اسـتازو د اسـتولو حـق ورکـړ شـویدی.دهرې کـاري دورې پـه پیـل سره،دملي شورى دواړه مجلسونه د خپلو غړولـه منځ څخه یو یو غـړى د تقنیني دورې (پنځو کلونو ) لپاره د مجلس د ریس په توګه، دوه دوه غړي د ریس د لومړي او دویم مرستیال په توګه،او دوه دوه غړي د منشي او منشي د مرستیال په توګـه د یو کال لپاره ټاکي.

دا کسان باید د ولسي جرګې او مشرانو جرګې لپاره اداري ټولګي (ګروپونـه) وټاکي.

ولسي جرګه واک لـري چې دمجلس دیوه ثلث دوړاندیز پربنسټ دحکومت دفعالیتونواوکړنود څارني او څېړنې په غرض یو خاص کمېسون وټاکي. پاتې دې نه وي چې ولسي جرګه خپلو چارو د سمون له پاره په داخل کې مختلف کمېسونونه دداخلي کړندود سره سم رامنځ تـه کوي چې ولسي جرګه اتلس کمېسونونه لـري اوپه مختلفو څانګو کې د هرې اداري اعمال او کړنې تر څېړنې او ارزونې لاندې نیسي.

نقش او مسؤولېتونه:ولسي جرګه چې د ولسواکۍ اصل ساتنې په پام کې نیولو او اساسي قـانون څلورمې مـادې پربنسټ یـواځې منتخب کسـان کـولی شي دولس استازیتوب وکړي،پـه همـدې بنسـټ ولسـي جرګـه داساسـي قـانون یونـوي یمې مادې سره سم لاندې واکونه او صلاحیتونه لري:

۱- لـه هریـوه وزیـر څخه د استېضـاح پـه برخـه کې داساسي قـانون ددوه نـوي ېمې مادې له حکم سره سم تصمیم نیول.

۲- دپرمختیایي پروګرامونو او دولتي بودیجې په باب تصمیم نیول.

۳- داساسي قانون له حکمونو سره سم دمقرریو تائیدیا رده ول.

د اساسي قانون د دوه نوي مې مادې پر بنسټ، ولسي جرګه په سلوکې دشلو غـړو پـه وړاندیزهروزیر داستېضـاح لپـاره ولسـي جرګې تـه وربللی شي، یـانې د هغـو مسالو په باره کې چې وزیران یې مسؤولیت لري،له هغو څخه توضېحات غوښتلی

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي.لکه: ددفاع او کورنیو چارو له وزیرانو څخه د نا امنیو د زیاتېدو د لامل په هکله پو ښتنې وکړي، یادعامې روغتیا له وزیرڅخه دناروغیود خپرید وپه باره کې توضیحات وغواړي. که ورکړل شوي توضیح دقناعت وړ نه وي، ولسي جرګه د نه باور(عدم اعتماد )رأیه ورکوي. وزیر ته د نه باور رأیه باید صریحه، مستقیمه اومؤجه دلایلوپربنسټ ولاړه وي.دنه باور رأیه هم دولسي جرګې د غړو د رأیو په اکثریت سره ورکول کېږي.

د اساسي قانون د اته نوي یمې مادې پر بنسټ، د دولت بودیجه اود حکومت پرمختیایي پروګرام دمشرانو جرګې له لارې دهمدې جرګې له مشورتي نظریې سره یوځای ولسي جرګې ته سپارل کېږي.دولسي جرګې پرېکړه د جمهور رئیس تر توشیح وروسته، بې له دې چې مشرانو جرګې ته وړاندې شي، نافذه ګڼل کېږي.

داساسي قانون دڅلور شپیتمې مادې په یوولسمې او دولسې فقرې کې راغلي دي چې د ولسي جرګې په تائید د وزیرانو، لوی څارنوال، دمرکزي بانک، د ملي امنیت او سرې میاشتې درئیسانو ټاکل او د هغوی استعفاء منل. یا په بل عبارت ،دغه هر یو چارواکی دې ته اړ دی چې دجمهور رئیس له خوا تر معرفي کېدو وروسته دولسي جرګې د اعتماد رأیه تر لاسه کړي خو ولسي جرګه دکوم وزیر یارئیس دعزل کېدو واک نلري..

د مشرانو جرګه: مشرانوجرګه یاد سنا مجلس چې دافغانستان اساسي قانون ددوه اتیا یمې مادې پر بنسټ ملي شورا له دوه جرګو څخه چې یوه یې هم مشرانو جرګه ده، جوړه او د پارلمان د دوه جرګو دلیل پدې اساسي قانون او نورو قوانینو کې د یوه او تجربه کاره تقنینیه ځواک تکمیلول او ددې پخاطر دولسي جرګې تر غړیو دمشرانو جرګې دغړوعمر ډېروي (ولسي جرګې غړي۲۵کلن او دمشرانو جرګې غړي۳۵کلن وي ) دیادونې وړ ده چې مشرانو جرګه خپلو چارو دسمون او فعالیتونو ترسره کېدو پخاطرغړي دداخلي کړندود له مخې په کمېسونونو وېشل کېږي چې بیا دغه کمېسونونه په مختلفو برخو کې خپل فعالیتونه ترسره کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترکیب او هیأت: اساسي قانون د څلور اتیایمې مادې پر اساس د مشرانو جرګې غړي په لاندې ډول ټاکل کېږي:
د هرې ولایتي شورا له غړو څخه یوتن د مربوطه جرګې په انتخاب سره د څلورو کلونو له پاره چې د څلورد پرشو ولایتونو څخه ۳۴ کسه انتخابیږي.
د هر ولایت د ولسوالیو شوراګانو له غړو څخه یو تن د هر ولایت مربوطه ولسوالیو شوراګانو د غړو په انتخاب د درې کلونو لپاره چې څلور د پرش کسه انتخابیږي.
پاتې دریمه برخه د همدې مادې د حکم پربنسټ څلورد پرش کسه د جمهور له خوا د معلولینو، معبوبینو او کوچیانو په استازیتوب دوه تنو اشخاصو په ګډون د هېواد پوهو او باتجربه اشخاصو له منځ څخه د پنځو کلونو له پاره انتصابیږي.
د یادې مادې د حکم پر اساس جمهوررئیس له د غو اشخاصو څخه په سلو کې پنځوس سلنه ښځې انتصابوي، څوک چې د مشرانو جرګې د غړي په توګه د مربوطه جرګې لخوا انتخابیږي، په مربوطه جرګه کې خپل غړیتوب له لاسه ورکوي او د ده پرځای د قانون له حکمونو سره سم بل شخص ټاکل کېږي.
نقش او مسؤولېتونه: لکه څنګه چې مو مخکې هم یادونه وکړه د غه برخه د ملي شورا (مشرانو جرګه) له یوه اړخه مسلکي او باتجربه جرګه ده چې د خپلې پوهې او تجربې پربنسټ د ولسي جرګې قانوني مصوبې او پریکړې څېړي او له بله پلوه اکثرا مشرانو جرګه، حکومت او ولسي جرګې ته په مختلفو برخو کې سلامشورې ورکوي چې پدې ترتیب سره ویلی شو مشرانو جرګه نسبت ولسي جرګې ته کمو اکه جرګه ده. [۲۱]

---

[۱] د افغانستان د ولسي جرګې په اړه نور معلومات د (نګاهي به ترکیب جدید مجلس نماینده ګان افغانستان (د ښاغلو عباس حسیني او نورالله فیضي لیکنه وګورئ
[۲] د ملي شورا د ندو او صلاحیتونو په اړه زیات معلومات د اساسي قانون په پنځم فصل د ۸۱ مادې څخه تر ۱۰۹ مادې په اړه تفصیلي معلومات کتلی شئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په افغانستان کې د ملي شورا تاریخي پس منظر

په هرعصر او زمانه کې د افغانستان د خلکو دا یوه ځانګړتیا وه چې محلي، قومي، او ملي مهم کارونه یې په مجالسو، محافلو او قومي جرګو کې حل او فصل کړي او د ابتدايي ترینو دورو د ژوند کولو نه تر قبېلوي ژوند او بیا تر ښاري ژوند پورې یې همېشه دا ځانګړتیا ساتلې ده، مشوره او د نظر تبادله کول همېشه زمونږ د ملک د خلکو د توجه وړ ګرځیدلي دي، مجلسونه د اجتماعي او قبیلوي وضعې او حالاتو په نظر کې نېولو سره فرق لري کله په کوچني شکل او کله بیا په لوی شکل سره جوړې شوي دي.



د ځانګړتیا له هغه وخته چې باختري اریایان د څارویو د څرولو د ژوند له وخت څخه قبیلوي ژوند ته داخل شول نو د سبها د مجالسو په جوړولو یې لاس پورې کړ چې سبها د مجلس په مانا وه سبها چې په کلي کې جوړیده نو په هغه کې په کوچنیو سیاسي مسایلو باندې بحث کېده او همداسې مسایل په کې حل او فصل کېدل او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددې لپاره يو معين اوطاق موجود وو چې د کلي ټولو خلکو به په هغې کې ګډون کاوه په پخوانۍ اريايې ژبه کې د سبها کليمه د مجلس لپاره استعمالېده ځکه چې تراوسه پورې دغه کليمه او بعضې نورې پخوانۍ کليمې په هندي ژبه او پاکستاني ژبه کې مروجې دي،نن ورځ په هندوستان کې ملي مجلس ته لوک سبها ( ملي مجلس ) وايې دغه رسم او رواج د پخوا نه دارياېي قومونو په منځ کې مروج و او خپل مجلسونه به يې د سبها په نوم يادول د سبها تر څنګ اريايي قبايلو او طايفو يو بل ډول قومي مجلس هم درلود چې د سمتي په نوم يادېده ولې د سبها غونډې ټولو خلکو په کې ګډون نشو کولای.سمتي مجلس له حقوق پوهانو، نجباو او د قوم له پوهو خلکو څخه جوړ شوی و. تحقيق کوونکو ددې دواړو مجلسونو اهميت په ويدي عصر کې يو ګڼلو او عقيده يې درلوده چې اريايان دخپلو مهمو مسايلو د حل او فصل لپاره پرته د کومې استثناء څخه دې مجلس کې شامل کېدل يا ګډون کاوه.[1] ولې بعضې فکر کوي چې دې مجلسونو يو د بل څخه توپير درلود په سمتي مجلس کې پخپله پادشاه هم ګډون کاوه او حتی انتخاب کېده هم سمتي مجلس ته لکه چې زيمر الماني تحقيق کوونکي پدې باره کې وايې چې په پخوانۍ اريايي ټولنه کې پادشاه د سمتي مجلس لخوا څخه انتخابيده.

په شپږمه قبل الميلاد پيړۍ کې د هند په نيمه وچې کې د بودا مذهب رامنځته شو چې په تدريجي توګه همسايه هېوادو ته ورسيد د کنشکا په تخت کېناستو سره ددې مذهب د پخوانيو اصولو د تعديل او اصلاح په خاطر يو مجلس د کنشکا له خوا جوړ شو ، چې د دغه مذهبي مجلس د کشمير په ښار کې جوړ شو چې پنځه سوه تنو عالمانو او راهبانو په هغه کې عضويت درلود ،د غزنويانو د وخت لوی مجلس چې د دولت لوړو چارواکو او د لښکر د مشرانو ترمنځ جوړ شو او د هغې په نتيجه کې ناصرالدين سبکتګين د پادشاه په حيث انتخاب شو دغه شخص د غزنويانو د

[1] ،شوری پارلمان.(دښاغلي عبد الحميد فقيری ليکنه مخونه ۶۵، ۶۶

(c) ketabton.com: The Digital Library



دولت موسس يا بنياد ګذار او د افغانستان په تاريخ کې يې ډېر مهم کارونه ترسره کړي دي د( ۱۷۰۹ زېږديز )کال مجلس چې د قندهار ښار د شمال شرق په دېرش ميلۍ کې دمانجه په نوم ځای کې دا ير شو چې پدې مجلس کې تصميم ونيول شو چې ګرګين بايد ووژل شي، اوازادي اعلان شي پدې مجلس کې د رهبرانو وظايف او د مربوطه قبايلو وظايف تعين شو چې ترڅو د ازادي د ساتلو او د صفوي دولت د هر رنګه نظامي حملې لپاره چمتو واوسي د پخوانيو مجالسو له تجربو څخه په استفاده خلکو د( ۱۷۱۷زېږديز )کال د تاريخي مجلس چې په هرات کې وو په جوړولو لاس پورې کړ د غه مجلس په ملي مسايلو باندې دمشورې له حيثه با اهميته ګڼل کېده دمجالسو جوړول د قومي غرور، خودخواهۍ او نوروکې موثر او مفيد واقع شوی دی د هرات مجلس کولای شو ددغو مهمو او موثرو مجلسونو له جملې څخه حساب کړو چې دحکومت مشران يې په خپلو کړنو کې په ښه توګه رهبري کړل يو بل مهم مجلس چې د افغانستان د تاريخی او مهمو مجلسونو له جملې څخه ګڼل کېږي، د قندهار د( ۱۷۴۷زېږديز ) کال مشهور مجلس دی دغه مجلس پدې تاريخ د شېر سرخ په مزارکې جوړ شو چې نهه ورځې يې دوام پيدا کړ چې باالاخره وروسته له نهو ورځو څخه احمدخان ابدالي د افغانستان دپادشاه په حيث انتخاب شو يو بل مهم مجلس د( ۱۸۴۱زېږديز )کال د کابل مجلس دی چې دا جرګه د افغان انګليس دلومړۍ جګړې د شدت په وخت کې چې ددې خاورې خلکو دهرکنج اوکنار څخه دازادۍ دلاس ته راوړلو په خاطر د جنګ ميدان ته راوتلي وو جوړه شو دخلکو رهبرانو په هرځای کې مجلسونه جوړول چې ترڅو په يوه طريقه د انګليسانو د مختنه تګ مخه ونيسی.[1] خپل مجلسونه يې په دوامداره توګه جوړول او د کابل د ښار نه بېرون يې هم د خلکو سره رابطه درلوده، دجهاد مشرانو ټول کارونه په مشوره سره سرته رسول د( ۱۸۴۱زېږديز )کال دنومبر د مياشتې په اول د شپې په مجلس کې محمدزمان خان درئيس په حيث تعين شو د

---

[1] عبدالحميد فقيری ،شوری پارلمان.( مطبعه شاکر صميم ۱۳۸۸ هـ ش کال ) ص ۲۲، ۲۷

(c) ketabton.com: The Digital Library



اميرحبيب الله خان سلطنت په وخت کې يوه دولتي شورا تشکيل شوې وه چې دهغې غړي خپله د پادشاه له خوا يانې شهزادګان د دولت عالي رتبه مامورين او د کابل ښار بعضې مشهورکسان دبادشاه له خوا انتخابېدل.

په لومړۍ نړيواله جګړه کې چې په (۱۹۱۵زېږديز) کال اکتوبرپه مياشت کې دالمان، استراليا ،اوترکې نمايندګان افغانستان ته راغلل اودانګليس په ضد يې داتحاد غوښتنه وکړه چې له مونږ سره يوځای شئ د انګليس پرضدخو اميرحبيب الله د شورى څخه مشوره وغوښتله چې يو تعداددې غوښتونکي وو چې افغانستان په لومړۍ نړيواله جګړه کې داخل شي او په نتيجه کې دافغانستان دولت دلومړۍ نړيوالې جګړې څخه بې طرفه پاتې شو داپورته مجلسونه چې ذکر شو دوی يواځې په ملي او سياسي مهمو مسايلوکې رايه ورکوله په افغانستان کې پارلمان يا ملي شورا وروسته د امان الله د حکومت څخه د دولت د نظامنامې مطابق تشکيل شوا ونيمه مستقل دولتي کارونه يې ترسره کول پدې مانا چې ددولتي نظامنامې دموادوپه اساس دولتي شورا منځته راغله چې د پادشاه د اوامرو مطابق تعين شوي دولتي کارونه د غوراو بررسۍ لاندې نيول وو ،ددې نظامنامې په اساس پادشاه غيرمسول وه اووزيران پادشاه ته مسئول وو مګر دولتي شورا ته يې کوم مسوليت نه درلوده او دغه دولتي شورا د(۵۰)غړو څخه جوړه وه چې پنځه ويشت تنه غړي يې دخلکولخوا څخه انتخاب کېدل او پنځه ويشت تنه نور يې د پادشاه لخوا څخه انتصاب کېدل،دغه شوراچې په اول کې ددولت نوم هم ورسره و ،نه د ملت نوم ترڅو چې وروسته د دولت پرځای د (ملي ) کليمه راغله.

که څه هم په افغانستان کې پارلمان دومره پخوانۍ سابقه نه لري اما ددې په خلاف پارلمان چې په اروپايي هېوادونو کې يې سابقه ځوپخوانيو پيړيو ته رسيږي، په افغانستان کې دغه نوعه مجلسونه دلويې جرګې په نوم ياديږي چې دغه لويې جرګې تقريبا(۲۵۰) کاله پخوانۍ سابقه لري.په افغانستان کې چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دغه لویو جرګو کې به د مهمو موضوعاتو په باره کې تصمیم نیول کېده که څه هم دغه لویو جرګو ته به یې ملي لویې جرګې ویلې خو په حقیقت کې دغه لویو جرګو دیوې خاصې طبقې ځخه نمایندګي کوله، نه د افغانستان د ټولو موجودو طبقو ځخه یا په بل عبارت په دغو لویو جرګو کې اصولاً د شاهي کورنۍ طرفدارو خلکو ګډون کولای شوا وتنها د پادشاه نظریاتو او غوښتنو ته یې احترام کاوه او هغه یې تائید کولو دا په داسې حال کې و چې د دولت قدرت د مختلفو ارګانونو ترمنځ تقسیم شوی نه و او د دولت ټول قدرت د وخت د میراثي پادشاه په لاس کې و او د قواوو د تفکیک مسئله اصلاً وجود نه درلود او که چا به داسې کوم پېشنهاد مطرح کولو نو هغه به د شاهي کورنۍ لخوا ځخه د تهدید لاندې نیول کېده او د دیموکراسۍ اصل او د والسواکۍ ننۍ اصطلاح په قطعي توګه په نظر کې نه نیول کېده او دغو جرګو پادشاه په پوره ډول غیرمسول او واجب الاحترام ګڼلو خلک او دولتي لوړ پوړي چارواکي یې د اسلامي احکامو او مقرراتو په خلاف د شاه په وړاندې مسئول ګڼل چې دا خپله د جامعې د خلکو او د پادشاه د کورنۍ ترمنځ غیرعادلانه تبعیض ګڼل کېده.

په پخوا وختونو کې چې دیکتاتور رژیمونه د نړۍ په هېوادونو کې حاکم وو، ټول واک (اجرایه قوه، مقننه قوه، او قضایه قوه) دیو ټولواک پاچا په لاس کې وه چې د شاه احکامو او فرامانونو به د قانون حیثیت درلود. دیادولو وړ ده چې په همدغه دیکتاتوري نظامونو کې په شکل د اشکالو سره شوراګانې موجودې وې چې وخت ناوخته به یې د چارو د سمبالښت لپاره د شاه سره مشورې کولې چې په تاریخي لحاظه د دې شوراګانو ریښې د یونان او روم د سنا مجالسو ته رسیږي. افغانستان هم د نورو هېوادونو په شان د دیکتاتوري رژیمونو ترسیورې لاندې وخت تېر کړی دی او هر کار به یې چې زړه وغوښت په ولس باندې به یې منلو او د خلکو ازادي یې سلب کړې وه خو سره له دې چې ټولواک نظامونه موجود و د ولسونو ترمنځ سیمه ایزې جرګې او شوراګانې هم موجودې وې چې د کلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



مشرانو او سپین ږیرو به یې رهبري کوله چې د خلکو په لانجو او منازعاتو په حل او فصل کې یې رغنده ونډه اخیسته او په عرفي ډول د خلکو د احترام وړ ګرځیدلي وې چې دوخت په تېریدو سره پدې شوراګانو او جرګو کې نوښت او بدلونونه رامنځته شو چې کولای شو د لویې جرګې څخه یادونه وکړو خو البته ملي شورا چې د دیموکراسۍ د اصل له مخې او د درې ګونو قواوو د تفکیک د نظریې په اساس چې(اجرایه قوه، مقننه قوه، قضایه قوه )چې اوس شتون لري نه وو موجود ،دوخت دغوښتنې او سیاسي بدلونونو په اساس د افغانستان څخه پرته په نورو هېوادونو کې ریفورمونه اول په ترکیه او وروسته په افغانستان کې د قوانینو دتدوین روحیه د امیر شېرعلی خان په ځانګړې توګه دامیر حبیب الله خان په وخت کې ګړندۍ شوه خو په عمل کې پلي نه شوه. وروسته د امان الله خان په وخت کې پارلمان ددیموکراسۍ د اصل په توګه اوددرې ګونو قواوو د تفکیک د نظریې په اساس ترهغه ځایه چې ممکن وو په عمل کې پلي کړه چې په لنډه توګه ترې یادونه کوو.

دامان الله خان په دوره کې مقننه قوه: د(۱۳۰۳المریز )کال داساسي قانون اوددولت دتشکیل کوونکي نظامنامې مطابق د دولت د درې ګونو قواوو تفکیک رامنځته شو چې البته دغه جوړښت او تشکیل ځانته خپل یو ځانګړی خاصیت درلود یو له دغو قواوو څخه مقننه قوه وه چې د(۱۳۰۳المریز )کال داساسي قانون تر تصویب پورې په مختلفو نومونو یاده شوه لکه داعیانو شورى ،د شورى کور یا خاصه شورى او باالاخره د دولتي شورى په نوم یادیده داساسي تشکیلاتو دنظامنامې په تصویب سره دلومړي ځل لپاره دافغانستان دولت دافغانستان د دولتي تشکیلات په تاریخ کې د قانون جوړونې موسسه چې تر یوه حده پورې په خپلو کارونو او صلاحیتونو کې مستقله وه، رامنځته شوه[1] چې دغه موسسه هماغه دولتي شورا وه چې غړي یې په انتخابي او انتصابي شکل تعین کېدل،

---

[1] ،شوری پارلمان.( دښاغلي عبدالحمید فقیری لیکنه مخونه ۶۹، ۷۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



دولتي شورا قانوني پروژې ترتیبولې او د تصویب لپاره یې د وزیرانو د مجلس له لارې یې د صحت لپاره پادشاه ته لېږل او د دولت بودیجه او خارجي معاهداتو او تړونونو ته به یې رسیدګي کوله دغه شوری په حیث او د عمومي ملکي مصلحتو او خبرو چې ۵۰ تنه غړي یې درلودل په مساوي توګه نیم غړي یې انتخابي او نیم غړي یې انتصابي و، انتخابي غړي چې د دولتي شورى نیم غړي یې جوړول د افغانستان دولت د اساسي تشکیلاتو د نظامنامې د ۲۷ مادې مطابق د ولایاتو د خلکو او د حکومت څخه انتخابېدل او بیا شورى ته لېږل کېدل، د شورى مختلف غړي د دري کلو لپاره د خلکو لخوا انتخابېدل د نظامنامې د ۲۴ مادې مطابق د دولتي شورى وظایف په دوه برخو ویشل کېدل.

الف ـ ملکي تنظیمات

ب ـ د ملکي مامورینو محاکمه

دغه شورى د یو نفر رئیس، دري معاونین (اول، دوهم، دریم) یو نفر منشي، یو نفر سرکاتب او د ضرورت په اساس کاتب او همدارنګه یو څو تنه مسلکي غړو تر ریاست لاندې ورسپارل شوي وظایف سرته رسول د دولتي شورى رئیس او معاونین د منتخبو خلکو څخه انتخابېدل او د پادشاه منظوري هم شرط وه چې باید تائید یې کړي.

د دولتي شورى منشي د رئیس په انتخاب او د پادشاه تر منظورۍ وروسته مقررېده ، سرکاتب او کاتبان د دولتي شورى د معاونینو په انتخاب او د رئیس له منظورۍ نه وروسته مقررېدل هغه څه چې د ذکر کولو وړدي چې د دولتي شورى په ایجاد سره او د هغې شرکت د قوانینو په رامنځته کولو کې او د حکومت په کارونو باندې د کنترول او نظارت حق او همدارنګه د عالي محکمې د وظایفو څخه برخوردار و کوم چې به د دولتي مامورینو لخوا جنایات ترسره شو دیوې نیمه مستقلې او نیمه نماینده موسسې په حیث او پرته له شک څخه په هغه وخت کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



یې د افغانستان سیاسي سېستم دلیبرال کېدو په شکل ښکاره کوو[۱] دیادولوو ړ ده چې د (۱۳۰۳المریز) کال د افغانستان اساسي نظامنامې د قانون جوړونې او داجرایه قوې ترمنځ فرق نه و کړی، ځکه چې حکومت په عین حال کې هم اداري وظایف اوهم دقانون جوړونې وظایف تطبیقول اما دا دوه حالته د امیر د کنترول لاندې و د دولتي شورى انتخابي غړي چې د ولایتونو د مجلس د غړو څخه او دحکومت څخه د هر ولایت د نفوسو په تناسب او د حکومت څخه دولتي شورى ته راتلل او د دولتي شورى غړو په مرکزکې خپل مرکز جوړاوه دکابل ولایت څخه پنځه تنه دهرات ولایت څخه څلورتنه دقندهار ولایت څخه څلورتنه دترکستان ولایت څخه درې تنه د بدخشان او قطغن ولایت څخه دوه تنه د مشرقي سمت څخه درې تنه د جنوبي سمت څخه دوه تنه دمیمنې د اعلى حکومت څخه یوتن د فراه د اعلى حکومت څخه یو تن وو.د دولتي شورى د مشورتي مجلس انتخابي پس له هرو درې کالو څخه بدلیدل او دهغو په عوض په انتخاباتو کې بل وکیل نوموړي دولتي شورى ته لېږل کېده د(۱۳۰۷المریز)کال لویې جرګې پخپلو پنځه ورځنیو جلسوکې زیات مسایل تر بحث لاندې ونیول چې له هغې جملې څخه د دولتي شورى بدلول په ملي شورى باندې غټ تغیر و دمقننه قوې د استقلال د دولت په ساحه کې.

ځکه چې د لومړي ځل لپاره د هېواد په تاریخ کې یوه لویه قانون جوړونې موسسه ایجاد شوه چې په هغه کې د خلکو ټولو انتخاب کړو وکیلانو ګډون درلود د ملي شورى غړولویې جرګې دفیصلې او تصویب نه وروسته د یو جداګانه قانون د موادو مطابق انتخاب کړ او خپل فعالیت یې شروع کړ، ولې متاسفانه بایدووایو چې دغه شورى د امان الله خان د حکومت په دوران کې ونشو کولای چې شورى دایره کړي او خپل فعالیت شروع کړي.[۱]

---

[۱] شورى پارلمان.( دښاغلي عبدالحمید فقیرى ،لیکنه مخونه۷۰ ،۷۱

[۱] شورى پارلمان.دښاغلي عبدالحمید فقیرى لیکنه۷۲ ، ۷۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴

دنادرخان په دوره کې شوری: نادرخان وروسته لدې چې قدرت ته ورسید ده دخپلوکارونودښه پرمخ وړلو لپاره خپله تګلاره په لسو مادو کې دافغانستان خلکوته اعلان کړه چې لسمه ماده یې د ملي شورې د وکیلانو د انتخاب په رابطه وه او په دغه ماده کې راغلي وو چې: د ملت وکیلان د ټولو خلکو څخه مرکز ته راځي انتخاب یې په پخوانۍ طریقه وو، وکیلان له خلکو څخه پوه اوصادق عالمان او هغه کسان کوم چې ملت وربانديې پوره اعتماد ولري انتخاب کېږي د دولت وزیران او مسول چارواکي به دملت وکیلان وو د شوری ریاست د تفتیش حق درلود او دغه شوری د ملت د نمایندګانو څخه انتخاب کېدله دغه مسوده د لویې جرګې لخوا چې په(۱۳۰۹المریز)کال کې د نادرخان د حکم پواسطه تشکیل شوه د غور او بررسۍ لاندې ونیوله.

پدې شوری کې دوکالت دوره درې کاله وه او اول یې د ملي شوری د مجلس دافتتاح ورځ ده پدې توګه د افغانستان پارلمان د لومړنۍ تقنیني موسسې په حیث چې له دوو مجلسونو څخه (انتخابي ملي شوری )اود(اعیانوعالي مجلس) جوړ او وروسته د انفاذ ددې لایحې په (۱۳۱۰المریز) کال کې پخپل کارپیل وکړ.

د ملي شوری مجلس :د(۱۳۱۰_۱۳۱۲ لمریز) کال مطابق د لویې جرګې په فیصله دافغانستان ملي شوری د(۱۳۱۰المریز)کال د سرطان په ۱۴ مه نېټه د یوې لویې ملي موسسې په حیث د لومړي ځل لپاره د هېواد په تاریخ کې افتتاح او په کار یې پیل وکړ د افغانستان د اساسي اصولنامې د ۲۷ مادې د حکم پراساس ۱۱۰ تنو د خلکو انتخابي نمایندګانو دهېوادله هرګوټ نه په کې اشتراک کړی و[۱] او د ملت نمایندګانو د خپل کار په لومړۍ مرحله کې قسم نامه امضاء کړه، ولې بیاهم دغه نمایندګان د نورو جرګو د نمایندګانو په څېرد خاصو طبقو څخه شوری ته لاره پیداکړې وه اودنفوسو توازن اودملیتونو تعادل په نظر کې ونه نیول شو او دغه شوری د بلې شوری ترتاسېس یانې تر(۱۳۴۳المریز)کال پورې د شاهي مشروطه په

---

[۱] شوری پارلمان.دښاغلي عبدالحمید فقیری لیکنه۷۴، ۷۵

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوروکې دشاهي کورنۍ دغړودمیل اورضا مطابق دقواوو د تفکیک څخه پرته خپل اجراءت مختـه وړل او د خپلوکارونو پـه اجراء کولـو کـې یـې استقلال نـه درلود ،نو پدې خاطر د هغې شوری ټول اجرااات دظالم پادشاه د فرمان مطابق ترسره کېدل او د نني پارلمان چې خلک یې تصورکوي حیثیت یې نه درلود .[۱]

دظاهرشاه پـه دوره کـې ملي شـورئ:د( ۱۳۴۳المریز )کال اساسي قانون د دولت د درې ګونو قواوو دتفکیک اصل منځته راوړ چې داعمل دافغانستان پـه تاریخ کې بې ساری او په مخکنیو اساسي قوانینو کې نه وو بیان شوې، ددې قانون د **۲۵** مادې مطابق حکومت د ولسي جرګې پـه وړاندې مسول و ،دحکومت کرنلاره او اعضاء یې د صدراعظم لخوا ولسي جرګې ته معرفي کېدل،ولسي جرګې دبحث څخه وروسته داعتماد رایه حکومت ته اعلانوله،داعتماد درایې پـه صورت کـې شاهي فرمان دحکومت درئیس اودغړو په باره کې اعلانوله،باید یادونه وشي چې داساسي قانون هدایت دشوری درایې اعتماد پـه باره کـې حکومت تـه دهغـه پـه فعالیت یې واقعي اثرکاوه د( ۱۳۴۳ه ش )کال اساسي قانون صدراعظم اووزیران دحکومت دکارونو پـه موردکې چې د هغې پـه باره کې داساسي قانون مطابق شاهي فرمان ترلاسه کاوه مسول ګڼلو دذکروړ ده چې دحکومت او پارلمان متقابله رابطـه پـه دوه متضادو اصلونو بانـدې ولاړه وه لـه یـوه طرفـه دپارلمان قـدرت ظاهرامنل شوی و او هغه ته یې حکومت تـه دعدم اعتماد حق ورکړی و اولـه بل پلوه حکومت دشاه لخوا څخه تعین کېده اود خپلوکارونو پـه هکلـه د شاه پـه وړاندې مسول و او پـه همدې ډول د اساسي قـانون د **۵۹** مـادې مطابق حکومت د شوری دفوق العاده غونډې دجوړېدو دوړاند بزحق او د **۵۷** مادې مطابق دجلسې

---

[۱] شوری پارلمان. عبدالحمید فقیری لیکنه ۷۶، ۷۷

(c) ketabton.com: The Digital Library



دبحثونود پټوالي درخواست او د قانون جوړونې دحق څخه برخوردار و او پدې توګه یې کولای شو د پارلمان په کارونو اثر وکړي او په همدې ترتیب اساسي قانون د اظطرار په حالت او په انتقالي دوره کې لوی صلاحیتونه ورکړي و، داساسي قانون د ۱۱۴ مادې دحکم پراساس پدې حالت کې شاه کولای شو ټول او یا بعضې صلاحیتونه دشوری حکومت ته انتقال کړي او په انتقالي حالت کې په صراحت سره په ۱۲۵ ماده کې راغلي دي چې: دانتقال په دوره کې د شوری صلاحیتونه حکومت ته سپارل کېږي. د(۱۳۴۳المریز)کال اساسي قانون په څلورم فصل کې د فعالیت کړنلاره او د پارلمان حقوقي اوضاع د تنظیم لاندې نیوله پدې قانون کې لکه پخوانی اساسي قانون دوه مجلسه یا دوه اطاقه پارلمان په افغانستان کې پیش بیني کړي و ،ولې د پخوانیو اصولو برخلاف په طرزالعمل د مشرانوجرګې او ولسي جرګې کې یو سلسله تغیرات رامنځته کړل د اساسي قانون ۴۱ ماده د شوری په باره کې داسې حکم کاوه :دافغانستان شوری دخلکو دارادو ښکارندوی ده اودټول ملت څخه نمایندګي کوي اوپدې ماده کې د خلکو شرکت د مملکت په سیاسي امورو کې داسې ذکرشوې وه: دافغانستان خلک د شوری پواسطه دمملکت په سیاسي امورو کې برخه اخلي.دشوری هر غړی پداسې حال کې چې دیوې معینې حوزې څخه انتخاب شوي دي د رایې ورکولو په وخت کې د افغانستان عمومي مصالح د خپل قضاوت محور ټاکي د (۱۳۴۳المریز) کال اساسي قانون په لومړي ځل دافغانستان په تاریخ کې عمومي، پټ، ازاداو مستقیم انتخابات دولسي جرګې ټېنګښت پیداکړ ددې اساسي قانون مطابق هرکاندید چې په خپله حوزه کې ډېرې رایې ترلاسه کولې نو

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکيـل پېژنـدل کېده، دا ساسـي قـانون د ۴۴ مـادې مطـابق دولسـي جرګـې غـړي د څلورو کالو لپاره چې يوه تقنيني دوره ده انتخاب کېدل.

د پارلمان وکيلان د حکومت او سترې محکمې پـه وړاندې دقـانون جوړونې د حق څخه برخوردار ه وه دیـادونې وړده چـې ددې اساسـي قـانون د احکامو مطابق شـاه دقانون جوړونې د حق لرونکی نه وه او هغـه د قوانينـو د توشيح حق درلـودونکی و کـوم چې د پارلمـان لخوا پـه تصويب رسيدل د(۱۳۴۳ لمريـز) کـال اساسـي قـانون او د(۱۳۱۰لمريز )کال اساسي اصول د پارلمـان د مجالسـو ترمنځ داختلافاتو د حل اوفصل لپاره پـه لاندې ډول کړنلاره ترتيب کړه.

ددې اساسي قانون ۷۳ ماده پـه دې موردکې داسې حکم کولـو: هرکله چې د يـوې جرګې تصويب د بلې جرګـې لخـوا رد شـي، ددې اختلاف د حل لپاره پـه مسـاوي توګه د دواړو جرګو څخه يـو مشـترک هيئت د قـانون د احکـامو مطـابق جوړيږي د مشـترک هيئت فيصـله د شـاه د توشـيح څخـه وروسـته نافـذ ګڼل کېـږي پـه هغـه صورت کې چې مشترک هيئت نشو کولای اختلاف حل کړي تصويب رد شوی ګڼل کېږي هرکله چې تصويب د ولسي جرګـې لخـوا سرته رسيده نـوې تقنينـي دورې د ولسي جرګې کولای شو پـه اکثريت د اعضـاو د رايـو تصويب کـړي دغـه تصـويب پرته لدې چې مشرانو جرګې تـه لاړ شي وروسـته د پادشاه د توشيح څخه نافذ ګڼل کېده.

هرکله که د دواړو جرګو اختلاف د مـالي قوانينـو د طرحو پـه بـاره کې وو او پـه هغه صورت کې چې مشترک هيئت د هغه حل نشو پيدا کولای نوې ولسـي جرګـې کولای شو چې پخپلې وروستۍ غونډه کې هغه طرحه پـه اکثريت د رايـو تصـويب کړي نوموړې طرحه پرته لدې چې مشرانو جرګې تـه لاړه شي وروسـته د پـادشـاه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



توشيح څخه نافذ ګڼل کېږي د پارلمان دغه دوره په ۹ د ميزان د(۱۳۴۴ ه ش)کال د ظاهرشاه لخوا افتتاح شوه او پخپل تقنيني کار يې شروع وکړ.

د پارلمان د ۱۳ دورې لنډه بررسي او دهغې سقوط د(۱۳۱۰_۱۳۱۲المريز) مطابق دلويې جرګې دفيصلې(۱۳۰۹المريز)کال دافغانستان ملي شورا دلومړي ځل لپاره دافغانستان په تاريخ کې په(۱۳۱۰لمريز)کال د سرطان په۴نېټه افتتاح شوه،دغه پارلمان په ۱۳ دورو کې خپلو فعاليتونو ته ادامه ورکړه او ددغې شورى ۱۳ دوره په(۱۳۴۸لمريز) کال دميزان په ۲۲ تاريخ د ظاهرشاه په وينا افتتاح شوه چې په حقيقت کې ۱۳ مه دوره ددې شورى اخري دوره حسابېږي.چې ددې دورې په مختلفو وختونو کې مختلف بحرانونه ايجاد شول چې په نتيجه کې سياسي بې ثباتي او سخت بحثونه ددولت او پارلمان،لومړى شاهي وزيرانو ونشو کولاى چې اوضاع کنترول کړي چې په نتيجه کې يو په بل پسې تبديل شول او حالت نور هم خرابېدل،بالاخره دپارلمان ۱۳ مه دوره د يو تعداد روشن فکرو وکيلانو پرته دراېي ورکولو په ماشين تبديل شو چې د ملت په ضد اعمال او په چپاول ګره او غارت ګره دستګاه باندې تبديل شو ،هر هغه څه چې حکومت پارلمان ته وړاندې کول نو پارلمان مخکې لدې چې موضوع باندې غور وکړي چې دا موضوع د خلکو په ګټه ده او که په ضرر هغه به يې تصويب کوله.

په دې شرايطو کې ددولت اتباع چې د مختلفو طبقو څخه وه د حکومت او پارلمان څخه چې دهغوى دارزو يوا ځينى کور و ،مايوس او نا اميده شول او دهغوى پرضد ولاړ و.دې عمل ددولت سياسي ثبات او اجتماعي ثبات ورځ په ورځ ضعيف کاوه او په نتيجه کې د خلکو اعتماد ورځ په ورځ په حکومت باندې کميده. چې بالاخره د(۱۳۵۲المريز)کال د سرطان په ۲۲ نېټه د ملي اردو افسرانو چې په حقيقت کې د شوروي اتحاد څخه رهبري کېدل قيام وکړ، ځکه چې شاهي نظام په اجتماعي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او سياسي بحرانونو کې ککړو او د خلکو په حال يې هيڅ توجه نه کوله نو په همدې وجه ونړول شو، شاهي او استبدادي نظام پر ځای چې د ډېر اوږد وخت څخه را په دېخوا جمهوري حکومت اعلان شو.
نوي دولت چې د خلکو په اوږو ولاړ و په او ايلو کې د روسي دولتدارانو په لاس کې وو داود خان دافکارو په تغيرسره په يو خدمتګار دولت باندې تبديل شو چې د نوي دولت د فرمان په اساس د( ۱۳۴۳ لمريز )کال اساسي قانون لغوه او پارلمان تعطيل شو بايد وو ايو چې په ۱۳مه دوره کې د نمايندګانو تعداد ۲۱۳ تنه وو.[1]
څرنګه چې مخکې موهم اشاره ورته وکړه د( ۱۳۴۳لمريز )کال اساسي قانون له مخې د لومړي ځل لپاره د محمد ظاهرشاه په دوره کې ملي شورا د څارنې واک تر لاسه کړ چې شورا کولای شي چې هر وزير او يا هم په مجموعي ډول کابينه تر استيضاح لاندې ونيسي او ددې قانون په اساس د افغانستان سياسي رژيم مشروطه شاهي اعلان شو، چې باالاخره (۱۳۵۲لمريز )کال د چنګاښ د مياشتې ۲۶ نېټه کودتا مشروطه شاهي دولت په جمهوري رژيم بدل کړ پدې موده کې ملي شورا د تعاليق په حالت کې وه ترڅو چې په( ۱۳۵۵لمريز )کال اساسي قانون هغه لغوه اعلان کړه چې له هغې نېټې راهيسې تر( ۱۳۸۴لمريز )کال ترپارلماني ټاکنو پورې د افغانستان خلکو منتخبه ملي شورا نه درلوده، کله چې په( ۱۳۸۲لمريز ) کال کې نوی اساسي قانون رامنځته شو د ملي شورا منځته راتګ يې لازم وګاڼه نو په همدې اساس (۱۳۸۴لمريز )کال د ټولټاکنو په اساس نوې ملي شورا رامنځته شوه چې د دوه مجلسونو څخه جوړه شوه چې ولسي جرګه او د مشرانو جرګه نومول شوي دي.

---

[1] عبدالحميد فقيری ،شوری پارلمان.( مطبعه شاکر صميم ۱۳۸۸ هـ ش کال ) صـ ۸۳، ۸۴

(c) ketabton.com: The Digital Library



په افغانستان کې د اساسي قانون تاریخي بهیر

قانون دیوناني کلیمې Cannon څخه اخیستل شوی چې د ډېرو معناؤ ترڅنګ دقاعدې او ترتیب مانا هم لري او قانون له لفظي مانا له نظره دمقیاس او اندازه کولو په مانا سره تعریف شوی چې قوانین یې جمع دي.

دقانون کلیمه په عام مفهوم سره دکار قاعدې ته وایې په ټولو علومو او اړخونو باندې او هم عالم او حاکم په ټولو شیانو باندې.

قانون په ځانګړي مفهوم سره :دټولنیزژوند انه دستوردی چې دباصلاحیته مقام لخوا دعرف او عاداتو په اعتبار سره دحق او ناحق، سزا ، جزا ،نیک او بد دتشخیص په اړوند داجرایوي ضمانت په واسطه مقدر او بیان کېږي چې موخه یې دټولنیز نظم او دوګړو او دولتي مقاماتو دېې مورده اوبې ځایه لاسوهنو څخه مخنیوی دی .




قانون په اصطلاح کې عبارت دی له هغو مقرراتو، دساتېرو او احکامو څخه چې ددولت او ملي شورا د مجلس له خوا دسمونونو او دټولنیزو چارو داداره کولو په موخه نافذ کېږي.

اساسي قانون دیو هېواد دسترې او ملي وثیقې په توګه دهغو قواعدو او مقرراتو څخه عبارت دی چې په ځانګړیو شکلیاتو او تشریفاتو سره وضع کېږي، اساسي قانون دیو هېواد سیاسي اقتصادي او ټولنیز نظام مشخص کوي او د حکومت بنسټ او دعدالت پلي کول په ټولنه کې دعمومي نظم دساتلو او دافرادو دآزادۍ دملاتړلپاره منځ ته راځي، همدارنګه دمقننې قوې دصلاحیت دپولو تعین او د هغې اړیکې دقضایه قوې او اجرائیه قوې سره داساسي قانون د صلاحیتونو څخه دي نو پدې سره اساسي قانون ته ځانګړی ارزښت ورکړی دی چې د عادي

(c) ketabton.com: The Digital Library



قانون جوړونې مجلس د فسخې حق او تجديد نظر په هغه کې نلري او د هغه د قواعدو څخه پيروي کوي




غازي امان الله او دهېواد لومړی اساسي قانون: دافغانستان لومړی اساسي قانون يااساسي نظامنامه چې دامان الله خان لخواد(١٣٠١ )لمريز کال دحمل دمياشتی په ٢٠ نېټه ملت ته وړاندې شو ، په نوموړي اساسي قانون جوړولو کې ترکي پوهانو لکه جمال پادشاه، يوري يګ او محمود طرزي هم برخه درلوده.امان الله خان په جلال آباد کښې يوه جرګه چې ددولتي شورا له غړو څخه تشکيل شوې وه جوړه کړه ، په دغه ياده شوې جرګه کې چې د(١٣٠١ لمريز )کال د کب دمياشتې په (٨ ) نېټه اساسي قانون او يو څو نورې نظامنامې په پښتو ژبه تصويب او تسويد کړې،نوموړي اساسي قانون ٧٣ مادې لرلې چې په لسو څپرکو کې ورته ځای ورکړل شوی وو چې دهغه له ډلې څخه درژيم بڼه، عامه حقوق، اجرايه قوه، قضائيه قوه، ددولتي شوراماالي مسايل او نور متفرقه مواد شامل وو. ياد شوی اساسي قانون بيادپغمان په جرګه کې( ١٠٥٠ )کسانو په وړاندې د( ١٣٠٣ لمريز )کال په چنګابن کې تصويب او دهمدې کال دسلواغې په ٨ نېټه دپلې کېدو وړ اعلان شو ،چې دا اساسي قانون دهېواد لومړی اساسي قانون ګڼلی شو چې وروسته يې د پيچلو مسايلو دحل لپاره ځانګړي قوانين چې شمېره يې تر ٧٧ اوړي تدوين او تصويب شوي دي په دې کې هيڅ شک نشته چې غازي امان الله خان دزړه له تله غوښتل چې دې هېواد ته په مېړانه سره خدمت وکړي او خپل هېواد په نړيواله کچې دنړيوال پرمختګ له کاروان سره برابر کړي.له بده مرغه ددې په ځای چې دټولنيز پرمختګ بنسټيز

(c) ketabton.com: The Digital Library



معیارونو ته پاملرنه شوې وای، داسې مسایلو ته زیاته پاملرنه وشوه چې نه یوازې اغېزمن نه وو بلکې دنورو دکړکېچ لامل وګرځېدل.

د افغاني ټولنې دکلتورپه خلاف یې خپلې هڅې ترنوروا ړتیاوو زیاتې ګړندۍ کړې په ولسي کچه یې خپل ملاتړ له لاسه ورکړ، هېوادیې مشر تابه پاتې شواو دسقاوزوی حبیب الله واک ترلاسه کړ، دامان الله خان قوانین یې له منځه یوړل اوله ځانه یې تګلارې ترتیب کړې چې زمونږ لاس یې اصلي نسخو ته ونه رسیده، ددې اصلي لامل داوو چې دسقاوزوی له ملي پاڅون سره مخ اوورو سته دمرګ کندې ته ولوید اونادرشاه په سیاسي ډګر نوې لوبه پیل کړه.

دنادرشاه دواکمنۍ پرمهال دافغانستان دوهم اساسي قانون: دافغانستان دوهم



اساسي قانون چې دسپه سالار محمد نادرشاه خان لخوا په ( ۱۳۰۹ لمریز ) کال منځ ته راغی د دوهم اساسي قانون داعتبار موده دلومړي اساسي قانون داعتبار دمودې په نسبت لنډه یانې شپږکلنه دوره نه بلکې دایوه اوږد مهاله دوره وه چې له ( ۱۳۰۹ لمریز ) کال څخه پیل په کال( ۱۳۴۳ لمریز ) کې پای ته ورسیده. په دې اوږدمهاله دوره کې هېواد له بېلابېلو کورنیو او بهرنیو بدلونونو سره مخ شو دقانون بېلابېل چلوونکي اوواکمنان چې هریو ځان ته لارې اوځانګړتیاوې درلودې راغلل اولاړل اوداساسي قانون پلي کېدلو هم له دې بدلونونو سره بېل بېل حالتونه درلودل. په هرحالت نوموړی اساسي قانون په ۱۴ څپرکو کې لیکل شوی وو چې ۱۱۰ مادې یې درلودې، چې دایران اوترکې په اساسي قوانینو سربېره دامانې دورې داساسي قانون څخه هم په کې ګټه پورته شوې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳

دنادرشاه دواکمنۍ اساسي قانون دامان الله د اساسي قانون څخه ډېر سخت او شدیدوو ،کومه آزادي چې دامان الله خان په اساسي قانون کې نغښتې وه، د نادرشاه په اساسي قانون کې مقیده شوه،چې مونږ یې بېلګه دځانګړي (شخصي ) ازادي،درسنیوازادي اودملي شورا صلاحیتونه یادولی شو.دنادرشاه خان دوخت دغه قانون تر(۱۳۴۳ )لمریزکال پوري نافذ وو ترڅ ډېرمهاله پوري دکاغذ پر مخ پاتې شو ترڅو چې نادرشاه په یوه ناوړه پېښه کې مړ اودظاهرشاه خان دواکمنۍ دوره پیل شوه.

دظاهرشاه خان واکمني اودریم اساسي قانون:(۱۳۴۳ )لمریز کال دسنبلې دمیاشتې په ۱۸ نېټه لویه جرګه له پروګرام سره سمه په سلام خانه کې دایره شوه.داعلیحضرت دراتګ سره سم دهېوادملي سرود وغږول شو ،شاهي سلام پرځای شو ،ترتلاوت وروسته شاه خپله پرانستې وینا برخوالوته واوروله .نوموړې جرګې دسنبلې تر ۲۸ نیټې پورې دوام درلود ،وروسته د اساسي قانون مسوده دګلخانې په ماڼۍ کې توشیح اونافذه شوه اودهمدې مسودې پرانفاذ سره د(۱۳۰۹ )لمریز



کال اساسي قانون سره له ټولو ضمایمو لغوه اعلان شو.دظاهرشاه ددورې یادریم اساسي قانون په ۱۲۸ مادواویوولسو څپرکیوکې لیکل شوی وو ، دظاهرشاه دواکمنۍ پرمهال یولړ نور قوانین هم دتصویب پړاوته رسیدلي وو

دا اساسي قانون چې کله له تصویب څخه راووت دخلکو له خوا څخه په ډېر درناوي سره یې هرکلی وشو ،خلکوته یې دډیموکراسۍ روحیه اوډېرۍ آزادي ورکړه .نوموړي اساسي قانون که څه هم ترپخوانیو مدرن اویو څه دخلکو دغوښتنو اوارتیاوو په بنسټ ولاړ وو بیاهم هغه څه چې دوخت اړتیاوه جمهوریت وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګوندونو دخپلې ازادی نه چې قانون ورکړې و ددې هیلې لپاره یې هڅې کولې چې د شهید محمد داؤد خان په لاس دغه هیلې په حقیقت بدلې شوې او د جمهوریت بنسټ یې کېښود.

دهېواد لومړي جمهور رئیس اود هېواد څلورم اساسي قانون: دافغانستان څلورم اساسي قانون دنوموړي هېواد دلومړي جمهور رئیس سردار محمد داؤد خان لخوا په( **۱۳۵۵** لمریز )کال دکب دمیاشتې په (**۵** ) نېټه په پلازمېنه کابل کې توشیح شو. سردارداود خان دسیاسي قدرت دترلاسه کولو نه یو اوني. وروسته په یوه مطبوعاتي غونډه کې یوژورنالیست ته څرګنده کړه چې دشاهي دورې اساسي قانون نوردا عتبار ورېندي او پرځای به یې نوی اساسي قانون دجمهوریت په رڼا کې تصویب شي. دهمدې اړتیا له مخې د( **۱۳۵۵** )لمریز کال دسلواغې دمیاشتې په ۱۰ نېټه یې لویه جرګه راوغوښته چې دکابل په انصاري واټ کې یې څلوررځې دوام وکړ.

دې جرګې ته ۲۲ کسان دجمهور رئیس اوصدراعظم په فرمان انتخابي وټاکل شول عزیزالله واصفي یې رئیس وټاکل شو اوشکلاً دغه اساسي قانون په یوه دیموکراتیکه فضاء کې تصویب شو، سردارمحمد داؤد خان یې دجمهور رئیس په توګه وټاکه دکب دمیاشتې په (**۵** ) نېټه دنوموړي اساسي قانون دتصویب له پړاونو تېرشول چې ۱۳ څپرکي او ۱۳۶ مادې یې درلودې. ددې قانون د پرمواد یې (۱۳۳۴ لمریز )کال دقانون څخه په لږ ادلون اوبدلون رااخیستل شوي وو اویوشه نور قوانین



لږوړاندې دجمهوررئیس د فرمانونو پربنسټ رامنځ ته شوي وو، چې دډېر لږ مهال لپاره پلي شول دبېلګې په توګه دپولیسي تادیب مقررات په تورغونډي، هرات،

(c) ketabton.com: The Digital Library



شېرخان بندر او د حیراتان بندرونو لپاره اساسنامې د افغانستان[۵] د تېلو د ملي موسسې قانون او د عراده جاتو د حق العبور قانون د سردار محمد داود خان د وخت مدني او جزايي قوانین تر ډېره مهاله په هېواد کې نافذ وو او پخپله سردار محمد داود خان د سرو وحشیانو په ناوړه او شوم پلان سره په یوه بدمرغه او خونړۍ کودتا کې د واک له ګدۍ ولوید او په شهادت ورسیده چې پدې سره واک د سره لښکر بدرنګه او د دې خاورې تاریخي دښمن پلوه غلامانو ته په لاس ورغئ.

**ببرک کارمل او د هېواد پنځم اساسي قانون:** د افغانستان د دیموکراتیک جمهوریت اصول یا د هېواد پنځم اساسي قانون چې (**۱۳۵۹**) لمریز کال د غوايي په



لمړۍ نېټه د انقلابي شورا د اعلامې مطابق نافذ او خپور شو، د غوايي د اوومې نېټې د بدمرغي کودتا څخه ورسته چې دین پلورونکي او د هېواد پلورونکي واک ته ورسیدل ورسره جوخت نور محمد ترکي پرلپسې فرمانونه صادرول چې افغاني ټولنې او وګړو ته د منلو وړ نه وو چې شمېره يې **۳۲** ته رسیدله.

د سردار محمد داود خان د وخت اساسي قانون يې د استبدادي او دکتاتوري قانون په نوم لغوه اعلان کړ او د فرمانونو پرلپسې لړۍ د نوموړي اساسي قانون ځای ناستی شو د سره لښکر غلامان او لاس پوڅي خپلو کې سره وران شول او پرلپسې یې یو او بل له منځ څخه یوړل، تره کې په همدې اړودوړ کې له منځ څخه لاړ، حفیظ الله امین واک ته ورسیده چې په دې دوره کې هم د قوانینو په اړه کوم پرمختګ و نشو ورپسې ببرک کارمل د سرو لښکرو په بدرګه هېواد ته راغئ هر څه یې د خاورو سره خاورې کړل ډېرې وینې یې توې کړې چې په دې سره یې په وړاندې د هېواد په ټولو برخو کې د مسلمانانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاڅونونه پیل شول.ببرک کارمل غوښتل خپل تاریخي خیانت په خلکو باندې هیر کړي نو په ۱۰ څپرکو کې یو قانون چې ۶۸ مادې درلودې خپور کړ خو په دې سره یې د ولس رضایت راخپل نه کړ، ولس یې لا په وړاندې سنګرونه ټینګ کړل وروسته په( ۱۳۶۲ )لمریزکال کې کمونستي رژیم له منځه لاړ یا په بل عبارت سرې لښکرې ماتې شوې ،ډاکتر نجیب الله ملي سوله اعلان کړه نو په دې موخه د ببرک کارمل اساسي قانون لغوه شو او نوی اساسي قانون یې نافذ کړ.

ډاکتر نجیب الله او د هېواد شپږم اساسي قانون:دافغانستان شپږم اساسي قانون د(۱۳۶۲ )لمریز کال د لیندۍ دمیاشتې په ۸ او ۹ نېټه ۱۳ څپرکو او ۱۴۹ مادو کې د لویې جرګې لخوا تصویب او دتصویب دنیټې څخه نافذ اعلان شو، ډاکتر نجیب الله په (۱۳۶۵ ) لمریز کال کې لویه جرګه جوړه کړه او په ۱۴۹ مادو او ۱۳



څپرکو کې د ملي روغې جوړې اساسي قانون یې تصویب کړچې تر ډېره حد پکې دپخوانیو اساسي قوانینو مادې ځای پرځای شوې وې.داهغه وخت وه چې شوروي اتحاد یو ځواکمن قدرت ګڼل کېده، چېرته چې یې د قدرت پل ایښی وه چا یې د لرې کولو وسه نه درلوده خو افغان مېړني ملت داسې غاښ ماتونکی ځواب ورکړ چې د شوروي اتحاد څو رهبران یو په بل پسې له منځ څخه لاړل د شوروي اتحاد یوځوان رهبر ګورباچوف دافغانستان موضوع دنومړي اتحاد لپاره دناسورزخم وباله اودنېولو له هوس څخه یې ډډه وکړه نوریې نه غوښتل چې دغه زخم ژورشي اوځواکونه یې په افغانستان کې پاتې شي چې افغان ولس یې په وړاندې کلک سنګر نیولی وو، په دغه وخت کې دا قانون توشیح کېدلو چې د جګړې په ببړنیو شرایطو او حالاتو سره د قانون دانفاذ ساحه محدوده شوه .چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته د ډاکتر نجيب الله حکومت هم سقوط وکړ او اسلامي انقلاب د بري پړاو او درشل ته ورسيده مجاهدين هېواد ته راستانه شول او پلازمېنه يې تر واک لاندې راوسته د هېواد ټولې اداري رنګې شوې او پخواني مامورين وتبنتېدل، ډګرد پرديو د موخود ګټلو لپاره پاتې شو د فرمانو نو لړۍ لا تراوسه دوام لري تر داود خان وروسته ټول راتېر شوي حکومتونه ولس ته د منلو وړ نه وه او نه يې د چا قانون ته په درنه سترګه کتل چې ترنن پورې همداسې ده.

حامد کرزی او د هېواد اووم اساسي قانون: د بن د تړون له مخې انتقالي حکومت ته دنده[1] وسپارل شوه چې د نوي اساسي قانون د متن د برابرولو په موخه يو کمېسون جوړ کړي او هغه د بحث څېړنې او تصويب لپاره لويې جرګې ته وړاندې کړي، د بن تړون موخه داوه چې نوی اساسي قانون بايد د نړۍ والو معيارونو پر بنسټ جوړ شي تر څو په هېواد کې د ديموکراسۍ د واکمنۍ، د بشر



د حقوقو او نورو مدني ټولنو لپاره د فعاليت زمينه مساعده شي چې د افغانستان ستونزو ته د پای ټکی کېږدي، ورسره ملي روغه جوړه پرمختګ وکړي تر څو تل پاتې سوله ټينګه او په هېواد کې د بشر حقوق خوندي او تامين شي د بن په تړون کې يادونه شوې وه چې هر وګړی حق لري تر څو خپل برخليک او د هېواد سياسي راتلونکی د اسلامي اساساتو، ديموکراسۍ، اکثريت پالنې او ټولنيز عدالت پر بنسټ وټاکي، د بن په تړون کې دا يادونه هم شوې وه چې د افغانستان دولت بايد پراخ بنسټه وي او جنسي توازن او اندول بايد په نظر کې ونيول شوی وي، د اساسي قانون د تسويد بهير بايد مشارکتي وي او د سلا مشورې له لارې پرتېرو

---

[1] اخلاقي يا قانوني ژمنتيا

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټپونو ملهم کېږدي ترڅو افغانان برياليي شي او په خپل هېواد کې سول ايز ژوند وکړي نوله دې کبله د دغه بهير له پيله تر اوسه هڅه شوې ده چې د تسويد بهير دا سې برابر شي چې د هېواد وګړي پکې ديونوي پړاو پېلامه وګوري او خپلې راتلونکې ته هيله من وا وسي.

پدې اړه د دولت رئيس د(۱۳۸۱ )لمريز کال د تلې د مياشتې د ۱۳ نيټې ۷۴ ګڼې د فرمان له مخې اساسي قانون د تسويد لپاره دولت ريس د مرستيال ښاغلي پوهاند نعمت الله شهراني په مشرۍ ۹ کسيزه کمېسون جوړ کړ چې د تسويد دنده يې درلوده ترڅو د اساسي قانون مسوده چمتو او وروسته يې د غور او څېړنې لپاره د تدقيق کمېسون ته وسپاري دغه کمېسون د(۱۳۸۲ ) لمريز کال دورې په مياشت کې د مسودې لومړۍ نسخه چمتو کړه او د اسلامي انتقالي دولت رياست ته يې وسپارله د اساسي قانون د تدقيق کمېسون ( ۱۳۸۲ )لمريز کال د غوايې په مياشت کې د دولت د رياست د بل فرمان له مخې جوړ شو چې ۳۵ غړي يې درلودل او پوهاند شهراني هم د تسويد او هم د اساسي قانون د تدقيق د کمېسون د ريس په توګه وټاکل شو.

د تسويد د کمسيون ترخوا د دارالانشا برخه هم جوړه او په کارېې پيل وکړ چې دنده يې دلوژستيکي، اداري، څيړنيزو اسانتيا وو برابرول، درسنيو سره د اړيکو نيول او د عامه پوهونې او تګلارو پلي کول وو ترڅو په دې سره د قانون جوړولو په بهيرد نوروبرخوبرابري او همغاړېتوب رامنځ ته کړي چې دغې برخې د ډاکترفاروق وردګ تر رياست لاندې وکولی شول چې خپلې دندې په ښه توګه سرته ورسوي د اساسي قانون د دارالانشا د رندو مسوليتونو ساحې ددې غوښتنه کوله چې بايد د افغانستان د وګړو سره او په نړيواله کچې خپلې اړيکې پراخه وساتي چې پدې برخه کې يونا ما په افغانستان کې د ملګرو ملتونو په مرسته په اتو ساحو او د ايران او پاکستان په څلورو ښارونو د اساسي قانون د دارالانشاه خپل ساحوي دفترونه په لاندې ښارونو لکه: کابل، جلال اباد ، ګرديز ، باميان، قندهار ، هرات، مزارشريف،

(c) ketabton.com: The Digital Library



۹
کندوز، پېښور، کویټه، تهران او مشهد کې جوړ کړل د غه اساسي قانون تر یو لړ پړاوونو وروسته په (۱۳۸۲ لمریز) کال د مرغومې په ۱۴ نېټه عملاً د جمهور ریس حامد کرزي لخوا توشیح او نافذ شو نوموړی اساسي قانون ۱۲ څپرکي او ۱۶۲ مادې لري[1]

| د اساسي قانون د جوړیدو کال | د اساسي قانون د نافذ کیدو په وخت کې د حکمرانۍ دور (د وخت حاکم) |
|---|---|
| ۱۹۲۳ زیږدیز | له برتانې څخه د خپلواکۍ تر لاسه کولو وروسته د امان الله خان په واسطه توشیح شو. |
| ۱۹۳۱ زیږدیز | د ۱۹۲۹ کال بلوا او د امان الله خان له لرې کېدو وروسته د نادرشاه په واسطه توشیح شو. |
| ۱۹۶۴ زیږدیز | د ظاهرشاه له لورې نافذ او د ۱۹۷۳ کال د داود خان د کودتاه په پایله کې تعلیق شو. |
| ۱۹۷۷ زیږدیز | د حکومتي اړود وړ په اوږدو کې د داود خان له خوا نافذ شو. |
| ۱۹۸۰ زیږدیز | پر افغانستان باندې د شوروي له یرغل وروسته د ببرک کارمل په واسطه تصویب شو. |
| ۱۹۸۷ زیږدیز | د شوروي ځواکونو له وتلو وروسته د ډاکټر نجیب الله د حکومت په وخت کې د ملي پخلاینې په موخه تصویب شو. |
| ۱۹۹۰ زیږدیز | د شوروي ځواکونو له وتلو وروسته او د کمونستي وروستي ځلې ړنګیدو وروسته د ۱۹۸۷ کال اساسي قانون تر ډېرې اندازې تعدیل شو. |
| ۲۰۰۴ زیږدیز | د بن د ۲۰۰۱ کال د هوکړې وروسته په ۲۰۰۴ زیږدیز کال کې نافذ شو[2] |

---

[1] کولای شئ په دې اړه زیات معلومات د (د افغانستان د اساسي حقوقو مبادي) په نوم کتاب وګورئ
همداشان د افغانستان په اړه هراړخیزه معلومات د (الف څخه تر یا د افغانستان لپاره مرستندویه لارښود) په نوم کتاب وګورئ

[2] د افغانستان د اساسي حقوقو مبادي صفحه ۲۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



په افغانستان کې تصویب شوي قوانین

- ➢ دحقوقو تحصیل د ډول قانون ( رسمي جریده ۷۸۲ شمېره ) کې نشر شویده.
- ➢ ددولت دقضایاو قانون ( رسمي جریده ۷۸۲ شمېره )کې نشر شویده.
- ➢ دمدافع وکیلانو قانون( رسمي جریده ۹۳۴ شمېره )کې نشر شویده.
- ➢ دمعاملاتو دلاربښوونې قانون ( رسمي جریده شیمره کې ۷۸۲)نشر شویده
- ➢ دټولنیز و سازمانونو قانون ( رسمي جریده ۸۰۴ شمېره )
- ➢ دسیاسي ګوندونو قانون ( رسمي جریده ۸۱۲ شمېره کې )
- ➢ دمحبسونو او توقیف خانو قانون ( رسمي جریده ۹۲۳ شمېره )
- ➢ دکوچنیانو سرغړونه ته دلاس رسي قانون ( رسمي جریده ۸۲۲ شمېره )
- ➢ دعرایضودکتنې اوځېړنې قانو ( رسمي جریده ۷۸۲ شمېره )
- ➢ دافغانستان اسلامي جمهوریت دتقنیني اسناد دنشرولو او تطبیقولو قانون ( رسمي جریده ( ۷۸۷ شمېره )
- ➢ دعلمي کدرونو دحقوقو او امتیازونو او دقانون جوړونې دچارو دانستیتوت قانون (رسمي قانون ( رسمي جریده ۷۸۲ شمېره )
- ➢ دکوچنیانو داصلاح او روزنې دمرکز قانون ( رسمي جریده )

مقرري او اساسنامې

- ✓ دعدلې وزارت د کړنو ،هڅو او تنظیم مقرره ( رسمي جریده ۷۸۲شمېره )
- ✓ دتقنني اسنادو د برابرولو وړاند یزونو دطرز العمل مقرره ( رسمي جریده ۷۸۲ شمېره )
- ✓ کوچنیانو دروزنې او اصلاح مرکزونو دچارو تنظیم مقرره ( رسمي جریده ۹۷۴ شمېره )
- ✓ دسیاسي ګوندونو دثبتولو دطرز مقرره ( رسمي جریده ۸۱۲ شمېره )
- ✓ دمحبسونو او توقف خانو دچارو مقرره ( رسمي جریده ۸۸۳ شمېره )

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ✓ دقانون جوړونې او علمي حقوقو څېړنو دانستیتوت دچارو اساسنامه(رسمي جریده ۹۲۴ شمېره )[۱]
- ✓ دحقوقي اسانتیاؤ مقرره)

اجرایه ځواک(حکومت)

ددولت درې ګونو قواوو څخه یو هم حکومت یا اجرائیه قوه ده چې د دولت هغه سازمان ته ویل کیږي چې په یوه ټاکلې سیمه کې قانوني واک او د قانون په تنفیذ کې مستقلانه واک او اختیار ولري.دحکومت دمفهوم لپاره ډول، ډول تعریفونه شوي چې لدې جملې څخه یو هم حکومت د یوه دولت د تصمیم نېولو قوت او مرکزیت بلل کېږي اویا په بل عبارت اجرایه قوه یاحکومت دهېواد په داخل کې دسیاسي او اداري واکونو په اعتبار سره د دولتي حاکمیت(په یوه قلمروکې ترټولولوړقدرت) داجراء او تطبیق مرجع ګڼل کېږي چې دنورو ملکونو په وړاندې د دولتي واکمنۍ استازیتوب اوورڅخه دفاع کوي. حکومت له درې ډوله قواو ،اجرائیه،مقننه اوقضائیه ځواک څخه جوړاو دافغانستان ددولت په اجرائیوي سېستم کې ولسمشر دحکومتي ریاست ترڅنګ د دولت رئیس هم دی چې په تقنیني،قضائي اواجرائیوي برخوکې خپل قانوني صلاحیتونه دقواوو دتفکیک اصل ته په پام کې نېولو سره کاروي.دافغان دولت اجرائیوي برخه دیوه ځواکمن ولسمشر او دولسمشر له دوه مرستیالانو څخه جوړه شوې ده.

ترکیب اوهیأت:داساسي قانو ن دیواویایمې،درې اویایمې او وه اویایمې مادې پر بنسټ دافغانستان اجرائیه قوه یا حکومت له وزیرانو یا کابینې څخه د ولسمشر تر ریاست لاندې جوړ اوهر وزارت یو اداري واحد دی چې د مربوطه وزیر په واسطه اداره کېږي ،دملي شورا غړي پدې شرط کولی شي د وزیر په توګه انتصاب شي چې د ملي شوراغړیتوب یې سلب اودهغه پرځای بل کس دقانون له حکم سره سم ټاکل کېږي.همدارنګه وزیران د ولسمشرپروړاندې دخپل رئیس په توګه اوله سیاسي اړخه د ولسي جرګې پر وړاندې مسوول او ځواب ویونکي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲
نقش او مسوولیتونه:اجرایه قوه یا حکومت د دولت هغه ارگان دی چې د قانون د پلي کولو او تنفیذ دنده لري. د اجرایه قوې غړی عموماً د وزیرانو په نامه یادېږي چې د اساسي قانون له حکمونو سره سم په مختلفو برخو کې لاندې مسوولیتونه او دندې لري:

۱ـ د اساسي قانون د احکامو ،قوانینو او محکمو د وروستیو پریکړو اجراء کول.

۲ـ افغانستان خپلواکۍ ساتل،له ځمکنۍ بشپړتیا څخه دفاع،په نړیوالو ټولنه اونړیوالو سازمانونو کې دافغانستان دگټو اوحیثیت څخه دفاع کول.

۳ـ د هېواد په کچې دعامه نظم او امنیت ټینگول او د هر راز اداري فساد پر ضد مبارزه او له منځه وړل .

۴ـ د بودیجې ترتیبول،ددولت د مالي چارو تنظیمول اودعامه شتمنیو ساتل.

۵ـ د پرمختیایي پروگرامونو طرحه او پلي کول البته دملي شورا له تائید وروسته.

۶ـ ملي شورا ته دترسره شویو چارو او دنوي مالي کال د مهمو پروگرامونو په اړه گذارش وړاندې کول.

۷ـ د حکومت اداري ریاست او اداري چارو دسمون له پاره اداري مقرراتو جوړول اوپلي کول چې باید ددغه شان اداري قواعدو او مقرراتو تدوین اوتطبیق داساسي قانون اونوروقوانینو له نص او رحي سره په مخالفت کې نه وي .

۸ـ د هغو نورو دندو ترسره کول چې د اساسي قانون او نورو قوانینو له مخې د حکومت له دندو او مسوولیتونو څخه شمېرل کېږي.[۲۱]

[۱] ددرې گونو قوا او ځانگړتیاوې اوواکونه،دفیضان الله پتهان لیکنه،۲-۳مخونه

[۲] د اجرایه قوې(حکومت)ددندو ،تاکلو اوصلاحیتونوبه اړه زیات معلومات داساسي قانون په څلورم فصل د۷۱مادې څخه تر۸۰مادې وگورئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



دجمهور ریس دندې او صلاحیتونه

ځرنګه چې د اساسي قانون په ۶۴ ماده کې جوته ده جمهوري ریس لاندې صلاحیتونه او دندې لري.

- د اساسي قانون له پلي کېدو څخه مراقبت کول
- د هېواد د سیاست د اساسي خطوطو تعینول چې شورا تصویب کړي وي
- د افغانستان د ټولو قواو سرمشري
- د مشرانو جرګې او ملي شورا د غونډو پرانستل
- د وزیرانو او لوی څارنوالانو ټاکل
- د مرکزي بانک ریس ټاکل
- د څارګري اداري د ریېس ټاکل
- د ولسي جرګې په تائید د سترې محکمې د غړو او ریس ټاکل
- د مشرانو د جرګې ۳/۱ غړیو ټاکل
- د سولې او یا جنګ اعلانول
- د لوی جرګې تشکیل او د هغې لپاره انتصابي غړیو ټاکل
- د ټاکنو د خپلواک کمیسون د غړیو ټاکل[1]

د افغانستان اسلامي جمهوري دولت اداري تشکیلات

د اساسي قانون د ۱۳۶ مادې له مخې د افغانستان اسلامي جمهوریت اداره د مرکزي، محلي واحدنو او ادارو پربنسټ د قانون مطابق تنظیمېږي.

مرکزي اداره په یو لړ اداري واحدونه وېشل شوې ده، چې د هریو په راز کې یو وزیر قرار لري. محلي اداري واحدونه، ولایتونه دي چې شمېر، ساحه اجزاد ولایتونو تشکیلات او اړونده ادارتو پراساس د نفوسو اندازه، ټولنیزه

---

[1] د درې ګونو قواو ځانګړتیاوې او واکونه، د فیضان الله پټان لیکنه، ۴-۲ مخونه

[2] د ولسمشر د دندو او صلاحیتونو په اړه د اساسي قانون د دریم فصل ۲۰ څخه تر ۷۰ پورې مادې وګورئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



وضعه، اقتصادي وضعیت او جغرافیې موقعیت پورې اړه لري او د قانون پواسطه تنظمیږي.

دافغانسان جمهوري دولت دنافذه قوانینو په نظري کې نېولو سره په لاندې سکتورونو کې فعالیت کوي.

دامنیت سکتور

۱=دملي دفاع وزارت

۲=دکورنیو چارو زارت

۳=دملي امنیت عمومي ریاست

دحکومت داري چارواکې دقانون دحاکمیت او دبشر دحقوقو سکتور

۱=لویه ثارنوالي

۲=دعدلې وزارت

۳=دبهرنیو چارو وزارت

۴=دسرحدونو قومونو او قبائلو چارو وزارت

۵= دحج اواوقافو وزارت

۶=ددولت ریاست، دمقام ددفتر ریاست

۷=دچارو داداري او دوزیرانو دشورا ددارلانشاء عمومي ریاست

۸=په پارلماني چاروکې ددولت دوزیر دفتر

۹=دمحلي ارګانونو مستقله اداره

۱۰دملکي خدمتونو او داداري اصلاحاتو مستقل کمېسون

۱۱=داداري فساد په وړاندې استراتیژي دتطبیق او نظارت عالي اداره

۱۲= دټاکنو خپلواک کمېسون

۱۳= دمرکزي احصایې عمومي اداره

۱۴= دکنترول او تفتیش اداره

(c) ketabton.com: The Digital Library



دطبعي زېرمو او زیر بناو سکتور
۱=دمعدن وزارت
۲=دمخابراتو اومعلوماتي تکنالوژي وزارت
۳=داوبو او برېښنا وزارت
۴=دفوایدعامې وزارت
۵=دترانسپورت او هوایې چلند وزارت
۶=داریانا دافغان جوړښت شرکت
۷=دښاري پراختیا وزارت
دمعارف سکتور
۱= دښووني او روزنې وزارت
۲= دلوړو زده کړو وزارت
۳=داطلاعاتو او فرهنگ وزارت
۴=دعلومو اکاډمي
۵= دبدني روزنې سپورت عمومي ریاست او دالمپیک ملي کمیټه
دروغتیا سکتور
۱_دعامې روغتیا وزرات
دزراعت او کلیو پراختیا سکتور
۱=دکرهنې، اوبو لګولو اومالدارۍ وزارت
۲=دکلیو دپراختیا اوبیارغونې وزارت
۳= مخدره توکو پرضد دمبارزې وزارت
داقتصادي ودې او خصوصي سکتور دپراختیا سکتور
۱=دمالې وزارت
۲=تجارت اوصنایع وزارت
۳= داقتصاد وزارت

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴= د افغانستان بانک
۵=د چاپېريال ساتنې ملي اداره
۶=د افغانستان د پانګې اچونې د ملاتړ اداره
۷= د ستندر ځانګړې اداره ( انشا )
۸= د جيو ديزي او کارتوګرافي عمومي اداره.
د ټولنيزو ملاتړ سکتور
۱= د مهاجرينو او بېرته راستنيدونکو چارو وزارت
۲= د ښځو چارو وزارت
۳= د کاره ټولنيزو چارو شهيدانو او معلولېنو وزارت
۴= د کابل ښاروالي
۵= د افغاني سرې مياشتې ټولنه
۶= د کوچېانو د چارو او تنظيمولو مستقل رياست
۷= د پېښو سره د مبارزې د تيارې ملي ادره

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ولسمشر**

**لومړی** | **دوهم معاون**

**مقننه قوه**

**ولسي جرګه** | **دمشرانو جرګه**

**اجرایه قوه**

**وزارتونه**

**قضایه قوه**

**قاضی القضات**

**لوی څارنوالي**

اداري چارې
په پارلماني چاروکې ددولت وزیر
مشاورو زیران
دریس جمهور مشاورین
دکادراو پرسونل ریس
دملی امنیت شورا

۱. د عدلیې وزارت
۲. د مالیې وزارت
۳. د عامې روغتیا وزارت
۴. د کلیو د پراختیا او بیا رغاونې وزارت
۵. د سوداګرۍ او صنایعو وزارت
۶. له نشه یي توکیو سره د مبارزې وزارت
۷. د بهرنیو چارو وزارت
۸. د مخابراتو او مخابراتي ټکنالوژۍ وزارت
۹. د دفاع وزارت
۱۰. د کورنیو چارو وزارت
۱۱. د اقتصاد وزارت
۱۲. د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت
۱۳. د پوهنې وزارت
۱۴. د لوړو زده کړو وزرات
۱۵. د اوبو او انرژۍ وزارت
۱۶. د ټرانسپورت او هوایي چلند وزارت
۱۷. د ښځو چارو وزارت
۱۸. د حج او اسلامي ارشاد وزارت
۱۹. د فواید عامې وزارت
۲۰. د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت
۲۱. د ټولنیزو چارو، شهیدانو او معلولینو وزارت
۲۲. د سرحدونو چارو وزارت
۲۳. د ښاري پراختیا وزارت
۲۴. د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت

خپلواکه اداري اوریاستونه
- دالمپیک ملي کمېټه
- د سره صلیب کمېټه
- دعلومو اکاډمي
- کارتوګرافي
- دطبیعي پېښوپه وړاندې دمبارزې ریاست
- دافغانستان مرکزي بانک

خپلواکه کمیسونونه
- حقوق بشر خپلواک کمیسون
- داداري فساد په وړاندې دمبارزې کمیسون
- دبې وسلې کولو او ملک جوړولو کمیسون
- دټاکنو خپلواک کمیسون
- دملي روغې جوړې خپلواک کیمسون [۱]

[۱] سیستم اداري وتشکیلاتي افغانستان معاصر، د سرمحقق استاد محمد ناصر ستانکزي لیکنه، م ۱۲۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



قضایي ځواک (محکمې)

له هغې ورځې نه چې انسان ټولنیزاو مدني ژوند ته مخه کړې، دهماغه وخت راهیسې ټولنیز نظم دټینګښت ،لانجواو شخړو دحل او فصل له پاره دا اړتیا لیدل کېده څو لانجې په یوشکل حل او فصل او دنورو احتمالي شخړومخنیوی وشي، همدغوموخو ته درسیدو له پاره کوم منظم عدلي او قضایي سېستم شتون نه درلود بلکې په پخوازمانو کې به اکثرا دقبیلوي سېستم یانې جرګو او مرکو څخه کار اخستل کېده او په هره کورنۍ کې به مخورو ،او هوښیاروکسانو ته دستونزو او لانجو دحل له پاره مراجعه کېده ،هغوی به دخپلو تجربو او پوهې په مټ دعوې او لانجې حلولې .دبشري ټولنو له پرمختګ سره سم مختلف حقوقي اوعدلي سېستمونه رامنځ ته شول لکه:




۱_فقهي حقوقي سېستم په دغه سېستم کې قانون دفقهاوو اوعلماوو نظریات دي چې دمحکمو په واسطه اجراء اوعملي کېږي، دغه حقوقي سېستم ته داسلام حقوقي سېستم ویل کېږي، په دې سېستم کې قانوني قواعد اومقررات داسلامي فقهاوو نظریات تعریفوي چې باید دغه نظریات د قرآن او نبوي احادیثو سره په ټکر کې نه وي.

۲ _قضایي حقوقي سېستم چې په هغه کې قانون دمحکمو پخوانۍ پریکړې اوقضایي چال چلند دی چې دمحکمو په واسطه تطبیق کېږي چې دغه سېستم دکامن لا(Common Law ) انګریزي حقوقي سېستم سره اړخ لګوي.

۳_تقنیني حقوقي سیستم دغه حقوقي سېستم لیکلی اوقانون، دیوه تقنیني ارګان په واسطه تدوین او دمحکمو په واسطه تطبیق کېږي، دغه حقوقي سېستم بېلابېلو ټولنو دپرمختیا سره، عصري دولت دحقوقي تقنیني ماډرن سېستم

(c) ketabton.com: The Digital Library



پربنسټ رامنځته او دا یې ثابته کړه چې د نورو سیستمونو د منځپانګې د شمولیت له پاره مناسب دی، دوضاحت، یووالي او نظم له پلوه او قانوني قاعدې جوړونې له مخې ډېر اغېزمن او کارنده دی، مهمه ځانګړنه یې دا ده چې د دولت دځواکونو، مقننه، قضائیه او اجرائیه ځواکونو تشکیلات او توازن بیانوي. چې او سمهال ټولو حقوقي سیستمونو په ماډرنو سیستمونو پیل کړی او په اسلامي نړۍ کې هم دغه تغیرات او بدلونونه په اتلسمه پېړۍ کې هغه مهال پیل شول چې عثماني خلافت، تنظیمات او مجلة الاحکام العدلیة یې د ماډرن قانون په شکل سره وړاندې کړل، باید وو وایو دغه حقوقي ماډرن سیستم ته رومن ژرمنیک (Roman Zhrmnyk) ویلی شي.

د شلمې پېړۍ له پیل وروسته(۱۹۲۰ زېږدیز) کې چې د( ۱۲۹۹ )لمریز سره سمون خوري، د مصر هېواد خپل لومړنی مدني قانون چې د(عبد الرزاق السنهوري) د الازهر علمي موسسې فقهیه غړي په واسطه ترتیب او ولیکل شو، دغه قانون د حنفي فقهي او نورو مذهبونو د فقهو پربنسټ او د فرانسې له مدني حقوقو سره سم تصویب کړ، دا مدني قانون د ډېرو اسلامي هېوادونو (ټولو عربي هېوادونو او افغانستان له پاره یو بنسټ وګرځید.

پس له هغې چې په (۱۷۴۷ زېږدیز) کال کې احمد شاه دراني رسما د افغانستان پادشاه شو د قضا حکم په ثابت او انحصاري ډول د علماو په صلاحیت او اختیار کې و یا په دقیق عبارت د قاضیانو او مفتیانو په واک کې ؤ. مرکزي دولت چې زیات اختیارات او امتیازات یې علماؤ ته ورکړي و او دهغوی تاثیرات یې زیات کړي و نو علماو به هم د دولت څخه حمایت کاوه. علماو اصولاً د عدالت په تطبیق د خپلو تفاسیرو مطابق زیاته توجه نکوله په تېر قرن (۱۹۲۰–۱۹۷۰ زېږدیز) کلونو کې د عدالت د اجراء د مدیریت ساده کونه او متمرکز کولو هدف د اجرایه قوې د قدرت کمولو ته په توجه او قضایه قوې ته د استقلال په ورکولو ترسره شو.
امیر عبدالرحمن خان د حاکمیت نوي دکتورین وړاندی کړل د هغه په اند او فکر

(c) ketabton.com: The Digital Library



.هغه د یو اسلامي ټولنې رهبر او دخپلو اتباعو په نسبت دخدای تعالی په وړاندې مسؤل دي پدې اساس هغه دعلماؤ قدرت دخپل قدرت په وړاندې یو تهدید ګاڼه. هغه په علماؤ باندې دحکومتي کنترول داعمال په منظور دقضاتو مقام ته یې په دولتي استخدام کې اداري پروسه تغېر کړه پدې شکل سره چې هغوی نورصرف دمذهبي اقتدارلرونکي ندي، امیر ددې هدف دلاسته راوړلو لپاره د وقف ارګان چې مذهبي او مالي نهاد ګڼل کېده له منځه یوړ او پدې سره یې د مذهبي قضاتو مالي پشتیوانه ګڼل کېده رنګه شوه .د هغه وخت نه وروسته قضاتو باید قضا دمنصب لپاره د دولت تر کنترول لاندې یو امتحان ورکړای وای چې پدې سره د قضاتو مذهبي علمیت تعینېده او دهغوی دمعاش تعېنوونکی هم و، کله به چې یوچا دقضا وظیفه ترلاسه کړه بیا ددنیوي کارونو اوعلوموزدکړې نه منعه کېده، همدارنګه امیرعبدالرحمن خان د محاکمو یو شرعي نظام رامنځته کړ چې د معېنو اصولو په چوکاټ کې د دولت لخوا د اساس القضات تر عنوان لاندې رامنځته شوی و، فعالیت کاوه دامیر اقدامات اګرچې دعدالت داجرا درسمي کېدو موجب شو اوپه دې طریقه مرکزي دولت قدرت یې په قضایي امورو کې زیات کړ مګر دقضایه قوې خصوصیت ته یې دیوې کلا په حیث کومه صدمه وارېده نکړه .دامیرعبدالرحمن نه وروسته امیر حبیب الله خان د ده سېستم پرته له تغیر څخه تعقیب کړ وروسته له دې غازي امان الله خان دغربي هېوادونو څخه په تقلید کوښښ وکړ ترڅو یو کامل حقوقي نظام دقانون د حاکمیت په منظور ایجاد کړي په(۱۹۲۳زېږدیز )کال کې یې یونوی اساسي قانو ن وضع کړ چې دهغې په اساس دافغانستان حکومت په مشروطه شاهي باندې بدل شو، دامان الله خان قضایي اصلاحات چې په نظام نامه باندې ونومول شو تر یوه حده دترکیې هېواد داصلاحاتو څخه چې دنولسم قرن په اواخرو کې رامنځته کړي و الهام اخستی و، امان الله خان ددولتي محاکمو یونوی نظام، سېستم اونوی دجزا قانون رامنځته کړ، دامان الله خان داساسي قانون ۲۱ تمې مادې داسې حکم کاوه چې ټولې

(c) ketabton.com: The Digital Library



قضایاوې باید داسلامي شریعت، جزاقانون اومدني قانون په اساس وڅېړل شي اوورته رسیده ګي وشي دامان الله خان دوخت جزایې قانون غربي نړۍ څخه نه وو ،بلکې دیوه اسلامي مدون قانون شکل یې درلود ،چې په دې اساس علماؤ ته په خپل سرد تفسیر حق نه ورکول کېده باید نوموړی مدوین قوانین یې تفسیر کړی وای.دامان الله خان نه وروسته دحبیب الله کلکاني د لنډې دورې په پای ته رسېدو نادرشاه چې کله قدرت ته ورسېده هغه د امان الله خان د نظامنامې هغه برخې چې زباتې جنجالي او مناقشې وړ وې ملغا کړې او هغه مذهبي قوانین او موازین چې په یو شکل سره د حبیب الله لخوا په شرعي محاکمو کې رامنځته شوي ؤ محدود کړل.دنادرشاه د(۱۹۳۱زېږدیز)کال داساسي قانون ۸۷ او ۸۸ مادو داسې حکم کاوه چې ټول عمومي مرافعات باید شرعي قوانینو سره په وفق کې تنظیم شي او د حنفي فقهې داحکامو مطابق باید مسایلو ته رسیدګې وشي.[1]

د داود خان دوره:د داود خان ریاست جمهوري په اعلان سره ستره محکمه منحل شوه او د هغې صلاحیتونه دعدلې وزارت دعامه عدالت کمېټې ته چې نوم یې قضایي عالي شورى ته تغېر شوي ؤ انتقال شول.دقاضي القضات صلاحیتونه د عدلیې وزیر ته منتقل شول ،او نورد ټولو محاکمو تشکیلات د(۱۹۲۷زېږدیز) کال د محاکمود تشکیلاتو اوصلاحیتونو دقانون مطابق په خپل ځای پاتې شول. د(۱۹۷۷زېږدیز)کال مصوب اساسي قانون مطابق بیا ستره محکمه رامنځته شوه او خپل صلاحیتونه یې دوباره لاس ته راوړل ،خو ددې قانون په ۱۰۱او ۱۱۲ مادو کې د قضایه قوې داستقلال تقلیل ښکاره کېده ،دغه اساسي قانون قضایه قوه د یوحکومتي ارګان په حیث معرفي کړی و او د(۱۹۶۴زېږدیز)کال اساسي قانون په څېر یې د قضایه قوې داستقلال څخه یادونه نوه کړې.ریېس جمهور به قاضي

---

[1]- رامین، مشتاقي، رهنمود ماکس پلانک براي تشکیلات و صلاحیت محاکم افغانستان،(چاپ سوم،حمل ۱۳۸۸ هـ ش)صـ۱۵

(c) ketabton.com: The Digital Library



القضات او د سترې محکمې قضات منصوبول (۱۰۷ ماده )، علاوه پردې ددې اساسي قانون د ۱۰۴ مادې په اساس رییس جمهور کولای شول چې پس له پنځو کلونو قضات بدل کړي په داسې حال کې چې د (۱۹۶۴ زېږدیز) کال اساسي قانون دغه موده لس کاله ټاکلې وه.[1]

کمونستي رژیم په وخت کې د (۱۹۷۷ زېږدیز) کال اساسي قانون ملغا شو او ټول امورات باید دانقلابي شورى د اجرایوي فرمانونو او مقرراتو په اساس تنظیم شوی وای.

انقلابي شورا داخبره اعلام کړه چې د(۱۹۷۷ زېږدیز) اساسي قانون پرته، نور قوانین دې د اجرا لاندې ونیول شي ځکه دا قوانین د دوی حکومت او انقلابي شورى سره په تضاد کې نه واقع کېدل. د انقلابي شورى د فرمان د دوهمې مادې په اساس یوځل بیا د سترې محکمې اختیارات عالي قضایي شورى ته چې په سرکې یې د عدلیې وزیر قرار درلود او انقلابي شورى ته مسؤل ؤ و سپارل شول ،ددې تر څنګ او مې مادې د عسکري څواکونو یو انقلابي محکمه ایجاد کړه چې هغه جرایمو ته رسېدګي وکړي چې د عسکري ځواکونو ، سیاسي اشخاصو او انقلاب د مصالحو په ضد واقع کېدل او نامحدود اختیارات یې درلودل، دغه محاکمو څو ځله تغیر وکړ بلاخره په (۱۹۹۰ زېږدیز) کال کې لغوه شول . د کمونستانو رژیم یوځل بیا ستره محکمه ایجاد کړه او د اساسي قانون په **۵۲** ماده کې د قضایه قوې استقلال اعلام کړخو په **۵۵** ماده کې راغلی ؤ چه ستره محکمه باید په منظم شکل انقلابي شورا ته راپوروکړي. د ټولو عادي محاکمو قضات په علاوه د سترې محکمې د قضاتو د انقلابي شورا د ریس له خوا منصوبېدل، وروسته د خلکو د ملاتړ د لاسته راوړلو په منظوریې په (۱۹۸۷ زېږدیز) کال کې یو نوی اساسي قانون وضع کړچې یو څو جزوي تغیرات یې رامنځته ته کړل، ددې

---

[1]– رامین ، مشتاقي، رهنمود ماکس پلانک براي تشکیلات و صلاحیت محکم افغانستان، (چاپ سوم، حمل ۱۳۸۸) ص ۳۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳
قانون په ۱۰۷ مه ماده کې داسې راغلي ؤ چې قضایه قوه یو مستقل ارګان دی او ستره محکمه یو عالیترین قضایي ارګان دی چې په ټولو محاکمو دنظارت او د قوانینو دبرابر تطبیق مسولیت لري. او د ۱۱۰ مې مادې په اساس قاضي القضات د رییس جمهور لخوا د شپږ کلونو لپاره منصوبېده.
د داخلي جنګونو په دوران کې د(۱۹۹۰ زېږدیز ) کال داساسي قانون مطابق قاضي القضات جمهور رییس ته مسؤل ګڼل کېده او دمحکمو دتشکیلاتو اوصلاحیتونو قانون نوی وضع شو .د طالبانو په رژیم کې د کمونستي رژیم اکثره قوانین لغوه شول اوظاهرشاه دوخت قوانین داجرالاندې ونیول شول.د طالبانو درژیم ثخه وروسته د بن د توافقنامې په اساس د( ۱۹۶۴ زېږدیز ) کال اساسي قانون دوباره برقرار شو البته تر هغه ځایه چې باید بن د توافقنامې،افغانستان سره د نړیوالو معاهداتو او نورو موازینو سره په مغایرت کې قرار ونلري،چې بلاخره د( ۲۰۰۴ زېږدیز )کال جنوري په شپږو بشتمه نېټه اوسنی اساسي قانون وضع شو.دبن په توافقنامه کې د قضایه قوې په رابطه په ۳-۲ مادو کې داسې صراحت موجود ؤ( د افغانستان قضایه قوه باید مستقله وي او دسترې محکمې لرونکی وي اونورټول محاکم باید دمؤقت دولت په واسطه ایجاد شي،انتقالي اداره باید دملګرو ملتو د سازمان په مرسته یو قضایي کمېسیون دداخلي قضایي نظام دبیا رغونې په خاطر چې د اسلامي اصولو، نړیوالو معیارونو،د قانون حاکمیت او د افغانستان د حقوقي عنعناتو سره مطابقت ولري رامنځته کړي ).[1]
زموږ دهېواد اوسنی قانوني سېستم په جوړښت کې داسې تدابیر نیول شوي چې پورتني یاد سېستمونه په برکې رانیسي،دافغانستان اساسي قانون دهېواد تر ټولو لوړقانون دی چې ټول قوانین اوارګانونه دهمدې اساسي قانون سره په مطابقت کې تدوین او اداره کېږي،ددې اساسي قانون د ۳ مې، ۱۳۷مې او ۱۳۱مې

---

[1] – رامین،مشتاقي،رهنمود ماکس پلانک براي تشکیلات و صلاحیت محاکم افغانستان،(چاپ سوم، حمل۱۳۸۸ )ص۳۲-۳۵

(c) ketabton.com: The Digital Library



او ۹۰ یمې مادې له حکم سره سم زموږ د هېواد نظام اسلامي جمهوري دی او باید ټول قوانین د اسلام سپیڅلي دین له احکامو سره په مخالفت کې نه وي. همدارنګه محاکم د ټولو دعواوو په حل او فصل کې د بشپړې خپلواکۍ ترڅنګ باید د اساسي قانون احکام او نورعادي قوانین تطبیق کړي که چېرته دیوې دعوې په اړه په دې اساسي قانون او نورو عادي قوانینو کې څه حکم موجود نه وي، محکمې کولی شي د اساسي قانون په حدودو کې حنفي فقه او په ځانګړو مواردو کې د شیعه مذهب احکامو تطبیق د سرچینې په توګه یواځې په هماغې دعوې کې تطبیق او اجراء کېږي، د اجرایه ځواک دنده داده چې عادي قوانین او د محاکمو پریکړې اجراء او عملي کړي. د عادي قوانینو وضعه کول د مقننه ځواک اصلي اولومړنی واک د ملي شورا دی چې دولس او ملت استازیتوب کوي.

ترکیب او هیأت: د افغانستان اساسي قانون ۱۱۲ مې مادې د حکم په اساس ستره محکمه د ستر قضائیه ځواک په سر کې چې له یوې سترې محکمې، د استناف له محکمو په ولایتي کچې او ابتدائیه محکمو د ولسوالیو په کچې او همدارنګه د ځانګړو محکمو څخه جوړه ده چې تشکیلات او صلاحیتونه یې د قانون له لپاره تنظیمیږي.

ستره محکمه (۹) کسه غړي لري چې د اساسي قانون ۵۰، ۱۱۷ او ۱۱۸ مادې له حکمونو په رعایت، چې د سالمې اداري او سمون رامنځته کېدو او په شرایطو وړ اشخاص چې د سترې محکمې یو غړی دریېس او نور د سترې محکمې د غړو په توګه د ولسمشرله خوا د ولسي جرګې له تایئد سره په لاندې ډول ټاکل کېږي.

- درې تنه د څلورو کلونو له پاره.
- درې تنه داوو کلونو له پاره.
- درې تنه د لسو کلونو له پاره.

باید یادونه وشي چې ستره محکمه د لاندې دیوانونو څخه جوړه شویده:

۱-د عمومي جزاء دیوان

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲-دعامه امنیت دیوان
۳-مدني دیوان
۴-دعامه حقوقو دیوان
۵-دترافیکي جرمونو دیوان[۱]

نقش او مسؤولېتونه:د افغانستان قضایه ځواک په صلاحیت کې ټولو هغو دعوو غور او رسیدګي شامله ده چې د دولت په شمول دحقیقي یا حکمي اشخاصو له خوا دمدعي یا مدعي علیه په حیث دقانون له حکمونو سره سم دمحکمې په وړاندې اقامه شي، په محکمو کې قضیې دمعیار او ماهیت پربنسټ په دوه ابتدایې او استناف مرحلو کې حل او فصل کېږي.ستره محکمه هغه قضیې چې د استناف دمحکمو څخه ورته احاله شوي وي، یوازې په هغو شرایطو کې ورته رسیدګي کوي چې موخه یې داوي آیا قانون په کره او سمه توګه پلي شویدی او کنه؟ څو جوته شي چې دقانون احکام نه وي نقض شوي او یا داچې معلومات ترلاسه شي چې نوموړي احکام په سمه توګه ندي تطبیق شوي نو پدې حالت کې ستره محکمه قانوناواک لري چې د لاندنیو(تحتاني) محکمو پریکړې نقض او دسره کتنې له پاره ور ولیږي او یاهم خپله پریکړه صادره کړي چې پدې حالت کې دسترې محکمې پریکړه وروستۍ او نهایي ګڼل کېږي، په لنډه توګه د قضائیه ځواک واکونه او صلاحیتونه په لاندې ډول دي:

- دقانون پربنسټ دحکومت یامحکمو دغوښتنې پراساس،له اساسي قانون سره دقوانینو،تقنیني فرمانونو،بین المللي معاهدو او نړیوالو میثاقونو دمطابقت څېړل او تفسیرول.
- دحکومت له لارې ملي شورا ته د قضایي چارو د تنظیم په ساحه کې دقانوني طرحي وړاندیز.

---

[۱] ددرې ګونو قواوو ځانګړتیاوې او واکونه، دفیظان الله پټان لیکنه ۲۲ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



- په اړوندو قوانینو کې دا ټکل شوېو احوالو مطابق، دلوي څارنوالۍ یاددعوی دلوري دا عتراض پربنسټ، د نویو دلیلونو دپیدا کېدو په سبب د محکمو پرقطعي فیصلو باندي نوي کتنه کول.
- دقانون د حکمونو پربنسټ، بهرني دولت ته د مجرمینو دبیرته ورکړي (اعادي) په هکله د دلیلونو څېړنه او تصمیم نیول.
- دا ساسي قانون اته ویشتمي مادي دحکم په پام کې نیولو سره بهرني دولت ته د اتباعو د تسلیمولو په هکله د تور او اتهاماتو د دلیلونو څېړل او تصمیم نیول.
- دقضایي تګلاري (رويې) د وحدت تامینول.
- دقاضیانو دجنایي او انتظامي سرغړونو په هکله تصمیم نیول.[1]




۲

[1] ددري ګونو قواوو ځانګړتیاوي اوواکونه، دفیضان الله پتان لیکنه، ۲۸۳۰ مخونه
دقضایه قوي په اړه نورمعلومات دا ساسي قانون په اووم فصل د ۱۱۲ مادي څخه د ۱۳۵ مادي پوري وګورئ


[2] دافغانستان دا ساسي حقوقو مبادي، صفحه ۵۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



## شپږم څپرکی
## د افغانستان سرحدي کرښې

ځلورخواوې اوسیاسي پولې په حقیقت کې دیوهېواد دملي هویت پېژندنه کوي، چې دیو سیاسي واحد په توګه دنړۍ ملتونه یوله بله بېلوي. همدا پولې دي چې د هرهېواد جغرافیایي حدود تعین او مشخصوي او دحاکمیت سیمې یې یوله بله بېلوي اومعلوموي.دیوهېواد پولې که په وچه کې وي که په اوبو (سیند ، سمندرګي یا سمندر ) کې،خاوره یې د ډېره او پراخه وي که لږه یا کوچنۍ، ځمکه یې متجانسه وي که غیرمتجانسه، دښته وي که غره ایزه، واحدملیت ولري که ګڼ شمېر،یوه ژبه ولري اوکه بېلې،خوپه دننه کې،دټاکلو سیاسي پولو په چوکاټ اودنړۍ دهېوادونو په لیکه کې دیوه واحد هېواد په توګه پېژندل کېږي.نوځکه په یوه هېوادکې ټاکلي پولې دیوې سیاسي سیمې هغه څرګندې بېلونکې پدېدې دي چې دګاونډیو هېوادونواونړیوالومعیارونوپه منلو سره رسمي، ملي او نړیوال حیثیت غوره کوي.



(c) ketabton.com: The Digital Library



د یو هېواد د سیاسي پولو تاکنه د هغه د اداري قلمرو ، ملي حاکمیت او د قانون د تطبیق ساحې راپېژني او د همدغې ځمکنۍ پراختیا په چوکاټ کې اداري او قضائي وېشنه، د اقتصادي او ټولنیزو پروژو ترتیب، پرمختیایي پلانونه، انتخاباتي فعالیتونه، ګمرکي چارې، د بانکونو ټونو او پیسو قانوني چلښت او د اسې نورې چارې هم ترسره کېږي.

په لنډ ډول ویلای شو چې پولې د یو دولت یا هېواد تر کنټرول لاندې سیمې په خپله لمن کې رانغاړي او د یو هېواد متشکله عنصر یانې قلمرو تثبیت او مشخصوي.




سیاسي سرحدونه هغه مهمترین عوامل دي چې یو سیاسي متشکله واحد د بل سیاسي متشکله واحد څخه بېلوي او یا په بل عبارت سیاسي سرحدونه له یوې متشکله سیمې څخه د بلې سیاسي متشکله سیمې د بېلتون یا جدا والي غوره نښې دي، چې دا نښې شونې دي طبعي او یا مصنوعي وي. په ضمن کې د همدې سیاسي

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیکو یا سرحدونو شتوالی دی چې په یوه ځمکه کې سیاسي یووالی او انساني وحدت ممکن کوي او جوړوي یې. سرحدي خطونه هغه اعتباري او قرادادي خطونه دي چې دیو سیاسي واحد حدود و د مشخص کولو په خاطر د ځمکې پر سر مشخص او ټاکل کېږي بناپردې سرحدونه د سیاسي جغرافیې د اصلي او مهمو بحثونو څخه شمېرل کېږي. سره د دې چې د سیاسي واحد څخه مطلب حکومت دی هغه خطونه چې دیو حکومت ځمکه د بل همسایه ملک څخه بېلوي په نړیوالو سرحدونو مشهور دي. خو که چېرته د سیاسي واحد څخه موخه او مطلب یو ولایت یا ولسوالي وي، چې د یو هېواد په داخل کې سیاسي پولې رامنځته کوي ، نو دې ډول سرحدونو ته ملي سرحدونه (National Borders) وایي.

پوله په عربي ژبه کې په سرحد ، په فارسي کې مرز او په انګلیسي کې په Border ژباړله کېږي، په حقیقت کې دیو هېواد د حاکمیت او صلاحیت سیمه ټاکي.[2] یانې هغه سیمه ټاکي چې یوازې یو دولت پکې خپل ځواک او واکمني پلي کولای شي او له هغه څخه هغه خوا به ګام نه پورته کوي ځکه هغه خوا ته د بل هېواد د واکمنۍ سیمه پیلېږي.

دیو دولت پولې هغه فرضي کرښې یا لیکې دي چې د یو هېواد ساحه له بل هېواده (یا د هغې ساحې په اړه چې د بل هېڅ خپلواک هېواد تر واکمنۍ لاندې راغلې نه وي، لکه آزاد بحرونه) بېلوي.[3] یا په بله وینا ، پولې هغه حدود دي چې د هغو په واسطه دیو دولت قلمرو مشخصېږي او د نورو ساحو څخه یې بېلوي، دا نورې ساحې امکان لري یا بل دولت وي او یا هم آزاد سمندرونه وي.[4]

د پولو یا سرحدونو څېړنه د حقوقو ، جیوپولېټیک او جغرافیې له مهمو او په زړه پورو موضوعاتو څخه ګڼل کېږي ، په خاص ډول هغه پولې چې دیو واحد ملت،

---

[2] حقوق بین الملل عمومی، (دوکتور محمد رضا ضیائي بیګدلي، م. ۱۸۲

[3] ، نړیوال عمومي حقوق، پوهاند دوکتور ودیر ساپی م. ۹۹

[4] ، نړیوال عمومي حقوق-لکچرنوټ، (الحاج پوهاند دوکتور حفیظ الله دانش م. ۵۴

(c) ketabton.com: The Digital Library



نژاد ، قبیلې، دین،مذهب او کور وګړي سره بېل او جلا کړي. دا ډول پولې همېشه د سیاسي ستونزو او لانجو لاَمل وي او د دوو ګاونډیو هېوادونو ترمنځ سوله او امنیت له منځه وړي.لکه دا افغانستان سره چې د وخت د ښکرور او ظالم ښکېلاکګر ځواک لخوا کابو(۱۱۷) کاله وړاندې دغه شان جبر او ناروا وشوه او ترنن ورځې پورې دوا ړو لورو ته پراته ورونه او عزیزان د دغه اور په لمبو کې سوځېږي. دا جوته ده چې پوله او سیاسي کرښه یوه قراردادي کرښه ده او د هېوادونو د سیاسي حاکمیت حدود تسجیل او بیانوي، خوله حقوقي اړخه او د سیاسي جغرافیې له مخې تر ټولو ښه پوله هغه پوله ده چې د سیاسي لانجې او مناقشې لاَمل ونه ګرځي، د واحد ملت،نژاد ،قبیلې،دین،مذهب او وګړي سره بېل نه کړي، د یو هېواد سیاسي یووالی له منځه یو نه سي،د یو قام او قبیلې ټولنیزې، اقتصادي، فرهنګي، مذهبي او سیمه ایزې ځانګړتیاوې په پام کې ولري او د بېلېدونکو وګړو غوښتنو ته پکې لومړیتوب ورکړي.[۱]

د پولو د ټاکلو په موخه باید لاندې څلور پړاوونه او مراحل ترسره او طی کېږي:

۱: د سرحدي کرښو ټاکنه.................................(Allocation)

۲: د سرحدي کرښو محدودول............................(Delimitation)

۳: د سرحدي کرښو نښه کول..........................(Demarcation)

۴: د سرحدي کرښو قانوني او پارلماني تائید.........(Ratification)

د سرحدونو ډولونه

کولی شو چې سرحدونه د څوا ړخونو له مخې وېش کړو. یو دا چې سرحد څنګه منځته راغلی، د نژادي او فرهنګي ګروپونو په وېش باندې یې د تطبیق د درجې څرنګوالی څنګه دی او بله دا چې د فزیکي پدېدوسره د سرحد ورته والی او یا نه ورته والی څنګه دی. نو د همدې امله د وچې سرحدونه د وېش له مخې په لاندې توګه بېلوو.

---

[۱] ، د تاریخ په اوږدو کې د افغانستان سرحدونه... پوهاند غلام جیلاني عارض لیکنه

(c) ketabton.com: The Digital Library





مصنوعی سرحدونه: دا هغه سرحدونه دي چې په حقیقت کې په طبیعي شکل نه وي موجود ،بلکې په غیرطبیعي ډول د دولتونو لخوا جوړیږي لکه دیوالونه،اغزن تار،پایې او داسې نور..خودمنځته راتګ اوفزیکي پدیدو سره دورته والي له مخې سرحدونه کولای شوله دوواړخونوډلنبدي کړو. یو داچې سرحد څنګه منځ ته راغلی ، دنژادي او فرهنګي ګروپونو په وېش باندې یې د تطبیق د درجې څرنګوالی څنګه دی.اوبل داچې دفزیکي پدېدو سره د سرحدورته والی او یانه ورته والی څنګه دی خو په عمومي ډول سرحدونه په دریو ډولونوویشل شویدي چې لومړی د وچې سرحدونه دي دویم بحري اودریم هوایي سرحدونه دي چې مونږاول دوچې په سرحدونو په تفصیلي ډول سره بحث کوؤ.

الف: هغه سرحدي کرښې چې په یوه سیمه کې دبشري ټولنوله مېشته کېدو څخه وړاندې کښل شوې وي ،دا ډول سرحدونه د سرحدونو غوره بېلګې ګڼل کېږي، ځکه کله چې ورو ورو او په تدریجي توګه انساني ټولنې ددې ډول سرحدونو په څنډو او لمنو کې مېشت کېږي،نوځانونه د سرحد د څرنګوالي اوقوانینو سره برابروي چې له همدې امله دا ډول سرحدونه هیڅ ډول ستونزې نه راولاړوي.غوره بېلګه یې دالاسکا (Alaska) اوکاناډا ( Canada ) تر منځ سرحد دی ،ځکه کله چې په( ۱۸۲۵- ۱۸۲۷زېږدیز )کلونو کې دروسانو او انګریزانو ترمنځ ددې کرښې دویستلو پرېکړه کېده هیڅا په دغو سیمو کې ژوند نه کولو ،دا ډول سرحدونه دانتي سیدنت (Anticedent )سرحدونو په نوم یادیږي.بله بېلګه یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دامريكادمتحده ايالاتو(U.S.A)اوكاناډا (Canada) تر منځ سرحد دى چې په( ۱۷۸۲-۱۸۴۲زېږديز )كلونوكې ټاكل شوي.

ب: هغه سرحدونه چې له وګړو څخه په ګڼو سيمو كې غزيدلي وي خو د سيمو كلتوري ارزښتونو ته پكې درناوى شوى وي چې داډول سرحدونه د سبسي كونت (Subsequent) په نوم يادېږي ددې ډول سرحدونوغوره بېلګې دزياتره اروپايي هېوادنوترمنځ ليدل كېږي اوبله بېلګه يې دهند او پاكستان له ازادي او وېش (۱۹۴۷زېږديز ) كال څخه وورسته د دواړو هېوادونو تر منځ سرحد دى.

ج: هغه سرحدونه چې ديوې سيمې داوسيدونكوكلتوري ارزښتونو ته ددرناوي پرته يواځې دنړيوال سياست په پايله كې كښل شوي وي چې ددې ډول كرښو په غزولو سره هغه وګړي چې ديوې ژبې، يوكلتوراويونژاد څخه وي اوكلونه كلونه يې يوله بل سره ديوكلتورپه درلودلو سره لكه دورونو په څېر ژوند كړى وي په بېلا بېلو هېوادونو پورې تړل كېږي چې د افريقايي هېوادونو تر منځ زياتره سرحدونه او د افغانستان په ختيځ او سهيل ختيځ كې د ديورند Durand سرحدي كرښه يې غوره بېلګې دي.[1]

طبيعي سرحدونه:هغه سرحدونه چې له فزيكي پديدو څخه په ګټې اخستنې سره



ټاكل كېږي اود طبيعي سرحدونو په نوم يادېږي.ددې ډول سرحدونو څخه ګټې اخستنې له ډېر پخوا څخه د هېوادونو په منځ كې رواج درلود. ددې ډول سرحدي كرښو دټاكلو اصلي لامل دادى چې د سرحدونو په نښه كولو او د

[1] دافغانستان سرحد ونه،دپوهندوى كريم الله ليكنه،۲۱او۲۲ مخونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



تثبیت پړاوونه یې په اسانۍ سره بشپړیږي، همدارنګه ددې ډول سرحدونو دفاعي ارزښت هر وخت اوبیا په ځانګړي ډول په پخوا وختونو کې زیات و. لیکن باید څرګنده شي چې دې ډول سرحدونو ته د طبعي سرحدونو اصطلاح ورکول ناسمه ده چې ګویا دا ډول سرحدونه په طبیعي بڼه رامنځته شوي او دبدلون وړ نه دي. ددې ډول سرحدونو اصلي رول داوي چې د دوه هېوادونو د قلمرو سیمې یو له بل څخه بېلوي او عادتاً ددې ډول سرحدونو د ګړو ترمنځ اړیکې او پیوستون کم لیدل کېږي. په دې ډول سرحدونو کې دوګړو د تېرید او راتېرید ولپاره یو یا څو ځانګړي معبرونه یاد تېربدو ځایونه ټاکل کېږي چې همدا معبرونه په اسانۍ سره دفاعي وړتیا هم لري. او په همدې ترتیب ددې ډول سرحدونو څارنه او کنترول د لږو لګښتونو په ګاللو سره کېږي دا ډول سرحدونه غوره او دوام لرونکي سرحدونه ګڼل کېږي ځکه چې سربېره پر دفاعي او نظامي ارزښت یې د نقشې پر مخ ددې ډول سرحدونو ټاکل او تثبیت اسانتیاوې لري. پر دې ټولو غوره والو سربېره کېدای شي دا ډول سرحدونه ځینې ستونزې هم ولري د بېلګې په توګه شونې ده چې د غرونو په درو کې ځینې وګړي استوګن وي هغه وخت چې دا ډول سرحدونه ددې فرهنګي او ټولنیزو مرکزونو څخه تېریږي کېدی شي چې ستونزې راولاړې کړي چې همدغو غرنیو وګړو ته د منلو وړ نه وي د بېلګې په توګه له چین (China) او هند (India) ترمنځ د تبت (Tibit) د سیمې او د همالیا د لړیو منځنۍ سرحدي کرښه (مکمهان) چې په ۱۹۱۴ (زېږدیز) کې تثبیت شوی وه لیکن هیڅ وخت په سیمه کې په نښه نه شو ه[1]



[1] د افغانستان سرحدونه، دپوهندوی کریم الله لیکنه، ۳۴-۲۴ مخونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



سمندري سرحدونه: د ګوتو په شمېر له څو هېوادونو څخه پرته چې په وچې کې راګېر دي د نړۍ زیاتره هېوادونه د سمندرونو او سمندرګیو سره د ګاونډیتوب له امله په بېلا بېلو واټنو سره د سمندري سرحدونو لرونکي دي .یا په بله ژبه د دغې هېوادونو یوه زیاته اندازه پراخه سیمه په سمندرونو کې هم وي، په سمندرونو دبرلاسۍ او حاکمیت څرنګوالی د وچو په پرتله توپیرلري، ځکه چې په سمندرونو کې انساني ټولنې د تل لپاره نه او سیږي. ولې همدا د سمندرونو څنډې دي چې سربېره له هغو کانونو څخه چې د سمندر په بستر او یا ساحلي برخو کې دي نورې اقتصادي سرچینې لکه: له سمندر څخه د کبانو تر لاسه کول هم په زیاته پیمانه په همدې سیمو کې لیدل کېږي.

افغانستان د ښه او مناسب جغرافیایي او ستراتیژیک موقعیت، لوړو غرونو ، پراخو جلګو ، شنو او ښایسته درو او څپاندو سیندونو په لرلو سره د تاریخ په اوږدو کې په منځنۍ اسیا کې غوره شهرت لرلی دی.

له یوې خوا یې د امناسب اقلیم او ښه جغرافیایي موقعیت او له بله پلوه یې د ښې آب وهوا او د کرنې لپاره د مناسبې خاورې په لرلو او په همدې توګه شمال څخه د جنوب او له ختیځ څخه د لویدیځ په لورې د تګ راتګ او د تګ راتګ په پایله کې د بېلا بېلو وګړو د کلتورونو د خلط کېدو او د لرغونو کرنیزو تمدنونو د راپیدا کېدو لامل ګرځیدلی.




د افغانستان په لرغوني خاوره کې بېلا بېل تمدنونه منځته راغلي چې د دغو بېلا بېلو تمدنونو د رامنځته کېدو

(c) ketabton.com: The Digital Library



۵

مرکزونه، سرحدونه او د قلمرو سیمې بېلابېلې وې، چې د بېلګې په توګه یې له نظره تېروو.

هغه توته ځمکه چې د پېړیو پېړیو څخه راپد پخوازمونږد نیکونو تروا کمنۍ لاندې وه اود حالاتو دژرندې اوتوندو توپانونو څخه په نني شکل اوبڼه مونږته راپاتې ده، دتاریخ په بېلابېلو پړاونوکې دبېلابېلو حدوداتو په لرلو سره په بېلابېلو نومونو یاده شوې ده.دغه توټه ځمکه دپخوانۍ آریانا څخه رانیولې ترباختر، خراسان، لوی افغانستان اوننني افغانستان پورې دسترو سترو مدنیتونو ټاټوبی او زانګو وه اوده اودډېرو سترو سترونوابغو، مشاهیرواوشخصیتونودروزنې او پالنې دویاړپه لرلوسربېره وخت ناوخت دبېلابېلوښکیلاکګرو او امپراطوریوله یرغلونو اوتېریو سره هم مخ شوې ده. په غالب ګمان آریایان هغه لومړنی قوم دی چې له دغې لارې (افغانستان) څخه هندوستان، دارو پاختیځې برخې اود نړۍ نورو برخو ته تللي او رسیدلي دي.له تاریخي پېښو څخه ښکاري چې دافغانستان پولې په دایمي ډول اوتلپاتې نه دي ځکه سیاسي بدلونونو، دیرغلګرو تاړاکونو، کورنیونا قراریو او قبېلوي ځانځانیو افغانستان په رازراز سیاسي محدودیتونو کې راښکیل کړی دی.

دپخوانیو نقشو او تاریخي اثارو په مرسته دهراړخیزې پلټنې دچاپ شویو او قلمي اسنادوله پرتله کولو څخه وروسته کولای شو ددغې جغرافیاوي ټوټې(لرغوني افغانستان) پولې له ډېرو پخوانیو تاریخي دورو څخه ترنن ورځې پورې په مستنده توګه په لاندې ډول تثبیت او وټاکو:

لرغوني افغانستان(آریانا ) پولې ( د ۷۰۰ تر۲۰۰ م ز پورې )

له ډېرو پخوازمانو څخه راپد پخوا افغانستان په مرکزي آسیا کې د کرنیز مدنیت ستر مرکز وو. دآمو او سیر[1] سیندونو دشتون له کبله نومړې سیمه، چې په

[1] دیو سیند نوم دی چی د تاجکستان، ازبکستان او قرغزستان په منځ کې بهیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شپاړسو(۱۲) حوزو مشتمله وه او داورال له شګلنو څخه دسند تر دلتا[1]،دسند له سيند څخه دهند ترسمندره او دهند دتارله دښتو څخه داوسني ايران دختيزو شګلنو پورې سيمې يې په خپله لمن کې رانغښتې،ډېره ښېرازه،حاصلخيزه او سمسوره وه.دپخواني باختر يابخدي لوړوبېرغونو اوددفاع کلکو استحکاماتو، چې دأم البلاد په نوم يادېده،دغه مدنيت ته لاشهرت وربښلی و.هغه وخت( د لرغوني آريانا په وخت کې ) د دغه مدنيت حدود په لاندې ډول وو:

شمالي سرحد يې د اورال جهيل[2]وو چې د آمو او سير سيندونو د پای له ټکي څخه پيل کېده، سويلي سرحد يې د عربو سمندرګی وو ،ختيزه پوله يې د سند سيند له ګلګت څخه دهند ترسمندرګي پورې وه،لويديزته يې د بلوچستان ولايتونه، سيستان او اوسني خراسان دايران سره ګډه پوله لرله اوشمال ختيځ ته يې دچين له ختيز ترکستان سره پوله لرله.[1]

ديونان باختري دورې پرمهال د لرغوني افغانستان پولې ( د ۳۳۲تر ۲۲۷م ز ) دميلاد څخه( ۳۳۲ )کاله مخکې مقدوني سکندر په دغې ځمکې يرغل وکړ او کابو ټوله يې لاندې کړه. دسکندر په يرغل سره ددغې سيمې په تاريخ کې يوه نوې پاڼه پرانستل شوه،دسيمې داوسيدونکو دژوندانه په هره برخه کې يولړبدلونونه رامنځته شول.دسکندر دراتګ څخه دمخه ددغې سيمې خلکو د آريايانو کلتوراودودونه خپل کړي ووخود سکندر په راتګ آريايې او يوناني کولتورونه سره ګډ شول او يو نوی کلتور رامنځته شو چې د يونان اوباختري کلتور په نوم

---

[1] دلتا:دسيندخوله يادسيندپه خوله کې درسوبي موادويوه سيمه چې دځمکې هواريدو اودسيندد څانګه کيدو سبب ګرځي.

[2] جهيل: ډېرې پراخې ولاړې اوبه دي چې په طبيعي حالت باندې دوچې په واسطه چاپېر شوي وي.

[1] اطلس تاريخي افغانستان،(محمد عتيق پاڅون، م.۱ او دتاريخ په اوږدو کې دافغانستان سرحدونه.اواداري ويش پوهاند غلام جيلاني عارض لېکنه م.۲۰ _۲۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



یادېده او دآریایې تمدن او کلتور په څېر یې دپرمختګ اوودې لوړ لوړ پړاونه یو په بل پسې ترشا پرېښودل.[۲]

په( ۲۲۷ ) مخ زېږدیز کال کې دیونان او باختر دخپلواک پادشاه له خوا یو ډول نظام رامنځته شو. دا نظام په اصل کې شاهي و خوددوو جرګو یا مجلسونو له خوا اداره کېده چې یوه جرګه یې د قومي مشرانو او شیخانو جرګه وه او بله یې ملي جرګه یا مجلس و.[۳]

د یونان و باختر په دوره او بیا په تېره ددمتریوس(۲۰۰—۱۲۰م ز) په دوره کې ددې خاورې ختیځ سرحدونه ترسند او دهندوستان شمالي برخو او دګنګا تر سواحلو ورسیدل ،نو ویلی شو چې ددې خاورې سیاسي سرحدونه د ایران له دښتو څخه تر ګنګا او له سیحون(سیرسند )او جیحون (اموسیند )څخه ترد هند سمندر پورې وغزیدل.

ددغې امپراطورۍ پولې هم د پخوا په څېر ټاکلې او مشخصې نه وي او کابو دهر واکمن په وخت کې د بدلون په حال کې وي،مګر بیا هم شمال ختیځ ته تر چین، ختیځ ته ترهندوستان، سویل ختیځ ته ترعرب سمندرګي، لویدیځ ته تر پرسیس او نننی مشهد ،شمال ته تر اکسوس یا آمو سیند او کاشغر تر غرونو پورې رسېدې.[۴]

ددغې امپراطورۍ پولې هم دپخوا په څېر ټاکلې او مشخصې نه وي اوکابو دهر واکمن په وخت کې دبدلون په حال کې وي.

---

[۲] دتاریخ په اوږدو کې دافغانستان سرحدونه. او اداري ویش پوهاند غلام جیلاني عارض لیکنه م. ۲۲

[۳] تاریخ افغانستان،( احمد علي کهزاد ،م. ۵۲

[۴] اطلس تاریخي افغانستان، محمد عتیق پاځون، م. ۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



۸

دخراسان پولې (د ۷۴۲ تر ۹۲۲ زیږدیز پورې)

کله چې د اسلام مبارک دین دغې سیمې ته راورسول شو او مسلمانان په دغه سیمه واکمن شول، نو ددغې سیمې او وګړو په تاریخ او دژوندانه په بېلابېلو اړخونو کې بنسټیز بدلونونه رامنځته او یو نوی تمدن (اسلامي تمدن) د پخوانیو تمدنونو لمن تر ډېره بریده ورټوله او محوه کړه. ددغو بدلونونو په ترڅ کې یو هم ددغې سیمې د نوم بدلېدل و، یانې ددغې سیمې نوم له آریانا او باختر څخه په خراسان واړول شو. داچې څه وخت پدغه سیمه دخراسان نوم کېښودل شو او کومې ځمکې یې په خپله لمنه کې رانغښتې وې، پدې هکله دتاریخپوهانو ترمنځ دنظر اختلاف شتون لري، خو دکره تاریخي اسنادو پربنسټ ویلای شو چې په لومړنیو اسلامي پېړیو کې ټولو هغو اسلامي ولایتونو ته، چې په ختیځ کې دلوت ددښتو او دسند حوزې ترمنځ پراته وه، دغه نوم استعمالیده او تر اتلسمې پېړۍ پورې په دغه نوم یادېدل. د نولسمې پېړۍ څخه وروسته د پېرنګي د لاسوهنو له امله د افغانستان په لویدیځ کې یوه برخه په ایران پورې وتړله شوه، چې دا سیمه تر نن ورځې پورې د ایران تر واکمنۍ لاندې ده او په همدغه نوم (خراسان) یادېږي.[1]

دتاریخي شواهدو پربنسټ باید وویل شي چې دخراسان سیمه په لومړنیو وختونو کې یوه محدوده او وړه سیمه وه خوو روسته یې په کراره کراره دآریایانو لومړني حدود په خپله لمن کې راونغاړل. دخراسان دخاورې پراخوالی او پولې په بېلابېلو تاریخي دوروکې (له ۵-مې مېلادي پېړۍ څخه تر ۱۸-مې مېلادي پېړۍ پورې) ثابتې او معلومې نه وې ځکه یو وخت به یې سیمه ډېره لویه او بل وخت به کوچنۍ وه، دبېلګې په توګه دغزنویانو او غوریانو په دورو کې دلرغوني افغانستان یا خراسان ځمکې ډېرې پراخه شوې. دغزنوي سلطان محمود په وخت کې دخراسان پراختیا دلوت له دښتو، اصفهان، عراق، همدان او طبرستان څخه نیولې په ختیځ

[1] دتاریخ په اوږدو کې دافغانستان سرحدونه او اداري ویش، پوهاند غلام جیلاني عارض لیکنه م. ۲۳ _ ۲۵

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې د ګنګا تر ساحل او شمال کې تر سیر سیند یا خوارزم او سویل کې تر بلوچستان او کاتیاوړ پورې امتداد درلود، یا په سیاسي وینا، د غزنوي سلطان محمود په وخت کې د خراسان پولې د لرغوني افغانستان یا آریانا اصلي پولو ته ورسېدلې او پخوانۍ آریانا، ماورالنهر او فرغانه یې په خپلو لمنو کې راونغښتل.[۲]

د یادولو وړ ده چې هغه مهال خراسان په دوو برخو یادېده، عام خراسان او خاص خراسان، د هندوکش (هندوکش) د غرونو څخه ښکته جنوبي سیمې، چې ختیزې سیمې، سویل او سویل لویدیز افغانستان، نننی پښتونستان او بلوچستان پکې شامل وو، د عام خراسان په نوم یادېده او د هندوکش د غرونو څخه بره خواته شمالي سیمې، چې لاندې څلور برخې یا ربعې یې لرلې، د خاص خراسان په نوم یادېده.

۱- د نیشاپور او شاریاخ ربع: په دغې ربعه کې نیشاپور، طوس، مشهد، همدان، اسهیق، سبزوار، جوین، جاجرم، اسقراین، استوا، کلات، سرخس ا څېنې نورې برخې شاملې وې.

۲- د مروې ربع: په دغې ربعه کې د مرغاب سیند، لویه مروه، خوارزم، جیحون او څېنې نورې برخې شاملې وې.

۳- د هرات ربع: په دغې ربعه کې د هرات ښار، د هریرود د پورته برخې ساحلي ښارونه، د شینډنډ ولایت، پوشنج، د بادغیس ولایت او ښارونه یې، غرجستان، غور، بامیان او څېنې نورې برخې شاملې وې.

۴- د بلخ ربع: په دغې ربعه کې فاریاب، شبرغان، انبار، اندخوی، تخارستان، خلم، سمنګان، اندراب، تالقان او څېنې نورې سیمې شاملې وې.

په ټول خاص خراسان کې پورته څلور برخې شاملې وې چې د هندوکش (هندوکش) د سویل تر څمکو، باباغره، فیروزغره او د هند تر سمندر پورې یې امتداد درلود.[۱]

---

[۲] ، اطلس تاریخي افغانستان، (محمد عتیق پاڅون لیکنه م. ۷

[۱] د تاریخ په اوږدو کې د افغانستان سرحدونه او اداري ویش د پوهاند غلام جیلاني عارض، لیکنه م. ۲۴

(c) ketabton.com: The Digital Library



له پنځمې میلادي پېړۍ څخه تر اتلسمې پېړۍ پورې که دافغانستان تاریخ ته وکتل شي نو وبه لیدل شي چې د مختلفو حکمرانانو دقدرت په اوږدوکې دهېواد اصلي حدود دهغوی د سیاسي حدودو سره یوشان نه وو ، دبېلګې په توګه دافغانستان سیاسي پولې یووخت د تارم (Tarim ) صحرا اوکاشغرترغرونو پورې رسېدلې وې، کله به هم په ترکستان او یاماورالنهر (داموسیند پورته خواوې لکه: تاجکستان، ازبکستان، اوترکمنستان )اوکله به هم په ایران کې او ځینې وخت به په هندوستان کې وې یانې دغزنویانو ، سلجوقیانو ، غوریانو او ځینو نورو په دوروکې افغانستان دګاونډیو هېوادونو سره په شمال او لویدیځ کې یو واحددولت و ،حال داچې ځینې وخت به یې د پردیو دکامیابېدوله کبله پولې کوچنۍ شوې او یا به تجزیه شو.۲

په لومړیو کې دخراسان نوم یوې کوچنۍ ټوټې ځمکې ته منسوب و او ورو ورو پکې نورې پراخې سیمې راګیرې شوې ، د افغانستان دشمال او شمال لویدیځ ولایتونه لکه تخارستان ( بدخشان او قطغن ) بلخ ( مزار شریف اومیمنه ) مرغاب، هرات، مرو ، طوس اونیشاپور د خاص خراسان په نوم یادیدل.

سربېره پر دې ځینې نورې سیمې یانې د هندوکش جنوبي سیمې یا د افغانستان ختیځې، جنوبي او جنوب لویدیځې سیمې اوسنۍ پښتونستان او بلوچستان هم په خراسان کې شاملې سیمې وې چې دا وروسته یادې شوې سیمې دعام خراسان په نوم پېژندل کېدې.


دعام او خاص خراسان د سرحدونو په شمال کې د خوارزم ( ماورالنهر او فرغانه ) جنوب خواته یې د هند سمندر ،ختیځ لورې ته یې سیند او جهلم او لویدیځ لورې ته یې د لوت دښته او کرمان پراته وو.

---

[۲] پورتنی اخځلیک ،م. ۹۲۴

(c) ketabton.com: The Digital Library






د هوتکیانو د واکمنۍ پولې (د ۱۷۰۹م تر ۱۷۳۷ زېږدیز پورې)

دېرې مودې څخه وروسته دافغانانو دخاورې د ۲۰۰ کلنې تجزیې او ګډوډۍ مرحله پای ته ورسېده او دافغانانو سره دروښانه راتلونکې هیلې پیدا شوې.په (۱۷۰۹) زېږدیز کال کې میرویس خان هوتک په کندهار کې د ایراني واکمنیو وروستنۍ پاتې شونې محوه کړې او په کندهار کې یې د افغان غلجیانو (هوتکیانو) مستقل حکومت رامنځته کړ. دمیرویس نیکه او دهغه څخه وروسته دشاه محمود هوتکي،شاه اشرف هوتکي اوشاه حسین هوتکي دواکمنیو پرمهال دافغانستان پولې شمال ته ترکابله، شمال ختیځ ته تر پېښوره، ختیځ ته ترملتانه، جنوب ته تر سنده اولویدیځ ته تر هراته پورې رسېدلې وې.دهوتکیانو په دولت کې اسماعیل خان ډېره،غازي خان ډېره، کوټه،کندهار، فراه او ځېنې نورې سیمې شاملې وې. [۳]

[۳] مرور کوتاهي بر تاریخ افغانستان و قضیه پشتونستان، (محمد عتییق پاڅون، لېکنه م. ۱۸


(c) ketabton.com: The Digital Library



۲

(د لوی افغانستان بنسټ ایښودنه او د ځمکنۍ پراختیا هلې ځلې)

په(۱۷۴۷زېږدیز) کال کې د ایران واکمن نادر افشار ووژل شو، دهغه د وژل کېدو څخه وروسته ۲۵ کلن احمد ته د کندهار ښار د شېرسرخ بابا په زیارت کې د بې برخلیکه او ټوټه ټوټه وګړو د چارو واګې وسپارل شوې. احمد شاه په خپل ځانګړي سیاسي درایت او پوهې سره په پیل کې د دغې سیمې خلکو ته د ملي هویت او پېژندنې په ورکولو سره په ملت جوړونه لاس پورې کړ، ټول لرا و بر پراته بېلا بېل ټبرونه یې د واحد افغان په ټغر سره راټول او کېنېنول او ورپسې یې د امپراطورۍ د حدودو په ټاکلو پیل وکړ. بابا دیوه امیرا و افغان امپراطور په توګه د خپلو لسو نظامي، ستراتیژیکو او برخلیک ټاکونکو سفرونو په ترڅ کې د افغانستان پولې د آریانا د پخوانۍ ځمکې تر کچې ورسولې او په خاورېنه کره یې د آسیا په زړه کې د دغو بې برخلیکه خلکو لپاره د افغانستان په نوم د اوسیدنې او پېژندنې یو ستر ټاټوبی جوړ او رامنځته کړ او افغان توغ یې پرې ورپاوه.



(c) ketabton.com: The Digital Library



٣

دلوی افغانستان بنسټ ایښودونکي، افغانانو ته دملي هویت وربښونکي او د افغانانو پلار اعلیحضرت احمد شاه بابا دډېر ستړي، ستومانه او خادم ژوندانه څخه وروسته دوفات پرمهال لوی افغانستان په لاندې پراختیا او سیاسي پولو سره خپلو راتلونکو نسلونو ته د مور او ناموس په څېر په میراث پرېښود:

له مروه او آمو څخه تر عرب سمندرګي، بلوچستان، سند، ګجرات او دډېلي شاوخوا سیمې یې تر کشمېر پورې په خپله لمن کې رانغښتلې، یانې شمالي پوله یې دآمو سیند، سویلي پوله یې عرب سمندرګی او د عمان خلیج، لوېدیځه پوله یې مشهد او کرمان او ختیځه پوله یې سرهند او د تبت د غرونو لړۍ وې.[٢]

بابا دخپلې امپراطورۍ دپراخولو، ساتلو او پرمختګ په موخه کابو لس ځله د هند، خراسان او شمالي سیمو په لور نظامي سفرونه وکړل چې ډېر ستړي شو او دهمدغې ستړیا له امله ناروغي ورپېښه او ترې وفات شو، خو دوفات پرمهال (١٧٧٣ زېږدیز) کال یې یوه پراخه امپراطوري په میراث پرېښوده چې په ختیځ کې تر سرهند، په لوېدیځ کې ترمشهد او سبزوار، په شمال کې د آمو تر سینداو په سویل کې تر عرب سمندرګي پورې رسېدله. دغه حدود چې پورته ذکر شول د اتلسمې پېړۍ په اوومه لسیزه کې د دراني امپراطورۍ حدود وو خوداټول افغانستان نه وو، بلکې پخپله احمد شاه بابا به د اباسیند څخه تر مشهده او د آمو سیند څخه تر عرب سمندرګي پورې سیمه افغانستان باله او نورې سیمې لکه کشمېر، پنجاب، سند، خراسان یې دافغانستان ملحقات ګڼل.[١]

---

[٢] دتاریخ په اوږدو کې دافغانستان سرحدونه اواداري ویش پوهاند غلام جیلاني عارض م. ٣٣

[١] د افغانستان پر معاصر تاریخ یوه لنډه کتنه د کاندید اکاډمیسن محمد ابراهیم عطایي لیکنه م. ٣٦ _ ٣٧

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴

د لوی افغانستان د پولو د نړیدو او بدلون بهیر

ددغې خاورې پراخوالی په بېلابېلو وختونواودوروکې دواک دخاوندانودتوان اودنړیوالې وضعې د څرنګوالي په ترڅ کې د تغیر او بدلون په حال کې وو.

دافغان ملي تاریخ لیکوال دیوه غربي تاریخپوه وګانکوفسکي دکتاب په حواله چې (دراني امپراطوري ) نومېږي،لیکي((دلوی افغانستان جوړیدل اود پولوټاکل داحمد شاه(بابا ) په واسطه په کال( ۱۷۶۱ )زېږدیزکې بشپړل شول.احمد شاه بابا په خپل ژوندانه کې ددوه میلیونه کېلومتره مربع (Km۲ ۲۰۰۰۰۰۰ )په مساحت افغانستان جوړ او راتلونکو نسلونو ته یې په میراث پرېښود.[۲]

احمدشاه بابا دغه ستره امپراطوري په اتو ولایتونو او پنځلسو اعلی حکومتونو وېشلې وه.

دبابا(دوفات څخه وروسته ددغې سترې امپراطورۍ دچارو واګې تیمور ته ورکړل شول.

تیمورشاه دداخلي توطیواوشورشونو په شنډولو ،ځېلواو دبې شمېره ښځواواولادونوپه اداره بوخت شواو دهېوادچارې یې په ډېرو نازکو حالاتوکې ترشا پرېښودلې او په سم ډول یې ترتیب او تنظیم نه کړې. تیمورشاه په خپله( ۲۱ ) کلنه واکمنۍ کې یوازې د داخلي توطیو اوځېنو باغي او بېلتون غوښتونکو پاڅونونو په ټکولو سربېره له پلاره ورپاتې امپراطوري وساتله او نور یې کوم پرمختګونه ونه کړل.

دتیمورڅخه وروسته دهغه ځوی شاه زمان واک ته ورسېد ،شاه زمان دوخت په سیاسي ګرداو کې ګېر شواو ویې نه شوای کړای چې ځان ددغه ګرداو له داخلي او خارجي اغېزو څخه په آمان کې وساتي. دغه وخت انګریزانو په شمالي هندکې پرهغو افغاني مقبوضاتودتسلط پروژې ترتیب اوطرحه کولې چې له احمدشاه بابااوتیمورشاه څخه شاه زمان ته په میراث پاتې وو او دتیمورشاه په مرګ سره

---

[۲] ، د افغان ملي تاریخ، د قدرت الله حداد فرهاد لیکنه م. ۴۰۴

(c) ketabton.com: The Digital Library



یې د بغاوت جنډې پورته کړې. پنجاب چې تل د سکهانو د پاڅونو مرکز وو د تیمورشاه له مرګ سره یوځل بیا پکې د بغاوت سرونه پورته شول. شاه زمان د هغو د تصفیې او ارامولو په موخه یو ستر پوځي پلان طرحه او چمتو کړ، خو دا چې دغه مهال پنجاب د انګریزانو د استعماري کړیو او پروژو د تطبیق ځای او مرکز ټاکل شوی وو، نو شاه زمان په سخت تشویش کې شو او په ځان کې یې د دې توان ونه لید چې د پنجاب په ضد کوم ګام پورته کړي ځکه هرلور ته چې به یې حرکت کاوه نو له بل لورې به پاڅونونه پیل کېده. شاه زمان په دام کې د ننبستي زمري په څېر هرلورې ته لاسونه اچول او هڅه یې کوله چې له نیکه څخه ورپاتې امپراطوري په اصلي او پخواني حالت ژوندۍ وساتي، خوله بده مرغه د انګلیسانو، ایراني واکمنانو او داخلي مخربو عناصرو د مخالفتونو او خنډونو له امله یې د دغې هیلې د عمل جامه وانه غوستله.[1]

د شاه زمان د واکمنۍ پرمهال انګلیسانو د افغانستان په هکله دوه ډوله سیاست طرحه کړی وو، په لومړۍ مرحله کې د دوی سیاست دفاعي وو، یانې یوازې د دې مخه یې نیوله چې افغانان په هند برید ونه کړي او په دویمه مرحله کې یې سیاست تعرضي بڼه خپلوله او غوښتل یې چې افغانستان په راتلونکې کې کمځواکه او حتی تجزیه کړي.[2]

شاه زمان څخه وروسته د شاه محمود د واکمنۍ پرمهال انګریزانو په افغانستان کې بربنډه او ښکاره لاسوهنه پیل کړه او خپل دفاعي سیاست ته یې تعرضي جنبه ورکړه او هڅه یې کوله چې د روسیې له خوا پر هند د احتمالي برید په وړاندې د افغانستان څخه د ډال او خنډ په حیث کار واخلي. همدارنګه انګریزانو له یوې خوا د سدوزیو او محمدزیو د کورنیو ځینې غړي په غېږ کې ونیول او په بېلابېلو

---

[1] د افغانستان پر معاصر تاریخ یوه لنډه کتنه د کاندید اکاډمیسن محمد ابراهیم عطایي لیکنه م ۴۴ _ ۴۵

[2] ، مداخلات خارجي در امور افغانستان، د اصحاب الدین سیدي لیکنه م ۹

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځایونو کې یې بغاوتونو او شورشونو ته هڅول او له بلې خوا یې ایرانیانو، هندوانو او سکهانو ته پر افغانستان باندې دیرغل لپاره مرستې ورکولې.

په(۱۸۰۲)زېږدیز کال د شمال ازبکان د آمو له سیند څخه راتېر شول، په(۱۸۰۳) زېږدیز کال کې د ایران قاجاریانو، د نادر افشار د کورنۍ څخه خراسان او مشهد ونیول پداسې حال کې چې نوموړې سیمې پخوا د افغان حکومت په امر اداره او کنټرول کېدلې.[3]

انګریزانو د افغانستان د اوږد مهاله لاندې کولو، تجزیې او په هند د روسیې یا فرانسې د برید د مخنیوي په موخه د لومړي ځل لپاره د(۱۸۰۹)زېږدیز کال د فبرورۍ په میاشت کې یانې د شاه شجاع د لومړنۍ واکمنۍ پرمهال د مونټ سټوارټ الفنسټون(Mount Stuart Elphinston) په مشرۍ د افغانانو ژمنې پلاز مېنې پېښور ته یو پلاوی راولېږه، د پلاوي هدف ظاهراً د افغان _ انګلیس د اړیکو پیل ښودل کېده خو په حقیقت کې د دغه پلاوی د سیمې د هر اړخیزې څېړنې او جاج اخستنې په موخه راغلی وو او په دغه ارتباط سره انګلیس وکولای شول چې له شاه شجاع سره د یو تړون په اساس په سیمه کې د نوک ځرخېدو ځای پیدا او د افغانستان په چاروکې لاسوهنه پیل کړي. دغه پلاوي په خپل ترکیب کې کابو څلورسوه تنه بېلابېل ملکي مامورین، انجینران، د سروې متخصصین، نظامي منصبداران، پلي او سپاره عسکر لرل.[1] الفنسټون له خپلو راغلو ملګرو سره سیمه په ډېر دقیق ډول وڅېړله او معلومات یې انګلستان او برطانوي هند ته ولېږل. الفنسټون چې په خپلو لیکنو کې اباسیند د هند او افغانستان ترمنځ طبیعي او سیاسي پوله بولې.

---

۳ ، د افغانستان معاصر تاریخ-لکچرنوټ، (د پوهنمل محمد ایمل حقمل لیکنه م. ۲۴

۱ د افغانستان پر معاصر تاریخ یوه لنډه کتنه، د کاندید اکاډمیسن محمد ابراهیم عطایي لیکنه م. ۵۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



شاه محمود ددویم ځل واکمنۍ پرمهال د پنجاب حاکم رنجیت سنګهـ پـه ملتـان برید وکړاو ملتان یې ترخپلې ولکې لاندې راوست.[۳] پـه کابل کې د سردار دوست محمد خان د حکومت پرمهال یاني هغه وخت چې پـه افغانستان کې مرکزي حکومت شتون نه درلود او هېواد د محمدزیو ورونو له خوا پـه ملک الطوایفي ډول اداره کېده، سند، بلوچستان او بهالپور محلي اداراتو تـه وسپارل شول.کشمیر او ډېره جات د پنجاب سکهانو ونیول.[۴]

پـه (۱۸۳۰) زېږدیز کال پېښور د رنجیت سنګهـ لـه خوا ونیول شو.[۵] بلوچستان د لومړۍ افغان ـ انګلیس جګړې څخه وروسته پـه (۱۸۴۳) زېږدیز کال کې د خان قلات د خیانت له امله د افغانستان څخه بېل او د انګلیس د نفوذ پـه سیمه کې شامل کړای شو چې وروسته انګلیسانو کاملاً د افغانستان څخه بېل کړ.[۶]

پـدې ترتیب د تیمورشاه دواکمنۍ څخه وروسته لـه یوې خوا د سدوزیانو ترمنځ واک تـه د رسېدو پـه خاطر خپل منځي اختلافات او بې اتفاقۍ اولـه بلې خوا د سدوزیانو او محمدزیانو د کورنیو تـرمنځ اختلافات او همدارنګه د محمدزیانو خپل منځي اختلافات د دې لامل شول چې د وخت ښکیلاکګر ځواک خپل انساني ضد کړه وړه ترسره کړي، او پـه پایله کې د بابا پـه وینو ګټل شوی ملي ناموس یاني (لوی افغانستان) دلاسه ولاړ، له ختیځ، لویدیځ، سوېل او شمال څخه راکوچنی او پـه وچې کې راښکیل هېواد ترې جوړ شو.

---

[۳] ، دو سوی خط دیورند:باتلاق تاریخ معاصر افغانستان، پاکستان و نیروهاي ناتو ،د غلام محمد محمدي لیکنه م. ۲۵

[۴] ، د افغانستان معاصر تاریخ-، پوهنمل محمد ایمل حقمل لیکنه م. ۳۳

[۵] محمد عتیق پاڅون، اطلس تاریخي افغانستان، (کابل: مرکز نشراتي ایمان، ۲۰۰۵)، م.ج

[۶] مرور کوتاهي بر تاریخ افغانستان و قضیه پشتونستان، د محمدعتییق پاڅون لیکنه م. ۳۰۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شاه زمان څخه وروسته د بابا(د امپراطورۍ کابو دولس لکه متره مربع ( ۱۲۰۰۰۰۰ Km۲ ) خاوره د نااهله اولادونو د نه پاملرنې، ناپوهۍ او خپل منځي سرتنبګیو له امله د افغانستان له تن څخه بېله او د دښمن پلیتو قدمونو ته پرېښود له شوه.[۷]

په لاندې جدول کې د احمد شاه بابا څخه د راپاتې دراني امپراطورۍ د تدریجي تجزیې او توټه کېدو بهیر ته نغوته کوو، یانې په ترتیب سره د هغو سیمو نومونو او د بېلتون کلونه ذکر کوو چې د شاه محمود د واکمنۍ څخه د امیرعبدالرحمن خان تر واکمنۍ پورې د افغانستان له تن څخه بېلې او په ګاونډیو هېوادونو یا سیمو پورې تړل شوې دي: ♠

| : دراني امپراطورۍ تدریجي تجزیه او د لوی افغانستان له اصلي وجود څخه بېلې کړای شوې سیمې | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ګڼه | بېل کړای شوی ایالت، ښار یا ځای | د بېلتون کال | د وخت واکمن | بېلونکی یا نیونکی |
| ۱ | د خراسان ایالت | ۱۸۰۳ | شاه محمود ابدالي | قاجاري ایران |
| ۲ | ابا سین تر څېرمه د اټک کلا | ۱۸۱۲ | شاه محمود ابدالي | د رنجت سنګهه په مشرۍ پنجابي سکان |
| ۳ | د ملتان ایالت | ۱۸۱۸ | شاه محمود ابدالي | د رنجت سنګهه په مشرۍ پنجابي سکان |
| ۴ | د کشمیر ایالت | ۱۸۱۹ | محمد عظیم خان محمدزی د کابل والي او ورونه يې | د رنجت سنګهه په مشرۍ پنجابي سکان |
| ۵ | غازي خان دیره | ۱۸۲۱ | محمد عظیم خان | د رنجت سنګهه په |

[۷]، د افغان ملي تاریخ، د قدرت الله حداد فرهاد لیکنه م. ۴۰۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| | | | محمدزی د کابل والي او ورونه یې | مشرۍ پنجابي سکان |
| ۶ | اسماعیل خان د یره | ۱۸۲۱ | محمد عظیم خان محمدزی د کابل والي او ورونه یې | د رنجت سنګهـ په مشرۍ پنجابي سکان |
| ۷ | د پېښور ایالت | ۱۸۳۰ | دوست محمد د کابل والي او ورونه یې | د رنجت سنګهـ په مشرۍ پنجابي سکان |
| ۸ | د سند ایالت | ۲۵-۱۸۴۳ | امیر دوست محمد | انګلیس |
| ۹ | د بلوچستان ایالت | ۵۴-۱۸۷۲ | امیر دوست محمد شېرعلي خان، افضل خان او محمد اعظم | انګلیس |
| ۱۰ | د خیبر، کرمې او بولان ستراتیژیکې درې | ۱۸۷۸ | امیر محمد یعقوب | انګلیس |
| ۱۱ | د کوژک او پیوار غاښې (کوتلونه) | ۱۸۷۸ | امیر محمد یعقوب | انګلیس |
| ۱۲ | د لنډي کوتل ښار | ۱۸۷۸ | امیر محمد یعقوب | انګلیس |
| ۱۳ | د شال، فوشنج او کوژک سیمې | ۱۸۷۸ | امیر محمد یعقوب | انګلیس |
| ۱۴ | د کوټې ښار | ۱۸۷۸ | امیر محمد یعقوب | انګلیس |
| ۱۵ | د سیبې او پېښین ښارونه | ۱۸۷۸ | امیر محمد یعقوب | انګلیس |
| ۱۶ | د سوات ایالت | ۱۸۹۳ | امیرعبدالرحمن | انګلیس |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۱۷ | د باجوړ ایالت | ۱۸۹۳ | امیرعبدالرحمن | انګلیس |
| ۱۸ | د چترال ایالت | ۱۸۹۳ | امیرعبدالرحمن | انګلیس |
| ۱۹ | د ارناوۍ، وزیرو، داورو او چاغۍ سیمې | ۱۸۹۳ | امیرعبدالرحمن | انګلیس |
| ۲۰ | د چمن ښار | ۱۸۹۳ | امیرعبدالرحمن | انګلیس |
| ۲۱ | د مروه ایالت | ۱۸۸۴ | امیرعبدالرحمن | تزاري روسیه |
| ۲۲ | د پنجدې ایالت | ۱۸۸۵ | امیرعبدالرحمن | تزاري روسیه |
| ۲۳ | د آق تپه، چمن بېد او چشمۀ سلیم ښارونه | ۱۸۸۵ | امیرعبدالرحمن | تزاري روسیه |
| ۲۴ | د آمو سیند شخه بره خواته د پامیر سیمه | ۱۸۹۵ | امیرعبدالرحمن | تزاري روسیه |
| ۲۵ | د سیستان ایالت لویه برخه | ۱۸۷۲ | امیر شېرعلي خان | ایران |

♠ په دې هکله دلاډېرو معلوماتو په خاطر په لمن لیک کې لېکل شویو کتابونو ته مراجعه وکړئ. ۱

[1] محمد عتیق پاڅون، اطلس تاریخي افغانستان، (کابل:مرکز نشراتي ایمان، ۲۰۰۵)، م. ۲۴

◄ ،مرور کوتاهي بر تاریخ افغانستان و قضیه پشتونستان د محمدعتییق پاڅون لېکنه م. ۲۹۹

◄ ،د افغان ملي تاریخ، د قدرت الله حداد فرهادلېکنه م. ۴۰۲

◄ د ډیورنډ تراژیدي))، ډیورنډ د واحد ملت د بېلتون کرښه، (محمد عتیق پاڅون، (لېکنه م. ۱۸۲

◄ ،دو سوی خط دیورند:باتلاق تاریخ معاصر افغانستان، پاکستان و نیروهاي ناتود غلام محمد محمدي لېکنه م. ۴۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲

د افغانستان او سنۍ پولې

کله چې په بېلا بېلو وختونو کې د افغانستان ځمکنۍ پراختیا ګورو او یاد اچې د افغانستان پولې څېړونو له هر افغان سره دوه ډول احساس پیدا کېږي.

• لومړی احساس چې هر رښتنی افغان پرې خوشحاله کېږي او روح یې پرې تازه کېږي هغه د ملي غرور احساس دی، ځکه هر کله چې یو افغان خپلې پخوانۍ ځمکنۍ پراختیاوې او لویې امپراطورۍ ګوري او د دغو امپراطوریو په لمنو کې بېلا بېل له ویاړه ډک او ځلیدلي مدنیتونه ګوري، چې حدود یې د آمو د سیند څخه تر عرب سمندرګي، د پنجدې، سیستان او اسلام کلا څخه تر سیر سیند پورې رسېدل او خپلو اکو ځواکمنو دولتونو پرې واکمني کوله او یاد اچې بلوچستان، اسماعیل خان د یره، کشمیر، ډیلی او سند زمونږ د امپراطوریو ملحقات وو، نو د هر افغان لپاره د ویاړ او خوښۍ ځای وي.

• دوه یم احساس چې د هر افغان لپاره د ژور خفګان سبب ګرځي هغه دا دی چې په اتلسمه زېږدیزه پېړۍ کې د دوو لویو ځواکمنو ګاونډیو هېوادونو (په ختیځ کې برتانوي هند او په شمال کې تزاري روسیې) ترمنځ زمونږ د هېواد موقعیت د دې لامل شو چې افغانستان د تېریو او سیاسي بریدونو ډګر وګرځي. افغانان او تاتوبی یې له انګریزانو سره د لومړۍ او دوه یمې جګړې په پایله کې ورو ورو کمزوری شول، د خاورې ځینې مهمې او ستراتیژیکې برخې یې د لاسه ورکړې او وروسته د روس او انګلیس ترمنځ د بفر یا حایل په بڼه رامنځته شو.

د افغانستان نننۍ پولې او سرحدي کرښې چې پر سیاسي نقشو ترسیم شوي کابو یوه پېړۍ وړاندې تثبیت او ټاکل شوي دي. د دغو پولو او کرښو په ټاکلو کې ګاونډیانو، انګلسي او روسي حکومتونو مستقیم لاس او مهم رول درلود.[1] د دغو لاسوهنو او مداخلاتو، چې په ټوله مانا د سیاسي موخو د ترلاسه کولو لپاره ترسره

---

[1] ((د ډیورنډ د موافقه لیک حقوقي ارزونه))، ډیورنډ د واحد ملت د بېلتون کرښه، پوهنوال دوکتور محمد عثمان روستار تره کی، لېکنه. ۱۱۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوي، د پولو او سرحدي کرښو په ټاکنه کې د سیمې د دولتونو، قومونو او حتی خلکو ترمنځ ډېرې سیاسي ستونزې رامنځته کړې دي.[۲] دلیکنې په دې برخه کې په ځښو هغو مطالبو لنډه رڼا اچوو چې د افغانستان د او سنیو پولو په ټاکنه او تثبیت کې یې په یو ډول نه یو ډول اغېزې لرلې دي.

د افغانستان د اوسنیو پولو جوړښت او ستونزې

د افغانستان په معاصر تاریخ کې د ډیپلوماتیکو تحولاتو په رابطه د افغانستان د اوسنیو پولو او سرحدي کرښو جوړښت او بدلون ډېر مهم خو په عین حال کې یو مغلق او پیچلی بحث دی چې د موضوع په اړوند د ډېرو سیاسي اسنادو، مذاکراتو او میثاقونو په استناد باید خبرې وشي. پدغه ځای کې به د موضوع د جریاناتو په توضیح بشپړه رڼا واچوو.

د افغانستان د اوسنیو پولو او سرحدي کرښو مسئله که څه هم د نولسمې پېړۍ له دوه یمې نیمایې څخه بیا کابو د شلمې پېړۍ تر دوه یمې نیمایې پورې وخت په برکې نیسي خو د موضوع د لا روښانتیا او دقیق تحلیل په موخه باید یو څه وخت وړاندې لاړ شو او د هماغه وخت څخه په موضوع تحلیل او ځېرنه پیل کړو.




افغانستان د بابا د امپراطورۍ له پیل سره، چې د اتلسمې پېړۍ د دوه یمې نیمایې سره سمون خوري، د یو سیاسي او ثابت کولتوري او رګانیزم په توګه شکل نیولی وو. بابا او د هغه مشاورین دغې نقطې ته په بشپړ دقت سره متوجې وو چې افغانستان باید د سیاسي بقا څښتن شي، هماغه وو چې بابا په خپل

---

[۲] ، د تاریخ په اوږدو کې د افغانستان سرحدونه او اداري ویش د ښاغلي پوهاند غلام جیلاني عارض لیکنه م. ۵۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټول ځواک سره هځه کوله چې د هېواد د پولو سیاسي جوړښت د کلتوري جوړښت سره په مطابقت او مناسبت کې وټاکي. احمد شاه بابا د اباسیند او آمو سیندونو ترمنځ سیمه افغانستان باله چې په همدغو حدودو کې یې پولې ټاکل کېدلې او نورې سیمې چې به یې فتح کولې هغه به یې د افغانستان د اقمارو په څېر ساتلې. د دغو سپوږمیانو یا اقمارو څخه به یې په سیاسي او اقتصادي لحاظ ډېره زیاته ګټه اخستله.[1]

دبابا تر وفات پورې د افغانستان پولې ډېرې پراخې وې خو وروسته چې د سدوزیو او محمدزیو د فتنو او فتور دوره پیل شوه، نو د سرحدونو مفهوم بېخې د منځه ولاړ. دوخت ستروځواکونو د شمال څخه روس د سویل څخه انګلیس او دلوېدیځ څخه قاجاري ایران کابو یوه پېړۍ په دې هڅه کې وو چې افغانستان وخوري، خو افغانستان د دوی دا ړتیاوو او خپل جغرافیوي موقعیت له مخې له منځه نه ولاړ.

روس او انګریز په خپلو منځو کې د ټکر د مخنیوي په خاطر پر افغانستان دبفر، حایل یا جدایي طرحه وتپله او اوسنۍ پولې او کرښې تر ډېره بریده د همدغه سیاست تر سیورې لاندې رامنځته شوې دې، چې په لاندې ډول یې په تفصیل سره څېړو:

د افغانستان شمال ختیزې پولې

په شمال ختیزه برخه کې افغانستان له پخوانۍ روسیې (نتني تاجکستان) او چین سره په داسې یوه سیمه کې ګډې پولې لري، چې د کال په اوږدو کې تقریباً همېشه تر واورو او کنګلو نو لاندې وي. دغه سیمې د پامیر او واخان کم بره منطقې دي. په دغه عنوان کې به لومړي د پامیر پوله او بیا له چین سره ګډه پوله تر څېړنې لاندې ونیسو.

---

[1] ، د افغانستان پر معاصر تاریخ یوه لنډه کتنه، دښاغلي کاندید اکاډمیسن محمد ابراهیم عطایي لیکنه م. ۲۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



الف - د پامیر یا واخان پوله:

دامیرشېرعلي خان دواکمنۍ په وخت کې د دغې پولې ټاکلو یا تعینولو ته څوک متوجه نه وو ،خو کله چې عبدالرحمن خان واک ته ورسېد نو د دغې پولې ټاکل او تعینول یې هم اړین وبلل، نوموړي په( ۱۸۸۲ )زیږدیز کال کې یادونه وکړه چې د خواجه صالح څخه تر پامیر پورې سرحدي کرښه باید وټاکل شي.په همدې کال روسي ځواکونو په پامیرکې پر افغان سرحدي ځواکونو برید وکړ،ټول یې ووژل او شمالي پامیر یې ونیو.په همدغه وخت کې د انګلیس د باندنیو چارو دوزیر روزیري او په لندن کې د روسیې د سفیرموسیودوستال ترمنځ خبرې روانې وې چې دا خبرې د پلاوي په ټاکلو پای ته ورسېدې.په دغه پلاوي کې د انګلیس له خوا جنرال جبرادا و توماس هولدېچ او د روسیې له خوا مونوکوسکي او بندیسکي وټاکل شول. پلاوي څېړنې پیل او نقشه یې چمتو کړه.همدارنګه سیمې ته یوګډ پلاوی هم ولېږل شو ،په دغه پلاوي کې د افغانستان څخه غلام محي الدین خان،د انګلیستان له لورې میجر جیرلو او د روسیې له خوا فیفروشویکوویسکي د خپلو ډلو مشري کوله.[1] د( ۱۸۹۵ )زیږدیز کال د مارچ په میاشت کې د انګلیستان د باندنیو چارو وزیر او د روسیې سفیر په هغه




پروتوکول لاسلیک وکړ چې له مخې یې لوی پامیر،د شغنان او روشان (د بدخشان ولسوالۍ دي)په ګډون،روسانو ته او کوچنی پامیر،د واخان له دهلیز او دروازه


---

[1] ، د تاریخ په اوږدو کې د افغانستان سرحدونه او اداري ویش د ښاغلي پوهاند غلام جیلاني عارض لیکنه م. ۷۳

افغانستان ته ورسېږد. دغه دهلیزچې ترچیني ترکستان پورې غزیدلی (۸۰–۱۰۰) کېلومتره اوږدوالی او (۱۳–۱۲) کېلومتره پلنوالی یا سور لري.[۲]

د پامیرسرحدي کرښه چې دافغانستان او تاجکستان ترمنځ ګډه پوله تشکېلوی، د ۹۰ کېلومتره اوږدوالي په لرلو سره دویکتوریا (زرکول) جهیل دختیزې اخرنۍ برخې څخه پیل اودلوړوځایونو څخه تر تېرېدا وروسته د یولې تر درې امتداد پیدا کوي.[۳]

ب - چین سره ګډه پوله: په(۱۹۴۹ )زېږدیز کال کې په چین کې کمونیستي انقلاب رامنځته او له امله یې د چین ولسي جمهوریت جوړ شو. دهمدغه کال د سیپټمبر په میاشت کې د افغانستان سره د ګډې پولې دټاکلو خبرې پیل شوې او په( ۱۹۵۷ )زېږدیز کال کې پرېکړه وشوه چې پوله باید دځمکې پرمخ تثبیت اوو ټاکل شي. باالاخره دافغانستان او چین ترمنځ ګډه پوله دیو لړ خبرو څخه وروسته د (۱۹۶۴) زېږدیز کال د اګست په میاشت کې رسماً ددواړولورو داستازو له خوا په فني ډول د ستنو په وسیله په نښه، تثبیت او وټاکله شوه.[۴] دا پوله د ۹۲ کېلو




---

[۲] افغانستان او د پامیر پر سر شخړه، ژباړن: محمد طاهر کانی، م. ۲۳۸

[۳] دتاریخ په اوږدو کې دافغانستان سرحدونه. او اداري ویش د پوهاند غلام جیلاني عارض، لیکنه م. ۷۳

او د جیوډیزي او کارتوګراف عمومي اداره، د افغانستان سیاسي او معلوماتي نقشه، (کابل: اداره، ۱۳۸۸)

[۴] افغانستان او د پامیر پر سر شخړه، ژباړن: محمد طاهر کانی، م. ۲۷۱

(c) ketabton.com: The Digital Library




متره اوږدوالي په لرلو سره د یولې له دري ځخه د قوس په بڼه پیل او د کلیک تر کوتل یا د واخجیر د کوتل تر سویل ختیزې برخې پورې غزیدلې ده، چې غرونه یې همېشه په واورو پټ وي.[۵]

شمالي پولې

افغانستان په شمال کې د خپلو دریو ګاونډیو هېوادونو سره دوه ګډې پولې لري چې یوه یې د امیرشېرعلي خان پوله او بله یې درجوي پوله ده.دا پولې نن ورځ د تاجکستان، ازبکستان او ترکمنستان سره د افغانستان د حاکمیت سیمې بېلوی چې هره یوه یې د امکان تر بریده بېله بېله څېړو:

الف ــ د امیر شېرعلي خان پوله: کله چې د انګلیس او روس ترمنځ د بفرپه طرحې هوکړه وشوه نو د افغانستان د شمالي پولو تعین او تثبیت ته یې جدي پاملرنه وکړه. د انګلستان له لورې د برتانوي هند د نوي ویسرای[۱] لارډ مایو د دفتریو سیاسي مامور دوګلاس فرسایټ ته دنده وسپارله شوه چې د امیر شېرعلي خان د ټولو تصرفاتو او واک لاندې سیمو نقشه ترتیب او چمتو کړي، نوموړي شخص د ډېرو څېړنو او کتنو څخه وروسته په لاندې ډول نقشه ترتیب او وړاندې کړه:




(د امیر شېرعلي خان شمالي سرحد دې د خواجه صالح څخه تر کرکي پورې د آمو د سیند په مسیر کې وټاکل شي چې په ختیځ کې تر پنځ سیند

---

[۵] د جیوډیزي او کارتوګراف عمومي اداره، د افغانستان سیاسي او معلوماتي نقشه، (کابل: اداره، ۱۳۸۸)

[۱] په هند کې د انګلیس لوی حکمران د ویسرای په نامه یادیده

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوواخان پورې داکرښه رسېږي اوبلخ، میمنې او اندخوي ښارونه يې بهترين ټکي دي اوداکرښه بايدلاندې خواته تر هرات پورې دا مسير تعقيب کړي. همدارنګه په ختيځه خوا کې دهندوکش تر لړيو او د پامير له قلات سره وتړله شي. )[2]
دغو خبرواوترتيباتو کابودوه کاله وخت ونيواو انګليس له روس څخه غوښتنه وکړه چې د خپلو نظرياتو مفصل راپور دې دبرتانيادباندنيو چاروو زارت ته وسپاري، خوروسي لورې ژرځواب ورنکړهماغه ووچې د انګليستان د سفير له لورې په سنپتربورګ کې دروسيې کابينې ته يو مکتوب وړاندې شو ،په مکتوب کې دافغانستان د شمالي پولو په هکله داسې ويل شوي وو:
۱: بدخشان او د هغه متعلقات په ختيځ کې د واخان له يوې برخې سره اودسرقول څخه ترکوکچې پورې چې له آمو سره اتصال پيدا کوي،شمالي پولې ټاکلې کېږي.
۲: افغاني ترکستان چې پرکندز، خلم اوبلخ مشتمل دي اوشمالي سرحد چې ددووسيندونو( آمواوکوکچې ) دجلاکېدوله برخې څخه ترخواجه صالح پورې چې داميرشېرعلي خان متصرفات دي او د آمو سيند پر کينه خوا سيمې چې د خواجه صالح څخه دې خواته واقع دی، هم د اميرشېرعلي خان په تصرف کې بلل کېږي.
۳: داخلي ولايات آقچې، سرپل، ميمنه، شبرغان او اندخوي چې داوروستی يې دشمال لويديځ سرحداخيري څنډه ګڼله کېږي دهغو ټولو بېدياوو سره چې دآزادوترکمنودقبايلوسره تعلق لري، اميرشېرعلي تصرفات بلل کېږي.
۴: د افغانستان په لويديځ کې هرات د هغه دمتعلقاتو سره چې قسماً دايران سره همسرحده دی،نښاني کولو ته اړتيا نه لري، ځکه هغه د امير وطن دی.
روسی لوری په پيل کې د مکتوب منلو ته چمتو نه ووخو وروسته ځينې داسې حالات رامنځته شول چې په خپل دريځ کې يې نرمښت راوست او په( ۱۸۷۳ زېږديز )کال کې يې ديومکتوب په ذريعه دانګليس له خوا جوړه شوې نقشه تاييد او ومنله اودافغانستان، انګليستان اوروسيې داستازوترمنځ يې اسنادلاسليک

[2] پورتنی اخځليک،م. ۴۱۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



او تبادله شول. د همدغې نېټې څخه راپدې خوا دا پوله د افغانستان او ګاونډيانو په اسنادو کې د امير شېرعلي خان د پولې په نوم ياده شوه.[۱]

د امير شېرعلي خان پوله کابو ۱۸۰۰ کيلو متره اوږدوالی لري چې له زرکول جهيل څخه پيل او د خم آب په سيمه کې پای ته رسېږي. دا پوله افغانستان له ننني تاجکستان او ازبکستان څخه بېلوي.[۲]

ب ـ د ريجوي پوله: کله چې عبدالرحمن خان په (۱۸۸۰) زېږديز کال کې واک ته ورسيد نو په دې هڅه کې شو چې د افغانستان شمال لويديځه پوله د روسيې سره پرځمکه تثبيت او معلومه کړي.[۳]

په (۱۸۸۴) زېږديز کال کې روسانو په مروه بريد وکړ او لاندې يې کړه، د روسانو په دغه وړاندې تګ سره ترټولو لومړی د هرات سيمه چې د هندوستان د کيلي حيثيت يې درلود، د روس له ګواښ سره مخ




---

[۱] ، د افغانستان پر معاصر تاريخ يوه لنډه کتنه، دبناغلي کانديد اکاډميسن محمد ابراهيم عطايي ليکنه م. ۴۱۷ ـ ۴۱۸

[۲] د جيوډيزي او کارتوګراف عمومي اداره، د افغانستان سياسي او معلوماتي نقشه، (کابل: اداره، ۱۳۸۸)

او دو سوی خط ديورند: باتلاق تاريخ معاصر افغانستان، پاکستان و نيروهاي ناتو، د غلام محمد محمدي ليکنه م. ۱۴

د تاريخ په اوږدو کې د افغانستان سرحدونه... ، ژباړن: ح. تراب، م. ۵۵

[۳] دو سوی خط ديورند: باتلاق تاريخ معاصر افغانستان، پاکستان و نيروهاي ناتو د غلام محمد محمدي، ليکنه ۱۴

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوه، پداسې حال کې چې ایران به پخوا هم د روس په لاربښونه د هرات د نیولو سوچونه او فکرونه کول تر څو انګریز له دغې ناحیې څخه تهدید کړي. په همدغه وخت کې روسانو یو بل پلان هم تر تطبیق لاندې ونیو یانې پنجده یې تر فشار لاندې ونیوله. انګریزانو په ډېر تلوار روسانو ته خبر ورکړ چې په دغه سیمه کې باید د پولو د ټاکلو کارونه ترسره شي.دوی موافقې ته ورسېدل، د(۱۸۸۴ )زېږدیز کال په وروستیو کې د انګلیس له خوا د کرنل ریجوي، د روسانو له خوا د جنرال زیلونوي او د افغانستان له خوا د قاضي سعدالدین خان په مشرۍ پلاوي سیمې ته راورسېدل، پدغه وخت کې روسانو د پنجدې د تصرف غوښتنه وکړه، خو انګریزانو ونه منله. روسانو د( ۱۸۸۵ )زېږدیز کال د مارچ په دېرشمه پر پنجدې بریدوکړ او کابو ۲۰۰۰ تنه افغان سرحدي ځواکونو د جنرال غوث الدین خان په مشرۍ د ژوند تر وروستۍ شیبې له خپل ناموس یانې خاورې څخه په مېړانه دفاع وکړه خو داچې له یوې خوا د افغان ځواکونو شمېر کم وو او له بلې خوا یې تجهیزات نه لرل، ټولو د شهادت جامونه وځښل او روسانو پنجده ونیوله.[۱] دغه وړاندې تګ د انګریز لپاره د خطر یو بل زنګ وو او انګلیس ډېر ورخطا شو، فوراً یې په لندن کې د روس له سفیر سره یو پنځه ماده ایز تړون لاسلیک کړ چې اصلي موضوع یې د افغانستان د شمال لویدیځې پولې د ټاکلو د کارپیل کول وو. روسانو موافقه وکړه او خپل پلاوی یې د کهولبرګ په مشرۍ سیمې ته ولېږه. د پولو په ټاکلو کې لومړی یوه اندازه اختلافات پیدا شول خو وروسته دا اختلافات حل شول او د( ۱۸۸۷ زېږدیز )کال د جولای په ۲۲ نېټه د پروتوکول وروستۍ کاپي د کرنل ریجوي او کرنل موسیوزینوف په وسیله لاسلیک شوه او ورپسې د( ۱۸۸۸

[۱] پوهاند غلام جیلاني عارض، د تاریخ په اوږدو کې د افغانستان سرحدونه... ، ژباړن: ح.تراب، (پېښور: ختیځ بیارغوني اداره، ۱۳۸۲)، م. ۵۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



زيږديز )کال د جولای په ۱۲ نېټه د دواړو لوريو له خوا د تاييد مهرونه پرې ولګېدل او سره تبادله شول.[۲]

دغه پوله چې د افغانستان او ترکمنستان ترمنځ واقع ده کابو **۵۴۰** کيلو متره اوږدوالی لري چې د خم آب څخه تر ذولفقار درې پورې د قوسي خط په بڼه تثبيت او تعين شوې ده.[۳]

لويديزې پولې

د سيستان سيمه چې د افغانستان په سويل لويديزکې پرته ده په بېلابېلو تاريخي دوروکې به کله د ايران تر لاس لاندې او کله به هم افغانستان اداره کوله. د احمد شاه دِ وخت څخه د نولسمې پېړۍ تر نيمايې پورې سيستان د افغانستان د خاورې يوه برخه وه، تردې چې د سربندي قبيلې مشرعلي خان د افغانستان سره خيانت وکړ او د خپلې قبيلې او سيمې سره يوځای ايران ته تسليم شو او د ايران تابعيت يې ومانه. سربېره پردې د سرحدي پولو ټاکنه او تثبيت هم اړين وو، خو د ځينو سرحدي ستونزو له امله ايران او افغانستان په دې ونه توانيدل چې کومې پرېکړې ته ورسېږي، نوله ناکامه يې د هندله ويسرای سره تماس ونيو او د افغانستان د سويل لويديزې او د ايران د سويل ختيځې پولې د ستونزې د حل په برخه کې د پرېکړې غوښتونکي شو.[۱]

الف - د ميکمهان پوله: د اسرحدي کرښه چې د افغانستان او ايران ترمنځ پوله مشخصوي، يوه لانجمنه او له ستونزو ډکه کرښه ده، ځکه د هلمند د سيند پر اوبو

---

[۲] کانديد اکاډميسن محمد ابراهيم عطايي، د افغانستان پر معاصر تاريخ يوه لنډه کتنه، (کابل: ميوند خپرندويه ټولنه، ۱۳۸۳)، م. **۴۲**

[۳] پوهاند غلام جيلاني عارض، د تاريخ په اوږدو کې د افغانستان سرحدونه... ، ژباړن: ح. تراب، (پېښور: ختيځ بيارغونې اداره، ۱۳۸۲)، م. **۵۲**

[۱] پوهاند غلام جيلاني عارض، د تاريخ په اوږدو کې د افغانستان سرحدونه... ، ژباړن: ح. تراب، (پېښور: ختيځ بيارغونې اداره، ۱۳۸۲)، م. ۷۰


(c) ketabton.com: The Digital Library



۲

چې تر دې او اخرو پورې جنجالونه روان وو ،نو دنو موړې سرحدي کرښې مسئله هم ورسره ګرمه او بحراني وه.

دامیر شېرعلي خان د واکمنۍ په دوه یمه دوره کې هغه ته د ایران له لورې تشویش پیدا شو ،نو پس له مفاهیمو یې حکمیت یا منځګړیتوب انګریز ته ورکړ چې هغه داوبو او پولې د ټاکنې په برخه کې خپل رول څرګند کړي.انګریزانو په(۱۸۷۲ )زېږدیزکال کې فریډریک ګولډ سمیټ ورته راواستاوه ،دافغانستان له خوا سید نورمحمد شاه د پلاوي مشري کوله او ایران له خوا د پلاوي مشر میرزا معصوم وو.نوموړي دري اړخیز پلاوي تر ډېرو خبرو وروسته پرېکړه وکړه چې په ټوله مانا دایران په ګټه او دافغانستان په زیان وه ،افغان لورې دا پرېکړه ونه منله اورد یې کړه.




په(۱۸۸۸ )زېږدیزکال کې ددویم ځل لپاره دامیرعبدالرحمن خان له خوا له انګریزانو څخه په دې مسئله کې د منځګړیتوب غوښتنه وشوه ،دا ځل دافغانستان له لورې جنرال غوث الدین خان ،دایران له لورې میرزاناظم الملک او څوی یې او دانګلیس له لورې په مشهد کې انګریز سفیر جنرال میک نیل د موضوع دحل لپاره وټاکل شول. دا ځل هم ګډه کمېسیون د ایراني لورې دمخالفت له امله په دې ونه توانید چې کومه پرېکړه وکړي.[۲]

[۲] د افغانستان پر معاصر تاریخ یوه لنډه کتنه کاندید اکاډمیسن محمد ابراهیم عطایي، لیکنه م. ۴۲۴

(c) ketabton.com: The Digital Library



په(۱۹۰۲)زیږدیز کال کې ایران او افغانستان بیا انګریزته د منځګړیتوب بلنه ورکړه، انګریز دا ځل میکمهان د ۱۵۰۰ انګلیسي او هندي عسکرو سره یوځای راولېږه، له افغان لورې ښخه آخندزاده نصیرالدولة او فقیرمحمد خان او د ایران له لورې عین النظام او معصوم خان پلاوي ته ورمعرفي شول. دغه ګډه پلاوي کابو دوه کاله او درې میاشتې په سیمه کې ګډې څېړنې وکړې او په پای کې یې خپله پرېکړه اعلان کړه، په پرېکړه لیک کې د کوه ملک سیاه چې د افغانستان په جنوب لویدیځه زاویه کې پروت دی او د سیاه کوه چې د هلمند د هامون په شمال غربي برخه کې موقعیت لري تر منځ وټاکل شوه.[۳] خو دا پرېکړه هم تر ډېره بریده یو لورې ته هم د منلو وړ نه وه ځکه اصلي ستونزه د هلمند د اوبو په وېش کې وه او کله چې د هلمند اوبه وېشلې شوي وای نو دا مسئله به هم په خپله حل شي وای. د میکمهان کرښه تر ډېر وخت پورې په نوساني حالت کې وه چې بالاخره د(۱۹۷۳) زیږدیز کال د مارچ په میاشت کې د لومړي وزیر موسی شفیق په سیاسي هلوځلو د ایران سره د هلمند د اوبو په وېش سره ارامه او ومنل شوه. سربېره پردې چې دا یوه لانجمنه پوله وه خو بیا هم د فخرالتایي د کرښې په تعین او تثبیت سره یې جنجال ډېر کم شو.[۱]

دا کرښه د افغانستان او ایران تر منځ ګډه پوله جوړوي چې کابو **۴۷۵** کیلو متره اوږدوالی لري.[۲]

---

[۳] پوهاند غلام جیلاني عارض، د تاریخ په اوږدو کې د افغانستان سرحدونه... ، ژباړن: ح.تراب، م. ۷۱


[۱] دو سوی خط دیورند: باتلاق تاریخ معاصر افغانستان، پاکستان و نیروهاي ناتو، دښاغلي غلام محمد محمدي لیکنه م. ۱۲

[۲] د جیوډیزي او کارتوګراف عمومي اداره، د افغانستان سیاسي او معلوماتي نقشه، (کابل: اداره، ۱۳۸۸)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ب - د فخري التاي پوله:څرنګه چې د میکمهان د سرحدي کرښې په کار نه افغانستان خوښ وو او نه هم ایران، نو دا ځل د ایران او افغانستان دولتونو په خپلو منځونو کې د ذولفقار د درې څخه تر تورغره پورې د ګډې پولې د ټاکلو په خاطر په(۱۹۳۳ )زېږدیز کال کې د ترکیې هېواد څخه د منځګړیتوب غوښتنه وکړه. د ترکیې هېواد دا غوښتنه ومنله او یو ماهر نظامي مهندس جنرال فخرالتاي یې ددو نورو مهندسانو هریوه بای کمال او الباې ضیا په ملتیا سیمې ته د څېړنو لپاره ولېږه.دا افغانستان له لوري ددغې پولې د ټاکلو لپاره جنرال عبدالرحیم خان ساپی او دا ایران له لوري یو دیپلومات مهدي فرخ ولېږل شول.




دغه ګډ پلاوي د میکمهان او ریجوې د پولو ترمنځ، په سیمه کې څېړنې پیل کړې او د ۱۴میاشتو څېړنو څخه وروسته یې په سیمه کې په نښه شوې سرحدي کرښه نقشې ته واړوله.دغه کرښه د تورغره څخه تر موشې آباد پورې او د هغه ځای څخه ترتومان آغا پورې، چې د ذالفقار د درې یا درجوې پولې له پیل سره لګېږي، پرته ده او د دواړو هېوادونو ترمنځ د موافقې څخه وروسته رسمي پوله وبلله شوه. [3] دا پوله ۴۵۰ کېلو متره اوږدوالی لري. [4]

---

[3] ، د افغانستان پر معاصر تاریخ یوه لنډه کتنه، دبناغلي کاندید اکاډمیسن محمد ابراهیم عطایي لیکنه. ۴۲۵

[4] پوهاند غلام جیلاني عارض، دتاریخ په اوږدو کې دافغانستان سرحدونه... ، ژباړن: ح.تراب، م. ۷۴

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۵
## د افغانستان ختیځ او جنوبي سرحد

مخکې له دې چې په ختیزه- سویلې کرښه وغږیږو ،لومړی د هغې د تپلو څخه په مخکینیو حالاتو او شرایطو لنډه رڼا اچوو.

د ګندمک توافق لیک :له امیر شیر علي خان څخه وروسته د هغه زوی امیر محمد یعقوب خان په لنډه مهاله څو میاشتني امارت کې (۱۸۷۹) زېږدیز کال چې دانګریزانو د مستقیم یرغل او کورني اړو دوړ په نتیجه کې زمونږ هېواد له یو سترکړکیچ سره مخامخ او د عصری ژوند بنسټونه او ټولې نښې نښانې له منځه ولاړې ،هېواد په کنډواله واوښت او بیا وروسته د امیر عبد الرحمن خان دواکمنۍ په وخت کې (۱۸۸۰-۱۹۰۱) زېږدیزکال کې د هېواد سیاسی ټولنیزه فضاډیره خړه پړه او حکومتي استبداد په ټوله معنا واکمنه وه ،نوموړي امیرخپل زیاتره مخالفین په یوه اوبله پلمه ووژل، یا یې د زندان توروخونو ته ولېږل او یا یې د هېواد دننه له یوې سیمې څخه بلې ته او یا یې له هېواد بهر ته قراراوجلا وطني کړل،نو دغسې څه د پاسه دوه لسیزې په هېواد کې کوم څرګند سیاسي خوځښت نه لیدل کېږی اونه دروښانه او مترقي افکارو د څرګندولو او خپراوي مناسبې لارې چارې موجودې وې.کله چې امیر محمد یعقوب خان واکمنۍ ته ورسید نو د خپل اقتدار په لومړۍ ورځ یې د هېواد او خپل واک انګلیسانو ته وسپاره او د خپل تاج او تخت د دوام لپاره یې د انګلیسانو سره ګندمک له شرمه ډک تړون لاسلیک کړ، پریعقوب خان ترهرڅا خپل خسرسردار یحی خان ډیراغېزمن واقع شو او پدې پسې منشي مختیار هم بد ابلیس نه و ،هغه هم په ټوکو ټکالو کې امیر ته سره اوزرغون باغونه وروښودل څو امیر یې د ګندمک سیمې ته ورساوه او هلته یې پرې تړون لاسلیک کړ.[1]

د ګندمک تړون په ۱۰ مادوکې د مۍ د میاشتې په ۲۶ نېټه (۱۸۷۹زېږدیز ـ۱۲۵۷المریز ) کال لاسلیک شو چې په دې سره د خورا مهمو غرونو لړۍ د کرمې نه

---

[1] دافغانستان پرمعاصرتاریخ لنډه کتنه،دښاغلي محمد ابراهیم عطایي لیکنه م۱۱۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ځاځیو تر پیله پورې، د خیبر دره د هفت چاه د ختیځې څنډې پورې، لنډي کوتل او پشین یې د کوژک تر غره پورې له لاسه ورکړل.
د ګندمک د معاهدې منځپانګه ښاغلي غلام محمد غبار داسې نقل کړې ده.
((دا ژمنپانه چې لاندې شرایط لري د برتانیې د حکومت او د افغانستان امیر والا حضرت محمد یعقوب خان او اړوندانو ترمنځ یې د سوله آیزو اړیکو او دوستۍ د ټینګښت لپاره وشوه.
۱ـ له هغې ورځې نه چې دا ژمنپانه د دواړو ډلو لخوا منل کېږي نو د برتانې د حکومت او د افغانستان د حضرت امیر، اړوندانو او د امیر نه وروسته ناستو کسانو ترمنځ به دایمي سوله او دوستي ټینګیږي.
۲ـ د افغانستان حضرت امیر او اړوندان یې ژمن دي چې د دې تړون له منلو وروسته د هغوی ټولو کسانو لپاره عمومي بښنه ده چاچې د انګلیس پوځ لپاره کار کړی، دوی چې په هره درجه او دنده کې وي د مجازاتو او زیان رسولو نه به په امن وي لکه سردار محمد ولي خان لاټی اونور.
۳ـ د افغانستان امیر او اړوندان یې ژمن دي چې د بهرنیو هېوادونو سره د اړیکو پروخت د برتانیې د حکومت سره په سلاکولو پابند وي او د دې حکومتونو سره ژمنه وکړي او پرضد یې وسله پورته نه کړي او د بهرنۍ حملې په صورت کې د دفاع لپاره نظامي مرسته وسله او انګلیسي روپۍ چې انګلیس یې څنګه مناسبه وګڼي ښايي استعمال شي. انګلیس پوځ به د دفاع د کار ترسرته رسولو وروسته د برتانیې نوي قلمرو ته ځي.
۴ـ د برتانیې حکومت او حضرت ترمنځ د نږدې اړیکو د ساتنې او هم د حضرت د مقبوضه سرحدونو د ساتنې لپاره به دواړه خواوې ژمنه کوي چې په کابل کې یو انګلیسي استازي د ساتونکو نظامي ډلې سره پخپله له د بدبې نه ډک کورکې مېشت شي او د یوې مهمې پېښې د پېښېدو په ترڅ کې برتانیه حق لري چې افغانستان پولو ته انګلیسي استازي او ساتونکي عسکر ولېږي په هغه اړین

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخت کې چې د دواړو خواو ګټې پکې ولېدل شي دافغانستان حضرت امیر هم کولای شي چې خپل استازي دګورنر جنرال په دربار کې مېشت کړي همدارنګه دهند په ټولو ځایونو کې چې د دواړو رضایت پکې وي.

**۵.** دانګلیس استازیو ساتنه دافغانستان دحضرت امیر او اړوندانو پورې اړه لري دانګلیس حکومت ژمن دی چې استازي یې د افغانستان په داخلي چارو کې لاسوهنه ونه کړي.

**۶.** دافغانستان حضرت امیر او اړوندان یې دخپلو اوله ده نه وروسته کسانو لخوا ژمن دي چې دانګلیسانو دتګ او راتګ لپاره په افغانستان کې ستونزې پیدانکړي ترڅو په امن سره تجارت وکړي.

**۷ــ** څرنګه چې ددواړولوریو ترمنځ تجارت پرلپسې جاري دي،نو دافغانستان حضرت امیرژمنه کوي چې دسوداګرو دساتنې او په عمومي لارو کې دتجارتي مالونو داساتنیاو په برخه کې ډېرې هڅې او دلارو په ساتنه کې کوښښ وکړي دسوداګرۍ دپراختیا دلارواو تجارتي مالیاتو دانتظام اونورو په برخه کې به دیوکال په اوږدو کې یو بل سوداګریز قرارداد ترسره شي.

**۸.** دتجارتي اړیکواوتګ راتګ لپاره دواړه لورې ژمن دي چې له کرمې نه تر کابله پورې چې دبرتانیې په لګښت دتلګراف یوه کرښه وکښل شي،دافغانستان امیر به یې ساتي.

**۹ــ** څرنګه چې ددې معاهدې سره ددواړو حکومتونو ترمنځ دوستي ټینګه شي،دبرتانیې حکومت دکندهار اوجلال اباد ښارونه اوهغه علاقدارۍ چې اوس دانګلیس قواو ترکنترول لاندې دي، پرېږدي او بېرته یې سپاري ،پرته له کرمې، پشین او سیبې (داړونده نقشې سره سم) نه چې دبرتانیې دواکمنۍ او انتظام لاندې دي، خو دانیونه دایمي نه ده اودداخلي کلیولګښتونو ترسپمونې وروسته به یې مالیې دافغانستان امیر ته ورکړل شي، دبرتانیې حکومت دمیچنۍ او خیبر انتظام چې دپېښوراوجلال اباد ترمنځ واقع دي.پخپل لاس کې نیسي

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدارنګه برتانیه به د قبایلو تګ راتګ چې د همدې دوو سیمو سره اړه لري په خپل لاس کې نیسي.

۱۰. د برتانیې حکومت حضرت ته د دې لپاره چې خپل روا اختیارات حاصل کړي، د مرستې لپاره د دې شرایطو د منلو په مقابل کې داژمنه کوي چې هر کال ۶۰۰ زره روپۍ هغه او د هغه ځای ناستو ته ورکړي. داژمنلیک د مۍ د میاشتې په (۲۶ مه ۱۸۷۹ زیږدیز ـ د جمادې الثاني ۴ مه ۱۲۹۶ هـ ق ) کې په ګندمک کې تر سره شو. داژمنلیک د جمعې په ورځ د (۱۸۷۹ زیږدیز) کال د مۍ په دېرشمه نېټه د هندوستان وایسرای او ګورنر جنرال لخوا تصدیق شو. د ګندمک معاهدې تر منلو وروسته انګلیسانو نورمحمد یعقوب خان ته اړتیا نلرله هغه یې د( ۱۸۷۹ زیږدیز ) کال د ډسمبر په لومړۍ نېټه ترخارنې لاندې د انګلیس د یوه جبره خوړونکې په توګه هند ته یوړه ترڅو هلته مړشو.[1]

د ډیورنډ د کرښې تاریخ

کله چې انګریزانو داومنله چې دوی په زورسره پر افغانانو حکومت نه شي کولای او نه د دوی یرغل پر افغانستان مثبتې پایلې لرلی شي نو له همدې امله یې د سیمې د ارامولو او د خپل اجتماعي شکست د مخنیوي لپاره بله د شیطانت لاره په کار واچوله چې د یوه سرحد په شکل د افغانستان د نفوذ مخنیوی وکړي په همدې خاطر یې سرهینري مورتیمر ډیورنډ د یو هییت په مشرۍ کابل ته واستوه چې هغه طرحه یا پلان په عبدالرحمن خان باندې په پټه او د بډو په واسطه لاسلیک کړي.

---

[1] د تاریخ په اوږدو کې د افغانستان سرحدونه او اداري ویش، د ښاغلي پوهاند غلام جیلاني عارض لیکنه ، ۵۹ـ۶۰ مخونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډیورنډ د زماني غاصب مامورو ،د دې غاصب دو کې له امله ولس دوه ټوټې شو.خو ولس دغه کرښه په دې څه د پاسه یوه پېړۍ کې هم هېڅکله و نه منله او س یې هم په هېڅ توګه څو که نه مني.[۱]

په (۱۸۹۳ زېږدیز ) کال کې انګریزي استعمارپرافغانستان باندې د ډیورنډ کرښه دبرتانوي هند او افغانستان تر منځ دافغانستان په زړه کې تحمیل کړه .چې په ملیونونو افغانان له افغانستان د سیاسي ،مدني ،بشري قوانینو او له خپل پلرني هېواد څخه په پښتونستان کې محرومه او بې برخې پاتې شول او افغانان ورونه سره بېل کړای شول.

ډیورنډ سرحدي کرښه:په (۱۸۹۳زېږدیز )کال کې انګریزي استعمار پر افغانستان باندې دډیورنډ کرښه د برتانوي هند او افغانستان ترمنځ د افغانستان په زړه کې تحمیل کړه .چې په ملیونونو افغانان د افغانستان له سیاسي ،مدني ،بشري قوانینو او له خپل پلرني هېواد څخه په پښتونستان کې محرومه او بې برخې پاتې شول او افغانان ورونه سره بېل کړای شول. ددغې کرښې په کښلو کې دغه سیمې لکه:دازادو قبایلو




[۱] د شلمې پېړۍ په لومړیو دریو لسیزو کې دافغانستان د سیاسي او فرهنګي بهیر څېړنه ،دښاغلي جان محمد پیغام لیکنه ۲۰۷مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



سيمې، وزيرستان، خيبر، پېښور، کوټه، سمندري لار ، بنو، سوات، چترال او داسې نور ښار ګوټي له افغانستان څخه د يوې مودې لپاره بېل کړای شول.
دغه کرښه چې نژدې(۲۴۳۰ )کيلو متره اوږدوالی لري انګريزانو له پيل څخه په دقيقه توګه نه ده ويستلې، دا کرښه د انګريز کلونيل(استعماري) سېستم د ساتلو لپاره په موقته توګه ويستل شوې وه ،دغه کرښه د برلين ديوال ،د سويلي او شمالي کوريا ګانو ،د کشمير بېلوونکې کرښې سره هيڅ نه پرتله کېږي، افغانانو له پيل څخه ترننه پورې د دغې کرښې قانوني خيال نه دی ساتلی او زمونږ د کوچيانو تګ راتګ په دوامداره توګه پدې کرښې جريان لري.
دا سيمې هيڅکله د برتانوي هند امپراطورۍ سره تړلې سيمې نه وې.د دې سيمو ټولې په لاس راوړنې او ماليات به تر ډېرې مودې پورې د انګريزانو له خوا د افغانستان شاهي دولت ته ورکول کېدل.
د دغې کرښې تړون د افغانستان امير عبدالرحمن خان او برتانوي هند د باندنيو چارو وزير Sir Mortimer Durand له خوا په ۱۲ نومبر(۱۸۹۳زېږديز) کال پس له دوو افغان او انګليس جګړو څخه د انګريز چل او فشار لاندې د لوی لوبې (The Great Game) په ترڅ کې پر امير عبدالرحمن خان باندې ور وتپل شو. افغانستان مجبور کړای شو چې يوازې دغه کرښه د نړۍ په نقشه کې په موقتي توګه ومني.
د افغانستان په شمال کې روسي ځواکونه د يرغل په حالت کې ولاړ وو. روسانو او انګريزانو د نړۍ نيولو او ويشلو تجربو سره په افغان پولو د تيارسۍ په حالت کې وو . روسان او انګريزان د افغانستان له ستراتيژيکې موقعيت څخه پوره خبر وو ، د لوی لوبې دواړه خواوې په دې پوهېدې چې په يوازې توګه ټول افغان ولس نشي کنترولولی.
په (۱۸۶۹ زيږديز ) کال د برلين په کنګره کې د سمارک په مشرۍ روسانو او انګريزانو خپلو ټولو خپل منځني اختلافاتو ،زبرځواکيو او سياليو ته د پای ټکی

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېښود. د انګریزانو په پرېکړه د افغانستان نیمايي به انګریز او نیمايي[1] برخې به روسان کنترول کړي. دا به د دواړو سیالیو امپریالستي هېوادونو په ګټه وي او هم به د افغانانو خاوره د دوی تر منځ یوه بېلوونکې سیمه (Buffer State) اعلان شي.[2][1]

| ګڼه | سرحدي کرښې | د ټاکلو نېټه ع | اوږدوالی | بڼه | پیل او پای | ټاکوونکي |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | امیرشېرعلي خان سرحدي کرښه | ۱۸۷۳ | ۱۲۰۰ | طبعي | ویکتوریا_خم اب | امیرشېرعلي خان |
| ۲ | دریجوي سرحدي کرښه | ۱۸۷۸ | ۵۴۰ | مصنوعي | خم اب_ذوالفقار | امیرعبدالرحمن خان |
| ۳ | دفخري سرحدي کرښه | ۱۹۳۵ | ۴۵۰ | مصنوعي | سیاه کوه_ذوالفقار | |
| ۴ | دډیورنډ سرحدي کرښه | ۱۸۹۳ | ۲۴۳۰ | طبعي | | امیرعبدالرحمن خان |
| ۵ | دمکماهن سرحدي کرښه | ۵_ ۱۹۰۳ | ۳۵۰ | مصنوعي | ملک سیاه_سیاه کوه | امیرشېرعلي خان |
| ۶ | شمال ختیزه سرحدي کرښه | ۱۹۲۴ | ۹۶ | طبعي،م صنوعي | | |
| ۷ | دپامیرسرحدي کرښه | ۱۸۹۵ | ۹۰ | طبعي | زرقول_یولې دره | امیرعبدالرحمن خان |

---

[1] دافغانستان سرحدونه، دپوهندوی کریم الله لیکنه، ۸۴ـ۸۲ مخونه

۲ یادونه دډیورنډ سرحدي کرښې په اړه زیات معلومات (دډیورنډ کرښه یا ناسور زخم) په نوم کتاب چې حبیب الله غمخور لیکلی او (دډیورنډ تړون د حقوقو او سیاست په تله کې) دښاغلي ډاکتر رحمت ربي زیارکار لیکنې وګورئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲

## اووم څپرکی

## د سیمې له هېوادونو سره د افغانستان سیاسي اړیکې

### د افغانستان بهرنی سیاست

کله چې زمونږ ګران هېواد د احمد شاه بابا په وخت کې د افغانستان په نوم سره ونومول شو ،له هغه وخته ( ۱۷۴۷ ) زېږدیز کاله د افغانستان په بهرنۍ کړنلاره کې دري ښکاره پړاوونه لیدل کېږي چې دا پړاوونه د افغانستان د ستونزو د اوارولو دلاس څنډونه رابښئ او بالاخیره افغاني بهرنۍ پالیسي ته مو پام رااړوي چې مونږ دا پړاوونه صرف په عنواني شکل ذکر کوو:

۱ــ د پراختیا غوښتني پړاوو: دا پړاوو د(۱۷۴۷زیږدیز کال نه شروع تر ۱۸۰۰زېږدیز ) کال پورې رسیږي پدې پړاوو کې د افغانستان سیاسي سرحدونه طبعي سرحدونه تعینیږي.

۲ــ د بهرني لاس وهنې پړاوو:دا پړاوو د(۱۸۰۰زېږدیز کال نه شروع تر ۱۸۸۰زېږدیز ) کال پورې رسیږي چې پدې پړاوو کې د ایران دلورې د پاریس،روسیې او برتانیې څخه علاوه د پنجاب پاڅیدونکو سک ځوانانو ته په غیرږ ورتګ وو.

۳ــــ د دفاعي ګوښه والي پړاوو:دا پړاوو د(۱۸۸۰زېږدیز کال نه شروع تر۱۹۰۱زېږدیز ) کال پورې دوام کوي. وروسته لدې کله چې شلمه پېړۍ شروع کېږي او په دې پېړۍ کې هغه سیاسي، مرکزي او محراقي نقطې چې دا پېړۍ یې د سیاست په میدان کې د توجووړ ګرځولې ده چې ترټولو مهم یې لومړي نړیواله، دوهمه نړیواله جګړه ، د جامعه ملل سازمان ،او د ملګرو ملتونو سازمان رامنځ ته کېدل، د سیاستوالو لېدني کتني،نظامي او ساحوي تړونونه دي.افغانستان پدې پېړۍ کې خپله پالیسي دلاندې نقطو په چارچوب کې عیاره کړې وه:

آلف: بطرفي له شرق او غرب سره عدم تعهد چې پدې مورد کې کولای شو دا یاداوري وکړو چې افغانستان د مثبتې بطرفۍ څخه په استفادې سره په( ۱۳۳۴المریز ) کال کې د اسیایې او افریقایې هېوادونو د باندونک په کنفرانس کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



عضویت درلوداوهم یې دبطرفه هېوادونوپه لاندې غونډوکې ګډون کړی دی، د(۱۹۶۱زېږدیز)کال دد سیمبرپه لومړۍ نېټه په بلګرادکې، (۱۹۶۴زېږدیز)کال اکتوبرپنځمه په قاهره کې د(۱۹۷۰زېږدیز)کال د سپتمبر۸مه په بوسکاکې ،د(۱۹۷۳زېږدیز)کال دد سمبرپنځمه په الجزایرکې، د(۱۹۸۲زېږدیز)کال داګست په ۲مه په کولمبوکې، (۱۹۸۹زېږدیز)کال سپتمبرپه ۲مه په هاواناکې اوهمدارنګه د(۱۹۸۳زېږدیز)کال دمارچ دمیاشتې په ۲مه نېټه دنوي ډهلي په غونډه کې ددې ټولوغونډو داعلامیوپه تکوین کې افغانستان مهم رول درلود .

ب: دخپل هېوادازادي ساتل

ج: داړیکوپراخول

د: په اقتصادي لحاظه په ځان متکي کېدل.

دپورتنیوڅلورونقطوڅخه ترټولومهمه ددې هېواددبطرفي ده چې تراوسه پورې یې ساتلې ده، ولې کوم وخت چې دبهرني سیاست دې برخې ته صدمه رسیدلې، دا دولت په زیاتومشکلاتوکې راګېرشوی دمثال په ډول کله چې افغانستان دروسانو ترتسلط لاندې په اتیایمه لسیزه کې راغی دبطرفۍ سیاست یې داغجن شونوترنن پورې کوم مشکلات چې افغانستان وربانديې ځوریږي، ددې وخت نه یې نشاءت موندلی دی ځکه پدې وخت کې دلویدیځ اودختیځ چاکران پیداشول، دګاونډیو لاس وهنې موجودي وي. هرڅومره چې دافغانستان سیاسي سرحدونه دلویواستعماري قدرتونوپه واسطه له بېنه وړل شوي اومخکنی سیاست ته یې صدمه رسیدلې، ولې بیاهم افغانستان دمهمومنطقوي هېوادونو خاصتاً همسایهٔ سره دوستانه اړیکې اودهغوی اتباعوته یې په احترام کتلي او په داخلي چاروکې یې لاس وهنه نه ده کړې اوس هم داسیاست پرمخ وړي. د افغانستان اوسنی بهرنی سیاست په لاندې نقاطوبانديې راڅرخي:ښه ګاونډیتوب، دیواسلامي هېوادپه حیث داسلامي هېوادونو په سازمان کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



عضويت، د ملګرو ملتونو په سازمان کې غړيتوب، له ټولو هېوادونو سره دوستان اړيکې او په نظامي تړونونو يا سازمانونو کې عدم عضويت.

سياسي او کنسلي نماينده ګۍ: څرنګه چې افغانستان د يو خپلواک دولت په حيث د نړۍ د زياتو هېوادونو سره سياسي اړيک لري. د دې جملې نه په ځينو کې سياسي نماينده ګي لري او په ځينو کې نه او خپلو ټول سياسي او غېرې سياسي ارتباطات او خارجي مسايل د همدې نماينده ګېو د لارې پرمخ وړي او هم د خپل هېواد او ملت د منافعو تحفظ او ساتنه د همدې نماينده ګېو په واسطه کوي. د دې په خاطر چې د افغانستان د هغو نماينده ګېو په مورد کې چې په خارج يې لري، ښه پوه شو د وضاحت په خاطر به لومړۍ د افغانستان په سياسي او غېرې سياسي نماينده ګېو باندې بحث وکړو :

آلف: سياسي نماينده ګۍ: لکه مخکې چې موترې يادونه وکړه افغانستان د زياترو هېوادونو سره سياسي اړيکې لري ولې د دې جملې نه په ځېنو کې مقېمې نماينده ګۍ لري او په ځېنو کې يې بيا نه لري چې په دې هېوادونو کې خپلې سياسي اړيکې د دې سره په څنګ کې په بل هغه هېواد کې چې نماينده ګې لري د هغې په واسطه يې پرمخ وړي نو د دې لپاره چې په موضوع باندې ښه پوه شو د افغانستان سياسي نماينده ګي به په دوه ډوله تقسيم کړو اول مقېمې او دوهم غېرې مقېمې کولای شو په ترتيب سره هريو يې په جلا توګه وڅېړو .

لومړۍ مقېمې سياسي نماينده ګي: افغانستان په لاندې هېوادونو کې مقېمې سياسي نماينده ګۍ لري چې د هرهېواد پلازمېنه يادوو: اسلام اباد ، تهران، رياض، دوشنبه، تاشکند ،ډاکا ،بېجينګ، نوی ډهلی، جاکارتا ، بغداد توکيو ، الماتا ،سويل، کويټ، کولالمپور ، مسکټ، انقره، عشقاباد ، ابوذوبئ، لندن، کېف، مادريد ، پاريس، روم، وارسا ،اوسلو ترېپولي، برلين، سويس، ويانا ، پراګ، کانبرا ، قاهره، اوتاوا ، سويزرلنډ ، واشنګټن، بروکسل چې پدې کې افغان سفيرپه

(c) ketabton.com: The Digital Library



اروپايي اتحاديه کې هم دافغاني هيئت په حيث کارکوي او همدارنگه په ملل متحد او يونسکو کې دائمي نماينده گي لري.

دوهم غېرې مقيمې سياسي نماينده گۍ: افغانستان دخپلو مالي او پرسونلي امکاناتو او يا هم د مسايلو د مطرحوالي په اساس په لاندې هېوادونو کې چې رسماً اړيکې ورسره لري ولې مقيمې سياسي نماينده گي نلري چې بيا پدې هېوادونو کې يې دسفارت چارې ددې سره په خواکې په کوم بل هېوادکې دافغان سفارت دلارې پرمخ وړل کېږي هغه په لاندې ډول دي:

ارجنټاين، برازيل، بوليويا، چلي، کولمبيا، اکوادور، مکسيکو، نيکاراگواى، يوروگواى، پانامه، ونزويلا چې پدې هېوادونو کې دسفارت چارې په واشنگټن کې دافغان سفارت لخوا پرمخ وړل کېږي. بېلا روس، جورجيا، او مالدف چې پدې هېوادونو کې دسفارت چارې په روسيه کې دافغان سفارت دلارې پرمخ وړل کېږي. بوسنيا، استونيا، لتويا، او سلواکيا پدې هېوادونو کې سفارت چارې په بروکسل کې دافغان سفارت لخوا پرمخ وړل کېږي، مراکو او پرتگال کې دسفارت چارې په پاريس کې دافغان سفارت لخوا پرمخ وړل کېږي. يونان کې دايټاليې په هېوادکې دافغان سفارت لخوا، په نيوزيلاند او بروني دارالسلام کې، په استراليا کې دافغان سفارت لخوا او همدارنگه په يمن کې دافغانستان دسفارت چارې په سعودي عربستان کې دافغان سفارت لخوا پرمخ وړل کېږي

ب: غېرې سياسي (کنسلي) نماينده گۍ: دافغانستان هېواد دځينو هېوادونو سره چې دسياسي اړيکو څخه علاوه پراخې مدني قضاياوې لري. ددې مسايلو د ترتيب او رسيده گي لپاره پدې هېوادونو کې غېرې سياسي نماينده گۍ يانې کنسلي نماينده گۍ لري چې کولاى شو هغې څخه په لاندې ډول سره يادونه وکړو.

۱ـ په پاکستان کې افغانستان درې کنسلي نماينده گۍ لري په کويټه، پېښور او کراچۍ کې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲ـ دا ايران په مشهد او زاهدان کې ۳ـ د قزاقستان د الماتا په ښار کې ۴ـ د تاجکستان د خارغ بدخشان په ښار کې ۵ـ د هند دبمبۍ په ښار کې ۶ـ د امريکا د متحده ايالاتو په نيويارک او لاس انجلس کې ۷ـ د ترکيې په استامبول کې ۸ـ د سعودي عربستان په جده کې او همدارنګه د هالنډ په مرکز کې.

په لومړۍ نړيواله جګړه کې دافغانستان دريځ

څرنګه چې د دې جګړې عمده دليل او عامل داروپا د استعماري هېوادونو د خپلې خاورې د پراختيا حرص او د مستعمرو په سرسيالۍ وې، خو په ظاهره کې دا تريش د شهزاده او شهزادګۍ وژل وو .دا جګړه د(۱۹۱۴زېږديز )کال د جولای په ۲۸مه پيل او د(۱۹۱۸زېږديز )کال د نوامبر په ۱۱مه پای ته ورسيده په دې جګړه کې المان،ترکيه ،اتريش،هنګري او بلغاريا يو طرف چې متحدين هم ورته ويل کېده او بل طرف ته انګلستان،فرانسه ،ايټاليا ، روسيه او دامريکا متحده ايالات وو چې متفقين ورته ويل کېده.

داچې په دې جګړه کې افغانستان څه دريځ غوره کړی و ؟ د دې سوال جواب په لنډو کې دا دی چې بطرفي يې غوره کړې وه خو په اوږدو کې به وو ايو چې کوم وخت په دې جګړه کې ترکيه چې د عثماني خلافت مرکز و.دالمان په طرفدارۍ دانګريزانو پر ضد جګړې ته داخله شوه د ترکيې ګډون په افغانستان کې سياسي حالات نور تازه کړل د(۱۹۱۴زېږديز )کال داګست په اتمه د هند وايسرا افغان واکمن امير حبيب الله خان ته يو ليک راواستوه په دې ليک کې يې ليکلي وو ،چې اتريش او هنګري په سربستان باندې غېرې حقه حمله کړې ده نو انګلستان د خپلو ګټو په نظر کې نېولو سره د فرانسې په طرفدارۍ جګړې ته داخل شوې ده،ده وغوښتل چې امير بايد بطرفي غوره کړي او د خپلو سرحداتو کلکه ساتنه وکړي هيڅ کوم بهرني هيئت ته د داخلېدو اجازه ورنکړي.

د دې نه وروسته امير حبيب الله خان د درباريانو او قبايلي مشرانو يوه غونډه جوړه کړه او د دې غونډې په ترڅ کې يې خپله بطرفي اعلان کړه خو بيا هم په دې وخت کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستونزي او داخلي مخالفتونه رامنځ ته شول ځکه یوخوا ددیني وروریاني ترکېه اوبل طرف ته دوست هېواد انګلستان و.پدې وخت کې د ترکیې خلیفه یولېک افغانستان ته راولېږه په لیک کې یې د امیر څخه وغوښتل شوچې د برتانیې پرضد جګړې ته داخل شي ولې امیر په ځواب کې ورته ولېکل چې دا جګړه مذهبي نده او داسې کوم دلیل نشته چې افغانان دې د برتانیې پرضد جګړې ته ورداخل شي. دامیر ډېر درباریان دامیرخلاف شول چې په رائس کې یې سردار نصرالله خان ،عنایت الله خان، سردارعبدالقدوس خان، محمود طرزي او د حبیبیه لیسې استادانو چې اکثره یې دهند دعلي ګړ دپوهنتون مسلمان فارغ التحصلان وو. اوپدې وخت کې داتریش اوالمان هیئتونه هم افغانستان ته راغلل.[۱]

ددوهم نړیوال جنګ په دوران کې دافغانستان دریځ

دوهم نړیوال جنګ چې په( **۱۹۳۹** زېږدیز) کال کې شروع شوی او په( **۱۹۴۵** زېږدیز)کال کې پای ته ورسید. ددې جنګ لمبې چې له اروپا څخه اوچتې شوې وې ډېر ژر اسیا او دنړۍ نورو برخو ته خپرې شوې.ددې جنګ دوه طرفونه د محوري اومتحدینو په نامه یادیدل چې په محوري کې المان ،ایټالیا ،جاپان اودختیځې اروپا واړه هېوادونه شامل و.اوپه متحدینو کې انګلستان، فرانسه، شوروي، د امریکا متحدایالت او یو شمېر نوراروپایي هېوادونه شامل ؤ.

دا یوخطرناک جنګ و ،هغه هېوادونه چې په مستقیم ډول پکې شامل و ډېرزیات ځاني او مالي تاوانونه ورته ورسیدل او هغه هېوادونه چې هیڅ پکې شامل نه و هغه هم بې زخمه پاتې نه شول داکثروملي حاکېمیت خراب او داخلي امنیت خراب شو.ددې جنګ په دوران کې ترافغانستان دشمال اوجنوب اوختیځ له لورې

---

۱ دافغانستان پرمعاصر تاریخ یوه لنډه کتنه،دکاندیداکاډمیسن محمد ابراهمی عطایې لیکنه،۱۲۱مخ

۲ دلومړۍ نړیوالې جګړې په اړه زیات معلومات د(لومړۍ نړیواله جګړه)لیکوال:سید محمد فضل الله بخاري کتاب وګورئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



۸

متحدین (روسیه او برتانیه) او دلو دیځ له لوري ایران وربانديې راچاپیره و پدې وخت کې دافغانستان باچا محمد ظاهر شاه او محمد هاشم خان صدراعظم ؤ. محمد هاشم خان په ډېر لوی تدبیرنه یوازې افغانستان دجنګ له لمبو څخه وساته او وطن ته یې زیان ونه رسیده دااقتصاد لپاره یې هم ډالرو سپما وکړه دجنګ په پیل کې د( ۱۹۳۹ زېږدیز ) کال دډ سمبر په شپږمه په باچاهي فرمان سره په جنګ کې افغانستان بې طرفي اعلان کړ.

کله چې جنګ زور واخیست او دمحوري طرف قواوې دختیځې اروپا له لارې دشوروي خاورې ته داخلې شوې پدې وخت کې محوري هېوادونو دکامیابۍ لپاره داضروري وه چې دافغانستان مرسته ترلاسه کړي څکه افغانستان دمحوري ځواکونو هند او روسیې ته درسیدو لپاره ښه دروازه وه. هغوی غوښتل چې افغانستان هم لکه ایران خپله پایګاه جوړه کړي.د(۱۹۴۱ زېږدیز ) کال دجولاي په ۲۸ مه افغانستان یو ځل بیا خپله بې طرفي تائید کړه. په دې پسې د همدغه کال په نومبر کې لویه جرګه راوغوښتل شوه او دجرګې په ترڅ کې افغانستان په جدي توګه بې طرفي اعلان کړه.څرنګه چې په دې وخت کې دافغانستان په مختلفو پروژو کې یو شمېر الماني او ایټالوي انجېنران اوکارپوهانوکارونه کول پدې باب روسي او انګلستان تشویش درلود ،روسي د( ۱۹۴۱ زېږدیز )کال په اکتوبر کې او برتانیې افغانستان ته یاداښتونه ورکړل چې دا کارکوونکي وباسي افغان حکومت په دې شرط چې برتانیه به یو بې طرفه هېواد ته ددې کارکوونکو دتللو لپاره به په خپلو سیمو کې دتېریدلو اجازه ورکوي.برتانیې حکومت دافغان حکومت داغوښتنه ومنله هغوی ته یې اجازه او لیکلی ضمانت ورکړ چې پدې حساب افغان حکومت دجرمني نه داوغوښته چې ددوی مجبوریت ومني چې داسې نه افغانستان دایران غوندې برخلیک سره مخامخ شي،ده داژمنه هم وکړه چې ددې کارکوونکو دلارې مصرف به هم افغان حکومت ورکړي.پرېکړه وشوه چې دمحوري هېوادو اتباع به دپېښور دلارې کراچۍ ،بصرې او له هغه ځایه ترکیې

(c) ketabton.com: The Digital Library




ته ورسول شي، د دې هئیت د ایستلو کار پیل شو د اهئیت ۱۸۰ کسه جرمني او ۸ کسه ایټالوي ؤ. په دوه کاروانونو کې چې لس بسونه او په سامان آلاتو بار د پرش لارۍ وې د اکتو بر په د پرشمه او یو د پرشمه له کابل څخه ووتل. وتونکو هریو ته ۲۵۰ هندی روپۍ او د ۲۷ کیلو سامان اجازه ورکړه، له وتونکو نه هغه کسان چې د کار کولو تړونونه یې درلودل د افغان حکومت لخوا ورته ښه سوغاتو نه ورکړل شول.

لکه مخکې چې موو ویل هغه هېوادونه چې پدې جګړه کې داخیل هم نه وو ولې بې زخمه پاتې نه شول افغانستان چې په مکمل ډول بې طرفه وو، ولې د جنګ سنګینۍ پرې راپریوې یو شمېر امنیتي ستونزې یې داخل کې رامخ ته کړې خو مد برصد راعظم محمد هاشم خان چې په عیني زمان کې یو مستبد شخص وو په جدي توګه د افغانستان او ضاع نورماله وساتله او د هغه وخت د شرائطو سره مطابق د محمد هاشم خان کار د هرډول ستاینې وړ وو.[1]

د افغا نستان او پاکستان سیاسي اړیکې

د برتانیا له لورې د هند د اشغال څخه وروسته د لاهور معاهده په (۱۸۳۱ زېږدیز) کال کې د ګندمک معاهده په (۱۸۷۹ زېږدیز) کال او د ډیورند معاهده په (۱۸۹۳ زېږدیز) کال کې د افغانستان هند او بریتانیا د واکمنانو ترمنځ لاسلیک شوي چې د دې معاهدو په اساس د افغانستان یوه




---

[1] د افغانستان پرمعاصرتاریخ یوه لنډه کتنه، کاندیداکاډمیسن محمد ابراهیم عطایي، لیکنه ۲۳۸مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



برخه خاوره دبرتانوي هند تر واک لاندې راغله. امان الله خان له ازادۍ وروسته په( ۱۹۱۹زېږديز )کال کې زياتې هڅې وکړې ترڅو دا خاوره بېرته تر لاسه کړي ولې بريالي نشو.په (۱۹۴۷زېږديز )کال کې کله چې هند خپله آزادي واخيستله او په دوه هېوادو هنداو پاکستان باندې وويشل شو دافغانستان دهغه وخت حکومت چې په سر کې يې شاه محمود خان و ،له ځان څخه کوم عکس العمل ونه ښود چې داحالت دخلکودنيوکولامل وګرځيد ،چې بالاخره دافغانستان حکومت په دې باندې مجبور کړای شو چې يو رسمي يادداشت په ( ۱۹۴۷زېږديز )کال کې دجون په ۱۳ د پښتنودبرخليک په هکله چې د ډيورند دکرښې دواړه غاړو ته پراته و ،په کابل کې دبرتانيا سفارت ته وړاندې کړي دا هغه وخت و ،چې کار دې ځای ته رسيدلی و چې د افغانستان ددې دعوې څېړل د بريتانيا لپاره نا شونې و ،او همداسې د پاکستان لپاره د منلو وړ نه وه.

په (۱۹۴۷زېږديز )کال کې دد سپتمبر په ۳۰ نېټه افغانستان دپاکستان دغړيتوب په هکله دملل متحد په سازمان کې منفي رايه ورکړه چې داکار د دواړه هېوادونو ترمنځ د بدبينۍ د زياتوالي لامل وګرځيد.

د(۱۳۲۶\۱۲\۱المريز )کال داعلامې په بنسټ ددواړوهېوادواړيکې دسياسي نمايندګيو په جوړولو سره د سفيرانو کچې ته ورسيدلې اما د دواړو هېوادو اړيکې د تل لپاره ناسمې وې لکه څنګه چې په کال(۱۳۴۲المريز) د افغانستان دوخت حکومت د پاکستان په لوردمصادرې امر صادر کړ اما د يو شمېرهېوادو په منځګړېتوب سره د جګړې خطر له منځه لاړ.

په (۱۹۴۹زېږديز )کال دمارچ په مياشت کې دپاکستان حکومت قبايلي سيمې دپاکستان څخه نه بېليدونکې وشمېرلې چې داکارد دواړو هېوادو تر منځ د ترينګلتيا لامل وګرځيد وروسته له هغې څخه د همدې کال د جون په مياشت کې دپاکستان الوتکو دپکتيا په ولايت کې يو کلی بمبارد کړ چې دا کار د دواړو هېوادو په منځ کې حالات نور هم خراب کړل اودافغانستان ملي شورا په

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۱۹۴۹زېږدیز )کال د جولاي په ۲۲ پخواني تړونونه له هغې جملې څخه د ډیورند معاهده هم لغوه اعلان کړه.
تر(۱۹۵۸زېږدیز )کال پورې په پاکستان کې د کم وخت حکومتونه دیوبل پسې واک ته ورسیدل چې دا حکومتونو په تدریج سره انګلستان او امریکا ته متمایله و او په پایله کې په نظامي او سیاسي پیمانونو(لکه سیاتو او سنتو )کې غړیتوب ترلاسه کړ او د سیاتو تړون په کال(۱۹۵۲زېږدیز )د دیورنډ کرښه د افغانستان او پاکستان ترمنځ د سرحد په توګه په رسمیت وپېژندله.
وروسته د اړیکو د یو څه ښه والي څخه د پاکستان ګورنر جنران سکندر مرزا په (۱۹۵۲زېږدیز )کال کې کابل ته سفر وکړ چې په مقابل کې محمد داود خان په(۱۹۵۲زېږدیز )کال د نومبر په ۲۴ نېټه کراچۍ ته سفر وکړ، د پاکستان د چارواکو سره یې بحث او خبرې اترې وکړې.
په (۱۹۶۲زېږدیز )کال محمد ایوب د پاکستان ریس جمهور کابل ته سفر وکړ او د افغاني چارواکو سره یې د اړیکو د ښه والي په اړه خبرې اترې وکړې په (۱۹۶۲زېږدیز ) کال د اګست په لومړۍ نېټه دریل د پټلۍ قرارداد چې د چمن څخه تر سپین بولدک پورې غزیده د عبدالوهاب حیدر د افغانستان د پلان د وزارت معاون او معین الدین د پاکستان د اورګاډي د پټلۍ د کمیشنر له خوا لاسلیک شو.
د ثور د کودتا څخه وروسته پاکستان خپل ملاتړ په افغانستان کې د خلق دیموکراتیک د حکومت د مخالفینو یانې د افغانستان د مجاهدینو سره اعلان کړ او د افغانستان د حکومت سره یې اړیکې سړې شوې په داسې حال کې چې د پاکستان سفارت په کابل کې فعاله و، ولې بیا هم اړیکې ورځ تربلې خرابېدلې که څه هم د(۱۳۵۸لمریز )کال په بهیر کښې شاه محمد دوست د افغانستان د هغه وخت د حکومت د بهرنیو چارو وزیر د اسلام آباد څخه لېدنه وکړه او ډېره هڅه یې وکړه ترڅو آغا شاهي د جنرال ضیاءالحق سیاسي مشاور د کابل څخه لېدنه وکړي ولې پاکستاني چارواکي د دې کار څخه تېرشول او د دې په ځای یې خپل ملاتړ د

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲
افغانستان مجاهدینو څخه چې دهغه وخت دحکومت په وړاندې جنګیدل اعلان کړ اودهغوی سره یې نظامي کومکونه کول.
په افغانستان کې دمجاهدینو دبریالیتوب څخه وروسته دافغانستان اوپاکستان ترمنځ یوڅه قراردادونه چې یوهم عملي نشولاسلیک شو.په(۱۳۷۱المریز)کال دمیزان په ۵نېټه دافغانستان لوړپوړي هیات دوخت دریس جمهوربرهان الدین رباني په مشرۍ دپاکستان دجمهور ریس اولومړي وزیرپه غوښتنه پاکستان ته سفروکړ اودوا ړیکودښه والي په هکله ددواړوهېوادوترمنځ خبرې اترې وشوې. او وروسته له دې څخه پاکستان دهغو هېوادونو څخه و چې دطالبانو په منځته راتګ کې رول درلود اوهغوی یې په رسمیت پېژندلي و او دمؤقتې ادارې څخه وروسته دافغانستان سفارت په اسلام آباد اوجنرال قونسلګرۍ په پېښور، کوټه، اوکراچۍ کې له سره پرانستل شوې اوهمداسې دپاکستان سفارت په کابل کې وروسته دیوې لنډې مودې څخه فعاله کړای شواوخپلې قونسلګرۍ یې په مزارشریف،قندهار اوننګرهارکې پرانستلې.
په (۲۰۰۳زېږدیز) کال ددسمبرپه ۲۲نېټه پاکستان اودافغانستان دنورو ګاونډیو هېوادو لخوا څخه دښه ګاونډیتوب اعلامیه په کابل کې امضاکړای شوه په (۲۰۰۳زېږدیز) کال داګست په ۲۲نېټه دپاکستان دبهرنیو چارو وزیر میر ظفرالله جمالي کابل ته راغی اودافغاني چاروا کو سره یې دیولړ موضوعاتو په هکله خبرې اترې وکړې.
دافغانستان اوایران سیاسي اړیکې
افغانستان دخپل ګاونډي هېوادایران سره تقریبا( ۹۳۲ )کېلومتره ګډه پوله لري او په تاریخي لحاظه دواړه هېوادونه فرهنګي،نژادي اونورتړولنیزورته والی لري ایران اوافغانستان ترډېره حده پورې پخپل منځ کې سوله ایزژوند تېرکړی دی اوکله کله دپولو په سردچارواکو ترمنځ ستونزې رامنځته شویدي چې داستونزې ترلوړو پوړیو پورې ندي رسیدلي اودلږوخت څخه وروسته بېرته حل شویدي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د معاصر افغانستان سیاسي بنسټ د سدوزیانو د واکمنۍ په وخت کې کېښودل شوی ولې بیا هم د دواړه هېوادو ترمنځ تاریخي او فرهنګي تړونونه پخپل ځای پاتې و.

افغانستان د ازادۍ څخه وروسته د ایران سره دیپلوماتیکي اړیکې ټینګې کړې ولې د دواړو هېوادو د مېشته سفیرانو په کچې اړیکې په (۱۳۰۰) لمریز کال د مودت د معاهدې په اساس چې د افغانستان استازی لوی سفیر عبدالعزیزخان په تهران کې او د تهران استازی مجدالملک لخوا څخه د تهران په ښار کې لاسلیک شواو د دواړو هېوادو نمایندګۍ په ایران او کابل کې پرانستل شوې.




په (۱۳۱۲) لمریز کال د افغانستان او ایران ترمنځ د نه، تېري معاهده د ترکې او عراق په ګډون لاسلیک شوه د هلمند د سند د اوبو لوړوالی او دهغه د لورې بدلول په پولو کې کله ناکله د دواړو هېوادو ترمنځ اړیکې خرابې کړېدي نو کله هم د استونځې د دیپلوماتیکو لېارو څخه حل شوي او کله کله هم پدې هکله نوي تړونونه رامنځته شوي دي په (۱۳۵۴ لمریز) کال د ثور د میاشتې په ۲نېټه محمد داودخان د دولت رییس او لومړی وزیر د ایران د شاه په غوښتنه د ایران د هېواد څخه لېدنه وکړه په دې سفر کې دواړو خواو په یو شمېر پروژوباندې موافقې ترسره کړي دي.

د ایران اسلامي انقلاب په (۱۹۷۹ زېږدیز) کال کې په دې هېواد کې لوی بدلون راوست او د افغانستان دولت هم د اانقلاب په رسمیت وپیژانده په افغانستان د شوروي د یرغل څخه وروسته د ایران دولت (د افغانستان د دیموکراتیک خلق

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴

ګوند سره )خپلې مرستې بندې کړې پداسې حال کې چې ددواړو هېوادو سیاسي نمایندګۍ په دواړو هېوادو کښې فعاله وې او د خپلو اړیکو کچې یې شارژدافیرته راکښته کړه او د افغانستان د حاکم دولت ټول واړاند بزونه یې د اړیکو دښه والي په هکله رد کړل او په مقابل کې دایران هېواد په افغانستان کې دایران په څېرد اسلامي حکومت غوښتونکی و ،وروسته له دې څخه چې د شوروي ځواکونه له افغانستان څخه ووتـه دایران داسلامي جمهوریت د سفارت اړیکې په موثرشکل دافغانستان د بهرنیو چارووزارت سره ټینګې شوې او داړیکو په پراخوالي یې ټینګار وکړ،له دې جملې څخه دډاکترنجیب الله سفرو په( ۱۳۶۹المریز ) کال کې دایران اسلامي جمهوریت ته او همداسې هلته دلوړپوړو چارواکو لېدنه کتنه اودیوشمېر تړونونو ترسره کول او ترڅنګ دایران هېواد د شارژدافیر لیدنه دډاکترنجیب الله سره اود ویزوله سره نیول ددواړو هېوادو اوسیدونکوته دیادونې وړدي،دمجاهدینوله بریاڅخه وروسته ددواړو هېوادو اړیکې خپل عادي حالت ته راوګرځیدې په( ۱۳۷۱المریز ) کال کې برهان الدین رباني دافغانستان ولسمشر له تهران څخه لېدنه وکړه او علي اکبر رفسنجاني دایران دولسمشرسره لېدنه اوکتنه وکړه چې ددې لیدنې اوکتنې څخه وروسته د دواړوهېوادوترمنځ په اقتصادي ،سیاسي،فرهنګي برخوکښې لاسلیکونه وشول. دطالبانودمنځته راتګ سره ددواړوهېوادواړیکې خپلې ټېټې کچې ته چې ددواړوهېوادو داړیکودتاریخ په اوږدوکې ساری نه درلود راښکته شوې طالبانو اوه تنه دایران قونسلي استازي په مزارشریف کې ووژل په مقابل کې دایران سفارت اوقونسلګریانې په افغانستان کې وتړل شوې اوایران دافغانستان په شمال کې دمقاومت ځواکونه دطالبانوپه وړاندې تقویه کول وروسته د سپتمبر له واقعې څخه چې دطالبانورژیم دبېن المللي ځواکونو لخوا دامریکاپه رهبرۍ له منځه ولاړنوایران لومړنی هېوادو چې خپل سفارت یې په کابل اوجنرال قونسلګري یې په مزارشریف کې پرانستلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دافغانستان اوتاجکستان سیاسي اړیکې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېر داسې دلایل شته چې ددواړو هېوادونو داړیکو په ټېنګښت یې مثبت تاثیرغورځولی د شلم قرن پخواني جمهوریتونو کې د غړیتوب له کبله چې ددواړوهېوادواړیکې په مستقیم ډول دمسکو او شوروي اتحاد سره نښلولې د شوروي داتحاد دتیت او پرک کېدو ځخه وروسته تاجکستان هم دیو مستقل هېواد په شکل رامنځته شواوبې له ځنډه یې موافقې وکړې او خپل سفیران یې نورو هېوادو ته ولېږدول، د تاجکستان دداخلي جنګونو په وخت کې د تاجکستان ددولت مخالفان زمونږ دهېواد په شمال کې مېشته شول چې دا رنګه اړیکې دداخلي شخړو دتاثیر لاندې راغلې وې او وروسته اړیکې بېرته ښې شولې او دافغانستان دهغه وخت ولسمشر ددوی دداخلي شخړو په حل کې منځګړیتوب اومرسته وکړه په(۱۹۹۲زېږدیز) کال دجون په میاشت کې افغانستان خپل سفارت دتاجکستان په پایتخت دوشنبې کې پرانیست او په(۲۰۰۲زېږدیز) کال دد سمبر په ۲۲نېټه حامد کرزي دافغانستان ریس جمهور د تاجکستان سفارت په کابل کې پرانیست او همداسې په(۱۳۸۲لمریز) کال دثور دمیاشتې په ۲۴نېټه افغانستان خپله قونسلګري د تاجکستان په خاروق ښارکښې پرانیستله او پدې موافقه وشوه چې تاجکستان به خپله قونسلګري دافغانستان دمزار شریف په ښار کې پرانیزي.او دبرق رسونې پروتوکول چې په ترست کې به یې دتاجکستان دبدخشان ولایت ځخه دافغانستان بدخشان ددرواز منطقې ته برق لیږدوي دتاجکستان اوافغانستان ترمنځ لاسلیک شواو همداسې دافغانستان او تاجکستان دروغتیا وزارتونو ترمنځ ګټوره موافقتنامه دمتقابلې همکارۍ په موخه لاسلیک شوه.او په(۲۰۰۴زېږدیز) کال دفبرورۍ په ۱۱نېټه دآمو دسیند په سر دیو پل

(c) ketabton.com: The Digital Library



د جوړيدو قرارداد د افغانستان او تاجکستان ترمنځ لاسليک شو چې د تاجکستان د (پنج پايان) منطقه د افغانستان د کندز د شېرخان بندر سره نښلوي چې د دې پل په شروع کې د افغانستان د رييس جمهور معاون نعمت الله شهراني او د تاجکستان ريس جمهور امام علي رحمانوف او د نړۍ د اسماعليه مذهب مشر آغاخان ګډون کړی و چې د دې پل د افتتاح څخه وروسته د منځنۍ آسيا د پوهنتون د بنسټ تيږه هم په بدخشان کې کېښودل شوه.

په (۲۰۰۴ زېږديز) کال د سپتمبر په ۱۴ نېټه (د اقتصادي مرستو) د سازمان د غړو هېوادو د مشرانو ناسته چې د تاجکستان په پلازمېنه دوشنبې کې ترسره کړه او حامد کرزي چې دې غونډې کې د ګډون لپاره دوشنبې ته سفر کړی و د دې غونډې ترڅنګ يې د امام علي رحمانوف او شوکت عزيز سره ليده کاته درلوده چې د دې ناستې په ترست کې د يوې لويې لارې په جوړولو باندې چې د افغانستان څخه به تېرېږي او تاجکستان او پاکستان به سره نښلوی او همداسې د افغانستان د قلمرو څخه د برق مزي، پاکستان ته له تاجکستان څخه غزول کېږي موضوع ترڅېړنې لاندې ونيول شوه او په (۲۰۰۵ زېږديز) کال د اپرېل په ۲۷ نېټه امام علي رحمانوف کابل ته راغی او د حامد کرزي سره يې يو په يو خبرې وکړې د دې ليدنې څخه وروسته څو موافقتنامې د دواړو هېوادو ترمنځ ترسره شوې چې له دې جملې څخه يې د ښه ګاونډيتوب او همداسې د ښوونې او روزنې، فرهنګ، علم او تخنيک په هکله جوړجاړی او د برق د انرژي او صنعت په هکله موافقتنامې لاسليک شوې. او په (۲۰۰۶ زېږديز) کال د جولای په ۲۲ نېټه حامد کرزي د افغانستان، تاجکستان او ايران په درې اړخيزې غونډې کې د ګډون لپاره دوشنبې ته سفروکړاو د دې



(c) ketabton.com: The Digital Library



سفرپه دوهمه ورځ حامد کرزي او امام علي رحمانوف ددې هېواد د ګلخانې په ماڼۍ کې یو په یو خبرې وکړې چې ددې خبرو څخه وروسته ددواړو هېوادو درېيس جمهورانو لخوا یوه ګډه اعلامیه نشرشوه چې په دې اعلامیه کې ددواړو هېوادو د اقتصادي او فرهنګي اړیکو په پراخوالي او د تروریزم او مخدره موادو سره مبارزه او د امنیت په هکله داړیکو په پراخوالي باندې ټینګار شوی و او همداسې د بندیانو د تبادلې او په لوړوزده کړو کښې د مرستې په هکله موافقې ترسره شوې.

په(۱۳۸۵ المریز) کال کې د یاد داشتونو تبادله د افغانستان او تاجکستان ترمنځ دویزي او سیاسي پاسپورت دلېږې کولو پخاطر او همداسې ددواړو هېوادو د بهرنیو چارو وزارتونو ترمنځ تفاهم د افغاني محصلینو تګ راتګ پرته له دویزې او پاسپورت څخه د تاجکستان د خاورې څخه د افغانستان د بدخشان ولایت ته.

دترکمنستان او افغانستان سیاسي اړیکې

دترکمنستان اړیکې همېشه د افغانستان سره نیکې او ښې وې زمونږ هېواد دترکمنستان سره اوږده ګډه پوله لري ددواړو هېوادو فرهنګي او تاریخي ورته

(c) ketabton.com: The Digital Library



والـي دارېکـو پـه بـه والـي او ټینګښـت بانـدي مثبتـه اغېـزه اچـولي ده.




کلـه چـي ترکمنسـتان د پخـواني شـوروي اتحاد څخـه خپلـه آزادي واخیسـته نو افغانستان هم پـه(١٩٩١زېږدیز) کال کې دیو خپلواکه جمهوري دولت پـه حیث هغه پـه رسمیت وپیژانده چې دافغانسـتان داپـه وخت اقدام دترکمنسـتان لـوري دخوشـحالۍ لامـل وګرځیـده اوورو سـته لـه دي دارېکـو دټینګښـت لپـاره ددواړو هېـوادو ترمنځ دسـفارت پـه کچـې مشـوري پیـل شـوي چـې بالـآخره دديپلوماتیکو اړیکو دټینګښت سند پـه(١٩٩٢زېږدیز ) کـال دفبـروري پـه ٢١نېټـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دافغانستان دبهرنیو چارو وزیر اودترکمنستان دبهرنیوچارو دوزیر قلي اُف لخوا لاسلیک شواوپه(۱۳۷۰المریز)کال دقونسلګریو دپرانستلو معاهدې دترکمنستان اوافغانستان لخواترسره شوې چې پدې سره ترکمنستان په هرات اومزارشریف کې دقونسلګرۍ دجوړولوامتیازترلاسه کړاوپه دې هکله دافغانستان د قونسلګرۍ دجوړولوحقوق په ترکمنستان کې حفظ شوي دي اود(۱۹۹۱\۴\۸) زېږدیز کال کنوانسیون سره سم ترکمنستان خپله قونسلګرۍ داکتوبرپه ۲۸تاریخ دهرات په ښار کې پرانیستله چې دهغې دپرانستلو په مراسمو کې دافغانستان له پلوه جنرال اسماعیل خان دهرات پخوانی والي اودترکمنستان څخه دهغه هېوادد بهرنیو چاروزیرحاضرو ،ترکمنستان دخپلې بې طرفۍ دموقف له امله چې په افغانستان کې دطالبانو دحکومت په وخت کې درلوده دیوې خواڅخه یې دربانی نماینده ته په خپله خاوره کې دفعالیت اجازه ورکړې وه اودبلې خوائې د طالبانو درژیم دغوښتنې پربنسټ دهغوی نماینده حاجي فضل محمد ته دفعالیت اجازه ورکړې وه اوهمداسې ددواړو هېوادو ترمنځ دنفتي موادوداخیستلو په هکله او سوداګریزومسایلولکه دبرق لېږدول دهرات، بادغیس اوفاریاب ولایتونو ته مؤافقتنامې لاسلیک شوې و، په(۱۹۹۳زېږدیز)کال داګست په میاشت کې دترکمنستان، افغانستان اوپاکستان ترمنځه درې اړخیزه یادداشت دترکمنستان څخه جنوبي آسیاته دګازواونفتودلیږدپه هکله لاسلیک شواوتر( ۱۳۷۵المریز) کال پورې پدې هکله ددې درې هېوادوترمنځ مذاکرات روان و اوپه پایله کې ددې پروژې دتطبیق لپاره دیو نیکال امریکایې کمپنۍ اوبریداس ارجنټایني کمپنۍ په سیالۍ واچول شوې چې په پایله کې یونیکال امریکایي کمپنۍ ددې پروژې د تطبیق په هکله وړونکې اعلان شوه ولې په افغانستان کې دکورنۍ جګړو اود طالبانودرژیم د واک له امله چې ددې هېواد په زیاترو هغوسیموېې درلودچې نل لیکه دهغو ځایونو څخه غزیدله نوددې لپاره موضوع په ځنډواچول شوه پدې هکله خبرواترو د(۱۹۹۹زېږدیز)کال پورې دوام وموند ترڅوچې په (۲۰۰۲زېږدیز)

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مـی د میاشـتې پـه ۲۰ نېټـه د دریـو وارو هېـوادو افغانستان، پاکسـتان او ترکمنستان ترمنځ تو افقتنامه لاسلیک شوه چې د افغانستان له لورې حامد کرزی او د پاکستان دا ړخه پرویز مشرف او د ترکمنستان دا ړخه سفر مراد نیازاُف لخوا یاده شوې موافقتنامه لاسلیک کړه.

ددې موافقتنامې په اساس باید د نل لیکي دلېږدکار د ۱۴۰۰ کېلومتره د اُوږدوالي په اندازه د کراچۍ دګوادر بندر ته په (۲۰۰۳ زېږدیز) کال د جون په میاشت کې پیل شوې وای او همداسې د افغانستان د هوایې چارو وزارت او د ترکمنستان د هوایې چارو د ادارې ترمنځ پروتوکول د کابل او عشق آباد او د هرات او عشق آباد تـر منځ د پروازو پـه هکلـه پـه (۱۹۹۰ زېږدیـز) کـال کـې لاسـلیک شـو البتـه دا پروتوکـول بیـا کتنې تـه اړتیـا لري چـې پـه نـږدې راتلـونکې کـې بـه وکتـل شـي پـه (۱۳۸۰\۳\۱۲ المریز) کال کې د صفر مراد نیازاُف د غوښتنې په بنسټ حامد کرزي د انتقـالي اسـلامي دولـت ریس د یو جیـګ پـوړي هیېـت پـه راس کـې د ترکمنسـتان د جمهـوري دولـت څخـه رسـمي لېدنـه وکـړه چـې پـه دې لېدنـه کـې یـو تعـداد پروتوکولونه او مؤافقتنامې چې د هغې جملې څخه د افغانستان د سرحدي پولېسو مریضان د علاج لپاره د ترکمنستان هېواد تـه لیږدول و او همداسې د هرات د برق د تمویـل پـه هکلـه او د محصـلانو د منلو په هکلـه ګـډه اعلامیـه د دوارو هېـوادو د مشرانو له لورې څخه په امضا ورسیده.[1]

---

[1] افغانستان و جهان، کشورهاي آسيايي، افريقايي و آسترالیا کابل: مرکز مطالعات ستراتیژیک وزارت امور خارجه، سال ۲۰۰۷م

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د افغانستان او ازبکستان سیاسي اړیکې

د(۱۹۹۱زیږدیز)کال دد سامبرپه ۲۱نېټه افغانستان دازبکستان استقلال په رسمیت وپیژانده، په(۱۹۹۲زیږدیز) کال داکتوبرپه ۱۳نېټه کې افغانستان خپل سفارت په ازبکستان کې پرانیست چې ددې دمخه یې په تاشکند کښې قونسلګرۍ او دآریانا هوايي شرکت نماینده ګۍ هم فعاله وه نوکله چې سفارت پرانیستل شو دافغانستان سره یې دیپلوماتیکي اړیکې شروع شوې اودمؤقتې اداري څخه وروسته ازبکستان خپل سفیرپه افغانستان کې وټاکو اوهمداسې قونسلګرۍ یې هم په مزارشریف کې پرانیستله په(۲۰۰۲زیږدیز)کال دمۍ دمیاشتې په۲۲نېټه دافغانستان اوازبکستان دفوایېدعامې دوزارت ترمنځ دافغانستان دپل اوپلچک جوړونې په هکله موافقتنامه په تاشکند کې وشوه، په (۲۰۰۲زیږدیز)کال دمارچ په ۵نېټه حامدکرزي له ازبکستان څخه یوه رسمي اودوستانه لېدنه وکړه اویوه ګډه موفقتنامه یې په هغه ځای کې لاسلیک کړه.[۱]




په (۲۰۰۲زیږدیز)کال داپریل په۲۹نېټه کې یوه تفاهمنامه د(اوزنرګیا)دولتي کمپنۍ دهیئت سره دبرق دلیږدپه هکله له ازبکستان څخه افغانستان ته په تاشکند کې وشوه.

په(۲۰۰۲زیږدیز)کال دمۍ دمیاشت په۲۲نېټه یوه لوړ رتبه هیئت دشاکر (کارګر)په مشرۍ دمؤقتې اداري دریېس دمعاون اودفوایدعامې وزیر، ملکي هوانوردي

---

[۱] افغانستان وجهان، کشورهاي آسيايي، افريقايي و آسترالیا کابل: مرکزمطالعات ستراتیژیک وزارت امورخارجه، سال۲۰۰۷م

(c) ketabton.com: The Digital Library



وزيـر او د کرهنـې او د تجـارت وزير پـه ګـډون لـه تاشـکند څخـه لېدنـه وکـړه او د ازبکستان له لوري سره يې موافقتنامې لاسليک کړې.[۱]
پـه(۲۰۰۲زېږديز )د دسـمبر پـه۲۲نېټـه د کابـل د اعلامـې پـه نـوم د ښـه ګاونـډيتوب اعلاميـه د ګاونډيانو سـره لاسـليک شـوه چې د ازبکسـتان هېواد پـه نماينده ګـۍ د هغه هېواد سفير په افغانستان کې دا اعلاميه لاسليک کړه او په(۱۳۸۱المريز ) کال کې د ميزان په مياشت کې د ازبکستان د بايسکل جوړونکي شـرکت پـه افغانسـتان کې پـه کارپيـل وکړاو د افغانسـتان د سـوداګرۍ وزير کـاظمي لېدنـه لـه ازبکسـتان څخـه او موافقـت نامـه د افغانسـتان د علومـو داکـادمۍ او د ازبکسـتان د ځمـين شناسـۍ د انسـتتيوت تـرمنځ پـه (۱۳۸۳المريـز )کـال کـې موافقتنامـه چـې د ترانسـپورتي آسـانتياوو لپاره د افغانسـتان، ايران او ازبکسـتان تـرمنځ لاسـليک شوه او د بېن المللي لوی لارې جوړولو موافقتنامه چې د ايران او ازبکستان ترمنځ لاسليک شوه او د حامد کرزي سفر چې په(۲۰۰۴ زيږديز )کـال د جون د مياشـتې پـه ۱۷نېټـه يـې د شپږو هېوادو جلسـې کـې د ګـډون لپـاره تاشـکند ته کـړې وه، پـه ( ۲۰۰۶ زيږديز )کال کې د ازبکستان لوړپوړو چارواکو لـه کابل څخـه لېدنـه وکړه، پـه(۲۰۰۶ زيږديـز )کـال د دسـمبر پـه مياشـت کـې د افغانسـتان د بهرنيـو چـارووزير داکتـر سپنتا ازبکسـتان تـه سـفر وکـړ داکتـر سـپنتا او د ازبکسـتان د بهرنيـو چـارو وزيـر ولاديميرامايچ په هغه لېدنه کې چې درلوده د تفاهم يادداشت لاسليک کړاو ددوه اړخيـزه اقتصـادي کمېسـون جوړښت او د هغـه د ريـبس ټاکنـه او د کمېسـون د غـړو ترمنځ لېدنه، خبرې او د نظرو تبادلې صورت ونيوه داټول ذکرشوي مواد هغه څه دي چې د دواړو هېوادو د پراخوا ړيکو ښکارندويې کوي.[۲]

---

۱ افغانسـتان وجهان، کشـورهاي آسـيايي، افريقايي و آسـتراليا کابل: مرکزمطالعـات ستراتيژيک وزارت امورخارجه، سال۲۰۰۷م
۲ افغانسـتان وجهان، کشـورهاي آسـيايي، افريقايي و آسـتراليا کابل: مرکزمطالعـات ستراتيژيک وزارت امورخارجه، سال۲۰۰۷م

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴

د چین او افغانستان سیاسي اړیکې

چین او افغانستان دوه پخواني دوستان دي، د دواړو هېوادو اړیکې د نن او صبا څخه ندي پیل شوي بلکې د دواړو هېوادو اړیکې ډېرې پخوانۍ اړیکې دي د افرهنګي او اقتصادي اړیکې د چین او افغانستان ترمنځ د پخوانۍ پېړیو څخه کلکې وې، د ابریشم د لوی لیارې څخه به د چین کاروانونه د افغانستان له قلمرو څخه تېریدل زمونږ د خلکو تاریخي آثار او روایات د چین د خلکو د پرمختګ، لوی والی او د ښکلا حال وایې. نړۍ ګرځیدونکي چینایان په پخوانۍ پېړیو کې زمونږ د هېواد څخه لیدنې کړیدي، د دې لپاره چې د دواړو هېوادو اړیکې په ښه توګه ترڅېړنې لاندې ونیولی شو (۱۳۰) کال د میلاد څخه مخکې د هان د امپراتورۍ لمړی استازی د افغانستان شمالي سیمو دیو چې ها دربارته واستول شو په (۲۳۱) زیږدیز کال هیون تسانګ چینایې زیارت کونکي له سمرقند څخه حرکت وکړ او ۲۰ د مارچ خلم (تاشقرغان) ته او په ۲۰ د اپرېل بلخ او په ۳۰ د اپرېل بامیانو ته ورسید، د سمبر په اخرکې د سند له رود څخه تېرشول او د هند په لورې لاړل او یو څه وخت په هند کښې پاتې شول د دوهم ځلې لپاره زمونږ هېواد ته راستانه شول په (۲۴۴) زیږدیز کال کې په غزني او څه موده بدخشان ته لاړل او د د سپتمبر په ۱۲ نېټه پامیر له لیارې دیارکند او ختن ته چې د چین په هېواد پورې تړلې دي، روان شول په (۹۲) زیږدیز کال کښې د ابریشم لپاره پرانستل شوه.

د کوشاني امپراتورۍ په ځانګړي ډول د لوی کنشکا په وخت کې د بودایې دین د لته مروج شو. زمونږ هېواد د هند، چین او بین النهرین ترمنځ د تړون نقطه وګرځیده کنکشا - د کوشاني امپراتور خپل سفیر د اتورهان دربارته واستاوه او د چین سفیر د کوشانیانو په دربار کښې موجود و په (۳۳۹) زیږدیز کال کې فوسیان چینایې زارینو له جلال آباد او کابل څخه لیدنه وکړه او یو لیدلیک یې ولیکه د تانګ د کورنۍ په وخت کې چیني مشهور راهب شوان چوانګ په اوولسمه میلادي پېړۍ کې له بامیانو څخه لیدنه وکړه او د بامیانو له بوتانو څخه یې صفت

(c) ketabton.com: The Digital Library



۵
وکړپه ۱۵م پېړۍ کې دچین شاهي دولت دمینګ دلړۍ څخه په(۱۷۴۴زیږدیز)کال دشاړخ دربارته ۱۵۰تنه نمایندګان دهرات ولایت ته واستول احمدشاه دراني پـه(۱۷۲۲ زیږدیـز)کـال کـې خپـل ځـانګړی نماینـده دمینـک دکـورنۍ دامپراتوردربارته واستاوه دواړو هیوادو ترمنځ ډالۍ یوبل ته ورکول شوي، په(۱۷۲۵ زیږدیز)کال کې امیرشېرعلي خان یوهیئت چین ته واستاوه اولس اسان یې دچین امپراتورته ډالۍ ورکړه.




دافغانستان خلکو دچین د خلکو قهرمانه مبارزي چې په ۱۹پیـړي کـې دیرغلګروپـه وړانـدې درلـودي پـه ډېره دلچسپۍ سره څارلي اودهغوی له بریالیتوبونو څخه خوشحالیدل. پـه(۱۳۰۱المریز)کال دسنبلې پـه میاشـت کـې چینـي هیئـت دچینـګ لـین یونـګ پـه نـوم کابـل تـه راغی، داړیکوپـه بیارغولوکنبـې مـذاکرې ترسـره کـړې پـه(۱۹۲۲ زیږدیـز)کـال داګست په میاشت کې محمدشریف خان دافغان دلومړي قونسل په توګه دچین ترکستان ته سفر وکړاو دکاشغر په ښارکښې مستقرشو، په(۱۳۱۲المریز)کال کې حبیب الله خان لخواطرزي دمختاروزیرپه توګه په نانکن کې وټاکل شو، له دې وروستـه دچین دخلکو جمهوریـت پـه(۱۹۴۹ زیږدیـز)کـال کـې رامنځتـه شـو، افغانستان دلومړیو هیوادونو څخه وه چې چین یې په(۱۹۵۰ زیږدیز)کال کې په رسمیت وپېژانده اوپه(۱۹۵۵ زیږدیز)کال کې دچین هیواد دافغانستان دشاهي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دولت سره دلوی سفارت په سطح خپل سیاسي اړیکې ټینګې کړې، ښاغلي عبدالصمد دافغانستان لومړنی سفیرو چې خپل باورلیک یې په(۱۳۳۴المریز) کال وړاندې کړ اودچین لومړنی سفیر دتینک کوا پرپه نوم خپل باورلیک په(۱۳۳۴المریز) کې وړاندې کړ.
افغانستان اوچین هغه هېوادونه دي چې د(۱۹۵۵ زیږدیز) کال دباندونګ په تاریخي کنفرانس کې ګډون وکړاودې تاریخي کنفرانس ته یې تقویت ورکړاوهمداسې د پنځه اصولو لرونکي دښه ګاونډیتوب اعلامیه یې لاسلیک کړه چې دافغانستان دلورې څخه سردارمحمدنعیم دصدراعظم مرستیال اودبهرنیو چاروو زیراودچین دلورې څخه چین چوپن لاي دچین صدراعظم ګډون درلوددامهمې مذاکرې یې ترسره کړې د۵۰ کلونو په موده کې ددواړه هېوادونو اړیکو په بهیرکښې دسلو په شاوخواکښې استازي دیو اوبل دهېوادونو څخه لېږدنه اوکتنه کړېده چې ۵۵شاوخوا افغاني او۴۵چیني استازي جوړوي په دې ۵۰کلونو کې په بېلابېلوبرخولکه فرهنګي، علمي، فني، اقتصادي، اوسوداګریزي موافقتنامې لاسلیک شویدې اود۵۰کالو په موده کې اوه سفیران دافغانستان څخه لکه عبدالصمد ،محمد شعیب مسکېنیار، داکتر محمدآصف، محمدعثمان صدیقي، میرمحمدیوسف، داکترمحمدیاسین عظیم تر(۱۹۷۹ زیږدیز) کال پورې خپل باورلیکونه دچین هېوادته وړاندې کړیدي اوورو سته (شارژدافیرانو) هم باورلیکونه دچین هېوادته داعتماد دحاصلولولپاره وړاندې کړیدي.په(۲۰۰۲ زیږدیز ) کال کې پروفیسورقیام الدین( برلاس )خپل باورلیک دچین هېوادته وړاندې کړ.[1]

---

[1] افغانستان وجهان، کشورهاي آسیایي، افریقایي و آسترالیا کابل: مرکزمطالعات ستراتیژیک وزارت امورخارجه، سال۲۰۰۷م

## د افغانستان او امریکا ستراتیژیکې اړیکې




په(۱۹۱۹ زېږديز) کال کې امان الله خان یو هیئت د محمدولي خان دروازي په مشرۍ د اروپا او د امریکا متحده ایالاتو په لور واستاوه ترڅو د افغانستان د خپلواکۍ خبر د دغو هېوادونو حکومتونو او ملتونو ته ورسوي او د رسمي او غیر رسمي اړیکو د ټینګیدو په اساس د هغوی توافق او پاملرنه ترلاسه کړي، د دې پلاوي سره محمد ګل خان مهمند ،عبدالرحمن لودي ، فیض محمد خان ذکریا ، میرزا محمد خان یفتلي او ځینې نور مل وو، دې پلاوي اروپا او امریکا ته د سفر په ترڅ کې د (۱۹۱۹زېږدیز) کال په سپتمبر کې تاشکند ته ورسید ،د دې ښار څخه یې د امریکا جمهور ریس ورین هاردینګ په نوم پیغام واستاوه، په پیغام کې ویل شوي و چې د سولې په نړیوال کنفرانس کې د افغانستان استازیتوب کوي او په ضمن کې د امریکا د متحده ایالاتو څخه د همکاري او د افغانستان د استقلال د رسمي پیژندنې غوښتونکي دي، خو کله چې دې پلاوي غوښتل چې لویدیځي اروپا او امریکا په لور روان شي نو برتانیې یې مخه ونیوله، په دغه کال افغاني پلاوي ونه شو کولای چې امریکا ته سفر وکړي خو واشنګټن د تاشکند څخه د پلاوي لخوا د لیږل شوي پیغام په هکله جواب ورنکړ او دا د دې ښکارندويي کوي چې امریکا د برتانیا د تسلط څخه د خپلواکۍ په

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاره کې د افغانستان هڅو ته اعتنا نه لري، خو شوروي د افغاني پلاوي تود هرکلی وکړاو د افغانستان خپلواکي يې د لومړني هېواد په توګه په رسميت وپېژندل.[۱]
په( ۱۹۲۱ زېږديز )کال کې يو پلاوي د محمد ولي خان دروازي په مشري بيا د اروپا او امريکا په لور روان شو ، دا هيئت د اروپا څخه وروسته په( ۱۹۲۱ زېږديز )کال دجولاي په ۱۲ امريکا ته ورسيد او دجولاي په ۲۰ يې د بهرنيو چارو د وزير سره وکتل، تر دې کتنې مخکې نوموړي وزير ته په فرانسې کې د برتانيې د سفيرله خوا يو ليک رسيدلی ؤ چې په ليک کې د نورو خبرو سربېره د افغانستان او شوروي ترمنځ د ښو اړيکو يادونه شوې وه، پلاوي د محمود طرزي ليک کوربه وزير ته وړاندې کړ او د افغانستان د خپلواکۍ او د دواړو هېوادونو ترمنځ د اړيکو د ټينګيدو خبره يې راپورته کړه خو د هغوی د منفي غبرګون سره مخ شول او افغاني هيئت بېرته افغانستان ته راغي.
د امريکا متحده ايالات د محمد نادر خان د سلطنت په موده کې هم د افغانستان سره د رسمي او ډيپلوماتيکو اړيکو برقرارولو ته حاضر نشول، څو چې په( ۱۹۳۲ زېږديز )کال د مارچ په ۲۲ نېټه د افغانستان او متحده ايالاتو ترمنځ د سياسي او کونسلي روابطو موافقه په پاريس کې د امريکا د سفير جيسمي ايزدورستراوس او د افغانستان د بهرنيو چارو د وزير علي محمد خان ترمنځ لاسليک شوه.[۲]
د محمد ظاهرشاه په وخت کې د افغانستان او امريکا ډيپلوماتيکې او سياسي اړيکې: کله چې په( ۱۹۳۳ زېږديز )کال کې محمد ظاهرشاه د پلار د وژل کېدو وروسته پاچا شو ،نو يو ليک يې د امريکا جمهورريس فرانکلن روزولټ ته واستو، چې په ليک کې يې د خپل سلطنت پيل او د دواړو هېوادونو ترمنځ د دوستانه اړيکو د ټينګولو هيله څرګنده کړې وه.

[۱]: امريکا په افغانستان کي، دښاغلي محمد اکرم انديشمند ليکنه.صفحه ۱۴۰
[۲] امريکا په افغانستان کي، دښاغلي محمد اکرم انديشمند ليکنه.صفحه ۱۷۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



واشنګټن د محمد ظاهرشاه دليک څخه دري کاله وروسته د افغانانو سره د ډيپلوماتيکو اړيکو په ټينګولو اقدام وکړ ياني کله چې خپله ګټه په افغانستان کې ولېده، خو متحده ايالاتو د خپل سياسي نماينده ګي دفتر په کابل کې ډېر وروسته پرانيستی او د امريکا د متحده ايالاتو په افغانستان کې وان انچ انګرت د لومړني هستوګن مختار وزير په توګه معرفي کړ او په(۱۹۴۲ زېږديز) کال په جولاي کې يې خپل باورليک رسماً محمد ظاهر شاه ته وړاندې کړ، په( ۱۹۴۳ زېږديز) کال کې عبدالحسين عزيز په لومړي ځل د افغانستان د مختار وزير په توګه واشنګټن ډي سي ته ولاړ.[۹]

د امريکا د متحده ايالاتو او افغانستان ترمنځ سياسي او ډيپلوماتيکې اړيکې د محمد ظاهرشاه د دوهم صدراعظم شاه محمود د صدارت په وخت کې ډېر انکشاف وکړ او په( ۱۹۴۸ زېږديز) کال کې د دواړو هېوادونو د سفيرانو په تبادله کولو موافقه وشوه او محمد نعيم خان په متحده ايالاتو کې د افغانستان سفير وټاکل شو او ايلي ايل پلامر په کابل کې د امريکا د سفير په حيث وټاکل شو.

پوځي او نظامي اړيکې: د افغانستان سره د امريکا نظامي او پوځي اړيکې د محمد ظاهر شاه د سلطنت تر پايه پورې ترټولو اړيکو سړې وې، امريکا په دې ټول دوران کې هيڅ وخت د پوځي همکاري د وسلو او حربې وسايلو په اړه د افغانستان د دولت او دولتي چارواکو غوښتنو ته مثبت جواب ونه وايه او د دې سړو اړيکو علت د پښتونستان د مسئلې پر سر د پاکستان سره اختلافؤ او د افغانستان د چارواکو په وينا امريکا هميش په بې انصافۍ سره د پاکستان طرف نيولی او علت يې داؤ چې امريکا افغانستان د شوروي په لمن کې سقوط ګڼې او د افغانستان چارواکي بالخصوص داؤد خان يې د شوروي طرفدار ګاڼه او دبلې خوا امريکا چې په سيمه کې کوم ستراتيژيک اهداف لري هغه اهداف د پاکستان سره په ښو اړيکو ترسره کېږي بناءً امريکا خپل دوست هېواد پاکستان هېڅکله د افغانستان يا کوم بل هېواد په خاطر نه خپه کوي. او د افغانستان چارواکو لکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



محمد ظاهرشاه، شاه محمود خان، داؤد خان او نورو چې کله هم د وسلو او پوځي برخو کې کومک غوښتنه نو امریکايي چارواکو به پرې خندل او هیڅکله یې ددوی داغوښتنه نده منلې او دا ټول د شوروي سره د طرفدارۍ او د پاکستان سره د اختلاف په خاطر.

د(۱۹۵۱ زیږدیز) کال په وروستیو کې د افغانستان د حکومت د لوړ پوړو چارواکو لکه صدراعظم شاه محمود، دفاع وزیر محمد داؤد، په امریکا کې د افغانستان سفیر محمد نعیم خان او په ملګرو ملتونو کې د افغانستان استازي عبد الحسین عزیز په ډېرو وړاندیزونو او کوښښونو سره امریکا دې ته چمتو کړه چې د افغانستان سره پوځي مرستې وکړې ولې امریکا داسې شرایط وضع کړه چې هیڅ د عملي کېدو نه وه او دا شرایط د امریکا سفیر جارج آر میریل په واسطه وړاندې شول چې په لاندې ډول ورته اشاره کوو:

۱: د افغانستان حکومت باید وسلې په نقدو پیسو او هغه هم د مال د حاصلولو څخه مخکې تسلیموي.

۲: کله چې معامله عملي بڼه غوره کړي نو د امریکا حکومت به مال یو امریکايي بندر ته وړي او افغاني لورې ته به یې سپاري او په لېږلو کې یې هیڅ ډول مرسته نه کوو.

۳: افغانستان باید د یوې اعلامیې په خپرولو سره رسمي ژمنه وکړي چې اخیستل شوې وسله به یوازې د ځای د دفاع په خاطر او په هېواد کې د کورني امنیت د تأمین په خاطر کارول کېږي نه د تعرض لپاره.

ددې شرایطو څخه یې هدف داؤ چې وسله پر افغانستان ونه پلورې.

د امریکا دبهرنیو چارو وزیر د افغانستان سفیر ته د یوې پوښتني په جواب کې ویلي و چې افغانستان ته پوځي مرستې ستونزې را ولاړوي، په دې سره به چې کوم ځواک رامنځ ته کېږي مخه نیول یې ناشوني دي نو افغانستان دې ددې پر ځای چې د وسلو وړاندیز وکړي د پاکستان سره دې د پښتونستان مسئله حل کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو بناءً د امریکا د داسې چالچند شخه معلومېږي چې امریکا[۱] هیڅکله هم دافغانستان سره په صداقت همکاري نه ده کړې، که څه هم امریکا د پوځي برخو څخه پرته په نورو برخو کې همکاري کړې ولې دومره ناچیزه ده چې په هیڅ حساب دي او هغه هم ددې لپاره چې افغانستان په دوهم نړیوال جنګ کې آلماني اتباع د خپل هېواد څخه وباسي او بې طرفي اعلان کړي چې همداسې هم وشول خود جګړې څخه وروسته چې دامریکاهدف ترسره شو هو خپله پښه یې د افغانستان څخه ټوله کړه، که چېرې دوی په علمي برخو کې همکاري کړې وي نو هدف یې ورڅخه دخپلې مفکورې راویستل و افغانستان ته او بس، که چېرې دوی زموږ سره همکاري کولای نو ښه مثال به یې نظامي اوپوځي مرستې وای نوبناءً دوی هیڅکله دپاکستان په تاوان زموږ سره همکاري ته چمتو نه دي ځکه دوی په منطقه کې تر هرڅه پاکستان زیات ضرورت لري.

علمي او کلتوري اړیکې: دامریکا اوافغانستان ترمنځ علمي او کلتوري اړیکې هغه وخت شروع کېږي کله چې په(۱۹۳۰ زېږدیز) کال کې امریکایې استادان افغاني زده کوونکو او محصلینو ته د درس او تدریس او همدارنګه د لوړو زده کړو لپاره امریکا ته د هغوی د استولو لپاره د حبیبې او اماني لیسو او د کابل پوهنتون ته راغله او د همدې لسیزې په دوهمه نیمایي کې د افغاني ځوانانو زده کوونکو او محصلینولو مړنۍ ډله دخپلوزده کړو د دوام په هدف دامریکا په لور روان شول، ځینو د دغو کسانو څخه چې د تحصیل د دورې د سرته رسولو او تخصص د حاصلولو وروسته هېواد ته راغلل نو د محمد ظاهرشاه د سلطنت په اوږدو کې لوړو مقامونو او آن تر وزارت او صدارت پورې ورسید لکه ډاکتر عبدالظاهر تر صدارت پورې، دده ورور ډاکتر عبدالقیوم د داخلي تر وزارت پورې ، موسی شفیق تر صدارت پورې او نور.

د امریکا متحده ایالات سربېره پردې چې په افغانستان کې یې د تحصیل او تخصص زمینه مساعده کړه په بېلابېلو برخو کې یې که څه هم کمې مرستې وکړې،

(c) ketabton.com: The Digital Library



په(۱۹۶۴ زېږدیز )کال کې یې د کابل پوهنتون او د محصلینو د لیلې کار بشپړ کړ[۲]
او په( ۱۹۶۵ زېږدیز ) کال کې یې د حبیبې د لېسې ودانۍ جوړه کړه.
همدارنګه د کابل پوهنتون د انجینري او زراعت په پوهنځیو کې د امریکایې استادانو لخوا تدریس او په ولایاتو او ولسوالیو کې د مختلفو ښوونځیو جوړول او د هغوی لپاره د کتابونو چاپول د افغانستان د معارف سره د امریکا د مرستو څخه دي.
سردار محمد داؤد خان او د امریکا متحده ایالات:محمد داؤد خان په( ۱۳۵۲ لمریز ) کال د سرطان په ۲۶ نېټې د یوې سپینې کودتا په ترڅ کې د قدرت واګې ترلاسه کړل او د سلطنت د اعلانولو پرځای یې د جمهوري نظام په جوړولو پیل وکړ، په پوځ کې د محمد داؤد ملګري چې په کودتا کې یې ورسره همکاري وکړه یا د خلق دیموکراتیک ګوند پټ غړي وو او یا خو هم د چپه لاس د کمونیستو نظریاتو خاوندان او د شوروي پلویان وا او محمد داؤد خان د لومړۍ کابینې ځینې غړي هم د دغه ګوند د پرچم ډلې څخه و.
څنګه چې داؤد خان د شوروي پلوه کېڼ اړخه ګوند د کودتا په واسطه واک ته ورسید او همدارنګه د هغوی څخه یې یو شمېر خپل وزیران مقرر کړل او د بلې خوا د خپل صدارت په دوره کې یې د شوروي سره پوځي اړیکې ټینګې کړې او اوس د محمد داؤد خان واک ته رسیدل د اسې فکر رامنځ ته کړ چې د شوروي د یو دښمن په توګه نور د امریکا متحده ایالات د خپلو اړیکو دروازه پر افغانستان تړي.
ولې د دې ټولو اټکلونو سره سره د محمد داؤد خان د جمهوریت په کلونو کې د افغانستان او امریکا اړیکو هغسې ښه غوره نکړه لکه څنګه چې یې اټکل کېده،
په( ۱۹۷۴ زېږدیز ) کال کې د امریکا د بهرنیو چارو وزیر هنري کېسنجر افغانستان ته راغی او د محمد داؤد خان او نعیم خان له خوا یې تود هرکلی وشو او د امریکا د بهرنیو چارو وزیر هم د دوی سره په علاقمندۍ خبرې وکړې او افغانستان ته یې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



زیاتو اقتصادي مرستو په اړه خبرې وکړې او د خبرو په ترڅ کې یې هغوی ته توصیه وکړه چې د پاکستان سره خپل روابط ښه کړي او محمد داؤد خان هم د خپل پخواني دریځ په خلاف ډاډ ورکړ چې هېوادیې اوس چمتو دی چې د یو دوست هېواد په منځګړیتوب د خبرو دلارې څخه د پښتونستان مسئله حل کړي.[۱]

په(۱۹۷۷ زېږدیز )کال د جولاي په ۲۹ کله چې د افغانستان نوي سفیر عبدالواحد د امریکا جمهور ریس جیمز ایرل کارتر ته خپل باورلیک وړاندې کړ نو کارتړ هغه ته وویل: امریکا ستاسې نوی اساسي قانون په مینه تعقیب کړی دی او موږ د هغه چانس څخه چې بشرحقوقو ته مو پکښې ورکړی دی خبر یو ،همدرانګه موږ پوره خبرتیا لرو چې جمهور ریس داؤد هوډمن دی چې د افغانستان د خلکو اقتصادي سطحه لوړه کړي او موږ چمتو یو چې په دې برخه کې مرسته وکړو.

په(۱۹۷۶ زېږدیز )کال کې ذوالفقارعلي بوټو کابل ته راغی او ددواړو خواوو ترمنځ تودې خبرې وشوي او همدارنګه د خبرو د دوام او د ستونزو په حل هم موافقه وشوه او داؤد د ذوالفقارعلي بوټو بلنه پاکستان ته ومنله او داؤد خان ورته وویل چې خپلو پاکستاني ورونو ته ستاسې او ستاسې د ملګرو په واسطه ډاډ ورکوم چې د افغانستان ملت د پاکستان د ملت سره دوروګلوی او دوستی. نه پرته بله هیڅ کومه هیله نلري.کابل ته د ذوالفقارعلي بوټو د راتګ څخه دوه میاشتې وروسته محمد داؤد خان پاکستان ته سفر وکړ، په پاکستان کې تود هرکلی وشو ، د پاکستان سره د محمد داؤد خان د اړیکو پراختیا د امریکا لپاره په زړه پورې وه.

محمد داؤد خان چې په( ۱۹۷۴ زېږدیز )کال کې د اساسي قانون د تصویب څخه وروسته دلویې جرګې د خوا د منتخب جمهور ریس په توګه وټاکل شو ، نود بهرنیو مرستو دلاسته راوړلو لپاره یې په نوي نظر لا زیاتې هڅې پیل کړې او د هغه په نوي نظر کې په بهرني سیاست کې د پاکستان سره د اړیکو ښه کول، د امریکا د متحده ایالاتو ، اروپایې هېوادونو او هغوی ته نژدې اسلامي هېوادونو ته مخه

---

[۱] امریکا په افغانستان کي، دښاغلي محمداکرم اندیشمند لیکنه.صفحه ۱۹۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



کول وه، خودا سیاست د شوروي سره داړیکو د قطع کولو په مانا نهٔ بلکې داؤد خان غوښتل چې په خارجي سیاست کې یو تعادل راولي چې تردغه وخته پورې یې د شوروي پرمرستو یوا ړخیزه تکیه کړې وه او غوښتل یې چې د دوا ړو بلاکونو څخه د خپل اووه کلن پلان د پروګرامونو د بشپړولو په هدف پرېماني مرستې لاسته راوړي.

داؤد خان خپل لومړنی سفر شوروي ته وکړ، دا سفر د دې ښکارندوی ؤ چې داؤد اوس هم د مسکو سره د نژدې روابطو په درلودلو مکلف دی خو په دې سفر کې داسې حالت رامنځ ته شو چې د خبرو فضاء یې خرابه کړه او د شوروي سره داړیکو راتلونکې یې شکمنه او په تیاره کې واچول، د خبرو په جریان کې د برژنیف له خوا یوه ګیله په ډېره سخته لهجه او د نیوکې په بڼه چې ټول ناست خلک یې حیران کړل په داسې ډول داؤد خان ته وشول چې د شوروي اتحاد د پولو په نژدې سیمو کې ولې لوید یځ کارګران او متخصصین په چارو بوخت دي؟ داؤد خان بې له کوم ځنډه جواب ورکړ: موږ به هیڅکله دا حق تاسې ته درنکړو ترڅو موږ ته امر وکړي چې په څه شکل د خپل هېواد چارې پرمخ بوځو، یا دا چې څوک په افغانستان کې استخدام کړو او یا دا چې څه ډول او چېرته بهرني متخصصین په دنده وګمارو، دا د افغانستان د دولت په صلاحیت پورې اړه لري او دا صحیح ده چې افغانستان غریب خو په خپلو کړنو او هوډ کې به ازاد وي.

کله چې یې خپلې خبرې پای ته ورسولې بې له ځنډه د خبرو د میز څخه راپاڅید او د خپلو ملګرو سره د کوټې څخه را روان شو، برژنیف او نور په ډېره چټکۍ سره په افغاني پلاوي پسې راپورته شول، خو یوازې د وحید عبدالله په ټینګار سره داؤد خان دومره ودرید چې د شوروي د طرف د پلاوي سره یې خدای پاماني وکړه. ښایې داؤد خان د برژنیف سره د دې تاوتریخوالي څخه وروسته په دې فکر کې شوی وي چې د شوروي سره خپلې اړیکې پای ته ورسوي او بیا به یې غوښتل چې د دې ډول تصمیم او سیاست د خپلولو په اړه امریکا ته د خپل سفر په ترڅ کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



امریکایي چارواکو سره ورېغبرېي او دا موضوع ورسره مطرح کړي، خو په( ۱۹۷۸ زېږدیز ) کال کې چې داؤد خان امریکا ته د هغوی په بلنه سفر درلود ، ددې سفر څخه مخکې په( ۱۹۷۸ زېږدیز ) کال په اپرېل کې د شوروي پلوه کمونیستي ګوند ( خلق دیموکراتیک ) لخوا د کورنۍ سره یو ځای شهید شو. داچې ایا امریکایانو به دده سره په خلاص مټ کومک کړی وای ترڅو افغانستان د شووري څخه نجات پیدا کړی وای؟ جواب یې منفي دی، ځکه امریکایانو هر ډول سیاست په افغانستان کې د خپلو ګټو او اهدافو په خاطر ؤ خو افغانستان په هغه وخت کې د هغو ټولو درنو مصارفو د تأدیه کولو توان نه درلود او د بلې خوا د امریکا متحده ایالاتو لا پخوا افغانستان د شوروي په نفوذ کې شمېرلی ؤ او ددې نفوذ څخه د افغانستان د ایستلو هڅې د امریکا د ګټو سره سمون نه درلود.

سردار محمد داؤد خان یو داسې واکمن ؤ چې د افغانستان د ترقۍ او پرمختګ سره یې مینه لرله خو ده دا پرمختګ او ترقي تر خپلې مشرۍ لاندې غوښته چې داؤد په عین حال کې یو مطلق العنانه ، دیکتاتور ، حساساتي ، کینه کښ او د رنګ په رنګ مزاج خاوند ؤ ، داؤد په خپل سیاست کې په بې ثباتي ، ناڅاپي بدلون او پرته د کوم فکر څخه عمل کاوه، په داسې حال کې چې د پاکستان سره یې د پښتونستان د مسئلې او د ډیورنډ د کرښې پر سر خبرې تر جګړې او پوځي ټکره ورسیدلې خو د خپلې واکمنۍ په پای کې پاکستان ته ولاړ او د هغه هېواد سره یې د دوستۍ او ورورګلوی خبرې شروع کړې.

په افغانستان کې د(۱۹۷۸ زېږدیز )کال د اپرېل کودتا د امریکا لپاره کومه ناڅاپي پېښه نه وه ځکه امریکا د افغانستان او شوروي د نږدې پوځي اړیکو او د افغانستان په پوځ کې د ورځ په ورځ زیاتیدونکي نفوذ څخه باخبره وه.

دامریکادملي امنیت اداري په( ۱۹۵۱ زېږدیز ) کال کې یو رپوټ نشر کړ، په رپوټ کې ویل شوي و چې کرملین وایې دافغانستان نیول اسانه دي او دیرغل په وړاندې دافغانانو اراده دومره مهمه نه ده خو کېدای شي چې د برید په صورت کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځیني قبایل په ځانګړي توګه پښتانه قومونه خپل مقاومت ته دوام ورکړي، نو امریکا هم د افغانستان سره خپلې اړیکې حساسې کړلې ترڅو د شوروي د مخ په زیاتیدنکي نفوذ مخه ونیسي. او امریکا د شوروي د تېري څخه وروسته د افغانستان د حکومت سره د مناسباتو د تأمینولو څخه مخ واړاوه او خپل سفارت په کابل کې وتړي او د حکومت پرځای یې د حکومت مخالفو ځواکونو ته پام واړاوه او همدارنګه د خلق دیموکراتیک حکومت یې تر فشار لاندې راوست.د شوروي د پوځي تېري وروسته امریکا د افغانستان د بهرنیو چارو د وزارت هیڅ ډول غوښتنو ته اهمیت نه ورکاوه حتی د افغانستان د حکومت سره د خبرو داړتیا پر وخت یې د دې د حکومت پرځای د شوروي د حکومت سره تماس نیوه.
د( ۱۹۸۰ زېږدیز )کال د جنورۍ په ۹ په واشنګټن کې د سنا په مجلس کې چې د سي.آي.اي استازي هم موجود و موضوع مطرح شوه چې په افغانستان کې د سي.آی.اي پټې ملیشي باید خپل فعالیتونه شروع کړي، چې د دې سره سناتورانو هم مخالفت نه درلود او بالاخره دا موضوع سپیني ماڼۍ ته ولاړه او جمهور ریس هم په افغانستان کې د عملیاتو په کولو خپل فرمان صادر کړ او دا هغه سیاست ؤ چې د جمهور ریس د ملي امنیت په چارو کې سلاکار برژنسکي مخکې له مخکې پیشبیني کړي ؤ، او وړاندېز یې کړی ؤ چې په افغانستان کې باید ډېر ژر او که په هره طریقه وي باید د شوروي د نفوذ د مخه ونیول شي، زبیګنیو برژنسکي د امریکا په سیاست کې یو د هغو اشخاصو څخه ؤ چې د کمونیزم او شوروي سرسخته مخالف ګڼل کېده او امریکا په بهرني سیاست کې په خاص ډول د افغانستان په اړه یې فعال او غوره رول ولوباوه. برژنسکي په پولېنډ کې زیږیدلی او د خپلې ځوانۍ دوره یې په جرمني او فرانسې کې تېره کړې ده او په سیاسي علومو کې ډاکتري د امریکا د هارورډ د پوهنتون څخه واخیستله او د امریکا تابعیت یې ترلاسه کړ، نوموړي د خلق دیموکراتیک د ګوند سره د اړیکو په درلودلو مخالف ؤ او همیش به یې ویل چې په موجوده حکومت باید فشار

(c) ketabton.com: The Digital Library



راوړل شي او په مقابل کې یې د حکومت د مخالفینو سره مرستې وشي ترڅو موجوده حکومت سقوط وکړي او د تودواوبو او په منځني ختیځ کې د انرژي د زېرمو په وړاندې باید د شوروي مخه ونیول شي او په افغانستان کې ورسره مقاومت وشي، او دده نظریاتو هغه وخت نور هم عملي بڼه غوره کړه چې په افغانستان کې د خلق دیموکراتیک ګوند لخوا د خلکو ټکول او زورول زیات شول او په مقابل کې د خلکو مخالفت د حکومت په وړاندې پراخه شو او کله چې په( ۱۹۷۸ زېږدیز ) کال د ډسمبر په پنځمه د کابل او مسکو ترمنځ د دوستۍ تړون لاسلیک شو او د شوروي پوځي مداخلې ته یې لاره جوړوله نور نو امریکا د بهرنیو چارو دوزارت نظریاتو خپل ځای د برژنسکي نظریاتو ته خالي کړ او دده د نظریاتو تطبیق شروع شو او نور نو د برژنسکي نظریاتو د امریکا د بهرني سیاست شکل پیدا کړ[1]

د امریکا استخباراتي سیاست د نورو متحده اسلامي او غیر اسلامي دولتونو او سازمانونو د استخباراتي او جاسوسي سیاستونو په ځانګړي ډول د پاکستان او سعودي عربستان د سیاستونو سره په ګډه عملي شو، که څه هم په افغانستان کې د شوروي په خلاف مرستې د سي.آي.اي لخوا په پټ ډول ورکول کېدلې خو د دغو مرستو څخه د ګټې اخیستلو او د هغې دویشلو واک د پاکستان سره ؤ او پاکستان دې خطر ته غاړه ایښودل د یو ډېر غټ مصلحت په خاطر کړی ؤ او هغه د اسلام او افغانستان په خاطر نه بلکې په دې کلنو کې د پاکستان اټومي پروګرام ډېر مخکې ولاړ او بالاخره د اتیایمي لیسزي په پای کې په یو اټومي ځواک بدل شو په داسې حال کې چې د شوروي د یرغل څخه مخکې په پاکستان باندې امریکا خپلې مرستې په دې خاطر بندې کړې چې اټومي پروژه یې پوځي اهداف لري خو امریکا وروسته نه یوازې دا چې د پاکستان د اټومي پروګرام په هکله پټه خوله شول بلکې

---

[1] امریکا په افغانستان کې، دښاغلي محمد اکرم اندیشمند لیکنه.صفحه ۱۲۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



نورې زياتې پوځي مرستې چې پرمختللي ټانګونه، ايف ۱۲ جيټ جنګي الوتکې[٨] او نور شامل وه ورسره وکړي.

امريکا هم د افغانستان د جګړې پر سر د پاکستان سره د معاملې د لارې غوښتل چې خپل ځانګړي اهداف لاسته راوړي د شوروي لپاره د افغانستان جګړه د ويتنام جګړه جوړول، د پاکستان په خاوره کې د پوځي تاسېساتو نصبول ترڅو په منځني ختيځ کې د شوروي د توغنديو مخه ونيسي د د غو اهدافو بنسټيز ټکي و، د ايران د شاهي نظام تر نسکورولو مخکې امريکا ايران انتخاب کړی ؤ خو په ايران کې د امريکا ضد حکومت منځته راتګ او پر افغانستان د شوروي يرغل پاکستان ته زرين چانس په لاس ورکړ.

د (۱۹۸۰ زېږديز) کال د فبروري په دريمه نېټه برژنسکي په خيبر کې د پاکستان او افغانستان ترمنځ يوې پوځي سرحدي اډې ته راغی او جنرال ضياء الحق سره يې خبرې اترې وکړې، ضياء الحق غوښتنه کوله چې هغه پيسې او وسلې چې امريکا يې مجاهدينو ته استوي بايد د دوی په اختيار کې ورکړل شي او دا امتياز هم بالاخره ورکړل شو او جنرال ضياء الحق هم د دې پروګرام لپاره د آي.ايس آي ريس جنرال اختر عبدالرحمن وټاکه او د اي.ايس.آي ريس هم د نورو غوښتنو څخه علاوه لاندې غوښتنې امريکايي چارواکو ته يادې کړې چې امريکايي چارواکو هم ټولې ورسره ومنلې:

١: هيڅ امريکايي اجازه نلري چې د پاکستان د خاورې څخه افغانستان ته داخل شي.

٢: وسله يوازې د آي.آيس.آي د افسرانو په واسطه ويشل کېږي.

٣: مجاهدينو ته پوځي روزنه د آي.آيس.آي په کمپونو کې د دوی د افسرانو په واسطه د افغانستان د پولې په اوږدو کې ورکول کېږي.

۴: د سي.آي.اي افسران مجاهدينو ته د روزنې ورکولو حق نلري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۵: د نوو وسلو د سېستم د پېژندنې لپاره به د سي.آي.آي افسران د آي.آيس.آي ښوونکو ته روزنه ورکوي.[۹]
نور نو آي.آيس.آي چې ځنګه غوښتل د امريکاباد راوړي پيسې او وسلې يې به يې ويشلې، د آي.آيس.آي د افغاني برخې ريس په پېښور کې په مېشتو افغان مجاهدينو وسلې او مهمات ويشل او هغه تخصيص چې په کال(۱۹۸۷ زېږديز) کې مجاهدينو ته ورکول کېده په لاندې ډول ؤ: ګلبدين حکمتيار ته ۲۰٪ ، رباني ته ۱۸٪ ، سياف ته ۱۷٪ ، خالص ته ۱۵٪ ، محمد نبي ته ۱۵٪ ګيلاني ته ۱۱٪ او مجددي ته ۵٪ .
د امريکا سياست د جيمي کارټر وروسته د رونالډ ريګن په راتګ سره نوي پړاو ته داخل شو او په دې پړاو کې په افغانستان کې شوروي ته د ګوزار ورکولو او دجګړې د زور اخيستلو په هدف دزياتو پيسو او وسلو لمنه پراخه شو ، د کارټر په وخت کې د امريکا دا سياست په ډېر احتياط مخکې روان ؤ او يوازې برژنسکي ؤ چې په شوق او جديت سره يې د مجاهدينو سره مرستې کولې او د امريکا د بهرنيو چارو وزير سايرس وانس دده د نظرياتو سره موافق نه ؤ ځکه هغه د(۱۹۷۸ زېږديز) کال د اپرېل کودتا کې د شوروي لاس داخل نه بلي.خو کله چې ريګن د امريکا جمهور ريس شونو د شوروي امپراتوري يې د شيطان امپراتوري وبلله او د مجاهدينو سره د زياتو مرستو ډګر ته راووتو ، په( ۱۹۸۰ زېږديز )کال کې د کارټر په وخت کې مرستې ۳۰ ميلونه ډالره وي په داسې حال کې چې په( ۱۹۸۵ زېږديز) کال کې مرستې ۲۸۰ ميلونه ډالره وي او په دې کچې او يا ددې څخه زياتې سعودي عربستان هم ورکولې او په پاى کې خو سپين چکونه ورکول کېدل چې څو مره پيسې مو پکار وي اخيستلاى يې شي او په(۱۹۸۷ زېږديز) کال کې د مجاهدينو لپاره ۶۲۰ ميلون ډالره مرسته ځانګړې شوه، او د(۱۹۹۱ زېږديز) کال په پاى کې چې کمونيستي حکومت سقوط وکړ او د سي.آي.آي د پټو عملياتو

(c) ketabton.com: The Digital Library



قانوني صلاحیت هم پای ته ورسید د پنځو ملیارد ډالرو مرسته شوې وه.[۱] چې د دې مثلث اصلي کارکوونکي چې عملاً بوخت وه د نورو څخه علاوه د آی.آیس.آی ریس جنرال اختر عبدالرحمن، د سي.آي.آي ریس ویلیام کېسي او د سعودي عربستان د استخباراتي اداري ریس شهزاده ترکي الفیصل وه.

د امریکا متحده ایالات او حامد کرزی: نوموړي په (۲۰۰۱ زېږدیز) کال د سپټمبر په ورستیو کې د طالبانو پر خلاف د خلکو د راپارولو لپاره کندهار او اورزګان ولایتونو ته ولاړ، خو مخکې له دې چې د طالبانولخوا د یوې کلابندی په ترڅ کې ونیول شي، د امریکایې چورلکو په واسطه نجات ورکړ شو او کوټې ته واستول شو. په دوهم ځل کله چې د امریکا د هوایې بمباریو سره سم د امریکایې سرتېرو د یوې ټولې سره د اورزګان ولایت ته ولاړ بیا د طالبانو د یوې پنځه سوه کسیزي ډلې تربرید لاندې راغی په دې وخت کې امریکایې ځانګړو ځواکونو د هوایې بمباریې غوښتنه وکړه چې د ابمونه په ترینکوټ کې حامد کرزي ته نژدې په دوه سوه مترۍ کې هم وغورځول شول، د دغو عملیاتو د طالبانو د ځواکونو ملا ماته کړه او ډېر ژر کندهار سقوط وکړ.

حامد کرزي د پوپلزیو د قبیلې څخه دی او د کندهار د کرز د سیمې او سیدونکی دی، پلار یې عبدالاحد کرزی د ظاهرشاه په وخت کې د پارلمان وکیل او د پوپلزیو د قبیلې مشر ؤ چې د (۱۹۹۹ زېږدیز) کال په جولای کې د پاکستان د کوټې په ښار کې ووژل شو، حامد کرزي د ماسټري تر کچې پورې خپلې زده کړې د هندوستان د هماچل پردیش په پوهنتون کې سرته رسولې دي او د شوروي پر ضد د جهاد په وخت کې د ملي نجات د تنظیم غړیتوب یې درلود او د مجاهدینو په حکومت کې د څه وخت لپاره د بهرنیو چارو په وزارت کې سیاسي معین ؤ خو وروسته بېرته په (۱۳۷۲المریز) کال کې کوټې ته ولاړ او وروسته کله چې طالبان را پیدا شول نو ده اړیکې ورسره درلودې خصوصاً د طالبانو د بهرنیو چارو د وزیر ملا محمد غوث

---

[۱] امریکا په افغانستان کې، دښاغلي محمد اکرم اندیشمند لیکنه. صفحه ۲۱۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره او د هغوی سره يې ځينې مالي مرستې هم کولې خو کله چې په(۱۹۹۹ زېږديز) کال کې يې پلار عبدالاحد کرزی ووژل شو او پر طالبانو تاوان شو نو د طالبانو سره يې اړيکې قطع کړې او په مقابل کې يې خپل سياسي فعاليتونه تيز کړل او د امريکا سره يې اړيکې قايمې کړې، کرزی وايي چې زه به هره هفته يو ځل اسلام اباد ته تلم او د امريکايانو ،انګليسانو ، جرمنيانو ،فرانسويانو او ايټالويانو سره به مې کتل او ورته ويل به مې چې د افغانستان خلک د طالبانو په خلاف پاڅون ته چمتو دي خو هغوی زما په خبرو باور نه کولو.[1]

د(۲۰۰۱ زېږديز)کال د سپټمبر يوولسمې د طالبانو په اړه د امريکايانو په سياست کې تغير راوست، امريکايانو لومړی غوښتل چې د طالبانو په رهبري کې تغير راولې او که داسې ونه شي نو رژيم به د منځه وړي، د دې پلان د تطبيق کولو لپاره يې د طالبانو په عوض د پښتنو ځای ناستو په توګه قومندان عبدالحق او حامد کرزي ملاتړ شروع کړ ولې قومندان عبدالحق ډېر ژر په دې لاره کې خپل سر بايلود او کرزی د امريکايانو د يوازېني انتخاب په توګه پاته شو او دبن په غونډه کې دزلمي خليلزاد دهڅو په نتيجه کې دموقتې ادارې درياست مقام ته ورسيد.
محمد قسيم فهيم وايي: چې ما ته له بن څخه څو ځله سيد مخدوم رهين او ډاکتر عبدالرحمن ټليفون چې دموقتې ادارې د رياست لپاره عبدالستار سيرت ومنې اوحامد کرزی رد کړي ، زه رباني او سياف ته ورغلم چې سيرت ومنو او که يا؟ خو استاد سياف د سيرت په هکله مخالفت وښود او ميز ته يې ډب ورکړ چې سيرت خاين دی،هغه ونه منۍ همدارنګه زلمي خليلزاد هم راته ټليفون کاوه چې د سيرت پر ځای د موقتې ادارې لپاره حامد کرزی ومنې ترڅو د پښتو او فارسي ستونزه رامنځ ته نه شي.

---

[1] امريکا په افغانستان کي، دښاغلي محمد اکرم انديشمند ليکنه.صفحه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کرزي د (۲۰۰۱ زېږدیز) کال د ډسمبر په ۲۲ نېټه او د (۱۳۸۰ المریز) کال د قوس د میاشتې په ۲۲ نېټه کابل ته راغی او یوه هفته وروسته یې د برهان الدین رباني څخه واک ترلاسه کړ او د بن د موافقې سره سم د شپږو میاشتو لپاره د بېړنۍ جرګې تر جوړېدو پورې د موقتي اداري ریس شو، د واک د لېږد او د موقتي اداري د ریس په حیث د حامد کرزي د انتخابېدلو څخه وروسته امریکا په کابل کې خپل سفارت خلاص کړ او په واشنګټن کې د افغانستان سفارت هم په (۲۰۰۳ زېږدیز) کال کې پرانیستل شو او هارون آمین د شارژدافیر او وروسته بیا اسحق شهریار او بیا سید طیب جواد او بالاخره اوس اکلیل حکیمي په امریکا کې د افغانستان د سفیرانو په حیث وټاکل شول.

کرزي د (۲۰۰۲ زېږدیز) کال د جنورۍ په ۲۷ نېټه خپل لومړنی رسمي سفر امریکا ته وکړ او په نیویارک کې د یو مطبوعاتي کنفرانس په ترڅ کې یې د ملګرو ملتونو د سرمنشي کوفي عنان سره په ګډه بېړنۍ لویې جرګې د جوړولو لپاره د یو ۱۹ کسیزه کمېسون اعلان وکړ، حامد کرزي د موقتي اداري د شپږ میاشتني ریاست څخه وروسته په بېړنۍ لویې جرګې کې چې د (۲۰۰۲ زېږدیز) کال په جون او د (۱۳۸۱ المریز) کال کې جوړه شوې وه او پخواني پاچا ظاهرشاه پرانیستله د دوهم ځل لپاره د انتقالي دورې د ریس په توګه د یو نیم کال لپاره وټاکل شو.[۲۱]

---

[۱] امریکا په افغانستان کې، د ښاغلي محمد اکرم اندیشمند لیکنه. صفحه ۲۲۰

[۲] کولای شې د امریکا او افغانستان په اړیکو زیات معلومات (افغانستان د دښمنانو لومې رسوا کیږي) نومې کتاب کې چې ښاغلي شاه محمود حصین لیکلی، همداشان (لس کلنه ډیموکراسي او د افغانانو سیاسي بې وسي) په نوم کتابونه وګورئ همدارنګه په افغانستان د امریکا د استخباراتو په اړه نور معلومات د (د سي ای ای پټې جګړې له ویتنامه تر افغانستانه) د ښاغلي محمد زبیر شفیقي لیکنه وګورئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



اتم څپرکی

پـه افغانستان کې د بهرنیو هېوادونو لاسوهنې

دافغانستان په اړه دپاکستان دریځ

داخوټولو ته جوته ده چې زموږ ګاونډی ورور هېواد پاکستان کله؟ څنګه؟ او په سیمه کې دکومو ،کومو اهدافو دترلاسه کولو په غرض جوړ کړای شو؟

کله چې انګرېزان دهند دنیمې وچې پرېښودو اړ کړای شول،نو په سیمه کې یې خپلو سیاسي اهدافو ته درسېدو په خاطر یو نوی هېواد دپاکستان په نوم رامنځته کړ او دخپل شیطاني سیاست له مخې یې دهند او پاکستان ترمنځ دکشمیر او د افغانستان او پاکستان ترمنځ د ډیورنډ متنازع مسایل ترشا پرېښودل، ترڅو هر وخت اوبه خړې وي او په اسانۍ په کې ماهیان ونیول شي.

پاکستان دخپل پیدا ایښت له لومړۍ ورځې هلته دهند او دلته له افغانستان سره خپلې زړې دښمنۍ ته یونوی، مګرخطرناک شکل ورکړی دی. ددواړو هېوادونو پرخلاف یې نااعلانه جنګ پیل کړی او هره ورځ زموږ دبې ګناه هېوادوالو کورونه ورانېږي،بې دفاع خلک په کې وژل کېږي او په دې توګه زموږ دهېواد په بربادۍ کې دخپلې آبادۍ کرغېړن پلانونه عملي کوي چې مثالونه یې د سرپه سترګو مشاهده کوو.

نن زمونږ یونالوستی او ساده سړی هم په دې حقیقت پوهېږي چې پاکستان له افغانستان سره دوستي او ورورولي نه غواړي،بلکې غواړي دافغانستان دپنځه زره کلونو ملي افتخارات دتاریخ دکندې ته وغورځوي.

باید داخبره هم واضحه کړو چې دپاکستان مومن او غیرتي ولسونه زموږورونه دي او ورونه به وي،خود پاکستان حکومتي چارواکي او استخباراتي اداره،هېڅکله هم زموږ رښتیني او واقعي ورونه نشي کېدلای ځکه چې هغوی پخپل هېواد کې پرخپلو ورونو هم ترحم ونه کړ او دالقاعدې په نامه یې دباجوړ،سوات او وزیرستان

(c) ketabton.com: The Digital Library



بې ګناه مسلمانان په امريکايي ډالرو وپلورل او بيايې دامريکي دډرون حملو ښکـه وګرځول.

دا به يوعارفانه تجاهل وي چې خپل دښمن ته ورورواېو او دا به نهايي ساده ګي وي چې نورهم په خپل قسم خوړلي دښمن باور وکړو.زموږ ولس مشرښاغلي کرزي هم ديوه نېک نيت لـه مخې پاکستان تـه د(ورورهېواد ) خطاب کوي او کله بيا ورتـه دښمن هم وايې. زموږ پاک زړي هېوادوال هم ديوه سپېڅلي نيت پراساس،غواړي چې پاکستان يې رښتينې او واقعي دوست شي او پاکستان تـه هم پـه خپل ګاونډ کې ديو(دوست هېواد ) ضرورت دی،خو پاکستان دافغانانو سره دهابېل او قابېل د ورورولۍ لوبه پيل کړې ده او غواړي چې دې لوبې ته دوام ورکړي.

پاکستان هڅه کوي چې افغانستان خپلـه پنځمـه صوبه وګرځوي او ددې کرغېړن پـلان دعملي کولو پـه خاطر پـه افغانستان کې روزل شوي ايجنټان هم لـري چې د(ISI ) بدنامه اداره يې ترشاه ولاړه ده او دهغوی تمويـل او تجهيـز پـه غـاړه لـري.

ترڅو پـورې چې پـه هېـواد کې ملـي او اسـلامي ارزښـتونو ته وفـادار او دملي ګټـو واقعي ساتونکي مشران او کشران راټول نه شي او دې خونړۍ مسئلې تـه دحل يوه کوټلې لاره ونه سنجوي،نوزموږ سر، مال او ناموس به دتل لپاره دخطرسره مخامخ وي او داور اووينې داډرامه به جريان لري.

دا يوه مشـهوره خبره ده چې دپاکستان دمسلم ليـګ (ن ) ګـروپ مشر،نوازشريف دخپل يوه انتخاباتي کمپاين پرمهال خپل يوه پيپلې سيال تـه پېغـوروركړچې ((تم نے بنګـال ديـا اورهم نے افغانسـتان ليـا ) )زمونږ دورورولـۍ دروغجـن دعـوه دارخپل سيال ته داهم ويلي وو چې ((مادافغانسـتان دوه سوه کلنـه اردو لـه منځـه يوړه، تاپاکستان ته کوم خدمت کړی دی؟ ) )

ددروغجـن داخبـره رښـتيا ده چې زمـوږدوه سوه کلنـه اردويـې دړې وړې کـړه، خـو پرافغانستان دقبضې خوبونه به ورته ګران تمام شي او هغه اوريې چې زموږپه کـور لګولی،خپل کوربه يې هم په کې غرغنډه کړای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو پاکستان الاصله امريکايي، چې د نيويارک ټايمز لپاره ليکنې کوي وايي: ((مادنړۍ ببلابېل ملتونه ولېدل او دې نتيجې ته ورسېدم چې له پښتنو (افغانانو) پرته، که په هربل قوم کې کومه شخړه رامنځ ته شي، نو يوه خوا فاتحه او بل خوا يې مفتوحه شي، خو که په پښتنو کې داعمل تکرار شي نو يوه ډله فاتحه او بله مغروره شي مغروره ډله ترهغې په قرارنه کښيني، چې ترڅو يې له مقابل لورې خپل کسات نه وي اخيستي)).

نومووړي وايي: چې دا خبره مې ديوې مرکې په ترڅ کې جنرال ضياءالحق ته وکړه. اوزياته مې کړه چې: ((دافغانستان مسئله په جنګ او تشدد نه حل کېږي، بايد دامن لپاره يو سوله ايز اقدام وشي تاسې خو په خپل هېواد کې هم هغه ډول نظام نه غواړئ، کوم چې په افغانستان کې يې راوستل غواړئ؟ نو په سيمه کې د دې ويرانۍ او بربادۍ څه هدف دی؟))

نومووړی ليکي چې ضياءالحق ځواب راکړ چې پدې اړه جنرال اخترعبدالرحمن وپوښته. کله چې مې هغه ته هم دا خبره وکړه، نو ويې ويل: ((موږ ته د (STRATEGIC DEPTH) عسکري ژورتيا ضرورت دی. زموږ هوايي جنګي جهازونه له اګرې وړاندې نشي تللای او د هند له هوايي ځواکونو زموږ يوه هوايي اډه هم په امن کې نه ده.)) ما ويل: ښه، خبره د افغانستان د قبضه کولو ده..؟

له پورتنيو اظهاراتو زموږ هېوادوال څه ډول قضاوت کوي؟ آيا پاکستان دافغانستان خواخوږی او واقعي ورور هېواد کېدای شي؟ نه، هېڅکله نه![1]

د پاکستان سياسي موخې او لاس وهنې

په افغانستان کې د پاکستان د سياسي موخو اوله افغاني تنظيمونو سره د جنرال ضياء الحق دحکومت د چلند په اړه د پاکستان د آي اس آي (ISI) د اداري د مشرتابه يوه غړي، ډګروال محمد يوسف د (خوګ تلک) ترعنوان لاندې يو کتاب

[1] للمه مجله، دجرار ادبي، کلتوري او ټولنيزې ټولنې مهالنۍ خپرونه ۱۳۹۰ قوس ځلورمه ګڼه. م ۴،۵

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیکلی دی، پدې کتاب کې لیکوال هڅه کړې ده چې له یوې خوا د روسانو پرضد د افغانانو دجهاد په ویاړنو یوا ځې ځان او پاکستان وویاړي ، اوبلې خوا یې تر ډېره حده پورې یې د پاکستان سیاسي اغراض چې دلوڅولو وړ وو ،لوڅ کړي دي.

دافغانستان غمیزه دپاکستان دمارشل لازیم لپاره یوه (غیبي تخفه) وه، زمونږ پرهېواد دشوروي دسره لښکر یرغل دهغه هېواد مشرانو ته داښه فرصت ورپه برخه کړ چې له یوې خوا له افغانانو څخه دتاریخي بدل اخیستلو او له بلې خوا دخپل هېواد دخواړخیزوبحرانونو دلرې کولو په لورپه افغانستان کې خپله لاس وهنه دمرحوم محمد داودخان دجمهوریت په زمانه کې پیل کړې وه، ګړندۍ کاندي که څه هم چې دا لاس وهنه په ظاهر کې دافغانانو سره داسلامي خواخوږي په نوم روانه وه ،خو په حقیقت کې دهغې شاته پخې تاریخې سیاسي موخې پرتې وي، پدې کې شک نشته دډیورنډ لاین هاخواته میلونونه افغانان مهاجرین پراته وو اودپاکستان حکومت ورسره ترخپله وسه پورې بشري مرستې کولې او افغانانو پرکوردکمونیزم اوورپسې بیاروسانودرالویدلي تندرسره په مقابله کې افغانان دخپلو ګاونډیو مرستوته احتیاج ووخو پاکستان افغانانوته ددې مرستو ورکولو په عوض کې دخپلو موخو دترلاسه کولو په هڅه کې وو.

دجنرال ضیاءالحق چې تردې دمه دګردې نړۍ لخوادبشپړتجرید سره مخامخ و ،لومړی هدف یې داوچې پرسیاسي ځواک باندې خپلې پښې ټینګې کاندي ،ډګروال محمد یوسف چې له (۱۹۸۳-۱۹۸۷ زیږدیز) کلونو پورې په ای اس ای کې دافغان جهاد لارښوونکي وو (خوک تلکه) (په ۲۰او ۲۵) مخ کې واي چې جنرال ضیاء الحق دپاکستان دای اس ای دنوي ټاکل شوي رئیس جنرال اختر عبدالرحمن اونورو ورته نږدې جنرالانو سره په یوه غونډه کې دافغانستان روانه وضع وڅېړله اوجنرال اختر ته یې وویل: چې ددې لپاره چې په پاکستان او نړۍ کې خپل دریځ پیاوړی کړای شم،نودوه کاله مودې ته اړتیا ده، اوددې لپاره باید په افغانستان کې اوبه په مناسبه تودوخه ویشول شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په نړیوال ډګرکې د پاکستان د مارشل لا ایزیم د ستونزو پر هکله ډګروال یوسف د خپل کتاب په (۲۲) مخ کې زیاتوي چې په (۱۹۷۹ زیږدیز) کال کې جنرال ضیاء الحق د خپل پخواني صدر اعظم (بوټهو) د وژلو له کبله د ټولې نړۍ له کرکې او محکومیت سره مخامخ ؤ، په پاکستان کې دننه او له نړۍ له کرکې او محکومیت سره مخامخ ؤ، په پاکستان کې دننه او له هغه څخه بهریې شهرت په ژوره توګه ځپل شوي ؤ، او په بشپړه توګه یې ځان تجرید سره مخامخ احساسوه، که څه هم په نارسمي توګه د یوه کمونیست زبرځواک پرضد له جهاد سره یې د ملاتړ له لارې غوښتل دلویدیځ زړه سوي ځانته راواړوي، په دې کې یې شک نه و چې امریکا به یې مرستې ته ورودانګي، د یوه کلک مسلمان په توګه نوموړی دې ته چمتوؤ، چې خپلو اسلامي ګاونډیو ته مرسته ورکړي، نوداسې لیدل کېدل چې ټول دیني، سیاسي او ستراتیژیک فکتورونه د دې کارلپاره سم وو، چې په ریښتیا سره ډېر د خوښۍ تصادف وو.

هماغه ؤ چې د دې، خوښ تصادف ترسېورې لاندې داي اس اي دننه چې مشري یې د جنرال اخترعبدالرحمن په لاس کې وه، دافغانستان د تنظیمونو په لسګونو زره مجاهدینو د روزلو او د سلګونو زره تنه وسلو او ګولیو اونورو لویو مالي او تخنیکي امکاناتو د برابرولو لپاره په عملي کارلاس پورې شو، نوموړي جنرال چې دضیاء الحق نږدې او خوراپیاوړی دوست وو، نوموړی د (۱۹۸۰) تر (۱۹۸۷) زیږدیز کلونو پورې د پاکستان د پوځي استخباراتو ریس پاتې شو، او بیا د (۱۹۸۸) زیږدیز کال د اګست په میاشت کې له جنرال ضیاء الحق سره د هغوی د سپرلۍ په یوه پوځي الوتکه کې د چاودنې له کبله ووژل شو.

ډګروال محمد یوسف او مارک ارکېن د (خوګ تلک) په ۴۲ مخ کې وایې: چې جنرال اختر د پاکستان داردو ټولې زیرمې مخ پرشا واړولې، او له هغوی څخه یې (۳۰۳) نمبرانګریزي ټوپک او د ټانک ضد ماینونه او چینایې توغندي راویستلې و، دای اس ای اړوندې ادارې د شپې په تیاره کې افغانستان ته وسلې لیږدولې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځېنو قوماندانانو او ځېنو تنظيمونو تــه دوســلو لېږدولو دنده وروســپارل شــوه، دجګړې دسمون او بهبود لپاره د اسلاوي ليږديدي دامکان ترهغـه کچې پراخه شو چې لـه دې لپـارې څخـه تـر (۱۹۸۲) زبږديزکـال پـورې افغانسـتـان تـه پـه اونـۍ کـې زرټنـه وسله ليږديدلـه، ډګروال يوسف ليکـي چې زمونږ بنسـټيزه موخـه داوه چې کابـل بايـد دکـال پـه دولـس (۱۲) مياشـتوکې دتوغنديوتربريدلانـدې وي، هـوايې ډګرونه اولويې لارې پـه تېره بياترا موسيند پورې دشمال پـه لويـه لار اودسالنګ پـه تونل بريدونه هيڅ کله هم ونه دريږي.[1]

پرلويوپـوځي اودولتـي مرکزونوبانـدې دتوغنديوپربريدسـربېره بايـد پرلويـو فـابريکو دبريـدلپاره هـم تخريـب کـاروان واسـتول شـي ،دکابـل ويجـاړول دجنـرال اختـرد پلان مرکــزي هســته جوړولـه، پـه (۱۹۸۰) زبږديزکــال کــې اي اس اي د مجاهدينو ببلابېلوډلوته پـه زرګونوټنـه وسلې اومهمات ورکړي وو ،اوپـه همـدې ډول پـه زرګونوتنه مجاهدين پاکستان ته دروزنې لپاره راتلل.

د(۱۹۸۰)او(۱۹۸۷زبږديز)کلونوترمنځ دآي اس آي لـه لارې دپاکستـان داردو ډلـې افغانسـتان تـه دمجاهـدينو دمرستې اولارښـوونې لپـاره تللي،خوپـه خپـل واړپـه افغانسـتان کې دپاکستا ن دنقش پرهکله دخورا اوږده بحث پـه ترڅ کې ښاغلي حق شناس، چې دجمعيت اسلامي دتنظـيم مخـورغړي وود(تحولات سياسي وجهـاد افغانسـتان )کتا ب دلومړي ټوک پـه (۱۱۲) مخ کې ليکي چې پاکستـان دشروع نه پـه تمامه مينه اومحبت پـه ډېره اوچتـه توګـه دافغانسـتان مسئله او دروسي عسـکر وويستل زمونږ دګران هېوادنه پـه معلومه اومعين وخت سره پـه دغه لاره کې ترسره کړل ،داسلامي هېوادونـو سـره پـه جدا ډول اوپـه غيرعمومي غونډې کې يـوازې دملل متحد ترقيادت لاندې دغـه مسـلـه ترخـه کـړي ،دپاکسنان حکومت چې پرلـه پسي کوم کوششونه کړي دي،پـه څلورومادوباندې يې ډېرټينګارکړی دی.

۱- دافغانستان څخه به غير دقيداوشرط نه دروسي فوځ ويستل.

---

[1] افغانستان ترورروستي افغانه، دښاغلي غلام محمد زرموال لېکنه م ۹۷،۹۸،۹۹

(c) ketabton.com: The Digital Library



۹

۲- په خپله د افغانستان د خلکو لخوا د نوي نظام غوره کول.

۳- په خپله خوښه او رضا سره د روسي پوځ وتل

۴- په اینده کې ضمانت ورکول او ساتل د اسلامي نظام

واقعیت دادی چې افغانانو ته د پاکستان د مرستې اساسي موخه له دې سره سره چې په افغانستان کې یې د روسانو شتون نه شو زغملای، بې غرضه او في سبیل الله نه وه، پر افغانستان باندې د روسانو یرغل په پیل کې د افغانستان د ګاونډیو په شمول د نړۍ لرې او نږدې هېوادونو هیڅ یو هم د افکر نه کاوه چې ګوندې هغوی (روسان) دې پر شا ولاړ شي، نو د ټولو پرېکړه داوه چې په افغانستان کې د روسانو لپاره چې هر څومره کولای شي جګړه اوږده کاندي او د پاکستان د امنیت لپاره د افغانستان سرونه په دوی کې واچوي، ډګروال محمد یوسف د (د خوګ تلک) په (۲۵) مخ کې وایې چې جنرال اختر، ضیاء الحق ته وویل چې د افغانانو مقاومت باید د شوروي په مقابل کې د پاکستان د دفاع په لومړنیو لیکو وا ړول شي، که هغوی پر ښنوول شي چې په اسانۍ سره افغانستان اشغال کړي، نو بل کاربه یې د پاکستان پر لور ممکن د بلوچستان د ایالت له لېارې یو لنډ ګام پورته کول وي.

له همدې کبله و چې د جنرال ضیا الحق رژیم، له یوې خوا د پاکستان د امنیت لپاره او له بلې خوا له امریکې څخه د اوږدې مودې پوځي او اقتصادي ګټو د ترلاسه کولو په بدل کې د واشنګټن کړنلاره تعقیبوله او په افغانستان کې یې روسان د اوږدې مودې نښلول غوښتل، ډګروال محمد یوسف په دې کتاب کې دغه خبره په وار وار تکراوي.

زه په آي اس آي د افغان څانګې د مشر په توګه نه یوائې د دې مسؤل وم چې مجاهدین وروزم او وسله ورته تیاره کړم، بلکې په افغانستان کې د هغوی د عملیاتو پلانول هم زما په لاس کې وو، زمونږ هدف دا و چې شورویانو ته افغانستان پرویتنام بدل کړو افغانستان باید په ورو ورو په اورا ړول شوي وای، ډګروال یوسف وایي: چې مونږ ته د (۱۹۸۳ زېږدیز) کال په اوږدو کې اټکل لس زره

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټنه وسله او ګولۍ راورسیدي او داکچې په (۱۹۸۷) زېږدیز کال کې (۲۵۰۰۰) ټنو ته ورسیده ،ددې وسلو زیاته برخه له چین ،مصر او بیا وروسته له اسرائیلو راتله او د افغانانو د جهاد سره د جنرال ضیاالحق د حکومت د مرستو ،دویمه موخه دا وه چې د افغانستان او افغان اولس د پښنو لویدلو په نتیجه کې د ببرک کارمل په رژیم باندې د برتانوي ښکېلاک له خوخیالي او تش په نامه کښل شوې (ډیورندلاین) د دواړو هېوادو ترمنځ د نړیوال پولې په توګه ومني.

دا معزله چې ولې ،څنګه او له کومې لپارې پاکستان هڅه کوله چې افغانستان ناتوانه او له پښو لویدلی وساتي ډېره پیچلې نه ده، په وچې پورې تړل شوي هېوادو په توګه افغانستان تل خپلو ګاونډیانو ته اړپاتې ؤ. د افغانستان او پاکستان د خرابو اړیکو تنبتیدونکو ته پاکستان سم له واره پناه موندلو کومک وکړ((په خپله دلړ اهمیت وړ وو ،خو افغاني بنیادګرانو ته نه صرف د پاکستان د مسلمانو همخپالو حلقو کې هرکلی وویل شو ،بلکې د بهتو حکومت لخوا یې هم پذیرایي وشوه((جهادي تنظیمونه)) چې ډېر ژر یې هغې کې پرتې سیاسي ګټې بوی




کړي د بهتو ترخپل نظر لاندې پاکستاني مقاماتو د افغان منحرفینو روزلو او هغوی ته دوسلې ورکولو دنده پیل کړه پاکستانیانو به هغوی لیږل چې د افغانستان د ننه په ځایونو حملې وکړي، چې حکومت ته مشکلات پیدا کړي د پاکستان تماس د کورنیو چارو وزارت کې د کمونیستو لپاره د بنیادګرانو خلاف د عملیاتو جواز موندلو کې اسانې راوسته،هغې حالت نه د ګټې اخستلو لپاره کمونستانو ځینې مسلمان روحانیون ونیول ، چې د هغوی خوښ نه وو ،خو هغوی یقیناً د پاکستان اېجنټان نه وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پښتونستان مسئله او له پاکستان سره د اړیکو خرابېدل[1]

د پښتونستان سیمه چې له چترال څخه د هند ترسمندر پورې سند د سیند په ښي خوا د (۸۰۰) میله او تقریبا (۲) میلونو نفوسو په لرلو سره پرته او د افغانستان د خاورې طبعي برخه وه، د(۱۸۱۰) او (۱۸۲۳) زیږدیز کلونو ترمنځ هغه مهال چې افغانستان کې د محمدزیو ورونو ترمنځ کورنۍ جګړې وې.د پنجاب د سکانو حکومت،د انګلیسانو د لمسون له مخې د دې سیمې ځینې برخې د سند سیند دواړو خوا ووته ونیولې،دانګلیسانو حکومت دلاهور د مثلث تړون پوسیله د سکانو او انګلیسانو له خوا د نیول شویو سیمو په اړه د تبعید شوي شاه شجاع په رسمي ډول د دې سیمو له ادعا څخه تېرکړ.اما د افغانستان خلکو په (۱۸۴۲ زیږدیز) کال کې د شاه شجاع په وژلو او د انګلیس فوځ د له منځه وړلو او ماتې پواسطه دا تړون باطل او د هغه تړول مواد یې عملاً له منځه یوړل. امیر دوست محمد خان انګلیسانو ته وخت ورکړ چې تر (۱۸۵۴) زیږدیز کال پورې د سند او بلوچستان ولایتونه ونیسي ،ځکه امیر دوست محمد خان د سک حکومت ترړنګیدو وروسته له ګجرات، ګیرات او اټک څخه شاته راغئ انګلیسانو خپل ځانونه د سکانو ځای ناستي او وارثان اعلان کړل[1]

انګلیسانو په دې سلو کلونو کې افغاني ولایتونه لومړی په مختلفو برخواونومونو لکه چترال، سوات، دیر، باجوړ بیا یې په شمال کې د مختلفو ریاستونو په نوم لکه مکران، خاران، لس بیله، پشن ډوکی تریو(شور) او د برتانوي بلوچستان په نوم ونومول او په جنوب کې یې یو محکومه سرحدي پوله د ډېری، پېښور، هزاره، اټک او ازاد سرحد لکه تیرا ،شمالي وزیرستان، جنوبي وزیرستان اوکرمې په سیمو وویشل شوي.له نوموړو سیمو سره د انګلیسانو اړیکې د مختلفو ایجنسیو پواسطه لکه ډېره جاتو ایجنسي، پېښور ایجنسي، دهزارهایجنسي، د اټک ایجنسي، ملکنډ ایجنسي او چکې ایجنسي ټینګیدلې.

---

[1] په افغانستان کې توپان، غوث خیبري لیکنه م (۹۷۸) او (۹۷۹).

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددې ایجنسیوا اساسي دندې اوکړنلارې دبې اتفاقۍ پیدا کول. دهر ډول تولنیزو، اقتصادي اوفرهنګي چارو پرمختک مخنیوی و. ورسره ورسره د نظامي کلاګانو اوسړکونو جوړول، دحاکمو نقطواومهمولاروباندې تسلط او کنترول وو.[۱]
انګلیسانو د پورتنیوهیلواوموخوته درسیدوله پاره دهرډول مقاومت مقابله کوله. په دې لار کې دخلکو وژل، د قوي وسلې ټوپک، توپ اوالوتکو داستعمالولو پواسطه ددې سیمې خلک له هرې خوا کلابند کړل. ځکه دوی د ډیورند له کرښې ورو ورو ازاد سرحد په لورې د سړکونو دجوړول لاره ځان ته خلاصه کړې، ځکه د ډیورند د کرښې او برطانوي هند دمحکوم سرحد ترمنځ آزاد سرحد په نوم یوه مستقله سیمه موجوده وه. تر ډېره وخته دغه سیمه د آزادو قبایلو یا آزاد سرحد په نوم یادیده. دموجوده افغانستان او د وخت برطانوي هند منځ د نښلونې لویه لاره وه.

د ایران سیاسي موخې


دافغانستان په اړه دایران لاس وهنه په تاریخي ډول له ښکېلاک سره په خوا اود ښکېلاک په ګټه عیاره شوې وه، رضاشاه پهلوي دایران په سیمه کې دامریکا( ژاندارم )په توګه تل په دې هڅه کې ؤ، چې افغانستان تر فشار لاندې وساتي، که څه هم له هېواد سره دهلمند اوبوله وېشه پرته په پولو کې بله لویه شخړه موجوده نه وه، خو په سیمه کې دتهران چال چلند دانګریزانو او امریکادګټو ساتلو او په ګاونډ کې د(ایران کلتور)دپراخولو پراصولو ولاړ و، تهران چې لویدیځ اوختیځ ترمنځ د سړې جګړې په وخت کې دبغداد سیتو او سینتو غړی پاتې شوی و، اود تاریخ په اوږدو کې یې سیمې ته داروپایي ښکېلاکي ځواکونو دلاسونو اوږدولو لارې چارې برابرولې اود هغوی دناروا ګټو ساتندوی و، درضا شاه پهلوي تر نسکوریدو وروسته تر ایت الله خمیني لاندې داسلامي ایران چلند هم دافغان اولس له ګټو سره په تضاد کې و.

---

[۱] په افغانستان کې توپان، غوث خیبري لېکنه م (۵۷۹).

(c) ketabton.com: The Digital Library






د ایـران اسـلامي انقـلاب پـه پیـل کـې پـه هغـه هېـواد کې د امریکـا ضـد مظاهرې روانـې وې او اسـلامي رژیـم یـې لـه خورا جدي بحران سره مخامخ کړی وه، د (۱۹۷۹) زېږدیز کال د نومبر د میاشتې په (۴) نېټه د تهران د پوهنتون محصلینو په تهران کې د امریکا پر سفارت یرغل وکړ او د سفارت (۵۵) کارکوونکي یې یرغمل ونیول ،له بلې خوا د اسرائیلو او امریکا پر لمسون له عراق سره لاس او ګریوان و ،په ایران کې د همداسې امریکایي ضد احساساتو په بهیر کې د دسمبر د میاشتې په (۲۷) روسانو پر افغانستان یرغل وکړ.

پر افغانستان د روسانو د یرغل څخه دوه ورځې وړاندې په تهران کې د شوروي سفیر له ایت الله خمیني سره کتنه کړې وه، هغه یې په کابل کې د حفیظ الله امین د رژیم د نسکورولو پاره د روسانو پر پرېکړه خبر کړی و ،د شوروي له سفیر سره د دې یرغل په هکله تائید په خپله د خمیني لخوا شوی وو ،چې بیا وروسته د(۱۹۸۴) زېږدیز او (۱۹۸۵) زېږدیز کال د دسمبر او جنورۍ په میاشتو کې د( حبل الله خپرونې) په(۳) مخ کې خپور شوي وو ،دا چې د شوروي د سفیر او د ایران د اسلامي حکومت ترمنځ په دې اړه څه خبرې شوې وې څرګندې نه وه او ممکن تاریخ یې ډګر ته را وباسي، خو په داسې حال کې چې په غیاب کې یې له روسانو سره دیو شمېر منابعو پر بناء د تائید سر ښورولی و ،په ظاهر کې د دې زماني تهران تر ( ستم لاندې مسلمان افغان ملت) د ملاتړ خبرې یې کولې، مګر په واقعیت کې یې خپله سیاسي لوبه لرله چې د افغانانو په کورکې یې ولوبوي، ایت الله خمیني غوښتل چې د اسلامي انقلاب تر پردې لاندې د مرکزي افغانستان په

(c) ketabton.com: The Digital Library



شیعه مذهبه پرګنو کې د شیعیزتر پر دې لاندې خپله نظریه خپره کړي، دې عمل په افغانستان کې(ملیتونو )د حقوقو پر نامه د شوروي ایډیالوژي د خپرولو دندې سره چې کارمل لخوا پلي کېده یوځای د افغانستان په ملي یووالي خوار ویجاړونکي اغېزه درلوده.[1]

ګڼ شمېر خمیني پلوه افغان شیعه ډلې د(۱۹۸۱ زیږدیز )او(۱۹۸۹) زېږدیز کلونو ترمنځ ګوا ښېدل او هڅول کېدل او ترفشار لاندې نیول کېدې چې په مرکزي افغانستان کې د خپلو او سیدو سیمو ته راستانه شي، دې ډلو ته په واقعیت کې د ایران د رژیم له خوا په دې سترګه لیدل کېده چې په افغانستان کې به(اسلامي انقلاب ) پر مخکښنه هڅې جوړې کړي، دا کار د روسانو کار ملي پرچمیان او( ستمیانو ) له خوا پیل شو و تعصباتو د افغاناتو ترمنځ قومي، مذهبي او ژبني تعصبونه او شخړې، لانورې هم سختې کړې، د افغانستان د مجاهدینو د (بنسټپالو او منځلیارو ) ډلو ترمنځ د دې ایراني پلوه ډلو ځای پرځای کول د جهاد په لیکو کې دلا پخوا نه موجود تاو تریخوالی نور هم پسې شدید کړ.

په(۱۹۸۹ زیږدیز )کال کې دوه ایراني مامورین( جعفري او هاشمي ) چې په نړۍ کې د امام خمیني دلپارې دفاعي انقلابي ډلو د دفاع کولو مسؤل و د هزاره جاتو سیموته سفر و کړ، د دې سفر په نتیجه کې د( پاسداران انقلاب ) یوه ډله چې د ایران د انقلاب ساتونکي و او د ایران د ګټو یې دفاع کوله وزیږول شوه، دې عمل دیوه شمېر هېواد پالو افغاني ډلو د ټولو په سر کې د شیخ محمد اصف محسني (اتحاد اسلامي ) سخته کرکه او غبرګون و پاراوه له هغې نه وروسته یې د( ۱۹۸۱ زیږدیز ) او (۱۹۸۴ )زیږدیز کلونو ترمنځ په شیعه ډلو کې ژورې کرکې و پارولې ،او ترمنځ یې سختې نښتې و شوې.

ایران دې ته چمتو نه و چې په ګاونډي افغانستان کې یې یو پیاوړی سني دولت په پښو ودرېږي له دې کبله یې تهران په افغانستان کې د سعودي عربستان نفوذ هم نه

[1] د افغانستان پر معاصر تاریخ یوه لنډه کتنه د ښاغلي محمد ابراهیم عطایې لیکنه. م ۵۸,۵۹,۶۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



غونښت ځکه چې هغه هېواد ته يې نه يوازې ديوه سني رقيب په سترګه کتل بلکې دعراق ملاتړ کوونکی باله چې ايران يې په ګونډو کړی و.

په افغانستان کې دايران موخې په کابل کې د(۱۹۹۲) زېږديز کال ستميانو او پرچم له ګډې کودتا څخه وروسته (فاينا نشل ټايمز) ورځپاڼه چې دلندن مشهوره ورځپاڼه او اوږده مقاله ده ليکي: چې ايران په افغانستان کې دکورنۍ جګړې په اوږدو کې دشيعه ګوندونو ملاتړ کاوه، شيعه مجاهدينو ته يې وسلې ورکولې، او په دې توګه له سني عربستان او پاکستان سره پرجهادباندې دکابو موندلو په سيالۍ کې ډوب و خو په کابل کې دشوروي پلوي رژيم له ړنګېدو وروسته په افغانستان کې دتهران ابتدايي موخه بدله شوه، ايران دشيعه اسلامي انقلاب دخپرولو پرځای يې دپارسي کلتور خپرولو ته ملاوتړله، ايران خپل ټول وزن دپارسي ژبو، تاجکو او ازبکو په تله کې واچاوه، چې په کابل مسلط وو.

دايران حکومت داسلامي انقلاب پرصادرولو سربېره د(خط امام) دپالندويانو له لارې د(بشري مرستو) په نامه پر افغانستان باندې کلتوري (امپرياليزم) دتپلو په هڅه کې هم وو، د(فائنانشنل ټايمز) ورځپاڼه وروسته بيا په پارسې يادې شوې مقاله کې په پېښور کې دايران قونسل (حميد رضا شبر) له قوله ليکي چې غواړم ددې خبرې يادونه وکړم چې مونږ دافغانستان دجهاد په دې(۱۴) څوارلس کلونو کې ښه ګټه کړېده، ورځپاڼه زياتوي چې ديوه لويديځ وال څارونکي په خبره ايران افغانانو ته له هرې يوې بوجۍ غنمو سره دفرددوسلې يو ټوک کتاب هم وراستوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدارنګه یو وخت ایران دافغانستان دبامیانوولایت خپل یوولایت ګاڼه،نوځکه پـه بامیـانوکې ډېر لـوحې داسې لیکـل شـوي( جمهـوري اسـلامي ایـران ولایـت بامیان )[1]

دایران اسلامي جمهوریت دافغانستان دتجزیه کولوموخه داسې تاکلې وه چې لـه هرڅه نه وړاندې باید په افغانستان کې دمېشتو ورونـو قومونـو (پښـتنو، تـاجکو، هزاره اوازبکو ) خپل منځي تاریخي یووالی چې ددغو قومونو دژوندانه یـوازېنۍ وسیله ده له منځه یوسي،شیعه له شیعه،هزاره لـه هزاره،تاجک لـه تاجک،ازبـک له ازبک او پښتون له پښتون سره وجنګوي،چې دغه کار یې په کابـل کـې دهـزاره، پښتون اوتاجک په جګړه کې چې کله برهـان الـدین ربـاني جمهـور رئیس و، پـه ښـه شان سره سرته ورساوه او پـه شـورای نظاربانـدې یـې هزاره ګـان ووژل،لـه کابـل نـه وروسـته دحزب وحدت اسـلامي ځواکونـه یـې دازبـک ځواکـونـو سـره چـې شـمال دملي اسلامي غورځنګ پورې یې اړه درلوده داسې وجنګول چې زرګونه کسان پـه کې مړه اودمزار شریف ښار په کې ډېر سخت تاواني شو.

له افغانستان څخه دشوروي پوځونوله وتلووروسته،ایران په افغانسـتان کـې دیـو ملي پیاوړي اوواکمن حکومت لـه نشـتوالي څخـه نـاوړه ګټـه واخیسـته او دافغـان ولس په کورنیو چاروکې یې لاس وهنه زیاتـه کـړه دایـران سیاسـي هڅـې لـه بـل هـر وخت نه زیاتې شوې اودایران دبهرنیو چارو معین علاؤالدین بروجردي تګ راتـګ افغانستان ته دومره زیات شو چې ښایې دایران ولایتونو ته یې هومره سفرونه، نه وي کړي.[2]

---

دویمه سقاوي، دښاغلي سمسورافغان لیکنه مخونه، ۱۲۰- ۱۲۳،۱۲۲،۱۲۱

په افغانستان کې توپان، دښاغلي غوث خیبري لیکنه م ۲۱۹

(c) ketabton.com: The Digital Library



۷

ازبکستان سیاسي موخې

دازبکستان جمهوریت چې دافغانستان دمیړني اوننګیالي ولس په همت اوتوره دشوروي اتحاد دتوټه کېدو یو نتیجه ده دافغانستان دګاونډي هېواد په توګه یې دافغانانو په کورنۍ جګړې کې نیغ لاس لرلی او په شمال کې یې دازبک اقلیت ملاتړ ته دوام ورکړی دی.

ازبکستان دمنځنۍ اسیا دهغو جمهوریتونوله جملې څخه دی چې دشوروي امپراطورۍ له ړنګېدو وروسته دیو جلا هېواد په توګه منځته راغلی دی چې دشوروي امپراطوري ړنګېدل هم دافغان ملت دجهاد نتیجه ده.

ازبکستان په افغانستان کې دیوملي اوقانوني حکومت دنشتوالي له امله درامنځته شوي سیاسي خلا څخه ناوړه استفاده وکړه اولکه چې امریکایې اواروپایې مطبوعاتو تبصرې کړي دي،ازبکستان ددې کارسره بې علاقې هم نه دی چې دافغانستان شمالي برخه په تېره بیا هغه برخه چې دامو سیند ته په لنډ واټن کې پرته ده، دازبکستان دجمهوریت خاورې پورې تړي او په دې کار کې دافغاني ازبک مشرانو مرسته هم ترلاسه کړې،خو سیاسي کتونکي اود سیمې دمسایلو ماهران ددې کار عملي اړخ ډېر کمزوری ویني اوښایې دتل لپاره دخیال او تصور په حدودو کې پاتې شي.[1]

[1] په افغانستان کې توپان،دښاغلي غوث خیبري لیکنه م ۱۲۵- ۱۲۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



۸

د تاجکستان سیاسي موخې

تاجکستان د افغانستان بل ګاونډی هېواد دی چې په (۱۹۹۱ زیږدیز) کال کې د شوروي اتحاد له ړنګېدلو وروسته د یو نیم خپلواک هېواد په توګه په منځنۍ اسیا کې د نړۍ په سیاسي نقشه کې رابښکاره شو، د شوروي اتحاد په وخت کې تاجکستان یو کمونستي هېواد و چې کمونستي مشران په کې واکمن وو او روسي قوانین په کې چلیدل لیکن په افغانستان کې د سپیڅلي جهاد د بریالیتوب او د شوروي امپراطورۍ له ماتېدو وروسته یې د یو غیر کمونستي هېواد بڼه غوره کړه خو بیا هم د جمهوري چارو واګې د پخوانیو کمونستانو په لاس کې پاتې شوې چې جمهور رئیسان نبي اوف او بیا وروسته امام علي رحمانوف په کې سیاسي څواک درلودونکي مشران وټاکل شول.

تاجکستان اسلامي جګړه مارانو له خپلو مشرانو سره یو ځای د افغانستان په شمالي سیمو لکه: تالقان، تخار، کندزاو نورو کې خپل مرکزونه جوړ او د جمهور رئیس رحمانوف د ځواکونو پر خلاف یې بریدونه پیل کړل، د تاجکستان زیات کورنۍ د جګړې د خطر له ویرې افغانستان ته راغلي چې د تاجک کډوالو شمېره نژدې شپیتو یا اویا زرو ته رسید له چې په مزارشریف، کندز، تالقانو، بدخشان او تخار کې ورته کمپونه او خیمې جوړې او د ملګرو ملتونو د کډوالو نړیوالې ادارې ورته خپلې مرستې هم پیل کړې هغه وخت چې افغانستان ته شوروي سرې لښکرې رانوتلې په دوی کې د زرګونو په شمار د ازبکستان، تاجکستان، ترکمنستان، قزاقستان، قرغزستان، تاتارستان او نورو توکمونو زلمیان هم وو.

شوروي اتحاد له ړنګېدو وروسته تاجکستان د یو ځانګړي او جلا هېواد حیثیت پیدا کړ، تاجکستان د یو غلط تصور پر بنسټ او د یو ناسالم فکر تر مخې، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغانستان په کورنیو چارو یا د افغانانو په کورنۍ جګړه کې خپله لاس وهنه پیل او د افغانستان د تاجک قوم سره عزیز ولي او خواخوږۍ په نوم یې سیاسي لوبه راواخیسته او دې لوبې هغه وخت یوه رسوابنه غوره کړه کله چې د طالبانو اسلامي غورځنګ چې اکثریت یې پښتنو جوړاوه د جګړې په ډګر کې ځینې پرمختګونه وکړل او بریاوې یې ترلاسه کړې.
په تېپي شوي او برباد شوي افغانستان کې د افغان تاجک قوم د تاجکستان د حکومت خواخوږي یوازې یو سیاسي نیرنګ او د افغانانو په کورنیو چارو کې د نوي ازاد شوي تاجکستان په لاس وهنې او وران کارۍ باندې پرده غوړول دي په داسې حال کې چې د افغانستان ولس د تاجکستان له کمزورتیا و او کورنیو ستونزو او ویجاړیو څخه ډېر ښه خبردی، د افغانستان ولس دې عمل ته د کرکې په سترګو وکتل چې د تاجکستان حکومت د کوم ناپاک مقصد لپاره خپله د کولاب ولایت یا سیمه د دې شوم غرض لپاره ځانګړې کړه چې د وسلو او ګوله بارودو کاروانونه له هغه ځایه د افغانستان خاورې ته را ننوځي او هغه وسلې او راکټ لانچرې افغاني مخالفې ډلې یو پر بل باندې استعمال کړي، د دې په نتیجه کې جګړه لا اوږده شي او د سولې مرغۍ د افغانستان خواته را نږدې نه شي.
اوس هم تاجکستان لاس وهنې دوام لري چې ښکاره بېلګه یې په افغانستان د خپل تاجک توکمه ولس بې دریغه مرستې دي[1].

---

[1] په افغانستان کې توپان، د ښاغلي غوث خیبري لیکنه م ۲۶۹.۲۷۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د چين سياسي موخې

په افغانستان باندې د شوروي له يرغل څخه وروسته چين هم له افغانانو سره په اړيکو کې خپل ځانګړي غرضونه او ځانګړې سياسي موخې لرلې، که څه هم په خبرو کې په وار وار چين له افغانستان څخه د شورويانو (بې قيد او شرط) وتلو غوښتنه کوله، خو په حقيقت کې افغان اولس د پيکنګ له خود شوروي په مقابل کې، چې ورسره نږدې درې لسيزې اوږدې ايډيولوژيکې شخړې




باندې بوخت و، ديوې پرلاس راغلې ارزانې وسلې او وسيلې په توګه کاريده، په دې شکل چې په سهيل او سهيل لويديځه اسيا کې د شورويانو د نفوذ مخنيوی، خپل نفوذ پلې او ټينګ کړي، له بلې خوا پيکنګ د هند سره له پرنګې ښکېلاک څخه وروسته د (تېل شوو ترونو نو پر بنسټ) کښل شوو پولو پر سر يو لسيزه شخړې لرلې، د هند او شوروي ترمنځ د ښو اړيکو د چين لپاره ويره پيدا کړې وه، نو د دې لپاره چې د شوروي او هند په اړه خپل اهداف ترسره کړي. چين تل ترتله د سيمې په سياسي، پوځي معامله کې له پاکستان څخه ملاتړ کاوه او پاکستان هم پر خپل وار له امريکا سره د چين د اړيکو په رغولو کې غوره نقش لوبولی وو، نو له دې کبله

(c) ketabton.com: The Digital Library




دوارو هېوادونو په سيمه ايزه اونړيواله کچې خپل ځان ديوه بل ستراتيژيک[1] ملګري بلل او پرافغانستان باندې دشوروي له پوځي يرغل څخه وروسته ددوی ترمنځ دهمکاريو کچې نوره هم لوړه شوه.

د(۱۹۸۰)زېږديز کال دجنوري په مياشت کې دامريکاددفاع وزير(براون)چې په يوه راپورکې ليکي:چې نوموړي ددې سفرپه اوږدو کې ديوې وينا په ترڅ کې په ډاګه کړه چې دافغانستان په هکله دامريکا اوچين دريځونو ددې ضرورت په هکله چې پدې سيمه کې نورهېوادونه پياوړي کړي اوپه خپل وار دواړه پدې اړه مناسب ګامونه واخلي له يوه بل سره نږدې تعلقات درلودل اودامريکا ددفاع وزيرزياتوي چې که کوم ځواکونه وغواړي، دامريکا اوچين ګډې له ګوانښ سره مخامخ کړي،نوموړ به دعمل په يووالي سره دهغه مقابله هم په دفاعي اوهم په ديپلوماتيکو برخو کې وکړو.

دثوردکودتا په پايله کې دمرحوم محمدداودله شهادت څخه بيا وروسته دچين مشرانو هم فکرکاوه چې چانس ته يوګام نږدې شوي اوپدې هيله ووچې دقدرت پچې به يوه ورځ ددوي پرنوم وخيژي اوله خپلو روسي حريفانوسره به لاس اوګريوان شي،له همدې کبله يې په افغانستان کې خپلوروزلوډلوته مرسته رسوله ،پاکستانی ليکوال اوژورنالست(راجانور)دلندن د(ډيلي تلګراف)له قوله پدې هکله ليکي چې:چين دافغانستان پاڅون کوونکوته ډېره اندازه وسلې اوګولۍ استوي،دديپلوماتيکي راپورونوپربنسټ دااکمالات پاکستان ته دقراقروم له لارې ليږدول کېږي.

## د هند سیاسي موخې

په افغانستان کې د شوروي پوځي سیاسي موخې په هکله د هند دریځ په افغانستان کې د پاکستان د لاس وهنې پر ضد او په سیمه کې راتلونکو پېښو د احتمالي بهیر پر بنسټ ولاړ و ، د مېرمن اندرا ګاندي تر مشرۍ لاندې د هند حکومت د افغانستان د لانجې په تورتم کې هڅه کوله چې په هند سمندر کې د لویدیځ او ختیځ دوسلوالې سیالۍ له شدت څخه مخنیوی وکړي، هغه هېواد په وار، وار په نړیوالو غونډو کې پدې خبره زور اچولی و چې د هند په سمندر کې د ناټو پوځي شته والی په زیاتیدو دی، هند سمندر دې په سوله ایزه سیمه باندې بدل شي، ځکه چې د هند د سمندر (دیګو ګارسیا ) هډه په هستوي وسلو سمبال او د امریکې چټک ځای پر ځای کېدونکی پوځ هلته سنګر ونه نیولي وو ، د هند صدر اعظم اندرا ګاندي د (۱۹۸۰) زېږدیز کال د جنوري د میاشتې په (۱۵) نېټه په یوه مرکه کې وایې چې هند د نورو هېوادونو په کورنیو چارو کې د هر ځواک د لاسوهنې مخالف دی.




په افغانستان کې د شوروي پوځي شته والی به په سیمه کې کړکیچ زیات کړي او د هند پولې یې له خطر سره مخامخ کړي دي، د هند دریځ په اړه چې غوښتل یې له روسانو سره موضوع په سوله یزه توګه حل کړي هم د کارمل او هم د تنظیمونو د مشرانو چلند ضد کې و ، که څه هم هند دا کار لکه څنګه چې د واقعي سیاست غوښتنه ده د خپل هېواد په ګټه، له پاکستان سره د رقابت او روسانو سره د قرابت له کبله کاوه[1]

[1] افغانستان تر وروستي افغانه، د بناغلي غلام محمد زرموال لیکنه. مخونه ۱۱۹. ۱۲۰.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د روس سیاسي موخې

دوخت کمونستي حکومت په نظامي قطعو کې دشوروي اتحاد دروزل شویو منصبدارانو یوه ډله وه دعام یقین په خلاف دهغو شمېر داتوسوو نه زیات نه و، دمنصبدارانو دډلونه زیات وطندوست، اوپاخه مسلمانان و، خو کمونستان په سیاسي توګه تیاراو انتهایي فعال و، په کامیابه کودتاکې دونډې اخېستلونه زړورشوي، کمونستانو منصبدارانو نظامي اوولسي بېروکراتانو سره په تماسونوکې په منظمه توګه داسې اثرورکاوه چې دهغو سیاسي موقف ته دسردارمحمدداؤدخان پشتي حاصله وه، هغوی به ښکاره لاپې وهلې چې(پاچا جوړونکی) اود(تخت په شا طاقت)وو اوداصلاحیت یې لرلو چې خپلو برېسوته تحفظ اوترفیع ورکړي چې د( انقلاب داتلانو )واکون ته ورټوپ کړي، سردارمحمدداؤدخان په نظامي اوولسي تشکیلاتوکې دکمونیستي نفوذ ګړندی




ودې اند ښېښنه محسوس کړې وه خو سیاسي بصیرت دهغه فوري قدم اوچتولو، نه منع کاوه هغه ته دامعلومه وه چې پوځ نه دکمونیستانو ویستل یا دهغوی شنډول

(c) ketabton.com: The Digital Library



به یو اوږد او نازک عمل وي ځکه چې د کورني حالاتو، د افغانستان او شوروي اتحاد د اړیکو د استحکام په خاطر په لږ لږ زیان د اسې قدم او چتول په کار و د دې لپاره د جمهوریت په اولني او نازک پړاو کې د کمونیستو له تیریو سره د رژیم د مستحکم کولو لپاره یو اندازه نرمي لا زمې وه.

د یوه خپلواک ملت په توګه د افغانستان ملي حاکمیت هغه وخت له منځه ولاړه چې د تره کي حکومت د (۱۹۷۸) زیږدیز کال د دسمبر په (۵) نیټه له شوروي اتحاد سره د دوستۍ او همکارۍ پنځه ویشت (۲۵) کلن تړون لاسلیک کړ، د کابل کمونستانو خپله مورنۍ ځمکه په یوه بهرني هیواد و پلورله، ترڅو چې په قدرت کې پاتې شي او د خلکو سره خیانت وکړي، حفیظ الله امین به ویل چې شوروي اتحاد به د افغاني انقلاب حمایت کوي.

شوروي اتحاد جوته کړه چې د افغان شوروي تړون به د دې څخه سوا چې د افغان شوروي اړیکي ټینګې کړي بلکې په اسیا او ټوله نړۍ کې د سولې او امنیت په ګټه وي. شوروي اتحاد د افغانستان استقلال په رسمیت و پیژانده، نوې معاهدې ورسره وکړي او افغانستان یې ترزیاتې اندازې په شوروي اتحاد باندې متکي او مربوط وګرځاوه[1]

یو کال وروسته شوروي لښکرې افغانستان ته داخلې او د افغانستان خاوره یې اشغال کړه، دا د افغانستان د زامنو لپاره د شرم خبره ده چې د یو خپلواک دولت او اوږده تاریخ لرونکي او اصیل کلتور خاوندان او نه ماتیدونکي خلک او س د شورویانو له خوا خپل کېږي.

---

[1] افغانستان سقوط، دښاغلي عبد الصمد غوث لیکنه مخ ۱۰۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



۵

په(۱۹۷۹) زېږدیز کال د سپتمبر پر میاشت زمونږ څلور میلونه افغانان له خپلو کورونو څخه وشړل شول چې په پاکستان او ایران کې د بیچاره ګۍ او خوارۍ ژوند ته اړ شول، د افغانستان دننه حتی زمونږ بوډاګان، تورسري او ماشومان د شوروي پلوه ګوډاګي رژیم او شوروي عسکرو لخوا د بې رحمۍ او زجر سره مخامخ شوي دي، شوروي اتحاد په افغانستان کې له دې کبله مداخله وکړه چې د دغه هېواد په سویلي پولو منځنې اسیا کې امنیت او استقرار وساتي، د(۱۹۸۴) زېږدیز کال د اپرېل په لومړۍ نېټه له یوه لوید یزخبریال سره د مرکې په ترڅ کې د شوروي د استخباراتو مشر، اندروپوف وایې چې له افغانستان سره موږ اوږده پوله لرو او دا د غوره اهمیت وړ خبره ده چې مونږ افغانستان ته راغلو، لنډه دا چې روس زمونږ کورونه، جوماتونه، لارې او کوڅې ویجاړې، او د خاورو سره خاورې کړې، قران مجید ونه یې په بې رحمۍ سره وسوزول، زمونږ د تورسرو نه یې حیا او عزت واخیسته، پلرونه یې شهیدان، میندې، کونډې او ماشومان یې راته یتیمان کړه..[۲۱]

یادونه[۲] په افغانستان کې خارجي هېوادونو ډېر کم مستقیمې لاس وهنې کړې، زیاتره وخت دوی له افغاني اجنټانو او وطن پلورونکو څخه ګټه پورته کړې چې په دې لاس وهنو کې د ده خارجیانو په پرتله افغانان ډېر مسئول دي.

---

[۱] للمه مجله، دجرار ادبي، کلتوري او ټولنیزې ټولنې مهالنۍ خپرونه ۱۳۹۰قوس څلورمه ګڼه. مخونه ۳۸ - ۳۹

[۲] کولای شئ چې په افغانستان کې د بهرنیو د لاسوهنو په اړه نورتفصیل د (لسه کلنه ډیموکراسي او د افغانانو سیاسي بې وسي) په نوم کتاب کې وګورئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نهم څپرکی

## دافغانستان خارجي سوداګري

د سوداګرۍ لفظي مانا دتوکوراکړې ورکړې څخه عبارت ده، خو په اصطلاح کې دتولیدونکو اولګښت کوونکو ترمنځ د توکو تبادله ده[۱]. په بل عبارت سوداګري د منقولواجناسواواموالودپیرااوپلورڅخه عبارت ده چې د ګټې لپاره د یوې دندې په ډول په دوامداره توګه تر سره کیږي.

بهرنۍ سوداګري:دتاریخ په لومړنۍ دوره کې دانسانانواړتیاوې ډېر محدود او ساده وې څه وخت چې انسان پرمختګ وکړ، هغه سره انساني اړتیاوو کې هم زیاتوالی رامنځ ته شو چې انسان د خپلو اړتیاؤ د رفع کولو په خاطراړشو چې دغه احتیاج سوداګري رامنځ ته کړه.

د بهرنۍ سوداګري تعریف: بهرنۍ سوداګري عبارت دهغه سوداګري څخه ده چې په هغې کې د دوه مختلفو هېوادونو داوسیدونکو تجارانواو سوداګرانو ترمنځ داجناسواوخدماتو تبادله صورت نیسي.یاپه بل عبارت ټولې هغه سوداګري اړیکې چې دیوهېوادد سرحداتو څخه دباندې صورت نیسي عبارت دبهرنۍ سوداګري څخه دي.

یوهېوادکه هر څومره پرمختللی هم وي داقتصاد دنظره خپلو ټولو اړتیاؤ په رفع کولو کې خود کفا کېدای نشي پدې اساس دخپل اړتیا وړ شیان له نورو هېوادونو څخه دسوداګرۍ له لیارې لاسته راوړي، دغه سوداګرۍ ته بهرنۍ سوداګري ویل کیږي. ماډرنې تکنالوژۍ ننۍ نړۍ سره ډېره کوچنۍ اونږدې کړې ده،نن د نړۍ ټول ملتونه په یو ډول سره په خپلو کې اقتصادي پیوند رامنځ ته کړي دي، بهرنۍ سوداګري د بېلا بېلوهېوادونو دملتونواوخلکو په پیوند کولو کې ارزښتناک اهمیت لري دغه سوداګري بېلابېلو هېوادونو ترمنځ دشیانواوخدمتونودمبادلې څرنګوالی پرته د عامل او واسطې په پام کې نیولو څخه تر غور لاندې نیسي.

---

[۱] د سوداګرۍ اساسات، ننګرهار پوهنتون، دګلاب شاه سبحاني لیکنه ۱۳۸۳ل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په افغانستان کې صادرات:اوس مهال د هېواد غټ صادراتي توکي غالۍ، ميوې (وچې او تازه)، سابه، طبي بوټي او قيمتي ډبرې جوړوي چې ډېرکی د دغو توکو ځخه پاکستان او هند ته عرضه کېږي، په تېرو وختونو کې د افغانستان نور صادراتي قلمونه دنړۍ نورو هېوادونو ته هم صادريدل لکه:طبعي ګازچې د هېواد دصادراتو لويه برخه جوړوله شوروي اتحاد ته اودقره قل پوټکي داروپا بازارونو ته غالۍ، وړۍ، مالوچ او داسې نور د هېواد صادراتي قلمونه د نړۍ نورو هېوادو ته صادريدل.

په تېر وخت کې د افغانستان بهرنۍ سوداګري د دولت له خوا کنټرول کېده.په هغه وخت کې د هېواد دصادراتو او وارداتو زياته برخه له پخواني شوروي اتحاد سره کېده، چې زيات وخت افغاني توکي دنړيوال بيو څخه يو څه ارزانه صادر کېدل. طبعي ګاز چې په (۱۹۸۱ زېږديز) کال کې د هېواد دصادرات په سلو کې ۴۰ جوړول د اتيايمي لسيزې په اخرو کې بشپړ بند شول.لاندې لست ليک د هېواد د ځينو لويو سوداګريزو قلمونو د صادراتو اندازه په اتيانيمو او نوينيمو کې ښيي.


| د افغانستان صادرات په مليون ډالر (۱۹۸۰-۱۹۹۲ ) | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| کلونه / صادراتي قلمونه په مليون ډالر | ۱۹۸۰ | ۱۹۸۵ | ۱۹۸۹ | ۱۹۹۲ | ۱۹۹۲ |
| طبعي ګاز | ۲۳۳،۱۲۸ | ۳۰۹،۴۰۰ | ۱۴۳،۰۰۰ | - | - |
| ميوې او سابه | ۲۰۹،۲۴۰ | - | ۱۱۵،۰۰۰ | ۲۰،۰۰۰ | ۳۰،۰۰۰ |
| غالۍ | ۱۰۳،۵۹۰ | ۵۸،۴۰۰ | ۳۸،۰۰۰ | ۲۱،۰۰۰ | ۲۰،۰۰۰ |
| وړۍ او څرمن | ۲۱،۰۹۸ | - | ۱۱،۰۰۰ | ۲۱،۰۰۰ | ۲۰،۰۰۰ |

اخځليک: د IMF او UNDP د ۱۹۹۴ کلنۍ راپور

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هېواد ځېنې صادراتي قلمونه لکه چارتراش لرګي او غوايي چې[٨] پاکستان ته صادرکېدل په دغه جدول کې نه دي ثبت شوي ځکه د هېواد د صادراتو دغه برخه په نوي نيمې لسيزې کې د غيررسمي سکتورله لارې ترسره کېده، چې د دولت په سوداګرې سندونوکې نه ثبت کېدله. لکه څرنګه چې موپه مخکې لستليک کې موولید پخوا د افغانستان صادراتي عمده توکي طبعي ګاز، ميوې اوسابه، غالۍ، ورۍ او څرمن وو، خواوس مهال د افغانستان صادراتي عمده توکي عبارت دي له: وچې ميوې، تازه ميوې، غالۍ او نورقيمتي ډبرې او چارتراش ترياک چې په قاچاق د غيررسمي سوداګرۍ له لارې بهر ته صادرېږي. د عمده صادراتي توکوبرخه د سلنې په اساس په لاندې چارت کې ښودل شويده.




اخځليک: د افغانستان د ١٣٨٢ کلنۍ احصاييه

(c) ketabton.com: The Digital Library



په افغانستان کې واردات: افغانستان خپل لګښتي جنسونه له بهرنیو بازارونو څخه واردوي، د کورنۍ جګړې دوام کولو د هېواد اقتصادي بنسټونه له ویجاړېدلو او د دولتي جوړښتونو له منځه تللو سره د هېواد واردات د هغه د صادراتو په پرتله ډېر زیاتیږي.

په تېرو وخت کې یانې د جګړې د پیل څخه د مخه نساجي فابریکو ابتدایي حالت درلود. کتان، ساري، تافته او داسې نور... توکران یې د هېواد ګڼ شمېر کورنۍ رانیونکو لپاره تولېد کاوه همدا رنګه د بوټ جوړولو فابریکو چې نژدې د هېواد په ټولو کوټونو کې یې رانیونکي پیدا کړي ؤ د داډول لومړنیو لګښتي شیانو د راواردلو لپاره یې اړتیا را کمه کړې وه.

اوس مهال افغانستان اکثریت اړتیا وړ توکي له بهر څخه راواردوي چې داوارداتي توکي لکه: غنم، وریجې، غوړي او داسې نور... ودانیز توکي، ماشین الات، د سوند مواد، درمل، او داسې نور... راواردوي چې ډېرکي د غه توکي د پاکستان، چین، هند، ایران څخه راوارديږي.

د پاکستان او چین څخه واردات ځکه ډېر دي چې یو ارزانه پریوزي او بل لورې څخه د سوداګرو په وړاندې څه ستونزې په دغو هېوادونو کې کمې دي لکه څرنګه چې وینو د افغانستان بازارونه د وارداتي توکو څخه ډک دي او افغانستان د ګاونډیو هېوادونو لپاره یو ښه بازار ګڼل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګاونډیانو سره سوداګري

الف_ پاکستان سره سوداګري: دافغانستان او پاکستان ترمنځ سوداګري تاریخي سابقه لري، افغانستان هغه هېواد دی چې د وریښم لویې لارې په اوږدوکې پروت او دمرکزي اسیا هېوادونه له هند ، پاکستان او ایران سره تړي. که څه هم د افغانستان او پاکستان ترمنځ سوداګري د دواړوخواوو په ګټه تمامیږي، ولې د تاریخ په بهیرکې ددې دواړوهېوادونو ترمنځ سوداګریزې اړیکې دسیاسي پېښنو اوبدلونو قرباني شوي دي، دهېوادوالو مهاجرت پاکستان ته دروسانو دیرغل پر وړاندې ددې هېواد ملاتړ دافغانستان دملي ولسي مقاومت څخه اوداسې نور د دواړوګاونډیوهېوادوترمنځ دتاریخي دوستۍ لپاره لاره هواره کړله. تردې حده پورې چې دهېواد سوداګریزو فعالیتونوته یې بدلون ورکړاوزیات وخت افغانستان له اقتصادي پلوه په پاکستان تکیه ده، خودغه اړیکې د طالبانو د غورځنګ څخه دپاکستان ملاتړ له امله یوڅه خړې پړې کړلې. پاکستان هغه هېواد دی چې دهغه له لارې افغانستان دترانزیت سوداګریز تړون په اساس چې په( ۱۹۲۵ زیږدیز ) کال کې شوې ده. افغانستان دپاکستان څخه تخنیکي وسایل، ودانیز توکي، خوراکي مواد ،دسون توکي اودرمل را واردوي چې ورځ په ورځ د پاکستان په صادراتوکې افغانستان ته ډېروالی راځي، دطالبانودواکمنۍ پرمهال افغانستان ته دپاکستان صادرات شاوخوا ۳۶ ملیونه ډالروو، خو په( ۱۳۸۵المریز ) کال کې دپاکستان صادرات افغانستان ته ۴۱۹ ملیونه ډالرو ته رسیدله، البته دادقاچاق اوغیررسمي سوداګري څخه پرته ثبت شوې افغانستان ته دصادراتودکچې له اړخه پاکستان په سرکې دی، ایران، چین اوترکیه دویم، دریم او څلورم ځایونه لري اودافغانستان صادرات پاکستان ته وچې میوه، تازه میوه، قیمتي ډبرې اوغالۍ دي چې افغاني غالۍ دپاکستانیوغالیوپه نوم دپاکستان له هېواد څخه نورې نړۍ ته لېږل کېږي، چې پاکستان ددغې لارې څخه خوراګټه لاس ته راوړي په کال کې دوه نیم ملیونه متره مربع غالۍ مونږ جوړوو

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې ۲,۵ په سلو کې ګټه یې افغانستان او پاتې یې پاکستان ته رسیږي. همدا شان ډېر هغه توکي چې د اسلام کلا او تورغونډۍ له لارې افغانستان ته دننوړو هېوادو څخه راوړل کېږي د قاچاق په ډول پاکستان د افغانستان نه صادرېږي.

په وروستیو څو کلونو کې د افغانستان سوداګریز ارقام له پاکستان سره په لاندې لښتلیک کې ښودل شوي دي.

| د پاکستان او افغانستان ترمنځ د صادراتو او وارداتو ارقام په ملیون ډالر(۱۳۸۰-۱۳۸۵) | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| کلونه<br>صادرات او واردات | ۱۳۸۰ | ۱۳۸۱ | ۱۳۸۲ | ۱۳۸۳ | ۱۳۸۴ | ۱۳۸۵ |
| واردات له پاکستان څخه | ۱۵۷ | ۲۰۷ | ۱۸۱ | ۳۲۲ | ۳۹۴ | ۴۱۹ |
| پاکستان ته صادرات | ۲۲ | ۲۲ | ۹۹ | ۲۵۸ | ۲۹۸ | ۲۲۵ |

له ایران سره سوداګري: تاریخي پېښې ښئ چې په تېروخت کې د افغانستان اقتصادي اړیکې د ایران سره هومره ښه نه وې، لکه د شوروي اتحاد او په دې ورستیو کې له پاکستان سره دي د جګړې د دورې په کلونو کې ایران په دې بریالی شو تر څو له افغانستان سره خپلې ګډې پولې د مخدره موادو د قاچاق پراخېدو څخه د مخنیوي په دلیل ټینګې کنترول کړي.

که څه هم د افغانستان او ایران ترمنځ ګډه پوله ۹۰۰ کیلومتره اوږدوالی لري، ولې د دې دواړو هېوادونو ترمنځ سوداګري په دوه رسمي لارو محدوده کېږي چې د غه لارې په خپل وار عبارت دي له دوو اغون ښارګوټي په ایران کې او د اسلام کلا ښارګوټي په افغانستان کې او بله لاره جغلا یادېږي چې د فراه ولایت په لاس او چوپن ولسوالۍ پورې لاره لري او همدا رنګه د نیمروز له لارې چې د ایران سره ګډه پوله لري، توکي صادر او وارد کېږي چې اکثره غیر رسمي مالونه د همدې ولایت له لارې تېرېږي.

ایران د افغانستان لپاره سوداګریزه اسانتیاوې رامنځ ته کړي دي چې د عباس بندر له لارې افغانستان ته د نورو هېوادونو څخه توکي راواردېږي، د ایران څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



زیاتره خوراکي توکي، د رمل، رغیزتوکي او نفت را واردیږي د ایران توکي د کچې له مخې په افغانستان کې په پنځم قطار کې ځای لري.

له شمالي ګاونډیانو سره سوداګري: د افغانستان سوداګریزې اړیکې د منځنۍ اسیا له هېوادونو سره چې د هېواد په شمال کې پراته دي ډېرو پخوا زمانو ته رسیږي. په تېر وخت کې د غه اړیکې زیات د سیاسي موخو له مخې ټاکل کېدلې. افغانستان په او یایمو او اتیایمو لسیزو کې د پخواني شوروي اتحاد تر ولکې لاندې و، د افغانستان زیاتې سوداګریزې معاملې د شوروي اتحاد غړو هېوادونو او سوسیالیستي بلاک سره کېدلې په اتیایمې لسیزې کې د هېواد له ټولې سوداګرۍ څخه په سلو کې له شپېتو څخه زیات له شوروي اتحاد سره کېدې.

د شوروي اتحاد له نسکوریدو سره د منځنۍ اسیا د هېوادونو صنعت هم له ماتې سره مخ شو، زیات شمېر د غه صنایع خپلواک او په خپل ځان باندې متکي نه وو او نه د اقتصادي موخو په بنسټ نه ؤ جوړ شوي، د دې کبله د افغانستان د سوداګرۍ کچې لد غو هېوادونو سره راټیټه شوله. د جګړې په اوږدو کې د افغانستان سوداګریزې اړیکې له شمالي ګاونډیانو سره سختې زیانمنې شولې، پرته له ترکمنستان څخه له ازبکستان او تاجکستان سره سوداګري ډېره راکمه شوه، د طالبانو د واکمنۍ له نسکوریدلو وروسته د اوسني دولت په راتګ سره د افغانستان او د شمالي ګاونډیانو سوداګري ډېره شوه او د افغانستان او شمالي ګاونډیانو تر منځ ډېر تړونونه لاسلیک شول.[1]

---

[1] کولای شئ د افغانستان د طبیعي زیرمو په اړه نور معلومات د (په افغانستان کې کاني زیرمې) لیکوال: انجینر ستانه میرزهیر لیکنه (د افغانستان کلک پوستي میوې) لیکوال: سرمحقق دوکتور سکندر حسیني (د افغانستان اقتصادي حالت ته یوه کتنه) لیکوال: ښاغلی عبدالحق امیري، (د افغانستان سوداګریزه کتنه) په نوم لیکنې وګورئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳

## لسم څپرکی

## د افغانستان د ستونزو عوامل او د حل لارې

دا چې افغانستان د منځنۍ ختیځ، جنوبي او مرکزي اسیا ترمنځ د یو پله رول لوبوي، نو همیش د دې مهم ستراتیژیک موقعیت د لرلو له وجهې د نړیوالو استعماري قوتونو ترمستقیم یرغل لاندې راغلی او خپل هدف ته د رسیدو لپاره یې دا افغانستان قبضه کول اړین ګڼلي ترڅو د دې مهم ستراتیژیک موقعیت نه په استفادې نړۍ تر خپلې ولکې لاندې راولې دا هرڅه د یونان سکندر مقدوني، چنګیز، ګوډ تیمور، د بر طانیې شیطاني صفته استعمار، روس، ننۍ غربي نړۍ او د اسې نورو د تېروکړنو څخه په ډاګه کېږي چې دوی هریو په خپل نوبت د افغانستان څخه د خیز د تختې کار اخستی، خو دا چې افغانان په ازادۍ مین ملت دی نو دوی یې موخې ته د رسیدو نه د مخه د دې تختې څخه غورځولې دي چې بیا استعماري قوتونو د غچ اخستلو په خاطر د دې غیرتي ملت ته اوږد مهاله ستونزې را پیدا کړې دي چې یو ښه مثال یې د انګلیسي استعمار د غچ اخستلو لپاره د ستر ویاړلي پښتون قوم په سینه د جبر کرښه( ډیورن لاین )تیریدل دي چې تر اوسه د دې کرغیړنې کرښې له امله سیمه نا امنه او د پښتون قوم وینه بې حسابه تویږي او د انګلیس ځای ناستی د پښتون په سر سودا کوي کله یې په یو او کله یې په بل ازاد بازار کې پلورې او دې کړنې ته د ادامې لپاره دا قوم د علم او پوهې نه لرې ساتي او د بنسټ پالنې په روحیه یې روزي.

افغانستان د مرکزي اسیا یو د هغو هېوادونو څخه دی په کوموکې چې د څولسیز نه اوربل دی، خو د نورو هېوادونو سره دا توپیر لري چې په نورو هېوادونو کې اور دوخت په تېرېدو سره کم یا ختمیږي، مګر افغانستان کې د وخت په تیریدو سره اور (جنګ او جګړه )ورځ تربله زیاتیږي، او بله د حیرانتیا خبره خو دا ده چې ټول وګړي یې د جنګ څخه نفرت کوي او سوله غواړي، مګر بیا هم د هېواد حالات د

(c) ketabton.com: The Digital Library



وګړو د زړونو برعکس دي په افغانستان کې د امن نه راتللو څو سببه دی، زه غواړم چې د هغوی څخه ځينې په لاندې ډول بيان کړو.

۱:د افغانستان موقعيت دجنګ او جګړې يو دلويو سببونو څخه شمېرل کېږي،هغه داسې چې که چېرته مونږ تاريخ ته وګورونو د تاريخ په صفحو کې داځرګنيږی چې په تېروختونو کې افغانستان دوريښمود تجارت يوه لويه لاره و ،نه صرف لاره بلکې څلورلارې وه،اودهمدې کبله پرافغانستان بار بارحملې کېدلې ترڅو داڅلور لارې ونيول شي اودوريښمو کاروانونه لوټ کړای شي.

په همدې ډول اوس هم افغانستان دتيلو اوګازود پايپ لاينونو څلور لارې ده او دهمدې له امله هر هېواد کوښښ کوي چې ياخودا لاره ونيسي ترڅو په هغو هېوادونو چې د دوی دګټو سره يې ګټې ټکر کوي پرهغوی دا لاره بنده کړی، او يا هم دالاره نا ارامه وساتي ترڅو دګازواوتيلو دپيپ لاينونو دغزيد ومخه ونيول شي.

۲ :د افغانستان څخه ګېرچاپېرټول اتومي هېوادونه چې اوس پکې ايران هم شامليدونکی دی، پراته دي،که چېرې ددې ټولو اتومي هېوادونو ترمنځ روابط ښه وي اوهراړخيزې اړيکې يوله بل سره ولري،نودراتلونکي لپاره داسيمه د (Super Powers)يادلويو طاقتونوسيمه جوړيدلای شي،اود بلې خوادافغانستان ترڅنګ چين،روسيه اوايران چې دټولواقتصادورځ پرورځ وده کوي،ددوی څخه چين تقريبادټولې نړۍ د بازارونواتيا په سلوکې برخه نيولې،نوکه چېرې افغانستان ونيول شي يادلته دايمي اډې جوړې شي،نوديوې خوا نه به ددې هېوادونو په ټولواړيکوا سانۍ سره نظر وساتلی شي اودبلې خوادهمدې سيمې نه په اسانۍ سره کېدلای شي چې ددې ټولو هېوادونو ارتباطات خراب کړی شي،اوهم که چېرې داڅلورلارې دچين،روسيه او ايران لپاره وتړل شي،نو ددوی اقتصاد ته به هم يوه کافي اندازه ضربه ورکړل شي. چې اوږد مهاله نتيجه به يې دا راووځي چې داوس نه به ددې سيمې څخه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



راجګیدونکو لویو قوتونو سر پرې کړای شي اودراتلونکې لپاره به دیوې لوې خطرې نه وژغورلی شي.
۳ :دریم لوی سبب ددې سیمې د نا ارامه کېدلو دا دی چې دنړۍ دګوتو په شمېر په هغو سیمو کې افغانستان راځي چاچې تراوسه خپل قدرتي زخېرې ندي راویستلي اوخام موادیې لا خام پاتې دي، حتی تراوسه یې ددې قدرتي زخیرولویو برخوته ګوتې هم ندي وروړل شوي، خو بیاکه نورې نړۍ ته یامخ پرودې هېوادونوته وکتل شي نو تقریبا هغوی خپل ټول قدرتي زخېرې یا خوختمې کړي اویا هم مخ په ختمېدودي، نوهغوی چې ددې مشکل سره مخامخ شوي اوس غواړي چې که په زوروي او که په رضا باید د نورو هېوادونوڅخه خام مواد ترلاسه کړي، او د راتلونکې لپاره یې زخیره کړي، چې دافغانستان پشان یوجنګ ځپلي هېواد ورته دیو تیارخور د سرتخوان نه کم ندی. ځکه که چېرې په زور ونه شي کړای، په رشوت اوبډوخوضرورکولای شي چې په ډېرلږقیمت ددې هېواد د ټولو زخیرو ټېکه واخستل شي، اوبلاخېر داد قدرتي نعمتونو څخه ډکه سیمه په خپل کورکې تشه کړي. د یادونې وړ ده چې د یوې سروې له مخې دافغانستان اوسنی دولت په نړۍ کې په رشوت اوبډواخستنو کې دویم ځای لري، چې دادخامومو ادو د وړولو یا ترلاسه کولو لپاره یو ښه سبب جوړیدلای شي.
۴ :د افغانستان د نا ارامۍ څلورم لوی سبب دګاونډیانو لاسوهنه ده، اودخفګان وړخوداده چې ټول ګاونډیان یې په لاس وهنه بوخت دي، ښه مثال یې ایران روسیه، چین اوپاکستان دي خو اوس د افسوس وړدا هم ده چې د دې هېوادونو ترڅنګ هندوستان هم په لاسوهنه کې پوره پوره ونډه اخلي.
-ایران د پانې ایرانیزم په فلسفه کارکوي اوغواړي چې په راتلونکې کې ددې سیمې یولوی قوت جوړ شي اود دې لپاره هغوی غواړي چې ټول فارسي ژبې هېوادونه دځان سره یو ځای کړي، ترڅوپه راتلونکې کې دمثلث په ډول یولوی ایران جوړکړي چې افغانستان اوتاجکستان به هم په دې لوی ایران کې موجود

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي. خو د دې پلان د عملي کولو څخه مخکې باید د افغانستان دري ژبه په پوره توګه په ایراني فارسي تبدیله کړي، چې تر ډېره حده یې دا کار کړی، او خپل ټول کوښښ کوي چې افغاني کلتور او دودونه د ایراني فرهنګ او دودونو تر اغېزې لاندې راولې او د دې لپاره هغوی د دوو لارو نه کار اخلي چې یوه یې مذهبي ده او بله یې هم سیاسي ده یانې نه یواځې دا چې سیاسي لیډران د خپلو ګټو لپاره کاروي بلکې د مذهبي رهبرانو څخه هم فایده ترلاسه کوي.

-روسیه په دې ویره کې ده چې باید د راتلونکې لپاره په افغانستان کې یو داسې حکومت جوړ نشي چې د لویدیځ چې د روسیې د ګټو دایمې دښمنان دي، دلاس لاندې وي یا د هغوی په اشاره کار وکړي، او د همدې ویرې له امله ټولې هغه کړۍ چې په پټه او ښکاره د دولت ضد دي او یا هم دلویدیځ سره ورانې دي، تقویه کوي او ورسره مرسته کوي، او غوښتنه ترې کوي چې مرکزي دولت په هرصورت چې کېږي، کمزوری کړی تر څو په راتلونکو دولتونو باندې داوسني دولت اثرات پاتې نشي.

-پاکستان سره تر ټولو لویه ویره داده چې هغه سیمې چې دانګلیسانو په وخت کې د افغانستان څخه جلا کړي، که چېرې په افغانستان کې یو سم حکومت رامنځ ته شي نو هغوی به ترې د دې سیمو د بېرته اخستلو غوښتنه یا کوښښ وکړی او د همدې ویرې له امله د روسیې پشان ټولې کړۍ تقویه کوي. خو اوس ورسره صرف داویره نده چې په لاس ورغلې سیمې به ترې بیرته لاړې شي، بلکې د شمالی ټلوالې پر مخونو د هندوستان عکسونه هم ویني، او ویره لري چې داسې نه چې هندوستان ورسره دوه طرفه لوبه شروع کړي چې تر ډېره حده یې شروع کړې هم ده.

- بل هېواد چې که څه هم د افغانستان نږدې ګاونډی ندی خو بیا هم افغانستان د خپل ځان لپاره استعمالوي هغه هندوستان دی.

ویل کېږي چې تکړه سیاست دانان هغه وي چې د خپلو سرحدونو څخه جنګونه د نورو سرحدونو ته یوسي او خپلې ګټې په نورو لاسته راوړي، هند هم همداسې کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هندوستان د دولت تر ټولو ستر ارمان د پاکستان کمزوري کول دي، چې د کمزوري کول نه وروسته هغوی بیا په اسانۍ سره کوله شي چې خپلې ګټې په دې سیمه کې ترلاسه کړي چې هغه کشمیر دی، خو هغوی په یو طرفه جګړه نشي کولی چې دا ګټې ترلاسه کړي، نو د همدې لامله یې اوس یو نوی محاذ په افغانستان کې خلاص کړ او د هغې لارې څخه دا کوښښ کوي چې په پاکستان کې په ښکاره او پټه لاسوهنه وکړي.اوهم کوښښ کوي چې افغان دولت د پاکستان پرضد وکاروي او په دې طریقه د خپل سرحد څخه وکولی شي چې یو څه بوج کم کړي او د خپل سرحد جګړه د افغانستان سرحد اتو ته راوړي، مګر که مونږ وګورو، هندوستان دا کار په افغانستان کې د شمالي ټلوالې په لاس کوي او هغوی غواړي چې دا ټلواله تل په مرکزي دولت کې پوره ونډه ولري خو بیا که چېرته وګورو نو د دې ټلوالې په مرکزي دولت کې ونډه د افغانانو د هیلو او ارمانونو او هم د افغانستان د ګټو خلاف ده، ځکه چې د دې ټلوالې د غړو څخه افغانان ډېرې بدې خاطرې لري، په زرګونو هېوادوال یې قتل کړي، د کابل ښار یې لوټ کړی، او همداسې نورې ډېرې فاجعې یې ترسره کړي، چې د دوی په دولت کې پاتې کېدو سره به د افغانستان او هندوستان ګټې تل په ټکر کې وي. چې نتیجه به یې د داخلي جګړو زیاتیدل وي.

که چېرې مونږ پورته لاملونو او لاسوهنو ته وګورو نو د افغانستان مثال به داسې دیو هغه بې سره دیګ په شان ښکاره شي چې هره شخص پکې په اسانۍ سره کولای شي ګوتې ووهي او هم د خپلې خوښې خواړه پکې تیار کړي، خو د دې ټولو د سیسو او لاسوهنو مخنیوی صرف او صرف په هغه صورت کې کېدلای شي چې افغانستان یو قوي مرکزي دولت ولري.

د مرکزي دولت د کمزوي کېدلو بل لوی سبب دا هم دې چې په دولت کې تل پښتنو ته سمه برخه نه ورکول کېږي، او تل دا کوښښ کېږي چې د ریښتینو او په هېوادمینو پښتنو پرځای د پښتنو څخه یو څو سمبولیک شخصیتونه چې ځینې خو یې حتی په پښتو هم نه پوهیږي، په دولت کې شامل کړای شوي، چې د داسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



شخصیتونو شاملیدلو سره ددې پرځای چې پښتانه خوشحاله کړي، نور هم خفه کوي چې دا خفګان بیا دمرکزي دولت په کمزوری کېدلو بدلیږي.
که چېرې اوس مونږ وګورو نو مونږ یو دولت لرو مګر د حد نه زیات ضعیفه او سبب یې د ملي پالیسیو نشتون دی، یانې زمونږ اوسنی دولت چې کومه فیصله کوي، لرې نه بریښي چې نومورو ملي ګټې په نظر کې نه دې نیولې بلکې دنړیوالو ګټوته په کتو سره یې فیصله کړې او هم ددې پرځای چې ملي ګټې په پام کې ونیسي د ځینو بدناموګوندونو او اشخاصو ګټې په نظر کې نیسي چې له امله یې مرکزي دولت ورځ تر بله نور هم کمزوري کېږي چې ښه مثال یې نوې کابینه[1] هم کېدلای شي چې دملي ګټو پر اساس نه بلکې دځینو هېوادونو او اشخاصو دګټو پر اساس جوړه کړای شوې ده.
زمونږګران افغانستان په داسې سیمه کې موقعیت لري چې د ۱۹ عیسوي پېړۍ په اوږدو کې دانګریزي استعمار دخوا دستر پښتون او تاریخي بلوچ قومونو په وېش سره زیاتې جغرافیوي ستونزې رامنځ ته شوي دوخت په تیر یدو سره دهغوی پنجابي ځای ناستو په سیمه کې نوې ستونزې وزیږولې او دسیمې د پرمختګ په لار کې خنډونه راولاړ کړل چې له امله یې سیمه کې دصبر، زغم اوبرداشت په ځای بنسټ پالنې، عدم برداشت او مذهبي جنون رشد وکړ ددې هرڅه پایله دا شوه چې د سیمې میشت قومونه په ځانګړې ډول پښتانه داقتصاد، کلتور، پوهې، صنعت، ټیکنالوژي اونړیوالو اړیکو کې دنورې نړۍ نه شاته پاتې شي همدا شاته پاتې والی دپاکستان چارواکو (فوځي او استخباراتي) دځان پاره غنیمت وګاڼه او ساده بې علمه پښتانه یې سترا تیژیک ژورتیا ته درسیدو د پاره قرباني کړل او هم یې ازاد قبایل دسیمې ناامنه کولو سره د پنجاب تر واک لاندې راوستل، ددې لپاره چې پنجاب داینده لپاره پښتانه په اسانۍ سره خپلو موخوته درسیدو لپاره استعمال کړي په لر اوبر کې ښونځي داورپه لمبو سوزوي او پښتانه په لوی لاس د

[1] ددولت دریس سلاکار ارګان

(c) ketabton.com: The Digital Library





جهالت کندي ته تیل وهي دبل طرفه سیمه کې مذهبي ،کلتوري،ژبني او اقتصادي سیالي دافغان ستونزې داوږدیدو باعث ګرځیدلي اوهرهېواد خپل رقیب ته افغانستان کې دجنګ جبهه خلاصوي هغه دایران نه واخله ترسعودي پورې.

.۱.دافغانستان دستونزې داخلي فکتورونه:

د افغانستان دستونزې داخلي فکتورونه په اصل کې دنړۍ والو اوسیمېزو فکتورونو زیږنده دي، په لاندې ډول تشریح کېږي:

۱.دملت جوړونې پروسې ته لازمه توجه نه کول

۲. ددولت دناسمو کړنلارو له امله د حکومت اوخلکو ترمنځ دفاصلې زیاتوالی.

۳.په دولتي سېستم کې دمکافاتو اومجازاتو نه موجودیت.

۴. په چارو ګمارل دروابطو په واسطه نه دضوابطو په اساس.

۵.دپروژو په سرته رسولو کې داولیتونو نه تطبیق کول.

۶.د امنیت دوامداره نه شتون.

۷.د هېواد په کچې دبنستېزو جوړښتونو نه رغول.

۸.داقتصاد اوټولنیز پرمختګ کمزورتیا.

۹. د اداري فساد پراخ موجودیت.

۱۰.دبې سوادۍ کچې لوړوالی.

۱۱. دهېواد په کچې کارونو کې کمیت ته په کېفیت باندې فوقیت ورکول.

۱۲. د هرې ورځې په تېریدو سره نظام کې دمافیایي باندونو مسلط کېدل.

۱۳.دهېواد په سیاسي ډانچې کې دسیمو اوقومونو ناانډولي.

۱۴. افغاني ټولنه کې دبنسټ پالنې روزل او دود کول.

چې دهمدې بنسټ پالنې په واسطه زمونږ ازلي دښمنان دافغانستان ملي ارزښتونه ګواښوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پورتنیو فکتورونو د حل لارې چارې

د افغانستان د ستونزې د داخلي فکتورونو د له منځه وړلو لپاره باید د هېواد موجوده چارواکي د ځمکني حقایقو په بنیاد پالیسي او ستراتیژیک پلان جوړ کړي او د ستونزو د کموالو لپاره دې د ښه حکومت والي، عدالت، امنیت، اقتصادي او ټولنیز پرمختګ لپاره پیاوړي ګامونه اوچت کړي او خلکو ته په ښه خدمت کولو سره دې د دولت او وګړو ترمنځ موجوده واټن راکم کړي چې پایله کې به د خارجي فشار مقابل کې افغانستان ښه دریځ ولري بله دا چې فقر د غلامۍ حلقه ده نو د دې حلقې څخه د خلاصون لپاره باید افغانستان د مصرفي هېواد څخه په تولیدي هېواد بدل شي چې دې موخې ته د رسیدو لپاره باید بنسټیز جوړښتونه په کم وخت کې جوړ او ورغول شي، چې دې سره د هېواد اقتصاد پرمختګ کوي کوم سره چې به امنیت هم بهتر شي.د سیمېزو فکتورونو د له منځه وړلو لپاره د هېواد استخبارت باید د سیمې په کچې فعال شي ترڅو د هېواد د دښمنانو افغان دښمنه پلانونه په هسته کې خنثی کړي، د بل طرفه د پښتونخوا ملي ګوندونه او قومي مشران چې افغان پاله احساس لري باید تقویه شي او د هغو سره دې په ګډه وڅو پښتني سیمه کې د صبر، زغم او اعتدال لپاره هلې ځلې پیل شي او هم دې د ډیورنډ کرښې څېرمه سیمو کې د پرمختیا لپاره زیاتې بنسټیزې پروژې عملي شي چې له امله به یې د سیمې خلک مصروف او د همسایه استخباراتو د جال څخه به د همیش لپاره خلاص شي او د وخت په تیریدو سره به د سیمې د ښه اقتصادي رشد د وجهې اشغال شوي پښتانه قومونه به د ازادۍ او د هېواد سره د پیوستون لپاره پاڅون ته وهڅیږي کوم چې د پښتون قوم اصلي هدف دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دنړيوالو فکتورونو سره دمقابلې لپاره فعاله خارجي پاليسي جوړول اړينه خبره ده اوهم دې دهېوادسياسي، کلتوري، اقتصادي اوفوځي جوړښتونه په بنسټيز ډول ورغول شي ترڅواينده کې زمونږ دهېواد څخه څوک په اسانۍ دخپل دتختی استفاده ونه کړي.[1]

---

[1] يادونه:کولای شئ په افغانستان کې دبحران اوستونزودحل لارولپاره (دبنسټيزوستونزودحل لارې)ليکوال:ملاعبدالسلام (ضعيف)،(دافغانستان دبحران سياسي حل )ليکوال: دکتور فاروق اعظم،(د افغانستان د اوسنۍ وضعې يو هر اړخيز تحليل) ليکوال:جنرال عتيق (پاڅون)،(په افغانستان کې جګړه څنګه پای ته ورسوو؟) ژباړن:رحيم الله (بشارت)،(دعادلانه نظام لار) ليکوال:محمد اشرف غني .(دټولنپوهنې له نظره په افغانستان کې دواک جوړښتونه)،ليکوال:ښاغلي ډاکترمحمدعثمان روستارتره کی(سياسي فلسفه)ليکوال :ښاغلی ډاکترسيد شيرا قاحرکت ،(دافغانستان يوه لنډه دیارلس کلنه تجربه)دپوهاند بشيردوديال،(لس کلنه ديموکراسي اودافغانانوسياسي بې وسی)،(افغانستان په سياسي کړليچ کې ) دښاغلي اسماعيل يون ليکنه ،په نوم کتابونه وګورئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲

## دافغانستان دسیاسي جغرافیې اصطلاحات

اجرائیه قوه:هغه قوه چې دقوانینو دترسره کولو ،دمقننه قوې دپلانونو دپلې کولو ،دهېواددکارونو داداره کولو اود کورني اوباندني سیاست اواجرا دنده په غاړه لري.

اساسنامه:دیوه ګوند یاادارې دداخلي قوانینو اومقرراتو مجموعه ده ،یایوه اداره چې دهغې ترکیب اوجوړښت دکار ترتیب اوفعالیت دګوند یاادارې کاري هدفونه ښيئ.

استیضاح:استیضاح دپارلماني مبارزویوډول دی،چې دمجلس نماینده ګان ددولت اوکابینې دریاست څخه ددې یاهغې سیاست مشخص عمل دتوضیح غوښتنه وکړي،نو داستیضاح شوي اړخ دجوابونو څخه وروسته دمجلس نماینده ګان درایو پرلورې ځي اوګوري چې ددولت دچارواکي توضیحات اوجوابونه دمجلس نماینده ګانو ته قانع کوونکي نه وي،دبې باورۍ درایې اودلرې کېدو دخطرسره مخامخ کېږي.

مقرارات:دحکومتي بنسټونوله خوا په ملي اوځایي کچوباندې صادرشو ، اصولو اوقواعدوته وایې که څه هم هغه قوانین نه ګڼل کیږي خودقانون اعتبار لري ځکه چې هغوی دموضوعه قوانینو داعتبارله مخې صادریږي اوزیاتره د سرغړونود مجازاتولپاره وي.

حکم:په یوه سند یاقانون کې له یوه جزیابند څخه عبارت دی چې دیوې ټاکلې موضوع په هکله بحث کوي.

اعلامیه ،بیانیه:یوسند دی چې په هغې کې دوه یاڅوهېوادونه دیوې مشخصې موضوع په هکله خپله رسمي تګلاره یادنظریوالی اعلانوي.

افغان:هغه څوک دی چې دګران افغانستان په غېږ کې اوسیږي،دافغانستان تابعیت ولري،دافغانستان داستقلال، ملي مصالحو ،مادي اومعنوي ګټوڅخه دزړه له کومې دفاع وکړي. دافغانستان دوروڼو قومونو هرفردته افغان ویل

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېږي او افغانستان د ټولو افغاني ورونو ،قومونو ګډ کور دی.
ملت:د هغو خلکو پیوستون ته وایې چې د تاریخ په اوږدو کې په جغرافیایې، کلتوري او اقتصادي وحدت کې پیل شوی وي. نوموړي عناصر دیوه ملت غوره تشکیل کوونکي عوامل ګڼل کېږي. ژبه، نژاد او دین هم د ملت په جوړښت کې مهم رول لري، مګرحتمي نه ده چې دیوه ملت ټول خلک دې دیوې ژبې، نژاد او دین خاوندان واوسي، خوکه چېرې په یوه ملت کې یوه ژبه، یو نژاد او یو دین وي، نوموړی ملت به ډېر متحد او په معنوي لحاظ به ډېر قوي او متین وی.
هېواد (وطن):هېواد هغه خاوره ده چې د جغرافیایې حدودو په واسطه محدوده شوې وي او یو ګڼ شمېر وګړي دګډو خصوصیاتو د درلودلو له امله په کې ژوند وکړي.
ریاستي جمهوریت: هغه دولت ته وایې چې د اجراتو صلاحیت له جمهوررییس سره وي کوم چې د درې ګونو قواو (اجرائیه، مقننه او قضایه) په سر کې موقعیت ولري لکه د افغانستان جمهوري دولت
صدارتي جمهوریت: هغه دولت ته ویل کیږي چې د چارو واک په کې له صدر اعظم سره وي، د رئس جمهور واکونه په کې لږ وي، او یو سمبولیک حیثیت لري، لکه د پاکستان جمهوري دولت
مطلقه سلطنت:هغه دی چې په راس کې یې پاچا قرار لري، د پلار نه زوی ته انتقالیږي او میراثي بڼه لري. پاچا ټول واک او اختیار په لاس کې لري او درې ګونې قواوې(اجرایه، مقننه او قضایه )په سر کې ځای لري.
مشروطه سلطنت: دا ډول دولت د اساسي قانون او پارلمان لرونکی دی، په دې ډول دولت کې د مطلقه سلطنت پر خلاف د پاچا اختیارات د قانون له مخې محدودیږي او تصمیمونه د خلکو د استازو له خوا نیول کیږي. په دې سېستم کې پاچا په واقعیت کې یو سمبولیک حیثیت لري، عملي واکمني د صدراعظم په لاس کې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



قانون: د قانون کلیمه د لاتیني کلیمې له کانون څخه اخستل شوې چې کانون په لاتیني ژبه کې هغه شي ته وایې چې بندونه ولري په اصطلاح کې د هغه اصولو او اساساتو څخه عبارت دی چې د یوې ټولنې د عنعناتو سره سم د یو عالي او باصلاحیته مقام لخوا جوړ او تصویب شوی وي او د ټولنې په ټولو افرادو باندې بې له امتیازه تطبیق کیږي.

قانون هغه مصوبه ده چې د ملي شورا د دواړو جرګولـه خوا تصویب او د جمهور رییس له خوا توشیح شوي وي.

کلتور: د بشري ټولنو هغه مادي او معنوي ارزښتونه چې د انسان د ذهن او فکر محصول او یو مسلسل او پرله پسې عمل په توګه د یو نسل څخه بل نسل ته په میراث لیږدول کیږي او په انساني ژوند کې ژوره اغېزه او تاثیرلري، کلتور بلل کیږي.

طبقه: هغه شمیر خلکو ته چې یو شان اقتصادي او اجتماعي موقعیت او مؤقف ولري، طبقه ویل کیږي. طبقات په هره ټولنه کې موجود دي.

مبارزه: هغه سیاسي کشمکش دی چې یو ګوند ،ډله او یا طبقه یې د خپلو سیاسي، اقتصادي، اجتماعي او ستراتیژیکو اهدافو د ترلاسه کولو له پاره کوي.

دولت: دولت هغه سیاسي سازمان دی چې د خپلو وګړو په ارادو باندې بشپړ حاکمیت لري، حاکمیت، قدرت او قانوني انضباط د ځان حق ګڼي او خپل انحصار یې بولي او د خلکو د احتیاج پر بناء په عالي سطحه منځ ته راغلی وي.

لاندېني شرایط او صفتونه د دولت له نورو سازمانونو څخه جلا کوي.

۱. محدوده جغرافیایې سیمه: هغه سیمه چې سرحدات یې تعین وي او د هغو سرحداتو په قلمرو کې حکومت د کافي صلاحیت خاوند وي، د سیمې کوچنیوالی او پراخوالی شرط نه ګڼل کیږي.

۲. دولت باید داسې حکومت ولري چې د حاکمیت د عملي کولو طاقت او توان

(c) ketabton.com: The Digital Library



۵
ورسره وي او په بین المللي تعهداتو کې د اعتبار وړ وي، نمونه او شکل یې
د بحث وړ نه دی.
۳. دولس یا او سید ونکو شته والی، بې له دې چې لږوالی او زیاتوالی یې په نظر
کې ونیول شي.
۴. د حاکمیت صلاحیت(د دولت عالي قدرت په داخل کې او بهرنی واکمنتوب)
په دیموکراتیک دولت کې د قواوو (مقننه، اجرائیه، قضائیه) تفکیک اساسي
شرط ګڼل کېږي.
حکومت: د دولت په چوکاټ کې هغه اجرائیوي ارګان دی چې د مقرراتو او
قوانینو تطبیق یې په غاړه وي. حکومت هغه اجرائیوي ارګان دی چې د دولت
د قدرت او حاکمیت ښکارندوی وي. حکومت یا انتخابي وي یا انتصابي. نور
مؤسسات هم اجرائیوي ارګانونه لري، خو په دې تو پیر چې دیوه دولت حکومت
د حاکمیت د اعمال صلاحیت لري او د نورو مؤسساتو د اجرائیوي ارګانونو سره
دا صلاحیت نشته.
حاکمیت: دیو هېواد په داخلي قلمرو کې د انحصاري صلاحیت څخه عبارت دی.
همدارنګه په بین المللي چارو کې دیوه هېواد د عمل واکمنتوب دی چې د بل
هېواد د حقوقي کنټرول او تاثیر لاندې وي او یا په بل عبارت، حاکمیت د دولت
هغه عالي قدرت دی چې هم قانون وضع کوي او هم یې تطبیقوي او د هغې نه بل
لوړ قدرت نشته.
انقلاب: هغه مثبت او بنیادي اوښتون دی چې د یوې ټولنې دژوندانه په
سیاسي، اقتصادي او اجتماعي برخو کې په کیفي او کمي توګه منځ ته راځي.
د ټولنپوهنې له نظره په یوه ټولنه کې د یوه زاړه نظام پر ځای د نوي او مترقي
نظام ټینګیدل د انقلاب څخه عبارت دی.
ریفورم: ریفورم د اصلاح معنا لري. هغه اقدامات په ریفورم کې حسابېږي چې
دیوې ټولنې د سیاسي، اقتصادي او اجتماعي ژوند د ښه کولو له پاره په کار

(c) ketabton.com: The Digital Library



اچول کېږي.
کودتا: په فرانسوي ژبه کې د دولت د رانسکورولو معنا ورکوي. د دولت هغه ناڅاپه بدلون چې د زور په وسیله د دولتي لوړو مقاماتو او اردو په وسیله رامنځ ته کېږي، د کودتا په نوم یادیږي.
ایډیالوژي: ایډیالوژي په لغت کې مفکورې ته ویل کېږي او په اصطلاح کې د ټولو سیاسي، اقتصادي، اجتماعي، هنري او حقوقي نظریاتو مجموعې ته ایډیالوژي وایي. یا په بله ژبه د تاکتیک او ستراتیژۍ مجموعې ته ایډیالوژي وایي.
ستراتیژي: د مبارزې په یوه ټاکلې مرحله کې، ټاکلو سیاسي، اقتصادي او اجتماعي اهدافو ته ستراتیژي وایي او د دغې ټاکلې مرحلې په موده کې اساساً تغیرنه منونکی وي. نو موړې اصطلاح برسېره پرګوندي مسئلو، په نظامي او دیپلوماتیکو ساحو کې هم استعمالیږي، د مثال په توګه په نظامي مسایلو کې د هغو پراخو او قاطعو هدفونو، عملیاتو او نقشو ترسره کولو ته ستراتیژي وایي چې په یوه جګړه کې د بریالیتوب له پاره تر نظر لاندې وي.
ستراتیژیک شعارونه هغه شعارونه دي چې د حزب غوښتنې په یوې ټاکلې مرحله کې بیانوي.
تکتیک: هغه سیستماتیکه او منطقوي تګلاره ده چې د ستراتیژۍ د ترلاسه کولو له پاره د محیطي او ټولنیزو خاصو شرایطو په رڼا کې ټاکل کېږي.
ډیموکراسي: د ډیموکراسۍ کلمه د یوناني ژبې Demo (خلکو) او Kratia د (حاکمیت) څخه اخیستل شوې ده
د ډیموکراسۍ ډېر معمول او عام تعریف دا دی:
د یوې ټولنې افرادو ته د داسې فرصتونو برابرول چې د هغو په وسیله وکولی شي د ټولنیزو ارزښتونو او آزادیو څخه په مساوي توګه استفاده وکړي. د غه ډول آزادي د حقوقو تساوي، د ټولنیزو ارزښتونو څخه د مساوي حقوقو په اساس

(c) ketabton.com: The Digital Library



استفاده، ډيموکراسي ده.

ريفرنډم: ريفرنډم د سياسي ډيموکراسۍ يو اصل دی او د يو سازمان ټولو غړو ته اويا د ټول ملت اراوو ته مراجعه کول، ريفرنډم نوميږي. په ريفرنډم کې پېشنهاد شوې موضوع د ملت له خوا د مستقيمې رايګيرۍ له لارې منل کېږي او يا رديږي. عمومي اراوو ته د مراجعې له لارې يوه ټولنه کولی شي خپل هېواد د نامطلوبو او زيان لرونکو قوانينو له وضع کولو څخه وژغوري.

فيوډاليزم: فيوډاليزم د منځنيو پېړيو سياسي او اقتصادي مضمون تشکېلوي او داسې يې تعريفوو:

د فيوډال (ځمکه وال) کامل تسلط دی په ځمکه او ناقص تسلط دی په بزګر. فيوډالي نظام د څلورمې او پنځمې مېلادي پېړۍ نه وروسته ورو ورو په اروپا کې وده وکړه. دانګلستان دصنعتي انقلاب پورې دې نظام دوام وکړ، ترڅو د فرانسې لوی انقلاب دې نظام ته په اروپا کې خاتمه ورکړه.

سوسياليزم: سوسياليزم هغه تيوري يا سياست دی چې غواړي دټولنې پر ټولو توليدي منابعو او توليدي وسايلو د ټولنې د ټولو افرادو څارنه او کنټرول موجود وي، دا وسايل او منابع د ټولنې ملکيت وي. ددغو وسايلو او منابعو په ګټه کې د ټولنې ټول افراد شريک وي.

کمونيزم: دغه اصطلاح د لاتيني ژبې له Communism څخه اخيستل شوې ده چې داشتراک او اشتراکيت معنا ورکوي. د کارل مارکس او دده د پيروانو له نظره داجتماعي تحول وروستۍ مرحله کمونيزم دی. په دغه اجتماعي نظام کې هر انسان د خپل قدرت په اندازه کار کوي او د خپلو غوښتنو او ضرورياتو په اندازه له مادي نعماتو نه ګټه اخلي.

فاشيزم: فاشيزم له هغه روش او حکومت څخه عبارت دی چې په افراطي اندازه د سته جمعي استبداد منځ ته راوړي.

ناپېيلې هېوادونه: دغه اصطلاح په هغو هېوادونو اطلاق کېږي چې دخيتځ

(c) ketabton.com: The Digital Library



اولويديځ ترونونوڅخه دمستقل سياست پېروي کوي.په عمومي ډول ناپېيلي هېوادونه هغوهېوادونوته ويل کېږي چې دختيځ اولويديځ بلاک هېوادونود سياست تابع نه وو ، مستقل خارجي سياست يې درلود.

ليبراليزم:دغه اصطلاح د لاتيني ژبې له Libber څخه چې د آزادۍ معنا لري،اخيستل شوې ده.ليبراليزم داسې نظريه يا سياست دی چې په بېلابېلو دوروکې دبشردآزادۍ د ساتنې پلوي کوي.دغه ډول حمايت اوغوښتنه د هرې هغې مؤسسې او ټولنې په وړاندې کېږي چې د خلکو آزادي تهديدوي.

سياست: Politics: په کارونو او چارو کې د موجوده وسايلو په مرسته ديومشخص هدف له پاره په پوهې اوتدبېر سره کړنې ته سياست وايي. يا دټولنې درهبرۍ،لارښوونې او حکومت دارۍ اوتسلط لاندې راوستلوطرزته سياست وايي. سياست د ټولنې د عينې او ذهنې شرايطو تابع وي او د وخت او ځای په تغير سره تغير کوي. ښه سياست هغه دی چې د ټولنې د اکثريت په ګټه،په لږه موده کې،په لږوضايعاتوسره دخلکويادټول ملت مادي اومعنوي ضرورتونه رفع کړي. يا په بل عبارت سياست داسې تعريفېږي: دپرابلمونو خلقول اودپرابلمونوحلولوته سياست وايي اويا ټولې هغه لارې چارې چې په مستقيمه توګه ديو هدف د ترلاسه کولو لپاره په کار لوېږي، دسياست په نوم يادېږي.

پارلمان: Parliament:په ديموکراتيکواوهغه هېوادونه کې چې ددولت درې ګونو قوااوپه بېلوالي عقېده لري، پارلمان دقانون جوړولو ،وضع کولو ، تصويب اواجرا له پاره دنظارت دټولونه لوړ ملي ارګان دی.دپارلمان يا مقننه قوې نماينده ګان معمولاًدمستقيموپټواوعمومي انتخاباتوله لارې انتخابېږي. پارلمان د خلکو د حاکميت يا دډيموکراسۍ سمبول بلل کېږي او اجرائيه قوه يا حکومت ورته مسؤولېت لري.

ديپلوماسي:د دولتونو ترمنځ دخبروله لارې تعامل،دتفاهم اوتوافق فن

(c) ketabton.com: The Digital Library



او مهارت څخه عبارت ده چې د دولتونو په منځ کې تريخوالی او مخالفت په دوستۍ او سازش باندې بدلوي.ديپلوماسي معمولاً د خارجي پاليسۍ په ځای کې استعماليږي. هغه څوک چې په خارجي پاليسۍ کې مهارت ولري او عملاً کار وکړي، ديپلومات بلل کېږي. د يپلوماسي د ملي حاکميت يو مهم عنصر او د ملتونو د خارجي سياست يوه وسيله ده.
فدراسيون:د څو سياسي واحدونو(ايالتونو ،هېوادونو )اتحاداو د واحد مرکزي دولت تشکيل ته فدراسيون وايې.د فدراسيون غړي واحدونه په اکثرو داخلي چاروکې مستقل او په خارجي چاروکې د واحدې مرکزي ادارې د صلاحيت تابع وي.د اختياراتو حدود د فدراسيون په اساسي قانون کې واضح وي. په داسې دولتونو کې دوه ډوله شوراګانې او دوه ډوله حکومتونه موجود وي، فدرالي شورا او حکومت او ايالتي شوراګانې او حکومتونه،خو ايالتي قوانين بايد هيڅکله د فدرالي قوانينو مخالف نه وي. د امريکا متحده ايالات، فدرالي المان، استرليا او د هند دولتي سيستمونه فدرالي دي.
کانفدراسيون:د څو هېوادونو داسې يو اتحاد ته چې د يو مرکزي دولت شکل ونه لري او د خارجي حملې په صورت کې په متقابل کومک متکي وي، کانفدراسيون بلل کېږي چې په داخلي او خارجي چارو کې خپلواک وي.
جبهه:د ګوندونو او سياسي ډلو ترمنځ موقتي يو ځای کيده چې د يو مشخص هدف له پاره سره يو ځای کېږي، جبهه بلل کېږي.
پروتوکول:د سياسي اسنادو او معاهدو هغه اصلي مسودې ته پروتوکول وايې چې دواړو معاهده کوونکو خواوو لاسليکونه پرې کړي وي. په عام ډول دغه اصطلاح ځينو ضمني تړونونو له پاره هم استعماليږي.
استعمار:په لغت کې عمران غوښتلو او آبادۍ غوښتلو ته وايې او په اصطلاح کې کله چې يو قوي او غښتلی هېواد په بل ضعيف هېواد باندې په اقتصادي، سياسي، کلتوري او نظامي لحاظ تسلط پيدا کړي،د استعمار په نوم ياديږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



امپرېالیزم:د امپرېالیزم لغت د لاتیني ژبې له Imperia نه چې د امپراتورۍ معنا لري، اخیستل شوې ده.دیو هېواد هر ډول تسلط په بل هېواد باندې امپرېالیزم بلل کېږي.
استثمار:استثمار په لغت کې د ثمرې اخیستلو معنا ورکوي او په اصطلاح کې د تولېد دوسایلو د مالکینو له خوا د کارکوونکو د اضافي کار د محصول څخه ثمرې اخیستلو ته وایې. په دې معنا کله چې د تولېد دوسایلو مالکین، کار کوونکو ته د دوی د کار په اندازه د کار ارزښت ورنه کړي او د دوی د کار ارزش له یوې برخې څخه د وسایلو مالکین استفاده وکړي، دا عمل استثمار بلل کېږي.
انارشي: Anarchy دغه لغت د یوناني ژبې له انارکیا Anarchia نه اخیستل شوی دی، معنا یې د یوې ټاکلې، مثبتې او فعالې رهبرۍ او حکومت نشتوالی دی.
دیکتاتوري- دیکتاتور:د دیکتاتورۍ کلمه له دیکتې نه اخیستل شوې ده.په اصطلاح کې هغه روش دی چې یو نفرخپله خبره یا امر په مطلقه شکل په نورو خلکو تحمیلوي.په پخواني روم کې دیکتاتور هغه چاته ویل کېده چې په بحراني حالاتو کې به یې د شپږو میاشتو له پاره په کاملو اختیاراتو حکومت کاوه.
رانسکورول::دیو حکومت، سیاسي نظام او داسې نورو د چپه کولو یا خرابولو لپاره پټې هلې ځلې(هغوی د حکومت د چپه کولو لپاره توطیه وکړه ) کوم څېز کمزوری یا بې اغېزې کول

(c) ketabton.com: The Digital Library



| اصطلاح | معنی | اصطلاح | معنی | اصطلاح | معنی | اصطلاح | معنی | اصطلاح | معنی |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ډیپلومات | سیاستمدار،سیاستوال،سیاسي شخصیت | سفیر | سیاسي استازې ،د دولت نماینده | ډیپلوماسي | سیاست | سیاسي چلند | سیاسي بهیر،سیاسي روش | سیاسي کړۍ | سیاسي حلقي |
| سیاسي تګلاره | سیاسي کړنلاره | سیاسي روغه جوړه | سیاسي موافقه | سیاسي تغیر | سیاسي بدلون | هیئت | پلاوي،رسمي ډله | سیاسي مذاکرات | ډیپلوماتیکي خبرې اترې |
| جمهور رییس | ولسمشر،د هېواد مشرتابه | د ولسمشر د دفتر ویاند | د ولسمشر خبر لوخې | فیصله | تصمیم، پریکړه | فرمان | د ولسمشر یا پاچا لیکلي امر | غندل | محکومول،بد ګڼل |
| استعفا | په خوښه یا ناخوښه وظیفه او کار پرېښودل،د کاره ګوښه کېدل/کول | مستعفي | بېکاره کېدل، بې وظیفې | استفسار | تحقیق، پوښتنه، پلټنه | دولتي کارونه | حکومتي کارونه | حکومتي کسان | چارواکي+ځواکونه+ماموران |
| بیت المال | د ملت مال | داخله چارې | کورني کارونه | خارجه چارې | بهرني، بېروني، باندني | تصویب | فیصله،پرېکړه،منل | اعتبارنامه | باور لیک |
| پیشنهاد | وړاندیز،درخواست | ملاقات | لیدنه کتنه، مجلس | بین الدول | د هېوادونو ترمنځ | دنیاوال | نړیوال،جهاني | خارجي مداخلې | بېروني لاس وهني |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ضد ملي | د ملت مخالف | غټې جبري | سياسي وينا | بيانيه | وينا | پيغام | پيام،تبصره | سيال | رقيب،همتا |
| انتقالي دوره | موقتي دوره | پوځ | اردو ،قواوي | طويل المدت پروګرام | اوږدمهاله پروګرام | حمايت | ملاتړ،پشتيباني | سياسي اتلوبوالي | سياسي ملګرتيا |
| نجات | خلاصون،آزادي | خارجي موسسې | بهرنۍ سازمانونه،بهرنۍ ارګانونه | سياسي څيرې | سياسي شخصيتونه | د ملتونو سرنوشت | د ملتونو د ژوند مسير | پاليسي | تګلاره، کړنلاره |
| ټاټوبې | هېواد ،وطن،ميهن،کشور ،مملکت،مينه،ملک | ژمن | متعهد | مقررات | اصولونه | منافع ملي | ملي ګټې | | |

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳

## اخځليکونه

۱.آرينزی، احسان الله. (۱۳۸۲ ه ش )دنړۍ هېنداره آسيا. پېښور: د ساپي د پښتو څېړنو او پراختيا مرکز
۲.انديشمند ، محمد اکرام.( ۱۳۸۹ ه ش ) امريکا په افغانستان کې، ژباړن: سيد عبدالله پاچا ، چاپ: ميوند خپرندويه ټولنه کابل
۳. الفنسټون، مونټ ستوراټ.( ۱۳۷۹ ه ش ) افغانان، ژباړن: محمد آصف فکرت. مشهد: داسلامي څېړنو بنسټ
۴.امين، پوهاند حميدالله.( ۱۳۸۷ ه ش )جغرافيۀ سياسي. کابل: کابل پوهنتون
۵ـ بيدار، کريم الله(۱۳۹۱ه ش )دافغانستان سرحدونه.جلال اباد:ګودرخپرندويه ټولنه
۶ـ دانش، الحاج دوکتور حفيظ الله. (۱۳۸۷ ه ش )نړيوال عمومي حقوق، لکچرنوټ. ننګرهار: ننګرهار
۷ـ د عدلی وزارت ،رسمی جريده ،پرله پسی ګڼه (۸۱۸ ) .( د افغانستان اساسي قانون ۱۳۸۳ هـ ش کال ۱۴ د جدی )
۸ـ د ولسي جرګې د دريم تقنينی کال د دوهم دور د شپږمې غونډی د کړنو رپوټ.( ولسي جرګه د چارو د اداري د پارلمانی او تقنينی چارو رياست. ۱۳۸۷ هـ ش کال )
۹ـ د ولسي جرګې د څلورم تقنينی کال د اول دور د اوومې غونډی د کړنو رپوټ.( ولسي جرګه د چارو د اداري د پارلمانی او تقنينی چارو رياست. ۱۳۸۷هـ ش کال )
۱۰ـ د مشرانو جرګې د دريم تقنينی کاری کال د کړنو لنډ رپوټ.( د مشرانو جرګې د اطلاعاتو او عامه اړيکو د رياست له خپرونو څخه. ۱۳۸۷ هـ ش کال )
۱۱ـ پاځون، جنرال محمد عتيق. (۲۰۰۵زيږيز )اطلس تاريخي افغانستان. کابل: ايمان خپرندوی مرکز
۱۲ـ پاځون، جنرال محمد عتيق. (۲۰۰۷ زيږديز )مرور کوتاهي بر تاريخ افغانستان و قضيۀ پشتونستان. کابل: دافغاني مطبوعاتو مرکز

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۳ــ پټان ،فیضان الله. (۱۳۹۴ ه ش ).د درې ګونو قواوو ځانګړتیاوې اوواکونه. پټان ادبي ټولنه

۱۴ـ پژواک، فضل ربې. د افغانستان د بین المللي روابطو تاریخ. کابل: د پوهنې مجلې چاپخونه، (ــــ).

۱۵ــــ حبیبي، عبــد الحی.(۱۳۹۱ه ش )د افغانســـتان لنډ تاریخ.ژباړن:عبــد الروف بېنوا.علامه رشاد خپرندویه ټولنه

۱۶- طوفان، برید جنرال محمد نبی.(۱۳۹۰ ه ش ) اهمیت جیو پولیتیک افغانستان برای کشورهای منطقه و جهان در مسیر تاریخ.کابل:انتشارات مطبعه عسکری

۱۷ـ کاکړ، حسن او نور... (۱۳۸۲ ه ش ) . ډیورنډ د واحد ملت د بېلتون کرښه. کولن: د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه_جرمني

۱۸ــــ ضعیف، ملا عبد الســـلام.(۱۳۹۰ه ش )د بنستېیزو ستونزو حل.کابل:مســـتقبل خپرندویه ټولنه

۱۹ـ پوستنیکوف، الکسي ولادیمیرو ویچ. (۱۳۸۴ ه ش )افغانستان او د پامیر پر سـر شـخړه، ژبـاړن: محمـد طـاهر کـانهی. کـولن: د افغانســتان د کلتــوري ودې ټولنه_جرمني

۲۰- پژوهش، محقق محمد امین.( ۱۳۸۸ ه ش )سیر تاریخی افغانستان از آریانای باستان تا اخیر قرن نزدهم میلادی.کابل:مطبعه دولتیي

۲۱ـ تره کي، دوکتور محمد عثمان روستار.( ۱۳۸۷ ه ش ) د ټولنپوهنې له نظره په افغانستان کې د واک جوړښتونه، ژباړن: پوهندوی محمد اسماعیل یون. کابل: یون کولتوري یون

۲۲ـ کهزاد ، احمد علي.( ۱۳۳۳ ه ش ) تاریخ افغانستان. کابل: تاریخ ټولنه

۲۳ــ حقمل، محمد ایمل. (۱۳۸۲ ه ش )د افغانستان معاصر تاریخ، لکچر نوټ. ننګرهار: ننګرهار پوهنتون

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۴_ مولانا ګوهر رحمن.(۱۴۳۰ ه ش)، اسلامی سیاست. ژباړن: قریب الرحمن ،سعید.د پیغام خپرندوی مرکز
۲۵ــ محمدي، غلام محمد. (۱۳۸۷ ه ش)دو سوي خط دیورند: باطلاق تاریخ معاصر افغانستان، پاکستان و نیروهاي ناتو. کابل: سعید خپروني
۲۶ــ ساپی، دوکتور ودیر.( ۱۳۸۸ ه ش) نړیوال عمومي حقوق، ژباړن: امان الله ایمان. کابل: IDLO،
۲۷ــ سئیدي، اصحاب الدین. (۱۳۸۳ ه ش)مداخلات خارجي در امور افغانستان. پېښور: حرم خپرندویه ټولنه
۲۸ــ عارض، غلام جیلاني. (۱۳۸۲ ه ش)د تاریخ په اوږدو کې د افغانستان سرحدونه او اداري وېش،ژباړن: حفیظ الله تراب. پېښور: ختیځ بیارغونې اداره (کور)
۲۹ــ عطایې،اکاډمیسین محمد ابراهیم.( ۱۳۸۳ ه ش) د افغانستان پر معاصر تاریخ یوه لنډه کتنه. کابل: میوند خپرندویه ټولنه
۳۰ــ فرهاد، قدرت الله حداد. (۱۳۸۳ ه ش)د افغان ملي تاریخ. پېښور: د ساپي د پښتو څېړنو او پراختیا مرکز،
۳۱_ فقیری، عبدالحمید .( ۱۳۸۸ ه ش) شوری پارلمان. کابل:مطبعه شاکر صمیم
۳۲_ قدیری، عبدالرسول.( ۱۳۸۵ ه ش)مروری بر تاریخچې شوراها در افغانستان. کابل:( ریاست اطلاعات و ارتباط عامه ولسي جرګه
۳۳_ ولسي جرګه، د ولسي جرګې د کورنیو دندو اصول. ( د پارلمانی او تقنینی چارو ریاست ۱۳۸۲ هـ ش کال د وری ۱۲ مه )
۳۴- سعیدی، احمد.( ۱۳۹۱ ه ش)افغانستان آماجګاه فتنه ها و آسیب ها.کابل: مطبعه مسلکي افغان
۳۵- عزتی، دوکتور عزت الله.( ۱۳۸۲ ه ش) جیوپولیتیک.نشر ذره ایران تهران.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**